سر کي وم خورما مي تهولوله، او زما عمه خالده بنت الحارث لاندي د خورما تر درختي ناسته وه فلما سمعت بقدوم رسول الله ﷺ نو ما په لوړ اواز الله اكبر وواېه، عمه مي راته وويل والله لو كنت سمعت بموسیٰ بن عمران ما رئيت منک مثل ذالک السرور اى بقدوم محمد ﷺ، عبدالله رضی الله عنه وويل اى عمه هو والله اخو موسیٰ بن عمران وعلى دينه بعث بما بعث به يعني موسیٰ علیه السلام في التوحيد واصول الدين فقالت فذاک اذًا قال عبدالله رضی الله عنه ثم خرجت الى رسول الله ﷺ فلما ان رئيت وجهه المباركة عرفت ان وجهه ليس بوجه كذاب، فاول ما سمعت منه اى من النبي ﷺ قوله يا ايها الناس اطعموا الطعام وافشوا السلام وصلوا الارحام وصلوا بالليل والناس ينام تدخلوا الجنة بسلام.

درویش وايي: چي وروسته عبدالله بن السلام رضی الله عنه د خپل ايمان بالغيب پر عليه الصلوة والسلام كمامر د مزيد تائيد لپاره او د ايمان بالمشاهدة لپاره داسي و عليه الصلوة والسلام ته وويل: يا محمد زه ستا څخه سوال كوم د درو شيانو چي لايعلمهن الا نبي (۱) ما اول اشراط الساعة (څه شی ده اوله علامه د قيامت؟) (۲) و ما اول طعام اهل الجنة (څه شي به اول خورک د جنتيانو وي يعني په جنت كي) (۳) وما ينزع الولد الى ابيه يعني په رنګ كي او الى امه ايضًا په رنګ كي، فقال علیه السلام اخبرني بهن جبرئيل علیه السلام، عبدالله رضی الله عنه ورته وويل جبرئيل علیه السلام خبر دركړى؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل نعم قال عبدالله رضی الله عنه ذالک عدو اليهود من الملائكة اما اول اشراط الساعة فنار تخرج على الناس من المشرق (اى من المشرق الى المغرب) يعني فتساوق الناس الى جهة المغرب واما اول طعام يأكله اهل الجنة فزيادة كبد حوت (د اينې په زړه كي د ماهي) واذا سبق ماء الرجل اى نطفته ورحم ته د ښځي تر نطفې د ښځي (يعني اول نر انزال سي مني په رحم كي د ښځي قرار ونسي، او وروسته ښځه پر انزال سي نزع الولد، نو ولد د پلار وخوا ته كيږي واذا سبق ماء المرئة نزعت الولد يعني د امور و خوا ته كيږي) فقال عبدالله بن السلام رضی الله عنه اشهد ان لا اله الا الله وانک يا محمد رسول الله، وروسته عبدالله رضی الله عنه كورته ولاړى وامر اهل بيته بالاسلام فامن كل من اقاربه وابناء عمه.

درویش وايي: چي اوس مخ پر لور د جواب د انكار د مسروق چي عنقريب تېر سو حاصل د جواب داد ى چي مسروق په هغه ايمان د عبدالله بن السلام رضی الله عنه چي هنوز

عليه الصلوة والسلام په مكه كي او ده په علاماتو د تورات چي ده په تورات كي ليدلي وې ايمان يې راوړی ؤ، وروسته بالمشافهة په مدينه منوره كي ايمان راوړی، مسروق ته فقط ايمان راوړه په مدينه منوره كي معلوم ؤ نو ځكه يې مذكور سوال ذكر كړی، اوس بيرته د عبدالله بن السلام رض د بقيه قصې پر خوا، وروسته عبدالله رض و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي يهودان ښه خبر دي چي زه سيد د دوی يم او ابن سيد هم واعلمهم يعني بالتورات وابن اعلمهم او يهودان داسي قوم دی چي بهتان ويونكی دی، او كه دوی زما په اسلام خبر سي پر ما به ستا په مخ كي بهتان ووايي، نو زما دا خوښه ده چي ته ما په يوه خونه كي پټ كړې او د يهودانو مشران راوغواړې زما پوښتنه ځني وكړې، نو عليه الصلوة والسلام هم داغسي وكړه مشرانو د يهودانو چي عبدالله ورښوولي وه راغوښته، نو دوی چي راغله عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا معشر اليهود ويلكم اتقوا الله فوالله الذي لا اله الا هو انكم لتعلمون اني رسول الله (يعني د تورات له معلوماتو څخه) ولقد جئتكم بالحق ای بدين الحق فاسلموا، يهودانو ورته وويل چي ستا په نبوت موږ هيڅ خبر نه يو، بيا عليه الصلوة والسلام پوښتنه ځني وكړه چي ای رجل فيكم عبدالله بن السلام (دوی ورته وويل چي اوس خو په موږ كي حاضر نه دی) لكن خيرنا وابن خيرنا وسيدنا وابن سيدنا واعلمنا وابن اعلمنا، عليه الصلوة والسلام چي تاسي ماته وواياست چي كه عبدالله بن السلام ايمان راوړي قالوا اعاذه الله من ذالک (خدای دي پناه وركړي عبدالله چي ايمان به راوړي) قال عليه الصلوة والسلام اخرج اليهم فخرج فقال اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدًا عبده ورسوله، عبدالله رض زياته كړه يا معشر اليهود واتقوا الله واقبلوا ماجائكم به (يعني محمد ع من دين الاسلام) فو الله انكم لتعلمون انه لرسول الله حقًا تجدونه مكتوبًا في التورات عندكم اسمه وصفته (ای مولده ومهجره) عبدالله رض زياته كړه فاني اشهد انه لرسول الله واومن واصدقه واعرفه فقالت اليهود انت اشرنا وابن اشرنا او ډېر نور بهتانونه يې پر ووېل، نو عبدالله بن السلام رض و عليه الصلوة والسلام ته وويل هذا الذي يا رسول الله الم اخبركم انهم قوم بهت اهل غدر وكذب وفجور فاظهر الاسلام على رؤس الاشهاد واسلام اهل بيت وامنت عمته ابنة الحارث فحسن اسلامها.

درويش وايي: چي دا ؤ تفصيل د ايمان د عبد الله بن السلام رضي الله عنه او تفصيل د هغه آيت و شهد شاهد من بني اسرائيل الآية بقدر الوسع والطاقة لعبده الذليل الجهول محمد عبيد الله الايوبي غفرله الباري.

فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠

نو يې ايمان راوړی (يعني عبد الله بن سلام رضي الله عنه) او تاسي کبر مختاره کړی د ايمان راوړو څخه يا معشر اليهود، په تحقيق خدای هدايت موصله الی المطلوب نه کوي هغه کسانو ته چي پر ظلم باندي ثابت قدم وي.

پوښتنه: افعال د شرط اعني كان من عند الله و كفرتم به و شهد شاهد من بني اسرائيل فامن واستكبرتم كلها مجزوم (يعني يقيني واقع کېده) وقوعها فما معنى د ان فيها وهي تستعمل فيما يشک في وقوعها.

ځواب: ان كلمة الواو في الجمل كلها للجمع واستعمل كلمة الشک وهي ان فيها للتوبيخ وايراد المجزوم الوقوع موقع الشک الدلالة انه لايجوز عند العقل السليم الكفر مع كونه من عند الله واستكبار مع اهل العلم يعني عبد الله بن سلام واهل بيته و ايمانه واما قوله تعالى ان الله لايهدي القوم الظالمين فجملة مستانفة.

درويش وايي: چي د مسروق رحمه الله د سوال جواب كمامر الكلبي رحمه الله داسي ورکړی دی چي سورة الحم که څه هم مکي دی لکن آية د ايمان د عبد الله بن سلام رضي الله عنه مدني دی، اما په امر د رسول الله ﷺ په مکي سورتو کي ايښوول سوی دی، زما په عقيده سابق جواب كمامر ادق دی او د الكلبي جواب اسهل دی والله اعلم.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ۭ

او ويل به كافرانو لغاية استكبارهم، عطف على وقال الذين كفروا للحق الآية "للذين آمنوا" ای في حقهم وشانهم "لو كان" يعني دين محمد ﷺ يعني که دين د محمد (ﷺ) خير وای يعني من عند الله، نو مؤمنانو به وړاندي والی نه وای کړی تر موږ د مخه دده و دين ته، اخرج ابن جرير عن قتادة رضي الله عنه قال، قال ناس من المشركين نحن اعز ونحن خير فلو كان يعني دين محمد ما سبقنا اليه فلان وفلان يعنون فقراء المؤمنين فنزلت هذه الآية، واخرج ابن المنذر عن عون بن ابی شداد قال كانت لعمر بن الخطاب رضي الله عنه

امة اسلمت قبله يقال لها زنين فكان عمر يضربها على اسلامها تا چي پيرته يې كفر ته رد كړي، وكان كفار قريش يقولون لو كان خيرًا كه واى دين محمد خير ما سبقنا اليه زنين، فانزل الله هذه الآية واخرج ابن سعد في الطبقات نحوه وعن الضحاك والحسن، البغوي بناء على نزول الآية السابقة في عبد الله بن سلام انه قال الذين كفروا من اليهود للذين آمنوا من اليهود يعني عبد الله بن السلام واصحابه يعني ابناء عمه واهل بيته لو كان دين محمد خيرًا ما سبقونا اليه يعني عبد الله بن السلام واصحابه.

وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾

هغه وخت چي دوى هدايت نه كړي پيدا په قرآن سره كما اهتدوا به اهل الايمان نو دوى ژر دى چي و وايي چي دا قرآن درواغ دى قديم يعني اختلق له ځانه جوړ كړى دى دا قرآن اهل زمان سابق يا محمد له هغو څخه زده كړى دى.

سوال: كلمة د فاء يې ولي راوړه؟

ځواب: لپاره د دلالت پر دې چي دا قول يعني يقولون آه سبب دى د ظهور څخه د ضلال او غباوت د دوى كقولهم في باب القرآن اساطير الاولين.

وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ

او د مخه تر نزول د قرآن د موسىٰ كتاب يعني تورات چي خلكو اقتداء پسي كوله "ورحمة" او رحمت ؤ د خداى له خوا پر خلكو تا چي دوى فلاح پيدا كړي و خير ته د دارينو.

وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا

او دا كتاب اى القرآن الكريم كتاب دى د خداى له خوا څخه تصديق كونكى دى د كتاب د موسىٰ، او يا معنى داده چي تصديق كونكى دى د محمد ﷺ په سبب د اعجاز پر دواړه تقدير صفت د كتاب دى "لسانًا عربيًا" په لغت د عربو، دا حال دى له ضمير څخه د كتاب په مصدق كي، لكون المبعوث اليهم اولاً اقوام العرب وانما قلنا اولا لكون القرآن هدى للناس جميعًا كما جاء في موضع آخر: هدًى للناس "لينذر" اكثره قاريان يې په ياء د غيبت وايي، والضمير اما راجع الى الكتاب او يا الله يا رسول، او بعض قاريان يې په تاء د خطاب وايي اى لتنذر يا

محمد "الذين ظلموا" چي ظلم يې پر خپلو ځانو کړی وي بالکفر والمعاصي.

فائده: حرف جر متعلق دی په مفهوم پوري د هذا کتاب ای انزل لتنذر.

وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾

"وبشرى" مصدر دی فعل محذوف ای لتشر بشرى بقرينة قوله لتنذر "للمحسنين" چي عملونه په احسان سره د خدای کوي كما جاء في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري الاحسان ان تعبد الله کانک تراه الحديث.

فائده: ظالمان يوازي په مشركانو پوري خاص نه دي بلکې د جملې څخه د ظالمانو يهودان دي چي عزير ابن الله بولي، او نصاری دي چي عيسى ابن الله بولي، او دوی دواړو ډلو تغيير ورکړی دی و ذکر ته د محمد ﷺ او دده و نعوتو ته، په تورات او په انجيل کې د حرفو الكلم عن مواضعه فيكون النبي ﷺ نذيرًا لهؤلاء الطوائف وبشيرًا للذين آمنوا من هؤلاء بجميع الانبياء والكتب المنزلة، او هدايت يې پيدا کړی وي الى الصراط المستقيم.

اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

پوه سه: چي په دې آيت کې خدای جمع کړې ده بين التوحيد الذي هو خلاصة العلم واعظم العقائد الاسلامية ومدار جميع الحسنات العملية وبين الاستقامة في الدين التي هي منتهى الاعمال و كلمة ثم للدلالة على تراخي العمل من العلم.

"فلا خوف عليهم" نو هيڅ بېره نسته پر دوی يعني بعد الموت، دا قيد فقير وايه لان الايمان في الحيوة بين الخوف والرجاء، ودرحيوة الدنيا هر چند بخدا نزديكتر ميشود خوف زياده تر ميگردد، لكن بعد الموت د لحوق څخه د هر مکروه درامن ميگردد، کريمه: يَا اَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيْ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبَادِيْ ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾

"ولا هم يحزنون" او نه به دوی غم کوي پر فوات د محبوب په ژوند کي.

فائده: کلمه د فاء يعني په فلا خوف آه لتضمن اسم ان يعني الذين قالوا آه معنی لره د شرط.

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾

دغه مذکورين کسان ملازمين د جنت دي چي همېشه به وي په جنت کي يعني لايخرجون منها ولايذوقون الموت الا الموتة الاولی، ولا يهرمون او نه يې په مرور د ازمنة غير متناهية و قوة او شباب يې تغيير خوري، ونعيم الجنان لا ممنوعة ولا مقطوعة ابد الابدين، اللهم اجعلنا منهم آمين.

فائده: خالدين آه حال دی له ضمير مستتر په اصحاب کي عامل معنی د اشارة ده په اسم الاشاره کي يعني اؤلئک کما في قوله تعالی هذا بعلی شيخًا.

"جزاء بما کانوا يعملون" دا تړوله جزاء او ثواب دی د هغو چي دوی په دنيا کي کړي وه.

پوه سه: چي کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای يعملونه وذالک لان الدنيا مزرعة الآخيرة.

وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ۭ

موږ وصيت کړی دی وانسان ته يعني امر مو کړی دی، مفسرين وايي چي حرف التعريف په الانسان کي لپاره د عهد دی، والمراد به ابو بکر الصديق رضي الله عنه، روی عن ابن عباس رضي الله عنه ان الآية نزلت في ابی بکر رضي الله عنه وهو المروي عن علي رضي الله عنه چي دده مور او پلار دواړه مسلمانان وه او د هيڅ مهاجر مور او پلار دواړه پر اسلام نه دي سره جمع سوي، او بعض مفسرين وايي چي کلمة د لام دي په الانسان کي لپاره د جنس وي که څه هم نازل په ابوبکر رضي الله عنه کي دی لکن دا خبره د وروسته سياق سره د آيت مناسب نه ده چنانچه وروسته به يې موږ درته وکړو ان شاء الله تعالی "بوالديه" متعلق بمحذوف ای ان يحسن بوالديه وهما ابو قحافة عثمان بن عمر چي د ابوبکر رضي الله عنه پلار ؤ، وام الخير بنت الخيبر بن صخر چي د ابوبکر رضي الله عنه مور وه "احسانًا" کوفي قراء پر وزن د افعال وايي نو نصب مبني دی پر دې چي مفعول مطلق د تحسنوا دی او باقي قاريان حسنًا له باب څخه د مجرد فهو بدل اشتمال دی له بوالديه منصوب محمول دی پر محل د بوالديه ولي چي بوالديه مجرور دی لفظًا.

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ

چي په حمل کي د مورۀ ذات کره فهو حال من حملته من ضمير حملت چي امه دی او حملاً ذاکره فهو مصدر په معنی د مشتقة دی ''ووضعته کرهًا'' چي دا لنګېدل هم ذات کره دی.

يوه سه: چي دا دوې جملې معترضه دي لپاره د تعليل د امر بالاحسان، وفيه اشارة الی مزيد استحقاق الام الاحسان، قال رسول الله ﷺ (في سؤال من سئل من اصل چي زه د چا سره صله رحمي وکړم؟) صل امک ثم امک ثم امک ثم اباک ثم ادناک فادناک، يا صله رحمي کوئ د نژدې قريب او د نژدې قريب لکه ورور، اکا وغيرهم.

وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ

او حمل د ولد يعني په رحم کي د مور او فصال په لغت کي د تي څخه پرې کولو ته وايي، لکن مراد دلته ځني رضاع ده يعني تی ورکول دي، تسمية الملزوم باسم اللازم ''ثلثون شهرًا'' دېرش مياشتي دي.

يوه سه: چي حمله و فصاله په تقدير د مضاف مبتداء ده او ثلثون شهرًا يې خبر دی، والتقدير مدة (دا مضاف محذوف دی) ای مدة حمله وفصاله مجموعتين (۳۰) مياشتي.

فائده: دا جمله د شدت مشقت د مور دی چي دېرش مياشتي چي دېره طويله مده ده مور د خپل عيال په تکليف مبتلاء ده.

مسئله: په دې آيت سره علماء د امت دليل وايي چي اقل مده د حمل شپږ مياشتي ده، ولي چي په بل ځای کي خدای پاک وايي ''وفصاله في عامين'' دوه کاله چي څلورويشت مياشتي ده له دېرش څخه کمي کړې شپږ مياشتي کېږي، وعلی هذا يعني چي اقل د حمل شپږ مياشتي ده اتفق الائمة، قتاده په خپل سند سره وايي چي په خلافت کي د عمرؓ يوه ښځه چا ده ته راوستل چي پر شپږ مياشتي لنګه سوې وه، عمرؓ د اصحاب کرامو ؓ سره مشوره وکړه چي پر دې ښځي رجم سته يعني چي زنا يې کړې ده، او څرنګه عليؓ ورته وويل لا رجم عليها، دليل يې په دې سره ووايه چي خدای ؑ وحمله وفصاله ثلثون شهرًا، وقال وفصاله في عامين، نو دوه کاله چي (۲۴)

مياشتي دي د (۳۰) مياشتو څخه کم حمل ته شپږ مياشتي پاتېږي، نو عمرؓ بنځه نه کړه رجم، راوي وايي چي ثم بلغنا چي ولدت آخر بستة اشهر.

درويش وايي: چي په اکثره مدة الحمل کي اختلاف دی د ائمة الدين، په نېز د امام اعظمؒ دوه کاله ده او د امام مالکؒ څخه دېر روايتونه دي، څلور کاله پنځه کاله اووه کاله، او محمد بن ادريس الشافعيؒ او بل روايت لکه مذهب د ابي حنيفهؒ دليل د مذهب د ابی حنيفهؒ قول د عائشهؓ دی چي لايبقى الولد في بطن امه اکثر من سنتين، نه پاتېږي ولد په نس يعني په رحم کي د مور بالا تر دوه کاله الحديث.

پوښتنه: دا خو قول ددوی دی د رسول اللهﷺ خو نه دی، نو استدلال څرنګه په صحيح کېږي؟

ځواب: مقادير غير عقليه محمول دي پر سماع د رسول اللهﷺ.

حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ

تر څو چي دی ورسېدی يعني زمانې ته د کامل عقل.

پوه سه: چي حتی متعلق دی په فعل محذوف سره چي معطوف دی پر وضعت تقديره وربياه حتی آه، او وبلغ عطف دی پر بلغ.

فائده: ابو بکرؓ صحبت کړی دی د نبي کريمﷺ چي ابوبکرؓ د اتلسو کالو ؤ دا زمانه د بلوغ الاشد ده او رسول اللهﷺ په دغه وخت کي د شلو کالو ؤ او دا صحبت يې په تجارت کي ؤ شام ته ؤ چي په دغه وخت کي عليه الصلوة والسلام نبي نه ؤ، وروسته چي ابوبکرؓ د څلوېښتو کالو سو نو عليه الصلوة والسلام د (۴۲) سو او نبي سو آمن آبو بکرؓ بهﷺ، او ابوبکرؓ خواست وکړی خدای ته او داسي يې وويل.

قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِیْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِیْۤ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَعَلٰى وَالِدَیَّ

ماته الهام وکړې (او بعض مفسرين وايي چي معنی د وضع کف او منع ده يعني ما داسي وګرځوې چي د کفران څخه د نعمت ځان منع کړم) چي زه شکر ووايم ستا د نعمت چي پر ما دي کړی دی او زما پر مور او پلار دي کړی دی چي اعلی د ټولو نعمتو هدايت دی و اسلام ته او نور نعمتونه هم چي تا ماته او زما والدينو ته ورکړي دي.

وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِیْ فِیْ ذُرِّیَّتِیْ

"وان اعمل آه" عطف دی پر ان اشکر یعني چي زه داسي عمل صالح وکړم چي ته په راضي کېږې.

فائده: صالحًا يې نکره راوړی لپاره د تعظيم قال ابن عباس رضی الله عنه چي د ابوبکر رضی الله عنه دغه خواست خدای قبول کړی دی چنانچه ده نهه (۹) داسي مريان چي مؤمنان به وه او مالکانو به دوی ته پر ايمان سخت عذابونه ورکول، ولي چي مالکان بې مشرکان وه، نو ابوبکر رضی الله عنه به دغه مريان رانيول د مالکانو څخه د هغو او ازاد به يې کړه منهم بلال الحبشي رضی الله عنه چي تر ټولو سخت ترين عذاب يې ورکاوه، او داسي هيڅ د خير کار نه ؤ چي ابوبکر رضی الله عنه دي د خدای عزوجل په توفيق سره په هغه کي لويه برخه نه درلوده، او دا دعاء يې هم وکړه.

"واصلح لي في ذريتي" او صالح کسان راکړې ماته زما په اولاد کي، زما توبه ده تاته له کفر څخه وعن کل ما لايرضی الله جل سلطانه، او زه له مخلصانو څخه يم په عمل کي، مظهري وايي چي د حتی اذا بلغ څخه تر اخيره پوري دليل ددې دی چي کلمه د لام تعريف په الانسان کي لپاره د عهد دی.

درويش وايي: چي د ابوبکر رضی الله عنه دا دعاء هم خدای قبوله کړې ده، ولي دده ټوله اولاد مؤمنان وه، نو ابوبکر رضی الله عنه اسلام د مور او پلار او دده اولاد ټوله ولا نعمة عظمی من ذالک.

فائده: ابو قحافه رضی الله عنه چي د ابوبکر رضی الله عنه پلار ؤ و زمانې ته د صحبت د رسول الله صلی الله عليه وسلم رسېدلی دی وابنه ابوبکر وابن ابی بکر عبدالرحمن بن ابی بکر وابن عبدالرحمن ابو عتيق رضی الله عنهم ولم يکن تلک النعم باجمعها لاحد من الصحابة رضی الله عنهم.

اِنِّیْ تُبْتُ اِلَیْكَ وَاِنِّیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۱۵﴾

زما توبه ته تاته له کفر څخه وعن کل ما لايرضی الله عزوجل، او زه له مخلصانو څخه يم په عمل کي، مظهري وايي چي د حتی اذا بلغ څخه تر اخيره پوري دليل دی ددې چي کلمه د لام تعريف په الانسان کي لپاره د عهد ده.

پوښتنه: په يو روايت کي خو داسي راغلي دي چي ابو قحابه رضی الله عنه په ورځ کي د

فتح مکې مسلمان سو، او په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه د شپېتو کالو ؤ، او نزول ددې آيت قبل الهجرة ؤ لان السورة مکية حين بلغ ابوبکر رضي الله عنه اربعين سنة (۴۰) کان قحافة کافرًا، فکيف يقول ابوبکر رض انعمت علي وعلی والدي؟

ځواب: صحيح روايت دادی چې ابوبکر رض چې ايمان راوړی د اته دېرش (۳۸) کالو ؤ واسلم بعده ابويه سنتين چې د ابوبکر رض عمر څلوېښت کاله وګرځېدی فصح قوله تعالی وبلغ اربعين سنة، قال رب اوزعني الی اخير الآية چې په دې آيت کې دا کلمات راغلي دي "انعمت علي وعلی والدي الخ"، او بل ځواب دا هم دی چې پر تقدير ددې چې نزول د آيت په مکه کې ؤ او اسلام د ابی قحافة وروسته تر فتح د مکې ؤ چې وصيت بالاحسان للوالدين الکافرين هم روا دی کما جاء في اول الآية ووصينا الانسان بوالديه حسنًا کما جاء في سورة العنکبوت ووصينا الانسان بوالديه حسنًا وان جاهداک لتشرک بي ما ليس به علم فلا تطعهما (نو چې دوی يعني الوالدين کوشش کوي پر زوی چې ته خدای ته شريک ونسه نو خو دوی کافران دي) نو پر دې تقدير مراد د انعمت علي وعلی والدي ما يعم نعمة الدين والدنيا، نو پر ابوبکر رض خو نعمت د دين او دنيا دواړه ؤ او پر والدينو يې يوازې نعمت د دنيا ؤ.

احتمال: که الف و لام په الانسان کې لپاره د جنس وي مراد په دې ايت کې دادی "انه اذا بلغ الانسان مبلغ الرجال شکر الله تعالی علی کمال جسده ثم اذا بلغ اربعين سنة شکر الله علی کمال عقله" ولې چې کمال العقل في الاغلب بعد بلوغ (۴۰) سنة وهذا هو السر چې اکثر د انبياؤ عليهم السلام ته نبوت ورکړه سوی دی والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الکتاب.

درويش وايي: اګرچه روح البيان خپله رايه په دې باره کې چې دا آيت خاص په ابوبکر رض پورې دی صراحةً يې نه دی ذکر کړی لکن په قول د حسين کاشفي رح چې مصنف د تفسير حسيني دی چې هغه قديم تفسير دی په فارسي ژباړه را نقل کړی دی داسې فهمېږي چې د روح البيان هم دغه رايه ده چې دا آيت په ابوبکر الصديق رضي الله عنه پورې خاص دی، کاشفي رح وايي: اکثر مفسرين برآنند که اين آيت خاص است بابی بکر الصديق رض الی اخيره کمامر قريبًا، او علامه بغدادي سيد محمود آلوسي رح په روح المعاني کې په ابتداء کې ددې آيت د تفسير يعني ووصينا الانسان آه داسې عبارت

راوړی دی، نزلت کما اخرج ابن عساکر من طريق الکلبي عن ابی صالح عن ابن عباس رضي في ابی بکر الصديق رضي الی قوله تعالی: وعد الصدق الذي کانوا يوعدون، وروسته علامه بغدادي دا قصه په تفصيل سره څيړلې ده تقريبًا په درو صفحو کي يعني ددې ترپايه پوري مع النقض والابرام وروايات حسنه.

درويش وايي: چي د قيلوله په وخت کي د ورځي د پنجشنبې (۲۷) شهر شعبان المبارک رئيت فيما يری النائم کان قائلاً يقول... بيت:

الحمد لمن قدر خيرًا و خبالاً والشکر لمن خلق حسنًا و جمالاً

يعني تقدير د خير چي ټولو انواعو ته د خير شامل دی من الايمان والطاعة والصحة والغنی، او تقدير د خبال يې کړی دی چي ټولو اضدادو ته د خير شامل دی من الکفر والعصيان والمرض والفقر وغير ذالک، نو په نيم بيت فقير تبرک وکړی په تقديم د لفظ خيرًا "والشکر لمن خلق حسنًا و جمالاً" دا نيم بيت ټوله د تبرک وړ دی لان لفظ د حسن او جمال ظاهري او باطني حسن و جمال ته شامل دی کما لايخفٰی، دا جمله معترضه وه اوس بيرته د تفسير پر لور.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا

دغه کسان هغه کسان دي چي موږ ددوی ښه قبلوو هغه ډېر ښه د عملو ددوی.

پوه سه: چي که مراد له انسان څخه په اول کي د ايت جنس انسان وي، نو "اؤلئک" اشاره و ټولو موصوفين بالصفات المتقدمة ظاهره ده، او که مراد ځني ابوبکر رضي الله عنه وي فالمشار اليه هو ابوبکر الصديق رضي الله عنه ومن مثله في الصفات المذکورة، ذکر د ابوبکر رضي د عموم په صورت کي داخل دی علی سبيل الکناية وهو ابلغ من الصريح کما عرف في کتب علم البيان.

فائده: تخصيص د احسن چي يې وکړی ددې لپاره چي مباح خو هم حسن دی لکه خوراک، څښناک، لباس و غير ذالک لکن لايثاب عليه. کلمه د ما مصدريه ده يعني هغه ډېر ښه د عملو ددوی، او که ما موصوله وي نو عائد و موصول ته محذوف دی ای ما عملوه.

وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ

او موږ تجاوز او عفو کوو د ګنهو ددوی يعني عذاب نه ورکوو پر يو شي د

سيئاتو ددوی "في اصحٰب الجنة" خبر بعد الخبر د اولئک دی او يا حال دی له ضمير مجرور څخه في سيئاتهم کي ای کائنون في اعدادهم او مثايين او معدودين في اصحاب الجنة.

وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِیْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿١٦﴾

("وعد الصدق" ای وعدت وعد الصدق، داسي مصدر ته مؤکد لنفسه وايي، ولي چي نتقبل او نتجاوز وعده ده) هغه وعد الصدق ده چي ددوی سره يې وعده کړه کېده په دنيا کي يعني په کتابو کي د خدای او يا پر ژبه د رسولانو د خدای يعني جزاء د انسان مذکور ده.

وَالَّذِیْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَآ

او هغه څوک چي وه يې ويل مور او پلار ته چي نصيحت يې ورته کاوه چي ايمان راوړه پر توحيد د خدای "اف لکما" دا کلمه د کراهيت ده چي په وخت کي د دل تنگی له کار څخه يا له گفتار څخه ويل کېږي.

پوه سه: چي والذي مبتداء ده خبر يې اولئک دی.

سوال: والذي خو مفرد دی او اولئک خو جمع دی؟

ځواب: د الذي مراد جنس دی فيکون جمعًا معنی.

اَتَعِدٰنِنِیْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِیْ

او تاسي زما سره وعده کوئ (همزه د انکار او توبيخ دی تعليل د تافيف دی) چي زه به راوځم له قبر څخه ژوندی بعد الموت يعني د بعث بعد الموت څخه منکر ؤ، او حال دا دی چي ډېر قرنونه (يو قرن سل کاله دی) تر ما دمخه تېر سوي دي د مړو چي يو هم نه دی ژوندی سوی.

وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ

او هغه دواړه يعني مور او پلار يې طلب د کومک کوي د خدای چي تا ته توفيق د ايمان درکړي، او يا معنی داده الغياث بالله منک پناه د خدای غواړو ستا څخه يعني ستا د انکار د بعث بعد الموت څخه "ويلک" هلاکت دی تا لره

(مصدر د فعل محذوف دی ای هلکت هلاگا والجملة مقدرة بالقول ای یقولان ویلک) ''امن'' ایمان راوړه پر خدای پہ توحید سره او په بعث بعد الموت سره.
فائده: جمله د و هما آه حال عن والدیه.

إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۚ فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾

په تحقیق وعده د خدای په بعث بعد الموت سره حق ده، دا جمله تعلیل ده د بالامر بالایمان سره، نو وویل ولد کافر و والدینو ته نه دی دا وعد بالبعث مګر درواغ د پخوانیو خلګو. بخاري په خپل سند سره وایي: چي معاویه رضی الله عنه مروان بن الحکم عامل ګرځولی ؤ پر حجاز، نو مروان خطبه وویل نو د یزید بن معاویه ذکر یې وکړی ددې لپاره چي خلګ بیعت وکړي د یزید بن معاویه سره وروسته تر مرګ د معاویه رض نو عبد الرحمن بن ابو بکر رض یوه خبره وکړه (یعني د یزید نا اهلیت یې بیان کړی) نو مروان خپلو عسکرو ته وویل چي عبد الرحمن ونسئ، نو عبد الرحمن رض د عائشې رضی الله عنها چي دده خور وه په کوړ ننوتی، نو عسکرو دومره جرأت نسوای کولای چي د عائشې رضی الله عنها له کوره دې راوباسي، مروان وویل چي عبد الرحمن هغه سړی دی چي خدای ج دده په باره کي دا آیت نازل کړی دی ''والذي قال لوالدیه اف لکما اتعد انني الآیة'' نو عائشې رضی الله عنها من وراء الحجاب وویل: ما نزل فینا شیئًا من القرآن الا ان انزل عذري في القرآن (چي پر دې باندي تهمت د زنی مع صفوان بن المعطل منافقینو لګولی ؤ چي قصه یې اوږده ده او مخته په تفسیر کي مفصلاً ذکر سوه) راوي وایي چي عبد الرحمن بن ابی بکر رض ته درد ورغلی پر خبره د مروان چي وروسته تر معاویه به دده زوی یزید خلیفه او امیر المؤمنین وي چي دا خو خوی د هرقلانو دی یعني د رومیانو چي سلطنت یې په میراث و زوی ته پاتېږي ثم و ثم (یعني یرث الابناء ملک الاباء) او د اسلام خو دا طریقه نه ده بلکې وروسته تر مرګ د خلیفه به اهل الحل والعقد نوی خلیفه ټاکي، الا تری چي امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه چي ابو لؤلؤ المجوسي چي د یو صحابي مریی ؤ د لمانځه د شروع په وخت کي په خنجر وواهه چي قصه یې اوږده ده، وروسته تر لمانځه چي عمر رض ته خپل د مرګ یقین سو، نو خپل زوی یعني عبد الله بن عمر رض یې مسلمانانو ته نه کړی معرفي په خلافت سره، بلکې امر د خلافت یې د شپږو صحابه ؤ و مشورې ته وسپاره چي هغوی بیا عثمان رضی الله عنه وروسته تر ډېرو مشورو او بحثو خلیفه وټاکی.

درويش وايي: چي ابن ابی حاتم له سدي ؒ څخه روايت کړی دی او هغه له ابن عباس رضؓ څخه چي دا آيت نازل دی په عبدالرحمن بن ابی بکر رضؓ کي وقال مثل قول مروان قال نزلت في عبدالرحمن بن ابی بکر رضؓ قبل اسلامه ثم اسلم وحسن اسلامه. مظهري ؒ وايي چي قيل دا آيت په عبدالرحمن بن ابی بکر رضؓ کي نازل سوی دی چي پلار او مور به دی رابلی و اسلام ته ده به اباء کوله او داسي به يې ويل چي تاسي ماته راژوندي کړئ عبدالله بن جدعان او عامر بن کعب او مشائخ د قريشو چي له هغو څخه پوښتنه وکړم ستاسي د خبرو انتهی.

درويش وايي: چي سبحان الله هذا بهتان عظيم، ددې قول منشاء قول د مروان بن الحکم ده او قول د مروان مبني پر عنادؤ له خاندان سره د ابوبکر رضؓ او شاهد قول د عائشې رضي الله عنها دی چي دمخه تېر سو چي دې انکار وکړی له دې څخه انيکون هذه الآية في عبدالرحمن بن ابی بکر رضؓ، او حافظ ابن الحجر په شرح کي د بخاري وايي ونفي عائشة رضؓ اصح اسنادًا و اولی بالقبول انتهی، وقال البغوي ؒ والصحيح انها (دا آيت نزلت في کافر عاق لوالديه)

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ

ای وجب وثبت بانهم اهل النار.

پوه سه: چي مشار اليه په اولئک سره چي په اخير د تېر سوي آيت يې د اسي وويل ما هذا الا اساطير الاولين، له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي سابق آيت په شان کي د عبدالرحمن بن ابی بکر رضؓ نه دی نازل لانه من افاضل المؤمنين.

"في امم" جمع د امت ده، مراد ځني امم کافرة دي کلمة د في په معنی د مع ده

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ﴿١٨﴾

چي تېر سوي دي تر دوی دمخه "من الجن والانس" بيان د امم دی ای من کفرة الجن والانس. په تحقيق دوی له خاسرين څخه وه، يعني په لوی خسران او تاوان کي واقع کسان وه.

درويش وايي: چي جن يې تر انس دمخه کړی لا لشرفهم بل لان المقام مقام الاهانة، او جمله د قد خلت صفت د امم ده.

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ

او د هر یوه لپاره درجې لوړي او کښته له جزاء څخه د هغه عمل د خیر چي دوی کړی وي په دنیا کي، یا یې ترجمه داده: من اجل جزاء ما عملوا، قال ابن عباس رضی الله عنه چي مراد دادی چي وي صحابي چي سبقت کړی و اسلام ته فهو افضل ممن یخلف عنه ولو بساعة، وقال مقاتل رحمه الله چي هر یوه لره فضائل دي بسبب اعمالهم، نو خدای جزاء ورکوي پوره جزاء د اعمالو ددوی، او بعض مفسرین وایي: ولکل من الفریقین من المؤمنین والکافرین درجات ومراتب عندالله یوم القیامة فیجازیهم علیها مثلاً د اصحاب کرامو رضی الله عنهم مرتبه لوړه ده تر درجې د تابعینو او ددوی درجه لوړه ده تر تبع تابعینو و هکذا، وکذا مراتب الکفرة فمرتبة المشرکین لوړه ده په کفر کي تر یهودو او نصاریٰ ؤ.

پوه سه: چي په قول د ابن زید رحمه الله درجات د کافرانو کښته ځي په دوږخ کي او درجات د مؤمنانو لوړي ځي په جنت کي.

وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٩﴾

او چي پوره ورکړي خدای (مظهري رحمه الله وایي چي دا جمله معطوف ده پر علت د فعل محذوف، والتقدیر فعلنا ذالک او فعل الله ذالک لحکم ومصالح ولیوفیهم) "اعمالهم" ای جزاء ما عملوا في الدنیا، او پر دوی ظلم نه کول کېږي یعني د خدای جل جلاله له خوا بنقص ثواب او زیادة عذاب مما یستحقونه باعمالهم.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ

(عامل د یوم اذکر دی) یعني ذکر کړه و قوم ته خپل یا محمد صلی الله علیه وسلم هغه ورځ چي پیش کړه سي هغه کسان چي په دنیا کي یې کفر کاوه پر اور باندي یعني د دوږخ یعني د عذاب لپاره ای یعذبون بها، روح البیان وایي چي عرض محمول دی پر تعذیب مجازًا مثل قولهم عرض الاساری علی السیف ای قتلوا، نو بناء پر دغه تفسیر هغه سوال نه واردېږي چي معروض علیه خو باید اهل شعور وي والنار لیست اهل الشعور واهل الشعور هم الکفرة دي، وکذا في المحاورة المذکورة اهل الشعور خو سیف نه ده بلکي مقتولین دي، او بعض مفسرین د دفع ددې سوال لپاره وایي چي اصل د کلام داسي ؤ یعرض النار علیهم، نو عبارت یې واړاوه و مذکور عبارت ته مبالغةً کما في قولهم عرضت الناقة علی الحوض اذا اصله عرضت الحوض علی الناقة فافهم.

اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِىْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ج

تاسي وړی دی (تهوله مفسرين وايي چي د اذهبتم سره يقال مقدر دی) ''طيباتكم'' ای لذائذكم هغه خواهشات نفسانيه په ژوند كي د دنيا يعني د خدای عزوجل له خوا تاسي ته مقدر وه، په هغو تهولو سره تاسي نفع واخسته (نو د هغو مقدره لذائذو څخه تاسي ته هيڅ شی نه دی پاته)

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ

نه ورځ يعني ورځ د قيامت (كلمه د فاء لپاره د سبب ده يعني په سبب د هغه چي تهوله لذائذ تاسي ته په حيوة الدنيا كي ورسيده) تاسي ته جزاء يعني عذاب د اهانت او سپكاوي او ذلت دركول كيږي.

بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُوْنَ ع ۲۰

په سبب ددې چي تاسي واست (په دنيا كي) كبر مو كاوه په مځكه كي بيله حقه چي ايمان مو پر محمد ﷺ نه راوړی چي دا ستاسي عصيان قلبي ؤ او په سبب ددې تاسي فسق كاوه په مځكه كي بترک المأمورات الشرعية كالصلوة وغيرها، او راتګ مو كاوه په منهياتو سره لكه زنی وغيره، وهذا ذنب الجوارح.

نكته: استكبار يې د مخه كړی تر فسق لان ذنب القلب اعظم تاثيرًا من ذنب الجوارح.

درويش وايي: چي استكبار قلبي سبب دی د عصيان الجوارح تاسي نه وينئ چي ابليس عليه اللعنة اولاً كبر مختاره كړی حين امر بالسجود لآدمؑ، وقال انا خير منه وروسته يې عصيان الجوارح پر بناء كړی وهو ترک السجود لآدمؑ، بغويؒ وايي چي خدای پاک توبيخ د كافرانو وكړی چي تاسي ته تمتع په دنيا كي دركړه سوه، نو له دې كبله رسول الله ﷺ و اصحابه الكرامؓ پرهيز كاوه د لذائذو څخه د دنيا او اكتفاء يې كول بما يكفی من ادنی شيئ رجاء الثواب في الآخرة، بخاري او مسلمؒ په خپلو كتابين صحيحن كي له عمرؓ څخه روايت كړی دی چي زه ورغلم و رسول الله ﷺ ته (يعني چي دی په لوړ اوطاق كي ؤ چي مشربة يې باله د ازواجو مطهراتوؓ څخه يې يوه مياشت ګوښه نشيني مختاره كړه چي دویؓ له دهؑ څخه طلب د ډيري نفقې او د استراحت د ژوند طلب كړی ؤ) فاذا هو مضطجع (دی مبارک پروت ؤ) على رمال

حصر ليس بينه و بينه فراش (نهٔ په مابين کي دده د مبارک بدن او د تارو د بوريا هيڅ فراش يعني پر بوريا باندي هيڅ شی نهٔ اوار) قد اثر الرمال بجنبه (چي لرګو د بوريا دده په بغل کي تاثير کړی ؤ يعني تغمې يې پکښي پيدا کړي وې او عليه الصلوة والسلام تکيه کړې وه پر يو بالښت د څرمنې او په مابين کي د بالښت ليف د خورما وې يعني خاشې د خورما) قلت يا رسول اللهﷺ ته دعاء وکړه و خپل امت ته چي خدای ﷻ فراخي پر جوړه کړي او سره ددې چي پر فارسيانو او روميانو خدای ډېره فراخي جوړه کړې ده، وهم لايعبدون الله، قال او في هذا انت يا ابن الخطاب؟ (ته په دې خبره پسي راغلی وې ای ابن خطابه؟) اولئک قوم عجلت لهم طيباتهم د روميانو او د فارسيانو هغه کسان چي چي دوی ته يې برخه د لذائذو په دې دنيا کي ورکړې ده، وفي رواية اما ترضى ان تکون لهم الدنيا ولنا الآخرة؟ (ته نه يې راضي چي دوی لره دنيا وي يعني نعيم د دنيا وي او موږ لره نعم آخرت وي) په بخاري او مسلم کي د عائشې رضي الله عنها روايت دی چي: ما شبع آل محمدﷺ من خبز الشعير يومين متتابعين (يعني نه دي ماړه سوي کور والا د محمدﷺ د ډوډۍ څخه د اوربشو دوې ورځي پرله پسې) حتى قبض رسول اللهﷺ (تر څو چي رسول اللهﷺ وفات کېدی) وروى البخاري عن ابی سعيد المقبري رضه عن ابی هريرة رضي الله عنه چي ابو هريره رضه تېرېدی پر يوه قوم چي د دوی پر سترخوان پسه پروت ؤ چي په تناره کي يې پوخ کړی ؤ چي مصلية يې بولي، او بعض وايي چي مصلية کباب کړي پسه ته وايي، نو هغو و ابو هريره رضه ته دعوت ورکړی يعني چي راسه زموږ سره دا غوښې وخوره، فأبى ان يأکل ده منع ورته وکړه او داسي يې ورته وويل: خرج النبيﷺ من الدنيا ولم يشبع من خبز يعني يومين متتابعين کمامر في حديث مسلم و بخاري قريبًا، وعن عائشة رضه کان يأتی علينا شهر (پر موږ به تېره سوه پوره يوه مياشت) ماتوقد فيه نار (چي په دې مياشت زموږ په کورو کي اور نه دی بل سوی تعني د اور د پخېدو شی نه دی پيدا سوی) وما هو الا الماء والتمر (يعني نهٔ طعام زموږ مګر اوبه او خورما وه) غير ان جزى الله النساء من الانصار خيرًا ربما اهدين شيئًا من اللبن. وروى احمد والترمذي وابن ماجه عن ابن عباس رضه قال کان رسول اللهﷺ يبيت الليالي المتتابعة طاويا هو واهله (و رسول اللهﷺ شپې به يې تېرولې پرله پسې چي هيڅ شی به يې نهٔ خوړلی ده او اهل دده) لايجدون

عشاء (د ماښام ډوډۍ به يې نه درلوده) وكان اكثر خبزهم الشعير (او اکثره ډوډۍ ددوی به له اوربشو څخه وه چي هغه به هم ايام متتابعه نه پيدا کېدل) لقد اخفت في الله (زه بېرول کړه سوی يم يعني د کفارو د مکې له خوا په لار کي د خدایؒ يعني تبليغ د توحيد د خدایؒ) وما يخاف احد (او نه دی بېرول کړه سوی هيڅ څوک يعني ما غوندي) ولقد اذيت (او ماته راکړه سوی دی اذيت يعني د قريشو له خوا) في الله وما يؤذی احد يعني مثلي ولقد اتت علي ثلاثين بين ليلة ويوم (لام جواب د قسم محذوف دی ای والله په تحقيق راغلی پر ما دېرش په مابين کي د شپې او ورځي) ومالي ولبلال طعام يأكله ذو كبد (او نه ؤ ما لره او بلال لره دومره طعام چي وه يې خوري ذو کبد (کبد هينې ته وايي) يعني يو انسان) الا شيئ يواريه ابط بلال (مګر دومره قدر طعام چي هغه به پټ کړي بغل د بلال يعني د بلالؓ په بغل کي به څه طعام ؤ.

درويش وايي: والله اعلم من ای کان ذالک الطعام د غنمو ډوډۍ او که د اوربشو ټيکی، ترمذي وايي چي عليه الصلوة والسلام تلی د مکې څخه ومعه بلالؓ، وروی البخاري عن انسؓ انه مشی (ده ورووړل الی النبيﷺ بخبز شعير اوربشينه ډوډۍ) و اهالة سنخة (او يو څه موو غوړي چي هغه يې هم بوی تغير خوړلی ؤ)

درويش وايي: چي داسي خورک د ډېري لوږي له کبله کېږي او په اوسنۍ زمانه کي به يې څوک ونه خوري الا ماشاء الله من محبوس في ايدي الکفرة، لکه په دې وخت کي امريکايان په افغانستان کي يعني سنه (۱۴۳۰-۱۴۳۱-۱۴۳۲) حضرت انسؓ وايي: چي والله ګرو ايښې وه نبيﷺ خپله زغره (چي په جنګو کي د اغوستلو قميص ؤ چي په هغه وخت کي هر چاته ډېر محترم ؤ) په مدينه کي و يوه يهودي ته او د هغه څخه يې څه مقدار اوربشي اخستي وې د کور لپاره، او بخاري له انسؓ څخه روايت کړی دی چي ما له عليه الصلوة والسلام څخه اورېدلي دي چي ده وويل: چي نه دی ماښام کړی عند آل محمد (ﷺ) صاع بر (يوه کاسه د غنمو) ولا صاع حب (او نه يوه کاسه د نورو دانو لکه اوربشي، جوار وغيرهما، او حال دا ؤ چي دده مبارک نهه (۹) ازواج مطهراتي رضي الله عنهن وې، وروی الترمذي عن ابی طلحةؓ چي موږ شکايت وکړی و رسول اللهﷺ ته د لوږي، فرفعنا عن بطوننا عن حجر حجر (نو موږ هر يوه د خپلو نسو څخه هر يوه يوه ډبره) فرفع رسول اللهﷺ عن بطنه

عن حجرين (نو رسول كريم ﷺ د خپل نس مبارک څخه ښکاره کړې دوې ډبرې.

پوښتنه: د ډبرو تړل پر نس باندي څه فائده لوړي ته رسوي؟

ځواب: چونکه معده چي د خوړولو ځای خالي وي د معدې مشين ګرمېږي او خواږه غواړي او ډبره چونکه مشين د معدې سړوي د نورو خوړو خواهش يې في الجملة په کمېږي، پر موټر باندي يې قياس کړئ چي اوبه يې کمي سي ګرمېږي اوبه غواړي ورنه مشين يې جامېږي فتدبر. ترمذي وايي: هذا حديث غريب.

پوه سه: چي د غريب معنی دا نه ده چي حديث صحيح نه دی، بلکې راويان يې کم دي، مسلم له عبد الرحمن رح څخه روايت کړی دی چي درې کسه و عبد الله بن عمر رض ته راغله زه هم هورې وم نو دوی وويل يا ابا محمد چي د عبد الله بن عمر رض کنيت ؤ، والله ما نقدر على شيئ ولا نفقة ولا دابة و لا متاع، نو عبد الله بن عمر رض دوی ته وويل: ما شئتم؟ ستاسي څرنګه خوښه ده، که مو خوښه وي رجعنا الينا فاعطيناكم مايسر الله لكم (ماته به راسئ هغه څه به موږ درکړو چي خدای ج تاسي ته اساني جوړه کړي يعني تاسي ته اسانه وګرځوئ) وان شئتم ذكرتم امركم الى السلطان (او كه مو خوښه وي زه به ذکر کړم ستاسي حال او مسکنت وسلطان ته چي هغه به د بيت المال د لاري څخه کومک درسره وکړي) وان شئتم صبرتم (او كه ستاسي خوښه وي پر دغه مسکنت صبر وکړئ (فاني سمعت رسول الله ﷺ يقول ان فقراء المهاجرين يسبقون الاغنياء يوم القيامة الى الجنة باربعين خريفًا (۴۰ کاله) قالوا فانا نصبر ولا نسئل شيئًا يعني لامنک ولا من السلطان ولا غيره لان نعيم الآخيرة خير وابقى.

وروى احمد عن معاذ بن جبل رض چي رسول الله ﷺ دی استاوه و يمن ته يعني د والي په توګه، اياک و التنعم (چي پرهيز کوه د ډېر نعمت خوړلو يا اغوستلو څخه) فان عباد الله ليسوا بالمتنعمين (ولي خاص بندګان د خدای ج متنعمين نه وي، ولنعم ماقيل:- بر فلک برتر بود اسرار او شيئًا لله شيئًا لله كار او

او بيهقي رح له علي كرم الله وجهه څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ من رضى باليسير من الرزق (يعني په لږ رزق سره راضي وي رضى الله تعالى عنه بالقليل من العمل (اى الطاعة) بغوي رح له عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي ده ته چي روژه يې وه د روژمات پر وخت کور والاؤ يو ښه طعام راوړی، ده چي دې موزون طعام ته وکتل داسي يې وويل: قتل مصعب بن عمير رض وهو خير مني (چي په يوه ليک

داره جامه کي يې وپېچي چي بردة يې هم بولي، په امر د عليه الصلوة والسلام نو چي سر به يې ورپټ کړی پښې به يې ښکاره پاته سوې او که به يې پر پښو ورواچاوه سر به يې لڅ پاته سو، اخير يې پر سر ورواچاوه او پر پښو يې د اذخر وابنه ورواچول) راوي وايي چي زما خيال دی چي داسي يې هم وويل: قتل حمزة وهو خير مني) ثم بسط لنا من الدنيا (وروسته تر هغو پراخي جوړه سوه پر موږ د دنيا) او قال اعطنا الدنيا وقد خشينا ان تكون حسناتنا عجلت لنا (او زه بېرېږم چي زموږ د نېکو عملو ثواب به خدای په دې دنيا کي راکړي) ثم جعل يبکی حتی ترک الطعام (نو يې په ژړا شروع وکړه هغه موزون طعام يې پرېښو) البته روژه به يې په اوبو ماته کړې وي.

له جابر بن عبد الله څخه روايت دی چي عمر بن الخطاب غوښې وليدلې معلقا في يدي فقال: ما هذا يا جابر؟ قلت اشتهيت لحمًا فاشتريته (نو ده ماته وويل چي دا څه شی دي ستا په لاس کي يا جابر؟ نو ماته ورته وويل چي غوښو ته مي هوا وسوه نو دا مي رانيولې يعني چي کورته به يې پخې کړم او وه يې خورم) فقال عمر يا جابر کلما اشتهيت اشتريت اما تخاف هذه الآية (له دې اية څخه نه بېرېږې "اذهبتم طيباتكم في حياتكم الدنيا" او په بل روايت کي د جابر راغلي دی چي عمر بن الخطاب ماته وويل: اما يحب احدكم ان يطوي بطنه لجاره وابن عمه (دا د يوه ستاسي نه ده خوښه چي خپل نس خالي او وږی پرېږدي د همسايه لپاره او د اکا د زوی لپاره يعني هغه چي وږی وي هغو ته يې ورکوي) او روايت کړی دئ رزين د زيد بن اسلم څخه چي يوه ورځ عمر وږی ؤ او يه يې وغوښتلې، نو يو خادم يا بل چا اوبه ورته راوړې چي عسل به ورسره ګډ کړي، نو عمر وويل دا خو طيب اوبه دي لکني اسمع الله عزوجل تعبي (عيب يې ووايه) على قوم شهواتهم (د شهوت شيان) فقال اذهبتم طيباتكم في حياتكم الدنيا واستمتعتم بها. فاخاف ان تكون حسناتنا عجلت لنا فلم يشربه) هغه اوبه يې ونه څښلې.

درويش وايي: چي د دې آيت له سببه چي اصحابو کرامو طيبات نه خوړل او نه يې څښل او سره د دې چي دوی ښه پوهېدل چي دا آيت د کفارو په باره کي نازل سوی دی بيا هم د اصحابو د ومره خوف او بېره وه چي که موږ طيبات په دنيا کي استعمال کړو موږ ته به هم وويل سي اذهبتم طيباتكم الآية.

نكته: قرب د خدای ﷻ چي هر څو مره ډېرېږي خوف الهي هغو نه ورسره ډېرېږي

كما يدل عليه الاحاديث المذكورة في هذا الباب.

درويش وايي: ومثل هذه الروايات المذكور كثيرة في هذا الباب تركناها لحال الطول.

وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ۭ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ بِالْاَحْقَافِ

او ذكر كړه يا محمد (ﷺ) و اهل مكه ته قوي سړى د قوم عاد چي هغه هود عليه السلام ؤ، هغه چي ويې بېروى قوم خپل (چي د عاد په نامه يادېدل) په احقاف كي.

پوه سه: چي كلمه د با په معنى د في ده اى في الاحقاف، ابن عباس رض وايي چي احقاف په مابين كي د عمان او مهرة واقع دى، او مقاتل رح وايي چي منازل د عاد په يمن كي وه في حضرموت بموضع يقال له مهرة چي تنسب اليها الابل المهرية، روح البيان وايي چي احقاف رېګستان بود نزديک حضرموت ولايت يمن جمع حقف وهو رمل مستطيل مرتفع فيه انحناء، وكانوا من قبيلة ارم. وقال قتادة ذكرلنا ان عادًا يوه قبيله وه په يمن كي كانوا اهل رمل (رېګستان) مشرفين على البحر لوړ وه پر درياب بارض يقال لها يشجر.

درويش وايي: چي د ټولو تفاسيرو د احقاف مآل يو دى چي په پښتو ژباړه رېګنه مځكه ده لكه غرونه، لوى لوى غونډى پكښې وي چي دا رېګستان اوږد كوږ ؤ او درياب ته نژدې ؤ، او اهل احقاف لكه پونده خلک په دوبي يو ځاى په پسرلي بل ځاى او په ژمي بل ځاى اوسېدل لكن په ژمي خپل كورو ته راتله، وعن علي رضي الله عنه واد بين وادي الاحقاف وادي حضرموت چي برهوت يې هم بولي.

وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٢١﴾

او په تحقيق تېر سوي دي بېرونكي يعني رسولان د مخه تر هود ع لكه نوح ع وغيره او وروسته تر هود ع لكه صالح، لوط ابراهيم وغيرهم عليهم السلام، دا چي تاسي عبادت مه كوئ د غير د خداى ج "اني اخاف آه" زه بېرېږم پر تاسي (كه عبادت ته د غير الله دوام وركړئ) له عذابه د لوى ورځي يعني عظيم بلائه كه څه هم عظيم صفت د يوم دى.

اعراب: جمله د وقد خلت آه حال ده له فاعل څخه د انذر، جمله "ان لا تعبدوا آه" مفسره ده د انذر، جمله "اني اخاف آه" علت ده د لاتعبدوا الا الله "عذاب يوم عظيم" ته وصف بحال المتعلق وايي نحو زيد كريم ابوه.

قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾

قوم يې ورته وويل آيا ته راغلى يې موږ ته (الاستفهام للتقرير) چي موږ مصروف كړې يعني واموړوې له عبادت څخه د خدايانو زموږ يعني چي بتان دي، نو ته موږ ته راوله هغه عذاب چي زموږ سره يې وعده كوې كه موږ د بتانو عبادت پرې نږدو، كه ته يې د رشتيا ويونكو د جملې څخه.

قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾

هود ؑ ورته وويل چي نه دى علم د عذاب مستقبل چي مقدر دى مګر په نيز د خداى ؐ دى، هود ؑ په دې كي اشاره ودې ته وكړه چي بالفعل كه عذاب واقع نه سي دا ددې سببه نه دى چي زه كاذب يم په دعوى كي د رسالت لانه لامدخل لي في العذاب بلكې زه ''وابلغتكم ما ارسلت'' زه تاسي ته تبليغ كوم د هغه شي چي زه په استول سوى يم من التوحيد والاحكام او اخبار په دې سره چي نزول د عذاب به پر تاسي راسي كه تاسي ايمان رانه وړى ''ولكني اراكم آه'' لكن زه تاسي وينم داسي قوم چي نه پوهېږي په دې چي معبود بالحق او قادر مطلق خداى ؐ دى او رسولان صرف منذرين دي او مبلغين دي لا معذبين يعني تعذيب وركونكى ځني مراد دى او عذاب وركونكى خداى ؐ دى متى شاء.

درويش وايي: چي علم پوهان د نړۍ وايي چي جهل دوه قسمه دى، يو جهل مركب بولي هغه دادى چي يو سړى پر غلط مذهب او دين وي يعني په هغه ناخبره وي لكن پر جهل علم نه لري، دده يقين وي چي زه پر حق مذهب او دين يم كفارو ددينا هر قسم كافر چي وي كه مشرك وي او كه مجوسي او كه دهري او كه يهودي او كه نصراني وغير ذالك او ټوله فرق د ضلال لكه معتزله، شيعه، كراميه، روافض، خوارج الى غيرها مما اخبر به المخبر الصادق ﷺ ستفترق امتي على (۷۳) فرقة كلهم في النار الا الناجية الى اخير الحديث، ټوله په جهل مركب مبتلا دي، ولنعم ما قيل في بيان الجهل المركب:

آن كس كه نداند وبداند كه بداند — درجهل مركب ابد الدهر بماند

او بل جهل بسيط دى چي پر واقع علم نه لري او پر خپل جهل علم لري، ولنعم ماقيل في بيانه:

آن كس كه نداند وبداند كه نداند — او اسپ خود از گنبد فيروز جهاند

پوه سه: چي پر هر سړي لازمه ده چي واجبات د دين اسلامي به ټوله پېژني تا چي اداء يې کړي کما امر بها، او دغه هم لازمه ده چي منهيات شرعيه به هم ټوله پېژني تا چي ځان ځني وساتي، په روح البيان کي راغلي دي چي يو عابد صالح سړی ؤ لکن قليل العلم بالاوامر والمنهيات خانه نشين ؤ او مريدان يې درلوده نکاح يې نه وه کړې په دې سبب چي د خدای له عبادته سړی باسي، نفقه غواړي الى غير ذالک اخير شهوت ډېر زور پر وکړی يوه خره يې رانيول چي که يو وخت قضاء شهوت ته مجبور سي پر دې خره به يې کوي، دا خره مريدانو ډېره ښه ساتل، يوه ورځ د دې صالح سړي زيارت ته يو عالم ورغلی دده په کارو بار کي يې فکر وواهه چي دی چي په کور کي يوازي ژوند کوي او ځان يې عبادت ته د خدای فارغه کړی دی، نو دا خره دده په کور کي څه کوي؟ نو يې په سرای کي د خرې د ساتلو پوښتنه ځني وکړه، عابد جاهل ورته وويل چي له زنی څخه مي په دې ځان ساتلی دی چي شهوت غلبه راباندي وکړي، عالم ورته وويل چي دا خو هم حرام کار دی ولي چي رسول کريم ﷺ له دې څخه نهي کړي دي، عابد ډېر وژړل او وه يې ويل چي نه وم خبر توبه يې وکښه او پر ما مضٰی يې ډېر ډېر وژړل، سمدستي يې مريدانو ته وويل چي ماته ماينه راپيدا کړئ، هغو يوه ښځه په نکاح ورو غوښتل انتهى بحاصله.

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ

نو چي دوی وليدی عذاب (الضمير راجع الى ما تعدنا وهو العذاب) په صورت کي د وريځي چي ښکاره سوه په عرض کي د اسمان چي روانه وه ددوی د شيلې پر خوا، بعض روايات داسي راغلي دي چي تر دې دمخه پر دوی دوه کاله باران بند ؤ ابتلاء لهم بالعذاب لعلهم يؤمنوا، او بعض روايات وايي چي پر دوی باندي اته ورځي او اووه شپې سخته ګرمي خدای پاک مسلطه کړه چي دباندي خو څه کوې په خونو کي دننه سيلاب د خولو يې پر بدنو روان ؤ، دوی خوشحاله سوه او داسي يې وويل "قالوا هذا عارض ممطرنا" يو و بل ته يې استبشارًا وويل چي هغه ده وريځ راغله چي پر موږ به باران وکړي (يعني قحط به دفع سي يا هغه ګرمي، هود ورته وويل چي عارض ممطرنا نه ده لکه تاسي چي ګمان کوئ)

بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ؕ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۴﴾

بلکې هغه عذاب دی چي تاسي يې له هود ؑ څخه د ژر راتګ طلب کاوه، دا يو داسي باد دی چي په دې کي عذاب دی دردونکی "ريح" خبر لمبتداء محذوف ای هي ريح "فيها عذاب اليم" صفت د ريح دی "ريح" مؤنث سماعي دی.

تُدَمِّرُ كُلَّ شَیْءٍۭ بِاَمْرِ رَبِّهَا

چي هلاکوي هر شی يعني من انفسهم و من اموالهم من المواشي والزروع والبساتين وغيرها، يعني چي دا باد پر هغه شي تېر سي "بامر ربها" يعني طبعي کار د باد نه دی بلکې دا چار چلند په امر د خدای ج دی.

تاريخ وايي: چي خېمه يا کجاوه به يې د اسمان پر خوا دومره پورته کړه چي د سړي به خيال سو چي مچخ دی، راوي وايي چي اول چي دوی پوه سوه چي عذاب دی داؤ چي د عاد هغه کسان چي خارج به وه د وطن څخه ددوی يا هغه مالونه يعني مواشي ددوی باد ټوله پورته کړي وه په مابين کي د اسمان او د مځکي پر کور خلګو چي دا وليدل په خونو ننوتل او دروازې يې په ځان پسي بندي کړې، باد به ورغلی دروازې به يې ورماتي کړې دوی به يې راويستل هوا ته به يې پورته کړل، بيا باد خدای پاک امر کړی چي ددوی پر ټولو بدنو رېګ راواړوي، نو باد هم هغسي وکړه چي ددوی بدنونه اووه شپې اته ورځي تر رېګو لاندي وه، بيرته خدای پاک باد امر کړی چي ددوی اجساد لڅ کړي چي وراسته او بد بويه سوي وه بيا خدای پاک باد امر کړی چي دا ټوله درياب ته وغورځوه.

فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰۤى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِی الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۲۵﴾

نو دوی وګرځېدل يعني قوم عاد چي نه معلومېدل بيله کورو ددوی، داغه رنګه مور جزاء ورکوو هغه قوم ته چي مجرم وي، يعني الکافر المتمرد الباغي على الله ورسوله "فاصبحوا" عطف دی پر قال الله "کذالک" ای جزاء مثل هذا الجزاء.

پوښتنه: پر هود ؑ په قرار د تاريخ لږو کسانو ايمان راوړی ؤ نو هغه په دې دوران کي چېري وه؟

څواب: چي باد را نه ؤ را الوتی خدای پاک هود ؑ امر کړی چي د مؤمنانو لپاره یوه خطیره جوړه کړه او دی و مؤمنان په هغه خطیره کي کښېنئ باد کار نه په لري، خطیره د لرګو او وښوو څخه مرکب دېوال ته وایي لکه د پسو ګاش، او بعض وایي چي صرف خط یې پر راوګرځاوه دا باد پر مؤمنانو او هود ؑ لکه باد صبا ښه سوړ او نرم تېرېدی، او خدای پاک و هود ؑ ته د قوم تر هلاک وروسته یو سل او پنځوس کاله عمر وکړی.

درویش وایي: چي مظهري تفصیلاً او روح البیان هم د عائشې ﷞ څخه روایت کړی دی چي وریځ یا باد به سو د رسول الله ﷺ مخ مبارک به تغییر محسوس کړی یعني لکه یو سړی چي وېرېږي، بغوي ؒ وایي چي عائشې ﷞ و علیه الصلوة والسلام ته وویل یا رسول الله خلک چي وریځ وویني خوشحالي کوي په امید ددې چي اوربنت به وسي او ته چي وریځ ووینې عرف في وجهک الکراهة، مطلب ددې دا ؤ چي سبب د تغییر الوجه او د کراهت سبب څان ته معلوم کړي، فقال ؑ یا عائشة مایؤمنوني انیکون فیه عذاب قد عذب قوم بالریح، او دې قوم چي عذاب ولیدی فقالوا هذا عارض ممطرنا، او بل حدیث د سیدتنا عائشة ﷞ راغلی دی چي هغه وخت چي باد تند سو، قال اللهم اني اسئلک خیرها وخیر ما ارسلت به (یعني المطر) واعوذ بک من شرها وشرما فیها وشرما ارسلت به (یعني لقوم هود) چي باران به شروع سو د علیه الصلوة والسلام به کرب او بیقراري ولاړه او رنګ مبارک به یې پر خپل حال سو.

درویش وایي: چي دا حدیث بخاري او مسلم هم روایت کړی دی، وروی مثله بادنی اختلاف الفاظه ابو داؤد، النسائي، ابن ماجه، والشافعي، وروی عن عباس ؓ مثله، وکذالک رواه البیهقي.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ

لام مؤطئه د قسم دی، موږ لوی قدرت ورکړی ؤ عادیانو ته په اجسامو کي او په اموالو کي.

پوه سه: چي کلمه د ما موصوله ده یا موصوفه ده او کلمه د ان نافیه ده.

پوښتنه: کلمه د ما یې د نفي لپاره نه راوړه؟

ځواب: تاچي تکرار د يوه لفظ د ما لازم نسي، والمعنى في الذي (چي ما موصوله سي) او في شيئ (که ما موصوفه سي) والمراد من الذي او شيئ هو القوة، او مال چي تاسي ته يا اهل مکه هغو نه تمکين نه دی درکړه سوی.

والحاصل: چي هغه عاديان موږ په باد سره هلاک کړه، نو ستاسي هلاک يا اهل مکه تر هغو اسانه دی ظاهرًا وان کانا دواړه متسايان بالنسبة الی قدرة خالق القوي والقدر، مقصد دادی چي تاسي اهل مکه بايد د هلاک څخه د عاديانو عبرت واخلئ او ايمان راوړئ بمحمد ﷺ.. بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران ز تو پند

وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ

موږ کړځولي وه يعني خلقنالهم "سمع" چونکه مصدر دی پر قليل او کثير يې اطلاق کيږي، فلا يرد ان الخلق الکثير لايکون له سمعًا واحدًا وهذا قول المفسرين بمعنی اسماعًا "وابصارًا" سترګي "وافئدة" جمع د فواد ده يعني قلوبًا تاچي وپيژني په هغو زړو دغه نعم الٰهية او ذليل و وايي پر خالق د هغو شيانو او شکر يې بالايمان بالتوحيد ووايي او قول ته د هود ؑ غاړه کښيږدي.

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ

پس فائده ونه رسول دوی ته سمع ددوی او نه سترګو ددوی او نه زړو ددوی هيڅ فائده (کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي ای شيئًا من النفع بشيئ من الاشياء المذکورة)

اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾

ولي چي دوی وه چي د آياتو څخه د خدای ؑ چي معجزات د هود ؑ وې جحد کاوه "وحاق" ای نزل پر دوی هغه شی چي دوی په هغه سره پسخند واهه چي اتيان د عذاب دی ان لم يؤمنوا په خوله د هود النبي ؑ.

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾

او په تحقيق موږ هلاک کړی شاوخوا ستاسي يا اهل مکة "من القرى" ای من

اهل القرى لكه حجر د ثمود او مځكه د سدوم چي د قرى ؤ د قوم لوط وه، او موږ مكرر راوړي دي د دلائلو او بيناتو يعني په بيان د قصص د قرى مهلكه په قرآن كريم كي، لعل په معنى د لام كي دي اى لكي يرجعوا اهل مكة عن كفرهم.

پوښتنه: د مخه يې اهل مكه مخاطب كړه په ماحولكم كي او د لعلهم ضمير او يرجعون چي هم مراد ځني اهل مكه دي غائب يې راوړي فائده يې څه ده؟

ځواب: دا له محسناتو څخه د عربي لسان دي چي په علم المعاني كي دې ته التفات وايي چي شپږ قسمه دي يعني د تكلم و خطاب ته، يا غيبت ته د خطاب غيبت يا تكلم ته د غيبت څخه و خطاب ته يا تكلم چي مثالونه د ټولو په قرآن كريم كي موجود دي او اهل د علم المعاني ټوله بيان كړي دي فافهم.

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ؕ

نو ولي مرسته نه كوي ددوى سره او نه منع كوي من عذاب الله اذا وقع (بحذف المفعول اى هم) ماسوى له خداى څخه "آلهة" اى الهة يتقربون بها الى الله حيث قالوا هؤلاء شفعائنا عند الله.

پوه سه: چي اول مفعول د اتخذوا الضمير الراجع الى الموصول دى كما قلنا بحذف المفعول، دوهم مفعول قربانًا دى او الهة بدل يا عطف بيان دى.

بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝۲۸

بلكې غائب سوه له دوى څخه (عن نصرهم عند نزول العذاب او دوى كفارو ته ممتنع سوه مرسته غوښتل د ضال څخه چي مراد ځني بتان دي چي اوس ورك دي) دغه يعني اتخاذ د هغه شيانو چي دا يه شان وي چي په نيز د حاجت و استمداد ته ورك وي يعني بتان، دوى درواغ وايي چي دا زموږ شفعاء دي عند الله "وما كانوا" كلمه د ما مصدريه ده اى افتراهم انها الهة.

پوه سه: چي ابن ابى شيبة له ابن مسعود رض څخه روايت كړى دى چي عليه الصلوة والسلام د سهار په لمانځه كي په بطن النخلة (چي د يو ځاى نوم دى) قرآن وايه چي پېريان ور ته راغله فلما سمعوه قالوا (يعني يو و بل ته) انصتوا چي معنى د صه ده او دا جنيان نهه كسه وه چي مشر يې زربعة ؤ، نو دا آيت نازل سو.

وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ ۖ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓا أَنصِتُوا ۖ

او چي مائل کړه موږ وتاته څو نفره له جنيانو څخه (ابن عباس ؓ يې اووه کسه بولي) چي غوږ يې نيولی ؤ قرآن ته، نو چي دوی حاضر سوه قرآن ته يا رسول ته نو وويل بعضهم لبعض ساکت سئ چي دا قرآن واورو.

فائده: نفر تر لسو کم کسانو ته وايي او جمع يې انفار ده، جمله "يستمعون آه" حال ده له انفروا څخه.

فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾

نو چي څه وخت د قرآن اورېدل ختم سوه (يعني د عليه الصلوة والسلام لمونځ پای ته ورسېدی، نو دوی ايمان راوړی او د عليه الصلوة والسلام سره يې ملاقات وکړی عليه الصلوة والسلام دوی امر کړه چي قوم ولاړسي تبليغ د ايمان ورته وکړي، وذالک قوله) دوی راهي سوه و خپل قوم ته چي هغه له عذاب څخه د خدای بېرول او داسي يې قوم ته وويل:.

قَالُوا يَا قَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَىٰ

دوی وويل ای زموږ قومه موږ واورېدی يو کتاب (يعني بعض د هغه) چي نازل سوی وروسته تر موسٰیؑ، عطاءؒ وايي چي دوی چي تخصيص وکړی د موسٰیؑ ولي چي د دوی دين يهوديت ؤ، او بعض مفسران وايي چي تخصيص د موسٰیؑ چي يې وکړی له دې سببه لان نزول التورات متفق عليه بين اليهود والنصاری بخلاف عيسٰیؑ والانجيل فان اليهود ينکرونهما.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾

چي تصديق کونکی دی د هغه کتاب چي تر ده د مخه دی، چي هدايت کونکی دی و حق ته چي توحيد او نور عقائد حقه دي، او هغې لاري ته چي سمه ده من الشرائع والاحکام.

پوهسه: چي مصدقًا حال دی له فاعل څخه د انزل يا صفت ثاني د کتابًا دی.

يٰقَوۡمَنَاۤ اَجِيۡبُوۡا دَاعِىَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوۡا بِهٖ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ مِّنۡ ذُنُوۡبِكُمۡ

اى قومه زموږ قبلونه وكړئ د قول د داعي الى الله والاسلام چي محمد ﷺ دى او ايمان راوړئ پر داعي الله خداى به وبخښي (يغفر مجزوم دى جواب د امر دى) بعض ستاسي ګنهونه (چي مظالم على الغير نه وي ولي چي حقوق الناس په ايمان نه بخښل كېږي بالاجماع)

وَيُجِرۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ ﴿۳۱﴾

او تاسي ته به نجات دركړي د عذاب درد وركونكي څخه چي عذاب النار دى راوي وايي چي دديٖ نهه كسانو د جن په قوم كي اوويا (۷۰) كسو اسلام قبول كړى، او دا اوويا كسه و رسول الله ﷺ ته راغله په بطحاء كي د مديني په شپله كي يې د رسول الله ﷺ سره وكتل فقرء عليه القرآن فامرهم (يعني په بعض كارو سره) ونهاهم له بعض كارو څخه.

مسئله: له ديٖ آيت څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ مبعوث ؤ جن او انس دواړو ته او هيڅ نبي تر عليه الصلوة والسلام دمخه و انس او جن ته نه دى راغلى.

سوال: سليمان عليه السلام خو هم پر انس او جن امر درلودى؟

ځواب: سليمان عليه السلام د دين د تبليغ لپاره و جن ته مبعوث نه ؤ بلكيٖ د تسخير له لاري ؤ، او په فتح الرحمن كي وايي چي عليه الصلوة والسلام مبعوث و ملكو ته نه ؤ، صرح به البيهقي في الباب الرابع من شعب الايمان، وفي تفسير الامام الرازي ؒ والبرهان النسفي ؒ حكايت الاجماع على ذالک، قال ابن حامد من اصحاب الامام احمد ؒ ومذهب العلماء اخراج الملائكة عن التكليف والوعد والوعيد وهم معصومون كالانبياء عليهم السلام الا من استثنى كابليس وهاروت و ماروت على القول بانهم كانوا من الملائكة انتهى.

درويش وايي: چي بعض تحقيقات به په ديٖ باره كي په تفسير كي د سورة الجن به راسي ان شاء الله تعالى.

درويش وايي: چي فقير تخمينًا څلويښت كاله دمخه په عصمت كي د انبياء على نبينا وعليهم الصلوة والسلام يوه رساله تصنيف كړيٖ د هغه وخت چي په

قندهار کي د يو عالم په خپل جامع مسجد کي دا خبره د جمعې په خطبو کي کرات و مرات ترخوله وتلې وه چي انبياء عليهم السلام نه قبل النبوة او نه بعد النبوة د کبيره ګنو څخه معصوم وه، علماؤ د قندهار که څه هم هغه عالم په محکمه کي د قاضي د مرافعې په دلائلو سره ملامت کړی او ده هم خپله ملامتيا ومنله او توبه يې وکښل لکن علماؤ د قندهار و فقير ته وويل چي دا عالم په باور نه دی څو ورځي وروسته که يې په محاکمو د افغانستان کي قدرت پيدا کړی بيرته به دا خبره را وګرځوي، نو ته يوه رساله تصنيف کړه يعني په عصمت کي د انبياء عليهم السلام مونږ به ټوله دستخطونه او تقريظونه پر وکړو، دا بار پر فقير درونـد ؤ او فقير پـه درس د مدرسې هم بې اندازې مصروفو لکن د علماؤ د قندهار چي بعض يې زما همزولي وه او بعض تر ما مشران وه د هغو غوښتنه مي هم نسوای ردولای، نو مي د خدای جل جلاله توفيق او د روحانيت څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم مي طلب د مرستي وکړی، او نوم د رسالې مي "کشف الغطاء عن عصمت الانبياء" وضع کړی، او ډېر کتابونه، رسالې او فتاوی وې مي د خپل مذهب او د نورو مذهبو مطالعه کړې، نو په توفيق د خدای په لنډه موده کي رساله پای ته ورسېدل او علماؤ ته عرض سوه، د قندهار علماؤ همه وهمه چا تقريظ او چا امضاء پر وکړه، او د نېکه بخته په دغه وخت کي مشائخ د طريقت د هرات هم په قندهار کي موجود وه هغو هم امضاوي يا تقريظ پر وکړی، نو هغه رساله چهاپ سوه او په څو کلو کي کالعنقاء في جو السماء وګرځېده، اخيرًا مو دوباره پيدا کړه بيا چهاپ سوه چي اوس په کتب پروشانو کي د کوټې په اسانۍ دستياب کېږي (دا وه جمله معترضه په تفسير کي)

وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ

او څوک چي قبلونه ونه کړي د دعوت د بلونکي و خدای ته چي رسول الله صلى الله عليه وسلم في الوقت ؤ وان کان الحکم عامًا نو نه دی هغه څوک عاجزه کونکی يعني د خدای په ځمکه کي يعني که خدای اراده د تعذيب د هغه وکړي هغه دي خدای عاجزه کړي.

وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ۚ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝٣٢

او نسته هغه لره ماسوی له خدايه دوستان چي له عذابه د خدای دې خلاص

کړي (دا جمله حال ده له فاعل څخه د ليس بمعجز) دغه کسان دي په لويه ګمراهي کي، ولي چي هدايت محصور دی په اتباع الرسول د هر زماني چي وي.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ يَعْیَ بِخَلْقِهِنَّ

آيا علم نه لري دوی (الهمزة للانکار يعني لري يې لان نفي النفي اثبات والواو للعطف على مقدر تقديره اينكرون هؤلاء الكفار عن البعث بعد الموت ولم يروا ولم يعتقدوا، والمراد كفار مكة لكن الحكم عام، ولي د لويي وچي د هندوان ټوله پر هم دغه عقيده دي او نور هم په نړۍ کي مشرکان په دغه عقيده موجود دي) دا چي الله پيدا کړي دي اسمانونه او مځکه او نه دی ستړی سوی او نه عاجزه سوی دی ددوی په پيدا کولو کي، ولي چي قدرت د ذات دده عزوجل مقتضى ده، و ما هو مقتضى الذات لايتغير ولا ينقص بالايجاد ابد الآبدين.

بِقٰدِرٍ عَلٰۤی اَنْ يُّحْیَِۧ الْمَوْتٰی ؕ بَلٰۤی اِنَّهٗ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

او الله عزوجل قادر دی پر دې باندي چي ژوندي کړي مړي يوم البعث، هو په تحقيق هغه پر هر شي قادر دی ''بقادر'' مظهري وايي چي با زائده ده و اسم الفاعل في محل النصب على انه مفعول ثاني ''بلى آه'' جواب د نفي دی انه تعليل د هغه دی.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰی وَرَبِّنَا ؕ

پوه سه: چي يوم منصوب دی په اضمار د قول تقديره يقال لهم يوم آه هغه ورځ چي پېښول کېږي کافران يعني منکر د بعث بعد الموت څخه پر اور يعني دوږخ دوی ته به وويل سي ''اليس هذا'' اى العذاب بالنار وليست اشارة الى النار مؤنث سماعًا يعني چي تاسي په دنيا کي انکار ځني کاوه ''بالحق'' صحيح او واقع شی ''قالوا بلى'' کفار په جواب کي ووايي چي هو حق دی ''وربنا'' زموږ دي قسم په رب سره زموږ وي.

تنبيه: دوی رب په وحدانيت سره وپېژندی او اقرار يې وکړی لکن لاينفعهم المعرفة والاقرار به في تلک الدار عند معاينته وانما النافع لهم هو الاقرار بربوبيته تعالى في الدنيا وقدرته تعالى.

قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾

"قال" په معنی د يقول دی (وجه يې: دا قول خو په مستقبل کي دی چي ورځ ده، او قال ماضي ده وجه التعبير بالماضي ليقن وقوعه کالماضي) خدایؒ ورته وايي يا ملائکة په امر د خدایؒ، نو وڅکئ عذاب ليس من ذوق الفم بل بمعنی ورئ اوس، نو کلمه د فاء يې ددې لپاره راوړه چي حق والی د عذاب بالنار سره د انکار د دوی په دنيا کي سبب دی د ذوق "بما کنتم تکفرون" په سبب د کفر ستاسي په دنيا کي.

پوه سه: چي معنی د امر يعني فذوقوا اهانة او سپکاوی او توبيخ دی ددوی.

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ

الفاء للسببية يعني ته په دې پوه سوې چي دوی ته به عذاب النار په اخرت کي رسيږي، نو ته صبر وکړه يا محمد (ﷺ) يعني ددوی له انتقام څخه غم مه کوه "کماصبر" مفعول مطلق دی د فاصبر ای صبرًا مثل صبر "اولی العزم" چي لرونکي وه د صبر او ثبات او جد "من الرسل" يعني تر تا دمخه وه ولي ته هم د جملې څخه د هغو يې.

درويش وايي: چي په اولو العزم کي رسولانو اختلاف دی ابن زيدؒ وايي چي هر رسول صاحب د عزم او او حزم او رای وکمال عقل دی.

پوه سه: چي رسول دلته په معنی د مطلق نبي دی لا المعنی المصطلح چي رسول هغه دی چي صاحب د کتاب او شريعت متجددة وي او نبي عام دی لان ذالک الاصطلاح لايتم کما في کتب العقائد ولي چي رسولان (۳۱۳) دي او کتابونه (۱۰۴) دي الا بتکلف کما اختاره المولی شمس الدين الخيالي في حاشية شرح العقائد النسفي، او بعض مفسران وايي چي انبياء عليهم السلام ټول له اولوا العزم دي الا يونس بن متیؒ لعجلة منه علی قومه العذاب حتی خرج منهم ورکب في الفلک وقصته طويلة مذکورة في موضعه من القرآن يعني سورة يونس، ځکه و عليه الصلوة والسلام ته خدایؒ امر ورکړی ولاتکن کصاحب الحوت ای في العجلة، او بعض آدم عليه السلام ور سره ملګری کوي لقوله تعالی في قصة اکل آدم من الشجرة الممنوعة ولم نجد له عزمًا، او بعض مفسرين عدد معين اولوا العزم بولي په عدد کي هم اختلاف کثير دی وعند

Scanned by CamScanner

الفقير القول الاول اى قول ابن زيدؒ هو الاولى و الاليق بحال الانبياء علیہم السلام.

وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ۚ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ

ته تلوار مه كوه په طلب كي د نزول د عذاب پر قريشو فانه نازل بهم في وقته الموعود، دا نهي ددې لپاره خداى پاک عليه الصلوة والسلام ته وكړې چي دى مبارک د ډېرو مخالفاتو څخه د قوم زړه يې تنګ سوى ؤ، نو زړه يې دا غوښته چي ژر عذاب پر نازل سي، فامر من الله عزوجل بالصبر وترک الاستعجال واخبر في الآية الماضية والآتية بقرب نزول العذاب عليهم حيث قال ''كانهم يوم يرون ما يوعدون'' ګويا دوى هغه ورځ چي دوى ووينې هغه چي ددوى سره وعده كړه كېږي يعني من العذاب في الآخرة.

سوال: تاسي ددې آيت په شان نزول كي وويل چي په دې آيت كي خداى عزوجل و عليه الصلوة والسلام ته وعده د قرب د نزول عذاب وركړه او سره ددې چي عذاب الآخرة ډېر وروسته دى؟

ځواب: ماهو آتٍ فهو قريب وما مضى فهو بعيد فافهم.

لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ ؕ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾

موړ درنګ نه دى كړى يعني في الدنيا الا ساعة من نهار.

سوال: رائي كوتاه وګڼل زمانه د لبث د دوى په دنيا كي او سره ددې چي بعض كافران سل كاله بعض دوه سوه كاله بعض څلور سوه كاله عمر درلودلى ؤ؟

ځواب: له ډېر خوف څخه د عذاب د يوم القيامة عمر د دنيا هرڅه چي ؤ دوى ته كوتاه معلوم سو، حتى چي د يوه ساعت د ورځي اطلاق يې پر وكړى، او بل ځواب دادى چي ما مضى كه څه هم طويل وي داسي ګڼل كان لم يكن.

پوه سه: چي جمله د كانهم په ځاى كي د علت د عدم الاستعجال راغلې ده في طلب تعذيب الكفار

''بلاغ'' اى دغه چي تا ته نصيحت په وكړه سو يا د غه سورة احقاف يا قرآن و ما فيه من البيان بلاغ من الله اليكم اى كفاية لكم يا تبليغ الرسول.

فائده: بلاغ چي يې نكره راوړى لپاره د تعظيم.

"فهل يهلک" الاستفهام للانکار ای لایهلک بالعذاب اذا اتی، مګر هغه قوم چي له طاعت څخه د خدای عزوجل سرکښه وي، قال الزجاج" تأويله مع رحمة الله العظيمة وفضله العامة الا القوم الفاسقون، بعض مفسرين وايي چي مافي القرآن آية ارجی لرحمة الله من هذه الآية للمؤمنين، ولي يې استثناء يوازي د فاسقانو وکړه يعني کافران او مؤمنان خو بحمد الله فاسقان نه دي.

درويش وايي: چي بحمد الله وحسن توفيقه لهذا العبد الضعيف له تفسير څخه د سورة الاحقاف پر يوولس (۱۱) بجې د ورځي د جمعې پر دوولس (۱۲) تاريخ د رمضان المبارکة سنه (۱۴۳۲هـ) فارغ سوم، تر دې وروسته تفسير د سورة محمد (ﷺ) شروع کېږي ان شاء الله تعالى، اللهم وفقني لما تحب وترضیٰ.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹



سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّ اَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ①

هغه کسان چي کفر يې مختاره کړی وي او منع کوي نور خلک له دخول څخه په اسلام کي، او يا معنی داده چي منع کوي له دخول څخه په اسلام کي (نو پر اول تقدير صدوا متعدي دی مفعول يې محذوف دی ای الناس او پر دوهم تقدير لازمي دی ای المنع من الاسلام) قال في الکشف چي ثاني احتمال اظهر دی لان الصد عن سبيل الله هو الاعراض عما جاء به النبي ﷺ.

درويش وايي: چي مظهري ؒ دا نه ده بيان کړې چي دا سورة مکي او که مدني دی چي په نورو سورتونو کي دا بيان ده کاوه، علامه بغدادي ؒ په روح المعاني کي وايي چي په نېز د اکثرين دا سورت مدني دی او استثناء د بعض آيتو يې نه ده څني کړې، وعن ابن عباس ؓ وقتادة انها مدنية الا قوله تعالی "وکاين من قرية الی اخيره" دليل يې دا وايي چي رسول الله ﷺ چي د هجرت په نيت و مدينې ته له غاره څخه د غره چي دی د کفارو له لاس پکښي پټ ؤ راووتی او کعبې شريفي ته يې وکتل داسي يې وويل والله انت احب بلاد الله الی الله وانت احب بلاد الي (يعني ماته) او که چېري ستا اهل زه نه وای ايستلی يعني و هجرت ته يې نه وای مجبوره کړی لم اخرج منک فانزل الله تعالی هذه الآية، نو دا آيت په اصطلاح مکي بولي بناءً علی ان ما نزل في طريق المدينة قبل ان يبلغها النبي ﷺ اعني ما نزل في سفر الهجرة من المکة في الاصطلاح.

فائده: ضمير مستتر په "اضل اعمالهم" کي راجع و خدای ﷻ ته دی يعني خدای ج ضائع کړه اعمال ددوی.

پوه سه: چي مراد څني اعمال حسنه ددوی دي لکه صلة الرحم و فک العاني واطعام الضيف الی غير ذالک، ولي چي دا کارونه دوی لوجه الله نه کول لکفرهم به تعالی، نو دې عملو لره ثواب په اخرت کي نسته البته په دنيا کي يې خدای ج عوض ورکوي فضلاً من الله عزوجل.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او اعمال صالحه هم کوي او ایمان یې راوړی وي پر هغه کتاب چي نازل کړه سوی دی پر محمد ﷺ.

فائده: تخصیص د منزل علیه چي یې وکړی په مایجب الایمان به تعظیمًا له، او بل تنبیه یې وکړه پر دې چي ایمان نه پوره کېږي بېله ایمانه پر رسول الله ﷺ لان الایمان به ﷺ اصل وشامل لجمیع مایجب في الایمان من الاعتقادیات کما لایخفٰی.

وَهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿۲﴾

"وهو الحق من ربهم" دا جمله حال ده له ما نزل څخه او دغه ما نزل علی محمد ﷺ دی له جانب څخه د خدای ﷻ، او خدای به وبخښي دوی ته ګنهونه په سبب د ایمان او اعمال صالحهؤ "واصلح بالهم" او خدای به یې ښه کړي په دنیا کي بالنصر علی الاعداء وتوفیق الطاعة والحفظ من المعاصي وتسلط الشیطان، خدای به غلبه ورکړي پر سلطان الی غیر ذالک من النعیم الدنیویة او په اخرت کي به خدای ﷻ دار الخلود جنت ورکړي او نعیم مقیم هوري ورضوان الله اکبر من کل ذالک، او ابن عباس رض د نعمت دنیوي تفسیر په عصمت سره کړی دی ایام حیوتهم، او له ابن عباس رض څخه روایت دی چي "الذین کفروا وصدوا عن سبیل الله" هم مشرکوا اهل مکة والذین آمنوا الخ انصار المدینة رض.

فائده: مبتداء چي خبر یې معرف باللام وي یفید الحصر یعني حقیت په ده کي حصر وي کما عرف في النحو، بعض مفسرین وایي چي حقیت د قرآن دا دی چي ناسخ د ټولو کتابو دی او دی بیا نه نسخ کېږي ابدًا.

درویش وایي: چي ابن عباس رض اشد د انواع د کفرةؤ ذکر کړی دی او اکمل د انواع د الذین آمنوا و عملوا الصالحات یې ذکر کړی دی، حصر یې غرض نه دی فلا یرد علیه ما اورده بعض المفسرین ان اللفظ یعني الذین کفروا والذین آمنوا عام دی فافهم.

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ

(ذالک) په تأویل د مفرد ای المذکور یعني دا اضلال د کفارو او اصلاح د مؤمنانو، وهذا التأویل په اشاره و ډېرو شیانو ته په لفظ مفرد د اسم الاشارة شائع

ذائع، وهكذا حال الضمير المفرد الراجع الى الاشياء الكثيرة في بعض المواضع) (بان) په دې سبب چي کافرانو متابعت کړی دی د باطل يعني د شيطان (باطل د شيطان د نومانو څخه يو نوم دی)

وَأَنَّ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَالَهُمْ ﴿۳﴾

او په تحقيق هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی متابعت يې د حق نازل کړی دی د خدایؒ له خوا چي قرآن کريم دی "كذالک" ای ضربًا مثل ذالک بیانوي خدایؒ و خلګو ته (نو ضمير راجع دی ناس ته او يا ضمير راجع دی و مذکورينو ته د دواړو ډلو، فاللام ح ء للاجل فالمعنى يضرب لاجل الناس يعني چي دوی عبرت څني واخلي امثال الفريقين حيث جعل الله اتباع الباطل مثلاً لعمل الكفار والاضلال مثلاً لخيبتهم واتباع الحق مثلاً للمؤمنين وتكفير السيئات مثلاً لفوزهم.

فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ط

پس چي تاسي ملاقي وګرځئ ايها المؤمنين د هغه کسانو سره چي کفر يې کاوه.

پوه سه: چي ملاقات په اصطلاح د علم المغازي جنګ ته وايي "فضرب الرقاب" مفعول مطلق دی د فعل محذوف والاصل فاضربوا الرقاب ضربًا، بيا يې فعل څني حذف کړی او مصدر يې په ځای کي ورو ودراوه مضافًا الى المفعول ای الرقاب لپاره د تاكيد والاختصار به ای المفعول مراد دی قتل دی يعني وژنئ يې، دلالت پر دې چي که ممکنه وه پر رقبه يې په توره واهه چي ژوندي نه سي پاته غالبًا بخلاف سائر الجراحات ولي د هغو سره د ژوند امکان سته كما لايخفى.

حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ق

يعني تر هغه پوري چي ډېر مو پکښي ووژل، د اثخان معنى غلظت دی ای اغلظتم في قتلهم "فشدو الوثاق" يعني قتل يې بند کړئ او بنديان کوئ ياست او لاسونه او پښې يې وروتړئ په تناؤ حتى چي ونه تښتي، والوثاق بفتح الواو وكسرها هغه تناؤ ته وايي چي سړی په تړل کيږي.

فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً

منا او فداء دواړه مفعول مطلق د فعل محذوف دي ای وروسته تر بندي کولو

او شد الوثاق اما تمنون علیهم منا یعني احسان به ور سره وکړی مفت به یې اله کړی او تفدون فداء په مال سره یا په یو بندي د مسلمانانو یعني په فدیه ورکولو سره بې خوشي کړی.

پوه سه: چي البغوي وایي چي علماء ددې آیت په حکم خلاف سره لري بعض وایي چي دا آیت منسوخ بقوله تعالی: اقتلوا المشرکین حیث وجد تموهم، ودې قول ته ذهاب کړی دی، قتادة، الضحاک، السدي و ابن جریج رحمهم الله وهو قول الاوزاعي وبه قال ابو حنیفة في روایة، لکن مظهري یې منسوخ نه بولي، ولي چي مریان ګرځول د بندیانو کافرانو روا دی باجماع الائمة او ژوندي یې پرېښول چي د مسلمانانو اهل ذمه وګرځي په نېز د ابو حنیفة او امام مالک او بعض علماء وایي چي دا آیت محکم دی یعني منسوخ نه دی بلکې ددې آیت معنی داده چي امیر المؤمنین ته اختیار دی په هغه رجالو کي د بندیانو کافرانو چي ذوی العقول او بندیان سي (۱) که یې وژني (۲) کي یې مریان کوي (۳) او یا که احسان ورسره کوي بلا عوض یې خوشي کړي (۴) که فدیه مالي ځني اخلي جبرًا (۵) او یا د مسلمانانو بندیانو چي د دوی په قید وي تبادله کوي، دا د ابن عمر مذهب دی او د حسن او عطاء و اکثر الصحابة، والعلماء وهو قول الثوري والشافعي واحمد واسحاق، قال ابن عباس چي خدای ﷻ چي مسلمانانو ته قدرت تامه عامه ورکړي انزل الله عزوجل في الاساري فاما منا بعد و اما نداء وهذا هو الاصح والمختار لانه عمل به رسول الله ﷺ والخلفاء بعده.

درویش وایي: وهذا التخییر بین الخصال الاربع په قول د روح البیان ثابت عند الشافعي، ومنسوخ عندنا بقوله تعالی فاقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم.

درویش وایي: چي په مسئله کي د بندیانو د کافرانو اختلافات د مذاهبو او قیل وقال د مفسرین هم ډېر دي و اصل موضع هذه کتب الفقهاء لکل مذهب لهذا په دې ما ذکرنا د تفسیر په بیان کي کفایت دی بعض مفسرین د مذهب مراعات.

حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚۛ

(ای اهل الحرب ای المجاهدین) یعني درانه شیان چي مراد ځني اسلحه ده حرب ده، د تضع الحرب معنی داده چي جنګ قطع سي بالکلیة حتی چي نسي پاته یا مسلم

يا مسالم، او بعض مفسرين وايي چي مراد له اوزارو څخه ګنهونه دي حربيان يعني مشركان خپل ګناهونه كښيږدي چي د شرك او كفر څخه توبه وكاږي ويؤمنوا بالله ورسوله، وقيل چي ستاسي حرب او قتال اى مسلمانانو او زار د مشركانو او قبح افعال ددوى ځني و غورځوي بان يسلموا، والحاصل اثخنوا المشركين بالقتل والاسر (په بندي كولو سره حتى يدخل اهل الملل المختلفة الكافرة من اليهود والنصارى وغيرها كلها في الاسلام مخافة ان يفعل بهم ما فعلوا بالمشركين.

فائده: خداى پاک وګرځول انقطاع د حرب پاى او فرض الضرب او الشد او المن او الفداء او للمجموع يعني هذه الاحكام تكون جارية حتى لا يوجد حرب مع المشركين ويكون الدين كله لله ويزول شوكتهم بالكلية.

پوه سه: چي ټوله ملل چي په اسلام كي داخليږي او كفر، شرك او دهريت چي د مځكي د مخه څخه ټوليږي هغه به هغه وخت معرض ته د وجود راځي چي عيسىٰ بن مريم له اسمان څخه راكښته سي، له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل همېشه به يوه طائفه پر دين حق جنګيږي چي غالبه به وي پر من خالفهم وحاربهم حتى يقاتل اخرهم المسيح الدجال، رواه ابو داؤد.

ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَاءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ۗ

(ذالک، خبر د مبتداء محذوف دى اى الامر في الكفار ذالک المذكور يا مبتداء ده خبر يې محذوف دى اى ذالک ثابت واقع او يا مفعول د فعل محذوف دى اى افعلوا بهم اى الكفرة ذالک المذكور من الار الابعة) كه د خداى ج اراده سي د انتقام د دغو كفارو څخه بېله تعب او ستړيا ستاسي په جهاد كي د دوى سره هغه انتقام خداى ج اخستاى سواى چي ټوله يې هلاک كړي واى په يو آفت سماوي يا ارضي كما وقع لغيرهم "ولكن" يعني امركم بالقتال والجهاد معهم "ليبلوا بعضكم ببعض" تاچي امتحان وكړي د بعض ستاسي په بل بعض سره يعني امتحان د مؤمنانو په كافرانو سره بان يكلفوا شدائد الجهاد من الخوف والجوع وتحمل الجراحات الى غير ذالک، نو دوى به مستحق د ثواب وګرځي په ورځ د قيامت بالتنعيم المقيم في الجنة و فوق ذالک رضى الرحمن ورؤيته تعالى بلا كيف، او د كافرانو امتحان به وكړل سي په مؤمنين سره چي عقاب عاجل په دنيا

کي د مؤمنانو له خوا و ويني حتی بعض د دوی به له کفر څخه توبه وکاږي او اخوان المؤمنين به وګرځي بعد ان کانوا اعداء لهم، او بعض د کفارو چي په اسلام داخل نه سي مستحق د عقاب بالنار وګرځي په ورځ د قيامت.

پوه سه: چي دا بيان ؤ د حکمت الهي په امر سره د مؤمنانو بالقتال مع الکفار مع قدرة الله على الاستيصال لهم بدون التجشم للمؤمنين بالقتال.

وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿٤﴾

هغه کسان چي ووژل سي په لاره کي د خدای چي جهاد دی او جام نوشين د شهادت نوش کړي.

پوه سه: چي جمله ''فلن يضل اعمالهم'' خبر د موصول ده چي الذين ؤ چي متضمن معنی لره د شرط، نو ځکه يې په خبر کي فاء الجزاء راوړه، والمعنی مونږ نه باطلوو اعمال حسنه د دوی چي اعلی تر ټولو يې شهادت في سبيل الله ؤ په هغه معاصيو سره چي قبلاً يې کړي وي بلکې سيئات قبليه يې وربخښو او د حسناتو بدله يې ورکوو، له انس رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل چي شهداء دري قسمه دي (۱) هغه مؤمن چي ځان يې ايستلی وي او مال (لکه د سواري آس او آلات د حرب) په نيت د ثواب في سبيل الله يريد ان يقاتل ويقتل و يکثر سواد المسلمين (په ځان سره ډېروي جماعت د مسلمانانو) فان مات (په خدايي مرګ په دغه جهاد کي) او قتل (يا ووژل سي په دغه جنګ کي) غفرت له ذنوبه کلها، واجير من عذاب القبر (او پناه ورکړه کېږي د عذاب څخه د قبر) ويؤمن من الفزع الاکبر (او امان ورکړه کېږي د لويي بېري چي په ورځ د قيامت اهل محشر پکښي واقع کېږي) ويزوج من الحور العين (او دده سره جوت وي حور عين (جمع د حورا ده يعني ډېري حوري) چي رنګونه يې سپين وي زړه ته مائل او عين جمع د عينا ده چي غټي سترګي يې وي په طول کي) ويحل حلة الکرامة (او په ده اغوستل کېږي کالي د کرامت او عزت لکه په دې دنيا کي په زوم سره کوي) ويوضع على رأسه تاج الوقار (يعني تاج د عزت) (۲) دوهم قسم هغه مجاهد دی چي خرج بنفسه وماله محتسبًا (په نيت د ثواب نه د غنيمت) او اراده يې دا وي چي زه دي کفار وژنم او زه دي نه وژل کېږم (په دې کي غرض دا وي چي ډېر کافران مړه کړم) فان

مات او قتل كان ركبتيه مع ابراهيم خليل الرحمن يكن يدى الله (په حضور كي د خداى ؒ بلا كيف) في مقعد صدق عند مليك مقتدر (۳) رجل خرج بنفسه وماله محتسبًا يريد ان يقتل (چي كافران زه مړه كړم) ويقتل (او بيا زه يې ووژل سم) فان قتل او مات جاء يوم القيامة شاهرًا سيفه (توره يې له تيكي كښلې وي) واضعة على عاتقه (او ايښې يې وي پر اوږه) والناس جاثون على الركب (او خلګ ناست وي پر زنګنو، يعني على هيئة التشهد لضيق المجلس نو دا قسم مجاهدين خلګو ته وو ايي يو څه لار نه راكوئ موږ ته (فانا بذلنا دمائنا واموالنا) خلګ لار وركړي دوى ورسي پر منبرانو د نور كښېني تحت العرش ينظرون كيف يقف بين الناس يعني د هغو سيل كوو ولي دوى لره خو حساب نسته لايجدون الم الموت ولايفتنون في البرزخ او امتحان نه څني اخستل كېږي په برزخ يعني په قبر كي لايفزعهم الصيحة، نه يې بېروي صيحه د اسرافيل ؑ ولايهمهم الحسان د حسبان په قصه كي نه وي او نه بېرېږي ولا الميزان ولا الصراط ولا يسئلون الا اعطوا ولايشفعون في شيئ الا شفعوا (شفاعت د يو چا نه كوي مګر شفاعت قبلېږي) ويعطون من الجنة ما احبوا، والله اعلم. روايت خو يې مظهري كړى دى لكن نه يې يو كتاب ته د حديثو نسبت كړى دى او نه يې تر انس ﷺ پوري سند ذكر كړى دى.

سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝

خداى به هدايت ورته وكړي (اما في الدنيا فالى صراط مستقيم وفي الآخرة للدرجات العلى) او ښه به وګرځوي حال د دوى في الدارين، اما في الدنيا فمن لم يقتل نوم به يې درج كړل سي په قتلىٰ ؤ كي تغليبًا، او يا له دې سببه چي دغه نا وژل سوي خلګ خرجوا للقتال او په دې سره راضي وه چي قتل سي او ثواب د مقتولينو خداى وركړي واما في الآخرة هغه مجاهد كه ووژل سي او كه و نه وژل سي ګنهونه يې تول له خداى ؒ وربخښي حسنات يې تول له، خداى جَلَّ جَلَالُهُ له دوى څخه راضي وي، د خواصو څخه د شهداؤ دى چي هر څوک چي جنت ته ورسي بيا يې دنيا ته تلل زړه نه غواړي كه دنيا ومافيها وركوي الا الشهيد فانه يتمنى الخروج الى الدنيا مرارًا ليقتل في سبيل الله كما قتل اولاً.

فائده: په حديث شريف كي راغلي دي "يغفر للشهيد كل شيئ (يعني من

حقوق الله) الا الدين) روح البيان وايي چې مراد له دَين څخه كل ما كان من حقوق العباد كالغصب واخذ المال بالباطل لكه سرقة وقتل العمد والجراحة وغيرها كالغيبة والنميمة (د يو چا شيطانت و بل ته) او په چا پسخند وهل فان هذه الحقوق لابد في كلها من استيفائها الى مستحقها.

وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ ۝٦

او دوی يعني شهداء في سبيل الله به داخل سي و جنت ته چې خدای تعريف او بيان د منازلو و دوی ته بيان کړي دي حتی چې هر جنتي خپل استوګن ځای ته ولاړ سي من غير استدلال داسي به هر يو خپل جنت ته ور روان وي لکه چې د دوی د استوګني ځای له هغه وخت څخه چې پيدا سوي وه، وهذا قول اكثر المفسرين، ويدل عليه ما روی عن ابی هريرة رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ والذي بعثني بالحق ما انتم في الدنيا باعرف بازواجكم ومساكنكم من اهل الجنة بازواجهم ومساكنهم، رواه ابن جبير والطبراني وغيرهما، ومعنى الحديث ظاهر، پښتو ژباړي ته ضرورت نه لري.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧

ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی که نصرت د دين د خدای وکړئ او مرسته د رسول د خدای وکړئ خدای به تاسي ته نصرت درکړي پر دښمنانو ستاسي او محکمه به کړي پښې ستاسي چې حقوق الله او د جهاد في سبيل الله حقوق تړوله كما هو حقها پر ځای کړئ.

پوهسه: چې ټينګول د پښو کنايه ده د صبر او ثبات په دغو ځايو کي.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ۝٨

ابن عباس رض وايي بعدًا لهم يعني عن رحمت الله، وقال الضحاك خيبة ناکامي ده دوی لره، قال الفراء نصب على المصدر لفعل واجب الحذف ای سماعًا ای فتعسوا تعسًا آه لکن په هر صورت دا ښېرا ده، قاموس ډېري معناوي د تعسًا بيان کړي دي حيث قال التعس الهلاک والعثار پښه ښوويدل يا نوک وهل والسقوط غوځاريدل ته وايي، والشر والبعد والانحطاط "واضل اعمالهم" ګمراه او باطل سوه عملونه د دوی، ولي د دوی عملونه في طاعة الشيطان.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۹﴾

دغه تعس او اضلال په سبب دد ې ؤ چې دوی مکروه باله (یعني سحر وغیره) وباله القرآن الکریم ولي په هغه کي توحید د خدای ستهٔ چې ددوی د شرک سره منافي دی او داسي تکالیف لکه لمونځونه وغیره چې دوی الفت نه ورسره درلودی او حرمت د داسي شیانو لکه زنا مثلاً چې ددوی د اشتها سره برابره وه.

"فاحبط اعمالهم" نو خدای عزوجل هغه عملونه ددوی چې په ظاهره به حسنه وه لکه اطعام الطعام وفک الایسر وصلة الرحم ټوله لغوه کړي او بې ثوابه کړي یې دي ولي چې احباط د لوازمو څخه د کفر دي.

پوه سه: چې احبط اعمالهم او اضل اعمالهم په معنی کي سره یو دي نو لپاره د تاکید د ایاس دوی یې مکرر راوړه.

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

آیا تګ او سفر نه کوي اهل مکه په مځکه کي یعني په اطراف بعیده ؤ کي د مځکي، الاستفهام للانکار والفاء للعطف علی مقدر تقدیره الم یخرجوا یعني من مکة فلم یسروا في الارض.

درویش وایي: چې دا قاعده مطرد (جاري) ده في جمیع القرآن العزیز یعني چې وروسته تر همزه د استفهام حرف عطف راسي یا واو یا فا یا ثم نو حرف عطف به چې دلته فاء د عطف پر مقدر وي کمامر تقدیره في هذا المقام دد ې قانون سر دادی چې همزه د استفهام صدرات غواړي په خپله جمله کي اجماعًا للنحاة نو کلمه د عطف هره کلمه چې وي پر ما قبل د حرف استفهام خو عطف نسي کېدای لفواة صدارت الاستفهام نو ضرورةً معطوف علیه د حرف عطف به مقدر وي یا به صدارت د استفهام پر ځای پاتېږي، فاحفظ هذه الفائدة ینفعک في جمیع القرآن العزیز.

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

نو دوی به وګوري په نظر عبرت ("فینظروا" دا جمله جواب د نفي ده) چې څنګه سوی دی اخیر کار د هغه کسانو چې تر دوی دمخه وه یعني المنکرین لتوحید الملک العزیز وتکذیب المرسل الکریم ﷺ

دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ۝۱۰

"دمر الله عليهم" هلاک بالاستيصال يعني پر انفس د ددوی او پر اهل او اولاد او اموالو ددوی يې هلاکت راوستی الله ﷻ "وللكافرين" او د کفارو لپاره ای للكفار مكة.

سوال: ذکر د اهل مکه خو په ضمير کي د يسيروا تېر سو نو د اسم ظاهر راوړل يې څه فائده لري يعني و للكافرين امثالها؟

ځواب: فائده يې په تصريح او حکم کي ده په کفر سره ددوی.

پوښتنه: مؤنث ضمير د امثالها کوم لفظ ته راجع دی؟

ځواب: مرجع يې مذکور حکمًا دی يعني العاقبة او العقوبة او الهكة چي د تدمير څخه وفهمېدی.

نکته: د کفارو د مکې په باره کي داسي عبارت وويل سو امثالها، ولي پر کفارو د مکې په برکت د عليه الصلوة والسلام عذاب بالاستيصال خدای ﷻ نه دی راوستلی فافهم هذا صانح عزيز.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دغه نصرت د مؤمنانو سره کول او قهر پر کافرانو په سبب دد ې دی چي خدای عزوجل متولي او دوست او ناصر دی د مؤمنانو، نو له دوی څخه هيڅ نوع نصر نه سپموي او تائيد يې کوي او توفيق ورکوي او هر قسم دښمن له دوی څخه دفع کوي حتی له خطراتو څخه د شيطان يې هم ساتي، قال الله تعالى في جواب ابليس لاغوينهم اجمعين، ان عبادي ليس لک عليهم بسلطان.

وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ۝۱۱

او هغه کسان چي کافران دي دوی لره مولی نسته يعني داسي مولی چي ددوی څخه دي دفع د ضرر وکړي يا جلب د نفع لان وليهم الشيطان وهو ليس بذالک المنصب.

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۖ

په تحقيق خدای داخلوي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دوي او اعمال صالحه يې هم کړي وي قولاً و عملاً يعني ورځ د قيامت و جنتو ته داسي جنتونه

چي بهېږي به لاندي تر درختو د هغو ولې يعني څلور (۱) من ماء غير آسن (چي بد بويه او بېخونده او يا تروې به نه وي) (۲) من عسل مصفي (چي د مچمچيو د مومو څخه به خلاص وي لکه دد دنيا په عسلو کي چي سته) (۳) شراب لا غول فيها (د سر درد به نه وي پکښې) ولاهم عنها ينزفون (نه به هم دوی له هغه ځينبلو څخه هوش او عقل دلاسو ورکوي لکه دغه راوړي خاصې چي په شرابو کي د دنيا سته (۴) نهر من لبن لا يتغير طعمه (داسي شيدې چي په طول مکث سره يې خوند بدلېږي، اللهم اجعلنا منهم بمحض فضلک و کرمک... گفته شده:

به بها نه مى بخشد و ببهانه مى بخشد

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَأْكُلُوْنَ كَمَا تَأْكُلُ الْاَنْعَامُ

او هغه کسان چي کفر يې اختيار کړی وي په نعمتو د دنيا نفع اخلي اياما قليلة مدة اعمارهم، او خورک کوي لکه چهارپايان يعني حريصين على الاكل غافلين عن المنعم الحقيقي او شکر يې هم نه وايي او د عقوبت بعد الموت غافل او منکر وي.

فائده: کما تأکل صفت د مصدر محذوف دی او ما مصدريه دی ای کلا کأکل الانعام.

وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۝

او اوور يعني دوږخ کور او ځای د اوسېدو دوی دی يعني ابدًا.

د اميد وړ فائده: امام قشيري قدس سره وايي چي ارجى آيت په قرآن کي دغه آيت دی (يعني ډېر د اميد وړ آيت دی) وجه يې دا ويلې ده چي خدای پاک په دې آيت کي داسي ويلي دي "ان الله مولى الذين آمنوا" داسي يې نه دي ويلي چي مولى الزهاد يا داسي الله مولى اصحاب الاوراد يا الله مولى العباد مؤمن که څه هم عاصي وي په الذين آمنوا کي خو داخل دي انتهى.

درويش وايي: چي و من عجائب قدرة الله تعالى ما روى چي زيد بن ثابت رضي الله عنه د يو سړي سره له مکې څخه طائف ته ووتی او زيد رض په دې نه ؤ خبر چي دا سړی منافق دی چي غرمه سوه په يوه خرابه سرای ننوتل د استراحت او قيلولې لپاره چي دواړه په خوب بيده سوه منافق خو ظاهرًا ځان پر خوب واچاوه او زيد رض حقيقةً ستړی هم ؤ په درياب کي د خوب غرق سو، د منافق سره يوه مړانده موجوده وه چي زيد رضي الله عنه ځان سره بنوراوه منافق يې پښې او لاسونه وروتړل او چاړه يا چاقو يې پر راوکښې چي ذبح يې کړي، زيد رضي الله عنه دا قدر

دعاء وکړه يا رحمن اعني زما سره مرسته وکړه منافق د دباندي څخه وا وريدل چي يو ځوک وايي ويحک لاتقتله (هلاکت دي وي تاته چي قتل يې نه کړې) منافق د سراى دباندي ووتی چي بيګانه سړی دباندي ولاړ نه وي شاو خوا يې وکتل ځوک نهٔ ييا و قتل ته اماده سو بيا هغه ناره واوريده ثم وثم، دريم وار د آس سپور راغلی توره ور څخه د منافق سريې قلم کړی د زيد رضي الله عنه لاسونه او پښې يې ورخلاص کړه، او زيد رضي الله عنه ته يې وويل چي جبرئيل ؑ يم زه په اووم اسمان کي وم چي ته دعاء وکړه خدای پاک پر ما امر وکړی چي ادرک عبدي او دا آيت يې ووايه الله ولي الذين آمنوا، نو غائب سو.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ

او ډېري قريې ای اهل قرية (مضاف چي اهل ؤ حذف يې کړی حکم يې پر مضاف اليه جاري کړی چي هلاک دی) ”اشد قوة“ صفت د قرية دی تانيث د ضمير يې په اعتبار د لفظ د قرية که څه هم مراد ځني اهل دی چي هغه قريه يعني اهل د هغې قريې ډېر سخت وه از روی قوت تمييز د نسبت څخه د اشد و هي ته.

”من قريتک“ ستا تر قريې هغه قريه چي ته يې ځني و ايستلې.

پوښتنه: کفارو د مکې خو عليه الصلوة والسلام ته نه ويل چي ته له مکې څخه ووځه؟

ځواب: دا اسناد د اخراج و اهل مکه ته من قبيل النسبت الى السبب دی يعني سبب د وتلو د عليه الصلوة والسلام له مکې څخه سبب يې ازار شديده د کفارو د مکې ؤ ده ته، نو ګويا دوی و ايستی، نو دا وتل د عليه الصلوة والسلام له مکې څخه اضطرارًا وه، کما يدل عليه الحديث المروي عن ابن عباس رض دی وايي چي عليه الصلوة والسلام چي له مکې څخه ووتی پر طرف د غار د جبل ثور مخ يې مکې ته راواړاوی او داسي يې وويل: انت احب بلاد الله الى الله واحب بلاد الله الي (ته يا مکه هغه ډېر ګران ښار على الله عزوجل تر ټولو ښارو او احب بلاد الله هم يې و ماته) ولو ان المشرکين لم يخرجوني لم اخرج منک وفي رواية وقد بکى رسول الله صلى الله عليه وسلم.

أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾

مونږ هلاک کړه هغه (چونک مراد له قرية څخه اهل قرية دي نو ځکه يې ضمير د جمع مذکر ورته راجع کړی) ددوی کومکي نه سو پيدا (دا حکايت دی د حالت ماضيه، فلا يرد ان صيغة اسم الفاعل للحال او الاستقبال)

أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهِ كَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوٓءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوٓا أَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾

الاستفهام للانكار والفاء للعطف على مقدر تقديره ايستوي المؤمن الذي مولاه هو الله والكافر الذي لا مولاله "على بينة من ربه" اى على يقين مستند الى حجة من عند ربه اى القرآن او ما يعمه من الحجج العقلية كالنبي ﷺ والمؤمنون، دا مثال دى د من كان على حجة من الله.

پوهسه: چي د استفهام انكاري معنى داده چي مذكوره دوې ډلي سره برابري نه دي.

درويش وايي: چي اوس خداى ﷻ بيان د عاقبت او ثواب د اولې ډلي كوي يعني من كان على بينة من ربه.

مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ط

پوهسه: چي ضمير راجع و موصول ته دى چي التي محذوف دى، والتقدير وعدبها المتقون لكه قانون نحوي چي دى چي په صله عائد و موصول ته لازم دى ومعنى المثل الصفة العجيبة يعني صفت عجيبه د جنت چي د متقينو سره وعده كړه سوى دى اى من جانب الله القادر المقتدر "مثل آه" مبتداء ده خبرېې محذوف دى اى مثل ماوعد المتقون فيما يتلى عليكم فيما بعد، چي دادى:

فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ

چي په هغه جنت كي به ولې وي د اوبو چي متغير به نه وي نه يې خوند او نه يې بوى كما يتغير مياه الدنيا بطول المكث "ماء صفت دى د انهار" او ولې به وي د شيدو چي خوند ته به يې هيڅ تغيير نه وي رسېدلى چي يا ترشي سوي وي يا خيدك سوي وي لكه البان د دنيا.

وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ۚ

او ولې به وي د شرابو "لذة" اى لذيذة جدًا.

پوهسه: چي لذة تانيث د لذ دى نو توصيف يې حقيقة دى، او يا لذة مصدر دى حمل يې مبالغة دى نحو زيد عدل او يا صفت دى په تقدير د مضاف اى ذات لذة "للشاربين" د څښونكو لپاره، يعني دا به بد بويه نه وي لكه شراب د دنيا چي

نهایت بدبویه وي، او نه د سر درد او نه نشه چي خماریې بولي پکښې وي، بخلاف شراب الدنیا فانها کریهة عند الشرب جدًا ویعقبها خمار وسکر وذهاب العقل.

درویش وایي: چي د شرابي چي خماریې په سر سي دومره مغلوب العقل سي چي په تاریخ کي راغلي دي چي یو سړی چي شراب یې څیښلي وه چي نشه یې په سر سوه نو بولو ونیوی راغلی پر بولو کښېنستی لاسونه یې دواړه بولو ته ونیول چي غبرګه به یې ډکه سوه بولي به یې پر مخ واچولې او داسي به یې ویل سبحان الذي من جعل الماء طهورًا.

پوښتنه: شراب چي ظاهرًا دومره بد دي او کراهة الذوق عند الشرب وغیر ذالک ورسره دي نو ولي یې خلک څیښني؟

ځواب: د خلکو خوند په دا نشه کي دی دا نشه دوی په هر قیمت رانسي چي بعض ډاکټر ګولۍ هم دغه د نشې فائده کوي تر شرابو بدتر شی او بدبویه وي په هره معنی د بدن لپاره ضرر تام دي چي هغه ته هیروئن وایي، د دغي نشې لپاره دود کشوي، نو پر دې هیروئني چي څو ورځي تېري سي د انسانیت له نوع څخه خارج سي نه اودس کوي او نه لمونځ او نه نور طهارت البدن کوي.

وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى

او ویالې به وي د عسلو چي بعض پښتانه یې شهد بولي چي پاک به وي له فضلاتو څخه د مچمچیو او شمع هم نه وي پکښې بخلاف عسل الدنیا، له معاویة بن حیدة رض څخه روایت دی وایي سمعت رسول الله ﷺ چي ده مبارک وویل چي په جنت کي یو دریاب د اوبو سته او یو د عسلو او یو د شیدو او یو د شرابو، نو له دغو دریابونو څخه دغه څلور ویالې راجلا کېږي او په هر جنت کي بهېږي، ابن المبارک او البیهقي رح په سند د مسروق رض څخه روایت کړی دی چي ویالې بهېږي چي یوې او بلې خوا ته تجاوز نه کوي په قدرت د خدای ج.

درویش وایي: چي دا خرق العادة دی مربوط په قدرت دی مخصوص بالجنة دی او د قسم د ما لا عین رئت دی، وعن انس رض قال قال رسول الله ﷺ لعلکم تظنون ان انهار الجنة اخدود في الارض (شاید تاسي به ګمان کوئ چي ویالې د جنت به لښتي او غارونه لري په مځکه کي یعني لکه په دنیا کي) لا والله انها سابحة على

وجه الارض (داسي نه دی بلکې قسم په خدای دی چي بهېږي پر مخ د مځکي) حافتاه خيام اللؤلؤ (پر دواړو غاړو ددې اوبو خېمې د ملغلرو وي او ختمي د هغو لبنتيو او ويالو مشک ازفر دي (يو اعلی قسم د مشکو نوم دی) وعن ابی هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ سيحان وجيحان والفرات والنيل من انهار الجنة، رواه مسلم فقير وايي: چي منتهی ددې لويو رودو په علم کي د بشر نسته والله اعلم.

وَلَهُمْ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ

دوی لره په جنت کي د هر قسم مېوې سته، د ابن عباسؓ څخه روايت ده وويل ما في الدنيا ثمرة (ای في مجموع الدنيا) يوه مېوه که خوږه وي (لکه انګور انار وغيرها) ولا مرة او نه ترخه الا هي في الجنة حتی الحنظل (مړه غونې چي ډېره ترخه ده) رواه ابن ابی حاتم.

سوال: حنظل خو ترخه ده نو په جنت کي يې څه فائده ده؟

ځواب: صرف هيئت يې د حنظل دی په واقع کي اعلی ډول خوږه ده، رواه ابن المنذر في تفسيرها، ويدل علی ما قلنا في باب الحنظل الحديث المروي عن ابن عباسؓ ليس في الدنيا مما في الجنة الا الاسماء، رواه ابن جبير وابن ابی حاتم وغيرهما.

درويش وايي: چي د ابن عباسؓ د حديث معنی داده چي والله اعلم چي شراکت د مېوو د دنيا او د جنت صرف په نامه کي يعني په جنت کي په نامه د انګورو مېوه سته او په رنګ د انګورو مېوه سته لکن په خوند کي او په غټوالي کي او په وانښکي او دانو کي فرق عظيم سته وکذا ما علی شکل الحنظل وعلی هذا فقس الثمار الاخر في الجنة وهذا انموذج من قدرته تعالی شانه وعن ثوبانؓ انه سمع رسول اللهﷺ لاينزع رجل من اهل الجنة من ثمرها (ای الجنة) الا اعيد في مکانها مثلها، ترجمه: نه شکوي يو سړی د اهل جنت يوه مېوه د جنت مګر په هغه ځای کي مثل د هغې پيدا کېږي مثلاً انار يې له يوې درختي څخه وشکاوه هر هغه سمدستي مثل د هغه انار پيدا کېږي وعلی هذا فقس سائر ثمار الجنة.

"ومغفرة من ربهم" او بخشش عام دی د خدای له خوا فهو تعالی راض عنهم ابدًا سره د احسان په جنتو او د جنتو په مېوو وغيرها.

كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِى النَّارِ

آيا هغه څوک چي خالد وي في الجنة داسي کېداى سي لکه هغه څوک چي خالد او همېشه وي په اور کي؟ والجواب: لا نو د اعراب د لاري کمن هو خبر دى د مبتداء محذوفي، تقديره: امن هو خالد في هذه الجنة لکه حال چي ذکر سوا و موعود د رب کريم دى کمن هو خالد في النار التي لايطفاء لهبسها ابدًا ولا يكف اسيرها (نه خلاصېږي بندي يې قال الله تعالى والنار مثوى لهم)

وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾

او دوى چي تږى سي ايشېدلي او به ورکول کېږي. ورټوک ټوک کړي کلمې ددوى لفرط الحرارة او تر دبره يې ووزي، ابن المنذر د ابن جريج ؒ څخه روايت کړى دى چي مؤمنان او منافقان جمع د نبي ﷺ سره ناست وه نو عليه الصلوة والسلام مؤمنانو به دده خبري اورېدلې او پياد کي به يې ساتلې او منفقانو به هم اورېدلې نه يې په دماغ کي ساتلې او نه به په پوهېدل تهاونًا وبغضًا چي د عليه الصلوة والسلام څخه به دواړي ډلي راووتلې نو منافقانو به له مسلمانانو څخه پوښتنه کوله ماذا قال آنفًا چي ده دا اوس څه ويل فنزلت هذه الآية.

پوهسه: چي ''سقوا'' عطف دى على ''خالد'' نظرًا الى لفظه من چي مفرد دى وجمع سقوا الى معنى من لانه جمع معنًى.

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ

او بعض له منافقانو څخه هغه کسان دي چي تاته يې په ظاهره غوږ نيولى وي يعني ستا و خبرو ته.

حَتّٰى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا

پوهسه: چي ضمير د يستمع مفرد راوړى نظر و لفظ ته د من او ضمير د خرجوا چي جمع يې راوړى نظر و معنى ته د من ولي چي منافقين خو ډېر کسان وه.

لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا

دوى يعني منافقانو به هغه کسانو ته ويل چي خداى علم ورکړى ؤ، اى المؤمنين،

ما استفهامي دی او ذا په معنی د الذي والمعنی ما الذي "قال" ای محمد (ﷺ) آنفا يعني دا اوس، مشتق من انف الشيئ لما تقدمه قريبًا اصلاً مستعار ای د انف په معنی د اجابة يعني پزه پښتانه يې داسي ترجمه کوي ترپزه لاندي.

درويش وايي: چي دا پوښتنه يې غالبًا په زړو کي استهزاءً کوله او په ظاهره استعلامًا کوله تاچي نفاق يې ظاهر نه سي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ﴿١٦﴾

دا هغه کسان دي چي خدای پر زړو مهر د غفلت او کفر ورلګولی دی نو له دې کبله د خبرو د عليه الصلوة والسلام سپکاوی کوي. دوی متابعت د خپلو خبيثو خواهشاتو کوی دوی په خبرو د عليه الصلوة والسلام پسخند واهه.

وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ ﴿١٧﴾

او هغو کسانو چي هدايت پيدا کړی ؤ په خبرو سره د رسول اللهﷺ زيات کړی دوی ته خدای په خبرو سره د رسول اللهﷺ "هدی" نور علم او بصيرت او په احکامو د دين خبرتيا او خدای دوی ته ورکړی توفيق د عمل لما امرهم رسول اللهﷺ به، او سعيد بن جبير وايي اتاهم ثواب تقواهم او يا دا معنی چي په تبليغ د رسول اللهﷺ دوی ته ښکاره سوه هغه لار چي دوی له اور څخه په ورځ د اخرت وساتي.

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا ۚ

"فهل ينظرون" استفهام لپاره د انکار دی يعني اهل مکه چي ايمان نه راوړي انتظار نه کوي. مګر ورځ د قيامت چي دوی ته راسي "بغتة" نابيره په پښتو، ناګاه په فارسي اچانک په اردو، والمعنی ان الساعة اتية لامحالة بغتة فهم لاينظرون الا الساعة، په تحقيق چي علامات د ساعت ښکاره سوي نو په ساعت حتمًا راځي لکن وقت اتيانها بالتعيين في علم الباري عزوجل (١) منها شق القمر قال الله تعالی اقتربت الساعة والشق القمر (٢) ومنها الدخان قال الله تعالی يوم تأتي السماء بدخان مبين (٣) ومنها مبعث النبيﷺ کما روی مسلم وابن ماجة عن سهل بن سعدؓ رئيت النبيﷺ قال باصبعيه (ای اشار) هکذا (ای ضمها) بالوسطی والتي تلی الابهام (يعني المسبحة) وقال بعثت انا والساعة کهاتين، له انسؓ څخه

روایت دی چي ده وویل زه به داسي حدیث درته و وایم چي هغه حدیث به هیڅ څوک تاسي ته نه و وایي ماسوی له ما څخه چي ما اورېدلي دي له رسول اللهﷺ څخه چي ده وویل ان من اشراط الساعة ان یرفع العلم (یعني څوک به عمل نه په کوي) ویکثر الجهل، ویکثر الزنی ویکثر شرب الخمر ویقل الرجال (په جنګو د تسلط د کافرانو پر ممالکو د مسلمانانو) کما هو الآن جار في افغانستان، وتکثر النساء حتی یکون لخمسین امرئة قیم واحد (چي دوی ته نفقه وغیرها برابروي بادنی قرابة معه) وعن ابی هریرةؓ بینما رسول اللهﷺ یحدث اذ جائه اعرابي فقال متی الساعة؟ قالﷺ اذا اضیعت الامانة فانتظر الساعة قال کیف اضاعتها؟ قال[۴] اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة، رواه البخاري لعل المراد والله اعلم چي ریاست او سلطنت د مسلمانانو او دغه رنګه وزارت او نوري نوري لویي عهدې د ملک اسلامي د نااهل ظالمانو تابعینو د کافرانو په لاس ورسي.

درویش وایي: هو العصر الحاضر موجود في اکثر الممالک الاسلامیة کما لایخفٰی، وفي حدیث طویل عن ابی هریرةؓ چي امانت به خلک غنیمت بولي یعني چي یو امانت شی ورته کښېښول سي، داسي به یې بولي لکه غنیمت یعني چي بیا یې سړی طلب ځني وکړي نه یې ورکوي، په دې کي قرض هم داخل دی او نور پورنه هم داخل دي والله اعلم (۲) والزکوة مغرمًا، زکوة به داسي ورته ښکاري لکه ناحقه تاوان (۳) او طالبان به طلب د علم کوي لغیر الدین بلکي د یو امامت یا قضاء الی غیر ذالک د پیدا کېدو لپاره به وي (۴) او سړی به د ماینې اطاعت کوي او مور به ځني بېزاره وي (۵) اشنای به ځان ته رانژدې کوي پلار به له ځانه لېري کوي (۶) او اوازونه به په مسجدو کي شروع وي یعني مجلسونه لکه د صحراء په مساجدو کي (۷) او رئیس د قوم به هغه فاسق ددوی وي (۸) وکان زعیم القوم ارزلهم او ملک د قوم به هغه ډېر رزیل ددوی وي (۹) واکرم الرجل مخافة شره او عزت به ورکړه کېږي یو سړي ته د بیري دده له شره (۱۰) وظهرت القینات والمعازف او ښکاره به ویل کېږي غزلي او سروزونه لکه په راډیو ګانو کي بلکي تر هغه لوړ ټیپونه بلکي تر هغه لوړ لڅه سینما چي نر او ښځي به لڅ جماع سره کوي پکښي معلومېږي به، او ډش، بلکي لویه آله د غزلو او د زنی

کولو وخت او ځای پکښي تا کل کېږي چي د هري ښځي او نر په جېبو کي سته چي موبائل يې بولي او ساز و صحبت هم په اعلی درجه کي وجود پکښي لري (۱۱) وشربت الخمور او شراب په ډکه پيمانه څيښل کېږي صرف د نامه په بدلولو (۱۲) ولعن اخير هذه الامة اولها لکه شيعه په باب کي د ابوبکر او عمر او عثمان ﷺ يا روافض يا خوارج الی غير ذالک، انتهى باختصار کثير.

فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾

نو چېري د کفارو لره په سر کي اهل مکه ؤ پند اخستل چي قيامت راسي، ولي چي قيامت چي راسي پند اخستل فائده نه کوي .. سعدي ؒ:

تو پيش از عقوبت درعفو کوب .... که سودی نه دارد فغان زير چوب
نرود مرغ سوئی دانه فراز ..... چو بيند مرغ ديگر اندر بند

فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ

نو ته پوه سه (انه ای الشان) نسته هيڅ يو معبود ماسوی له الله څخه، کلمة الفاء للسببية ای اذا علمت سعادة المؤمنين وشقاوة الکافرين، فاثبت يا محمد علی ما انت عليه من العلم بوحدانية المعبود بالحق او تکميل د نفوسو د خلګو کوه باصلاح اقوالها واحوالها واعمالها بتبليغک المتين لان تلک الاصلاح نافعة يوم القيامة ليس الا.

سوال: رسول کريم ﷺ خو معصوم دی له ګناه څخه ما معنی هذا الامر بالاستغفار؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چي هضمًا لنفسه دی، بعض مفسرين وايي اظهارًا للتقصير في بعض العبادات لا لمغفرة المعصية، بعض مفسرين وايي چي دا امر نسبت و عظمت و جلال ته د خدای دی او يا لپاره د اقتداء د امت دی، بعض مفسرين وايي بحذف المضاف دی ای واستغفر لذنب امتک.

درويش وايي: چي احسن د توجيهاتو داده په نېز د فقير چي استغفار في نفسه عبادت دی لکه سړی چي لا اله الا الله مکررووي فکان الامر بالاستغفار امر بالعبادة، او عليه الصلوة والسلام ددې امر الهي ايتان هم کاوه حيث قال عليه

الصلوة والسلام چي په مقتضى د امكان راځي زما پر نفس باندي غفلت وانى استغفر الله في اليوم مائة مرة.

وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط

او د مؤمنين او د مؤمناتو لپاره اى استغفر لذنوبهم بالدعاء لهم، البغوي رح وايي چي دا اكرام من الله لهذه الامة حيث امر نبيهم ﷺ ان يستغفر لذنبهم لعدم العصمة لهم من الذنوب وهو ﷺ هو الشفيع المجاب فيهم... سعدي رح وايي:

عطايى شفاعت چنانش دهند   كه امت تمامى ز دوزخ رهند

نكته: په دې كي تحريض او باعثه كول دي د مؤمنين او مؤمنات پر استغفار باندي لوجود بعض الذنوب فيهم.

فائده: وفي اعادة الجار وحذف المضاف اى لذنوب المؤمنين آه اشعار بانهم لكثرة ذنوبهم وفرط احتياجهم الى الاستغفار كانهم جنس آخر.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾

او خداى ج خبر دى په مصرفياتو كي ستاسي او انتشاد كي ستاسي په اعمالو كي د دنيا.

درويش وايي: چي دا خطاب عام دى مؤمنانو او كافرانو ته، بدليل قوله ومثواكم لان معناه مصيركم في الآخرة الى الجنة او النار، او مقاتل او ابن جرير رح وايي منصرفكم لاشتغالكم بالنهار ومأواكم الى مضاجعكم بالليل للاستراحة او لاجتماعهم بالاحبة، او عكرمه رض وايي متقلبكم من اصلاب الاباء الى ارحام الامهات بنقل النطفة الى رحمها ومثواكم مقامكم في الارض وروسته تر تېرېدو د تطولات د نطفه او علقه او مضغه وكسوة العظام مجمًا ونفخ الروح فيكم حتى حان وقت خروجكم من بطن الام الى الارض، والحاصل انه تعالى عليم بجميع احوالكم.

وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ

او وايي هغه كسان (لپاره د حرص پر جهاد) يعني چي موږ امر كړى په جهاد سره في سبيل الله چي نازل كړل سي يو سورت چي محكم وي لايحتمل وجهًا الا وجوب القتال.

وَّذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ

او ذکر کړل سي قتال د کفارو سره، قتادهؒ وايي چي هر سورت چي په هغه کي جهاد ذکر سي هغه محکم دی يعني نسخ نه قبلوي ولي آية القتال نسخ کړه ټوله ماقبل ذالک من طلب الصلح من الکفار يا غوړمالي وغير ذالک او پر آية القتال نسخ نه راځي الی يوم القيامة حتی يقاتل اخير هذه الامة مع الدجال.

پوهه: چي هر سورت چي په هغه کي به امر بالجهاد و هغه سورت سخت تر سورت ؤ پر منافقانو.

رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ

ته به وينې هغه کسان چي په زړو کي يې ضعف او بزدلي او نفاق وي، تا ته به ګوري د جبن او د خوف القتال له کبله.

نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾

لکه نظر د هغه چا چي پر هغه بيهوشي د مرګ له سببه راسي (يعني زکندن يې وي) نو ښايي دوی لره.

طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ

فرمانبرداري د خدای او د رسول د خدای يعني چي جهاد ته چمتو سي "وقول معروف" يعني ښه دی دوی لره قول معروف في الشرع چي سمعنا و اطعنا ای سمعنا قولک واطعنا امرک.

فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾

چي ټينګ قصد وکي امر د جهاد.

پوهه: چي دا اسناد مجازي دی والاصل جد وعزم اصحاب الامر چي مجاهدين پر قتال "فلو صدقوا الله" که دوی رشتيا کي هغه تمنی د نزول د سورة چي په هغه کي د قتال امر وي، نو دا به خير وي دوی لره ولي چي اطاعت د خدایؒ او د رسول په حاصل کړي او تمنی د دوی په ډګر کي د قتال جامه د صدق واغوندي.

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

آيا بنايي يعني توقع كېږي چي جبن والاؤ كه چېري تاسي اعراض وكړئ له متابعت څخه د رسول الله ﷺ (په جهاد كي) چي تاسي به فساد كوئ (يعني بالكفر والمعاصي لاجل مزيد مخالفة الرسول) او وسيلي رحمي به قطع كړئ د خپل اقرباؤ سره چي مؤمنين مجاهدين دي في سبيل الله.

پوه سه: چي ان سره د جملې چي دی پر داخل دی فاعل د عسيتم دی والاستفهام لپاره د انكار دی چي بايد ستاسي څخه توقع د فساد ونه كړل سي بالكفر والمعاصي، وقطع الارحام مع المؤمنين المجاهدين في سبيل الله.

درويش وايي: چي مظهري؈ په منهية كي ددې آيت تفسير داسي ليكلئ دی چي پښتو ژباړه يې داده: له بريده ﷺ څخه روايت دی چي زه ناست وم په مجلس كي د امير المؤمنين عمر ﷺ چي دده تر غوږه لويه ناره سوه، نو عمر ﷺ خپل مريي يرفاء ته وويل: انظر ما هذا الصوت، ته وګوره چي دغه د څه شي لپاره ناره وه، يرفاء چي ولاړی معلومات يې وكړی نو عمرؓ ته يې داسي حال راوړی چي دا يوه مينځه ده كم سينه د قريشو چي د هغې مور خرڅول كېږي دا لور چي كم سينه ده پسي ژاړي، نو عمر ﷺ يرفاء ته وويل چي ادع المهاجرين والانصار، يو ګړی چي كېدی حجره يا سرای د عمر ﷺ ډك سو، عمر ﷺ حمد و ثناء پر خدای ﷻ وويل، بيا يې وويل اما بعد: فهل تعلمون فيما جاء محمد ﷺ القطعية؟ قالوا لا (آيا وه په هغه دين كي چي محمد ﷺ تاسي ته راتګ په كړی قطع د صلة الرحم؟ حاضرينو وويل يا، نو عمرؓ هغه تېر سوی آيت فهل عسيتم تر پايه پوري تلاوت كړی ثم قال چي تر دې لويه قطع د صله به چېري وي چي څوك رانسي مور د يوې نجلۍ او هغه پسي ژاړي؟ په تاسي كي اوس خدای؈ فراخي جوړه كړې ده نو څه ضرورت لرئ وداسي بيع او شراء ته، بيا يې حكم جاري كړی كتابةً چي داسي بيع او شراء دي څوك نه كوي فانها قطية رحم لايحل انتهى قول المظهري؈.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

دغه مفسدين في الارض او قاطعين الارحام چي خدای؈ دوی د خپل رحمت

څخه لېري کړی دی له اورېدو څخه کاڼه کړي دي او سترګي يې له ليدو څخه د معجزاتو ور ړندې کړي دي.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

آيا دوی فکر نه وهي په قرآن کي چي صفحه صفحه يې مطالعه کړي او مواعظ د قرآن او زواجر د قرآن په غور فکر پکښي ووهي نو دوی ته به حق ښکاره سوی وای والاستفهام للتوبيخ والانکار علی فعلهم القبيح والفاء للعطف علی مقدر تقديره ايغفلون فلايتدبرون آه "ام علی قلوب اقفالها" که يې پر زړو باندي قلفان زړولي دي.

پوه سه: چي زړونه خو قلفان نه لري لکن په ايت مبارک کي زړونه د دوی مشابه کړه د خزانو سره د نقودو، دې ته په علم بيان کي استعاره بالکناية وايي د خزانو سره خو قلفان مناسب بلکې لازم دي هغه په ثابت کړه د دوی زړو ته چي دا قلفان د زړو د افعالو معهوده ؤ د قسم نه دی چي اجسام معروفه دی بلکې دا قلفان مناسب د زړو سره دی چي معنوي شيان دي يعني غفلت عن مواعظ القرآن وعدم التفکر فيها والاتعاض بمواعظها يعني ګويا د اهل جنس قلفان دي چي ددې قلفانو سره سره د دوی د زړو سره استعداد او قابليت د اتعاظ بمواعظ القرآن مسلوب بالکلية دی که څه هم دوی فکر هم ووهي فرضًا.

فائده: قلوب يې نکره راوړه لان المراد قلوب بعض الکفرة لکه په طور د مثال د ابی جهل زړه د ابی بن خلف زړه د وليد بن مغيره زړه و امثالهم، ولي بعض د قلوب وروسته خدای په کلمې د کلمه توحيد خلاص کړه، د بغوي په روايت چي رسول الله ﷺ چي دا آيت ووايه افلا يتدبرون القرآن ام علی قلوب اقفالها، نو يو ځوان د اهل اليمن ناست ؤ و يې ويل علی قلوب اقفالها حتی يکون الله يفتحها چي خدای به يې خلاص کړي يا به يې لېري کړي نو اسلام يې راوړی عمر په دغه مجلس کي موجود ؤ ددې ځوان خبري ډېر خوند ورکړی، حتی چي عمر چي خليفه سو نو زړه يې غوښته چي هغه ځوان پيدا کړي او پر يو لوړ مقام يې عامل وګرځوي پوښتنه چي يې وکړه خلکو ورته وويل چي هغه ځوان وفات سو.

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم

په تحقيق هغه کسان چي رد سوه د شا وخوا ته يعني خپل په پخواني دين وګرځېدل چي کفر ؤ.

پوه سه: چي مراد له دې کسانو څخه کفار د اهل کتابو يعني اليهود چي د مخه تر نبوت د عليه الصلوة والسلام به علماؤ د دوی نعوت د نبي اخير الزمان چي په تورات کي ضبط وه او دوی به مشرکينو ته بيانول او ځانونه پر هغه د ايمان لپاره چمتو کړي وه، فلما جائهم ما عرفوا کفروا به فلعنة الله على الكافرين كما في موضع آخر من القرآن، وفي موضع آخر يعرفونه (يعني محمد ﷺ كما يعرفون ابنائهم) وفي موضع آخر اشتروا الضلالة بالهدى، وفي موضع آخر في شانهم اشتروا به ثمنًا قليلاً الى غير ذالک اخير الامر هغو يهودانو د ايمان راوړو څخه انکار وکړی او اياتو د تورات يې تغير او تبديل ورکړی، او الضحاک او السعدي او ابن عباس رض چي مراد په دې آيت کي منافقان دي.

مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

وروسته تر دې چي دوی ته هدايت يعني راه راست ښکاره سوه يعني اهل کتابو ته په ذريعه د تورات او منافقانو ته په ليدلو د معجزاتو د قرآن کريم، شيطان و هغو ته کفر او کبائر اسانه کړه مثلاً اهل کتابو ته يې دا وسوسه ور اچول چي ستاسي نيکه ګان خو انبياء تېر سوي، پر هر تقدير ستاسي شفاعت به کوي ولو مع الانكار من نبوة محمد ﷺ او منافقانو ته يې وسوسه ور اچول چي د ځان د ساتنې لپاره هر څه خديعه او چم روا دی..... بيت:

بر زبانت يا صمد پيدا ودر دل يا صنم　ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود

"واملى لهم" او و دوی ته يې د طول مهلت ورکړی دی او د شهوات ميل او محبت يې په زړو کي ور اچولی دی، دا جمله عطف ده پر "سول" او ټوله يعني د شيطان د ابتدائيت سره خبر دي ان الذين

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ

"ذالک" دا تسويل د شيطان دوی لره او امهال د خدای ج دوی ته "بانهم" ای

بسبب انهم چي دوی به ویل و هغو کسانو ته چي د هغو بد ایسیدی هغه قرآن چي خدای نازل کړی دی یعني یهودانو چي انکاریږي کاوه له نبوت څخه د علیه الصلوة والسلام او د ما انزل الله من القرآن وروسته تر دې چي یهودانو ته نعوت دده له تورات څخه دوی ته معلوم سوي وه، نو یا به منافقینو یا یهودانو یوې ډلي ته ددوی مشرکانو وویل "سنطیعکم في بعض الامر" ژر دی چي اطاعت ستاسي وکړو په بعض کارنامو کي ستاسي کالقعود عن الجهاد او الموافقة لهم في الخروج معهم ان خرجوا، یا به کومک ستاسي کوو پر عداوت د محمد ﷺ.

وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾

او خدای خبر دی په اسرارو ددوی (که یې په کسر د همزه چي مصدر سي) یا په پټو حالاتو ددوی (که په فتح د همزه وویل سي چي جمع د سر سي یعني پټ حال) چي هغه دغه خبري دي چي د مخه آیتو کي خدای افشاء کړې.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾

نو څه حال به وي ددوی (استفهام د تعجب دی او کلمه د فاء لپاره د سببیت ده، یعني په راتلونکي وخت کي به دوی څه حیلې کوي) یعني چي دوی ته راسي ملکي د زکندن یعني عزرائیل واتباعه "یضربون" حال دی له ملائکة څخه یعني په داسي حال کي چي ملکي به یې وهي په سندانو د اوسپنې، او مخان ددوی به وهي او شاوي ددوی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ

دغه وفات ددوی پر دغسي بد حالت کما لایخفی په سبب دد چي دوی متابعت کاوه د هغه شي چي سبب د غضب د خدای به ؤ، قال ابن عباس رض چي هغه شی چي موجب د خدای د غضب ؤ پټول وه د یهودانو هغه آیتونه چي نعوت د علیه الصلوة والسلام پکښې وه والکفر بمحمد ﷺ انتهی.

درویش وایي: چي په منافقینو کي نفاق او په مشرکینو کي شرک او تعاون یو د بل سره کول پر عداوت د علیه الصلوة والسلام وابطال دین الاسلام، ما دا ضمیمه و حدیث ته د ابن عباس رض ورضم کړه له دې سببه چي په آیت کي مذکور پر

بد حالت وفات او ضرب الوجوه والادبار د مذكوره كفارو د ټولو حال بيان سي، اما ابن عباس رض مشت نمونه خروار ذكر كړي وه.

وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾

او دوى مكروه بولي هغه كار چي موجب د رضى د خداى ج به ؤ لكه اصل الاصول الايمان به و برسوله وبكتابه، وروسته تر دې جهاد في سبيل الله او نور طاعات لكه لمونځ زكوة وغيرها. "فاحبط اعمالهم" خداى ورلغوه كړه عملونه ددوى يعني هيڅ ثواب په اخرت كي وركوي كه څه هم هغه اعمال د جنس څخه د حسناتو وي كصلة الرحم واطعام الطعام وفک العاني لعدم شرط قبولها واعطاء الثواب عليها في الآخرة وذالک الشرط هو الايمان بما ذكرنا.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾

آيا ګمان كوي هغه كسان چي په زړو كي يې مرض يعني نفاق وي (كلمه د ام منقطعه ده په معنى د بل آه لپاره د انتقال د كلام سابق څخه او همزه لپاره د انكار څخه د مذكور حسبان او د توبيخ پر هغه) چي خداى به ښكاره نه كړي و رسول ته خپل او مؤمنانو ته هغه، اضعان جمع د ضعن ده ومعناه البغض المضمر ددوى په زړو كي چي د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو سره يې لري بلكې عالم ما في الصدور به خواه مخواه ښكاره كړي كه يې څه هم دوى ډېر پټ ساتي لانه لايغرب عن علمه شيئ.

پوه سه: چي دا كلام مربوط دى د هغه كلام سره الشيطان سول لهم يا بقوله ام على قلوب اقفالها.

وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ ۚ

كه زموږ اراده سي زه به ووينم په تا دوى اى لا علمناكهم تا به خبر كړم، ته به يې پېژنې دوى يعني زما په ښونه سره په علامات د الهؤ پر نفاق ددوى او پر بغض مضمر ددوى ستاسي سره، قال البغوي رح قال انس رض فما خفى على رسول الله ﷺ بعد نزول هذه الآية واحدًا من المنافقين يعرفهم بسيماهم.

پوښتنه: منافقان چي يو په يو و عليه الصلوة والسلام ته معلوم وه نو ولي يې نه وژل چي ددوى له غمه به خلاص سوى واى؟

ځواب: يو دا سبب ؤ چي عليه الصلوة والسلام دا ويلي وه من قال لا اله الا الله عصم منا دمائهم واموالهم، او منافقان خو دا كلمه جهرًا ويله، او بل سبب دا ؤ چي ددوی په وژلو سره عليه الصلوة والسلام رنګ په بدېدی، ولي چي ځوک په خبر وه چي دا منافقان دي چي عليه الصلوة والسلام يې وژني بلكې په خارج كي به دا اوازه وای چي محمد ﷺ داسي يو شخصيت دی العياذ بالله چي خپل صحابه چي درد يې ورته راسي وژني يې، نو دده له دينه به د خلګو نفرت كېدی يعني كه موږ دده په دين كي داخل سو نو كه يې يوه ورځ درد ورغلی موږ هم وژني.

وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾

جواب د قسم محذوف دی او مراد لحن القول څخه ازالة الكلام عن اصل مراده الى تعريض وتورية، والمعنى انک تعرفهم چي دوی تعريض كوی په خبرو كي و عبث ته د امر ستا او د مؤمنانو، او پسخند په وهي لكن په ظاهره مدح كوي (د مثال په توګه په مجلس كي د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو به يې ويل چي شكر دی چي داسي نبي لرو لكه محمد ﷺ او داسي و ورونه لرو لكه هؤلاء المؤمنين يو د بل سره به يې كتل او په برېتو كي به يې خندل استهزاء، يا به يې يو و بل ته په سترګي كي اشارې كولې البغوي" چي وروسته تر نزول ددې آيت لا يتكلم منافق عند رسول الله ﷺ الا عرفه په خبرو دده) خدای خبر دی په عملو ستاسي ايها المنافقون.

پوښتنه: نسبت د علم د دوی د عملو خدای پاک وځان ته ولي وكړی؟

ځواب: حسن د اعمالو او قبح د اعمالو په ماسوی كي د هغه عمل قبح ذاتي وي لكه كفر او زنی او لواطت مثلاً چي په هغه هر سړی پوهېږي د ماسوی د هغو حسن او قبح خو په نيت پوري مربوط ده او په نياتو خو علم نه لري الا الله تعالى فيجازيهم على حسبه مقصدهم ودينهم.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا اَخْبَارَكُمْ ﴿۳۱﴾

موږ به ستاسي امتحان وكړو بان نأمركم بالجهاد في سبيل الله.

سوال: خدای پاک په علم قديم سره مجاهدين وغيرهم سره خبر ؤ، نو امتحان ته څه ضرورت ؤ؟

ځواب: بعض مفسرین وايي چي نعلم په معنی د نمیز دی او د علم قدیم د مجاهدینو او غیرهم یو د بل تمیز او جلا والی خو په امتحان سره کیږي.

درویش وايي: چي وههنا جواب ادق من الاول وهو حتی نعلم علمنا بعد الوجود کما کنا قبل الوجود بانه سیکون کذا فافهم.

"المجاهدین منکم والصابرین" مجاهدین في سبیل الله او هغه کسان چي صبر کوي پر سختیو او کړاوو د جهاد وهذا العطف من قبیل عطف صفة علی صفة الموصوف واحد "ونبلوا اخبارکم" موږ به ابتلاء وکړو ستاسي د خبرو (چي په هغو خبرو سره به حسن او قبح د اعمالو ستاسي معلوم سي) فینظر حسنها ای في المؤمنین وقبحها یعني في المنافقین.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى ۙ

په تحقیق هغه کسان چي کفر کوي او نور خلک هم منع کوي د لاري څخه د خدای (یعني الایمان بمحمد ﷺ، او دا احتمال هم سته چي خلک منع کوي د جهاد في سبیل الله څخه) او مخالفت کوي د رسول معهود چي محمد ﷺ دی، وروسته تر دې چي دوی ته لار د هدایت بیان سوه یا ورته معلومه سوه، لکه یهودانو ته چې د هدایت لار چي ایمان پر محمد ﷺ من مطالعة التورات و وجدان نعوت نبي اخیر الزمان من التورات معلومه وه، راویان وايي چي دا آیت په بني قریضه او بني النضیر کي نازل سوی دی چي دوې لویي طائفې د یهودانو وې د مدینې د شاوخوا، او بعض مفسرین وايي چي مراد ځني هغه دوولس (١٢) کسان دي چي و بدر ته را روان وه لپاره د قتال د علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو چي دې دوولس کسانو به په نوبت لس لس اوښان حلالول.

لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ۝٣٢

ضرر نسي رسولای په خپل کفر سره هیڅ شی له ضرر څخه (نکرة ده په سیاق کي د نفي راغله نو عموم د شي من الضرر فائده کوي کما تقرر في النحو، بلکې ضرر راجع د دوی خپلو ځانو ته دی) خدای به لغو کړي اعمال د دوی یعني هیڅ ثواب به په اخیرت کي ورنه کړي لعدم شرط الثواب وهو الایمان ولایترتب علیه منفعة في الدنیا ولي

تاسي وا وريده چي د بدر د لاري ډوډۍ چي به يې ورکوله دوولس کسان وه په دنيا کي يې هم په درد ونه خوړل ولي چي اوويا (٧٠) کسان يې پر ميدان د جنګ مردار پرېښول او اوويا يې په حصارت ولاړه او په ذلت له جنګه وتښتېدل مکي ته ولاړه واى ضرر اعظم من هذا و الى هذا اشار اليه تعالى في قوله ان الذين كفروا ينفقون اموالهم ليصدوا عن سبيل الله فسيفقونها ثم تكون لهم حسرة ثم يغلبون.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓاْ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٣﴾

اى هغه کسانو چي ايمان يې راوړى دى فرمانبرداري کوي د خداى او فرمانبرداري د رسول، او مه باطلوئ خپل عملونه، قال ابن عباس رضي الله عنه وعطاء رحمه الله چي مه يې باطلوئ په شک سره في دين الله او يا په نفاق سره يا په عجب او تکبر سره، وقال الحسن بالمعاصي والكبائر وقال مقاتل لاتمنوا على رسول الله ﷺ بايمانكم فتبطل اعمالكم.

درويش وايي: چي مظهري خلاف له سياق څخه د دمخو آيتو دا آيت وفقه ته وقف کړى او ايراد د مذهبو او احاديثو دلائلو او نقض و ابرام سپارلى دى چي اووه صفحې يې ډکي کړي دي.

درويش وايي: چي ما په سبب د طول الكلام هغه صرف نظر کړى.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾

په تحقيق هغه کسان چي کافران يعني کفر يې مختاره کړى وي (باى نوع من الكفر الشرك، واليهودية والنصرانية وغيرها من اقسام الكفر) بيا مړه سي په داسي حال کي چي دوى کفار وي، هرګز خداى بخښنه نه کوي دوى ته، کريمه: ان الله لايغفر ان يشرک به ويغفر ما دون ذالک لمن يشاء، بعض علماء وايي چي دا آيت په شان کي د هغو اوويا کسانو نازل سوى دى چي پر ميدان د بدر ووژل سول او يو ناپه کاره څه (کوهي) ته يې ټوله واچول او خاوري يې پر واړولې.

درويش وايي: چي بقاء د آيت پر عموم باندي اولى د يعموم الفائدة مع شموله لما ذكرهم فتدبر.

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلْمِ

تاسي مه ضعيف کېږئ د جهاد في سبيل الله څخه او تاسي مه رابولئ ابتداء

كفار و صلح ته لانه دليل الجبن والضعف فيكم البته كه كافران طلب د صلح
درڅخه وكړي كه صلح ستاسي خير وه بيا صلح ورسره وكړئ.

پوه سه: چي په "وتدعوا" كي په اتفاق د مفسرينو كلمه د لا مقدر ده،
والتقدير لاتدعوا.

وَاَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ۖ وَاللّٰهُ مَعَكُمۡ وَلَنۡ يَّتِرَكُمۡ اَعۡمَالَكُمۡ ﴿۳۵﴾

تاسي غالب ياست په نصرت د خداى ؕ چي ستاسي سره يې وعده كړې ده يعني
للمؤمنين الصالحين (دا جمله حال ده له فاعل څخه د تدعوا و وعد الله لاخلف
فيه) او خداى ستا سره دى يعني بالنصر والعون فان الايمان يقتضى حب الله وقد
ورد المرء مع من احب "ولن يتركم اعمالكم" (اى نه كموي له تاسي څخه يو شى
له ثواب څخه د عملو ستاسي) مشتق دى د تره يتره اذا نقص حقه او ابن عباس رض او
مقاتل رض وقتاده رض وايي معناه لن يظلمكم اعمالكم الصالحة اى لايبطلها.

اِنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ ؕ

نه دى ژوند د دنيا مگر بازي يعني لا يترتب عليها فائدة معتدة بها يعني مالم
يكن فيها ذكر الله قال رسول الله ﷺ الدنيا ملعونة وملعون مافيها الا ذكر الله
"ولهو" غفلت دى چي تاسي منع كوي عما يفيدكم في الحيوة الدائمة.

وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا يُؤۡتِكُمۡ اُجُوۡرَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ اَمۡوَالَكُمۡ ﴿۳۶﴾

او كه تاسي ايمان راوړئ اى بالله ورسوله في الدنيا "وتتقوا" او تاسي د
عذاب د خداى ځان وساتئ په اتيان د اوامرو د خداى او اجتناب د منهياتو د
خداى ؕ "يؤتيكم اجوركم" خداى تاسي ته دركوي ثواب د اعمالو ستاسي او د
تقوى په اخرت كي، نو دا حياة الدنيا مرزعة الآخرة ده ولاتكون لهوًا ولعبًا
"ولايسئلكم اموالكم" ولي چي رب جل وعلى محتاج نه دى و شي ته او په ايمان
او طاعت چي مو امر كوي ددې لپاره چي ثواب بالجنة دركړي كما في قوله تعالى
ما اريد منهم من رزق، او بعض مفسرين وايي لايسئلكم الله ورسوله اموالكم كلها
في الصدقات انما يسئلكم جزاءً يسيرًا وهو ربع العشر په نقود كي يا يو پسه من
(۱۲۰) شاة هغه هم من مال نام (چي نما كوي) نو دا لږ مال چي خداى او رسول يې

غـواړي بايد پـه طيب نفس او خوشحالي سره ورکړي دا قـول د ابن عيينة دی او سياق د ايت هم پر دغه دلالت کوي، نو دا جمله دفع د توهم دده کوي چې خدای پاک چې ذم د دنيا وواييې او مدح د ايمان او د تقوی يې وکړه دده لپاره چې خدای پاک غواړي چې مسلمان ټوله خپله شتمني في سبيل الله صرف کوي.

درويش وايي: چې د دفع د دغه توهم خدای پاک داسې وويـل "ولايسئلکم اموالکم" يعني کلها حتی چې موجب د بخل ستاسې وګرځي کما يقول

إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَـٰنَكُمْ ﴿٣٧﴾

"ان يسئلکموها" ای جميعًا "فيحفکم" په تکليف کې به واچوي په سبب د طلب الکل.

پوه سه: چې احفاء مبالغه او بلوغ الغاية ته وايي چې دلته طلب د ټول مال دی "تبخلوا" تاسې به خامخا په طلب کې د کل المال او په ورکړه کې د هغه به بخل کوئ "ويخرج اضغانکم" ښکاره به کړي خدای بغض ستاسې د داسې دين سره.

هَـٰٓأَنتُمْ هَـٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ

مبتداء او خبر دی.

مفردات: هاء حرف تنبيه ده وانتم مبتداء ده او هٰؤلاء خبر دی، او يا هٰؤلاء منادی ده په حذف د حرف نداء يعني يا هٰؤلاء والخبر تدعون.

"تدعون" بلل کېږي "لتنفقوا" چې تاسې انفاق کوئ بما فرض الله عليکم د الله په لار کې من الزکوة ونفقة الغزاة وصلة الرحم وغيرها

فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ

بعض له تاسې څخه داسې کسان دي چې په ما فرض الله کالامور المذکورة هم بخل کوي يعني له ورکړې څخه يې ډډه کوي. او هغه څوک چې بخل کوي په واجباتو کې هم، نو دا بل نه دی مګر د ځان سره ولې چې نفع د انفاق او ضرر د بخل راجع وده ته دی، له ابن مسعودؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو ورځ خلګو ته (يعني صحابه کرامو ﷺ ته يې داسې وويل چې کوم يو دی ستاسې داسې چې مال د وارث دې محبوب وي وده ته تر خپل مال (يعني چې زه دې فقر کوم خو

وارث مي اباد وي) صحابه کرامو ﷺ ورته وويل چي څوک په موږ کي داسي سړی نسته مګر چي مال خپل يې محبوب تر مال د وارث دی، قال ﷺ فان ماله ماقدم (دده مال هغه دی چي ځان دمخه کړي يعني په لار د خير يې مصرف کړي او مال د وارث يې هغه مال دی چي دی مړ سي وارث ته يې پرېږدي)

حکايت: يو سړی ؤ ډېر بخيل زکوة خوره ؤ، نو ناجوړی سو وخت د زکندن چي يې نژدې سو، نو ځوان زوی يې راوباله وصيت يې ورته وکړی چي پر ما د څو کلو زکاتونه پاته دي چي زه مړ سم ته به يې مسکينانو ته ورکړې، زوی يې ورته وويل چي بابا هغه وخت چي مال ستا ؤ ولي دي زکوة نه ورکاوه اوس چي مال زما سو يعني په ميراث راپاته سو، نو زما په مال يې ستا څه چي زه خپل له مال څخه ستا زکوة ورکړم.

درويش وايي: چي د داسي پلار داغسي جواب د زوی لائق ؤ، والحديث المذكور آنفًا رواه البخاري والنسائي وعن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما من يوم يصبح العباد فيه الا ملكان ينزلان (داسي ورځ نسته چي بندګان په سهار کړي مګر دوې ملکي نازلېږي يعني له اسمانه، يوه وايي اللهم اعط منفقًا خلفًا (ورکړې هغه چاته چي انفاق کوي عوض، يعني في سبيل الله مراد د عوض څخه دنيا او اخرت دی) ويقول الآخر اللهم اعط ممسكًا تلفًا (ورکړې و بخيل ته تلف د مال) متفق عليه للبخاري ومسلم، وعن اسماء بنت ابی بكر رضی الله عنهما قالت قال رسول الله ﷺ انفقي (نفقه کوه يعني مسکين وغيره ته) ولاتحفي (لاس مه پر نسه) فيحفى الله عليک (پر تا به خدای تنګي د رزق راولي، الى اخير الحديث، وعن ابی هريرة رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ قال الله تعالى: انفق يا ابن آدم (نفقه کوه پر خوار او غريب او مسکين وغير ذالک) أنفق عليک (پر تا به نفقه وکړل سي يعني د خدای ج له خوا څخه، متفق عليه (درويش وايي وقد جربت ذالک)

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ

خدای ج غني دی ستاسي د صدقاتو او د عباداتو څخه، او تاسي محتاجه ياست خدای ج ته په رزق او صحت او عافيت وغير ذالک کي، نو له دې سببه خدای ج تاسي امر کړلاست په صدقاتو في سبيل الله لاحتياجكم في الدنيا والآخرة اليه تعالى.

وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ ﴿٣٨﴾

او كه تاسي اعراض وكړئ له قبول څخه د دين اسلامي (يا له عليه الصلوة والسلام څخه وبعبارة اخرى عن طاعة الله وطاعة رسوله والانفاق في سبيله) "يستبدل" خداى به ستاسي په عوض كي يو بل قوم غير له تاسي څخه چي هغه به هم ايمان راوړي او هم به د تقوى پر لار روان وي او اطاعت د خداى او رسول به كوي.

پوه سه: چي مخاطب په دې آيت كي ټوله عرب دي.

"ثم لايكونوا امثالكم" وروسته به نه وي تاسي غوندي بلكې هغه به اطوع وي تر تاسي لله و لرسوله.

درويش وايي: چي مراد د خداى عزوجل له دې قوم څخه څوك دي، عظيم اختلاف د اهل تفسير دى: الكلبي" وايي چي مراد له قوم څخه نخع او كندة دي، الحسن" وايي چي مراد عجم دي.

پوه سه: چي دائره د عجمو نهايته فراخه ده، نه ده معلومه چي د الحسن" كوم عجم مراد دي، او عكرمه" وايي چي مراد فارس او روم دي، عن ابى هريرة رضي الله عنه چي عليه الصلوة والسلام دا آيت تلاوت كړى، نو صحابه كرامو رضي الله عنهم وويل: من هؤلاء فضرب (يعني عليه الصلوة والسلام) پر ورانه د سلمان الفارسي" ثم قال هذا وقومه، او پسي زياته يې كړه ولو كان الدين عند الثريا (پېروني) لتناوله فارس، رواه البغوي والترمذي والحاكم.

درويش وايي: چي دا حديث په ډېرو اسانيدو د ډېرو رواتو څخه مروي دى چي الفاظ يې نهايت سره متقارب دي قال شيخ محمد بن يوسف الصالحي" الشافعي المذهب، قال الشيخ جلال الدين السيوطي الشافعي" المراد بهذا الحديث ابو حنيفة واصحابه".

درويش وايي: چي د امام شافعي" مذهبيان هم دا حديث محمول پر ابو حنيفه" بولي يعني تقوى دار علماء حسد نه سره لري لكه زموږ د زماني مولوي صاحبان يا مفتي صاحبان، د محمد بن ادريس الشافعي" صاحب المذهب څخه په صحيح نقل ثابت ده چي ده وويل: الناس عيال لابى حنيفة" في الفقه، له عبد الله بن مبارك

څخه روايت دی چي امام بخاري" د بعض احاديثو روايت کړی هغه په مدح د امام ابو حنيفة" يوه قصيده جوړه کړې ده چي يو دوه بيته به يې په ګډه سره واورو:

لقد زان البلاد ومن عليها — امام المسلمين ابو حنيفة

فـما بـالمشرقين له نظير — ولا بالمغربين ولا بكوفة

درويش وايي: چي که څوک پوره د ژوندانه حالات د امام اعظم" د فقاهت او د اجتهاد او د تقوی غواړي چي په خبر دي سم، نو دي د فقير پښتو شرح د فقه الاکبر مطالعه کړي چي فقير په حواله د تواريخو صحيحه ؤ په هغه شرح کي بيان کړی، اوس به د کوئټې د ښار د کتاب فروشانو سره موجوده وي ان شاء الله تعالی، نو فهم کوه حاسده چي داسي ګمان ونه کړې چي ته په دې بيان کي خپل د علميت شهرت غواړې، بلکې انما الاعمال بالنيات، زه په دې حواله د خپلي رسالې ورونه اتباع امام المسلمين د خپل امام په تاريخ خبروم.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

الحمد لله رب العالمين

سُوْرَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا اَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

درویش وايي: بحمد الله وحسن توفيقه والصلوة والسلام على رسوله وحبيبه سيدنا محمد وعلى آله واهل بيته واصحابه الكرام، تاريخ د سورة الفتح د روژې د مبارکي مياشتي پر (٢٥) د جمعې مبارکي په شپه پر لس بجې وروسته تر صلوة التراويح، وادعوا الله الكريم المعطي لكل سؤل لا اله انت نستعينك ونستغفرك ونسئلك خير الدنيا والآخرة ونشهدك انت ربنا ورب السمٰوات والارض ونسئلك ان توفقني لتفسير سورة الفتح على وجه السداد بالخير والعافية والصحة والسلام انت على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير واشفني من جميع الامراض الموجودة في شفاء كاملاً.

پوښتنه: الزهري" وايي چي سورة الفتح له اوله څخه تر اخيره پوري په منځ کي د مکې او مدينې نازل سو دی، يعني وروسته تر صلح د حديبيې چي عليه الصلوة والسلام رجوع له مکې څخه و مدينې ته وکړ، نو څرنګه دې سورة ته مدني ويل کيږي مع ان المفسرين باتفاقهم سموه مدنيًا؟

ځواب: مدني په اصطلاح کي د اهل تفسير هغه سورة يا آيت ته وايي چي بعد الهجرة نازل سوی وي ولو بمكة كما ان المكي ما نزل قبل الهجرة ولو كان خارج المكة كما في حواشي السعدي المفتي.

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾

موږ تا ته فتح درکړه فتح ښکاره.

اهل تفسير اختلاف لري في هذه الفتح، روی عن ابی جعفر الرازي عن قتادة عن انس رض چي مراد ځني فتح د مکې ده نو دا د خدای ج وعده ده په فتح سره د مکې.

سوال: فتح د مکې خو وروسته تر دې وسوه، نو تعبير يې په ماضي صيغه څرنګه وسو؟

ځواب: موعود د خدای ج لکه واقع دی لتحققه لامحالة، نو په دې کي چي فتح د مکې هنوز نه وه سوې فتح يې وبلل چي وروسته هم وسوه معجزة للنبي ﷺ، لکن صحيح دا ده چي دا صلح د حديبيه په خپله فتح ده كما سيئاتي.

درویش وایي: چي مظهري حسب عادت یې (۱۴) صفحې بیان کړې دي، لکن فقیر دومره طول رطب و یابس کرده پکښي جمع کول د متعلمینو د تفسیر ایوبي درد سر بولي ولهذا اقتصرت القصة فاقول سبب د صلح د حدیبیه چي نژدې و مکې ته د یو ځای نوم دی یعني فراخه مځکه ده چي یوه برخه په حدود کي د حرم داخل ده، او یوه برخه له حدود څخه د حرم دباندي ده، چنانچه په بیان کي د دې واقعې راغلی دی چي علیه الصلوة والسلام خپلو د همراهانو سره خېمې په زمین حل کي ودرولې او لمونځونه بې په حدود کي د حرم داخل کول، په حدیبیه کي یو څاه موجود ؤ قلیل الماء چي د پخوا د وخته مسافرینو به د یوې شپې او ورځې لپاره د الته ځانونه راحت کول، نو سبب د دې سفر دا ؤ چي علیه الصلوة والسلام په مدینه منوره کي خوب لیدلی ؤ چي دی او اصحاب د ده مکې مکرمې ته ورغله معتمرین آمنین (یعني په امن کي) محلقین (چي بعض به د عمرې له افعالو وروسته ځانونه حلالول سرونه به یې تږوله وخریل او بعض عمرې والو به قصر وکړې یعني څه وېښتیان به یې پرې کړه) او دا یې هم په خوب ولیدل چي دی د کعبې شریفي خوني ته داخل سو او کلي یې د کعبې له متولي څخه واخستل، وطاف هو واصحابه للعمرة، او دا خوب یې اصحابو ته بیان کړی اصحاب ډېره خوشحاله سوه لان الرؤیاء الانبیاء وحي وروسته یې اصحابو ته اعلان وکړی چي زه عمرې ته ځم نو اصحابو هم ځانونه عمرې ته اماده کړه، بیا علیه الصلوة والسلام په کور کي غسل وکړی او یو دسمال یې پر اوږه ؤ او بل یې لنګ ؤ او پر خپله اوښه چي قصوی یې بلل سپور سو د دروازې سره د مسجد.

درویش وایي: چي په عدد کي د ملګرو یې اختلاف دی بعض وایي (۱۴۰۰) کسه وه، او په بعض روایاتو کي (۱۵۰۰) کسه وه او په بعض روایاتو (۱۶۰۰) کسه که څه هم روح البیان وایي چي صحیح روایت یې (۱۴۰۰) دی، لکن فقیر وایي چي د دې روایاتو تر مابین اختلاف نسته، ولي چي په عزم د عمرې علیه الصلوة والسلام تږوله د صحرا او باندو مسلمانان خبر کړي وه نو دی مبارک که څه هم د مدینې منورې څخه (۱۴۰۰) کسه ورسره وه ووتی، لکن د قریو او د باندو خلک پر محاذات د خپلو کلو ورسره ملګري کېدل حتی چي (۱۵۰۰) ته ورسېدل، دغه رنګه بیا نور خلک

ورسره ملحق کېدل تاچي (۱۶۰۰) ته ورسېدل، لکن ډېر اهل قرئ یعني مسلمانان له قریشو څخه د جنګ د بېرې نه سوه ورسره ملګري، او علیه الصلوة والسلام د ځان سره اوویا (۷۰) اوښان هدیه مکې ته راهي کړې وه، تاریخ د وتلو د علیه الصلوة والسلام له مدینې څخه د دوشنبې ورځ وه اول د ذی القعدة چي په پښتو یې میانی بولي سنه شپږ (۶) هجري وه، نو چي علیه الصلوة والسلام او ملګري یې ذی الحلیفة چي میقات د اهل مدینې دی ورسېدل صلی بالمسجد هناک رکعتین او احرام د عمرې یې وتاړه یعني لبیک بعمرة فیسرها لی وتقبلها مني، اکثره اصحابو رض دلته احرامونه وتړل، بعضو پر حجفة چي مقیات د اهل شام دی احرام وتاړه.

نکته: د عمرې په احرام ولي علیه الصلوة والسلام اعلان وکړی تاچي اهل مکه ومن حولها په دې پوه سي چي علیه الصلوة والسلام د جنګ لپاره نه دی راروان بلکې لزیارة بیت الحرام.

ددې سفر په اوږدو کي معجزه: راوي وایي چي یو ځای چي دوی اړولي وه او علیه الصلوة والسلام د یو رکوة (کوټوری مانند لوښي) څخه اودس تازه کاوه، خلګ په ځغاسته ورته راغله علیه الصلوة والسلام ورته وویل مالکم (یعني څه خبره ده؟) ولي راځغلئ؟ هغو ورته وویل چي ټوله لښکر نوري اوبه بېله دغو اوبو چي ته اودس په تازه کوې نه لري، نو علیه الصلوة والسلام پر رکوة باندي لاس کښېښوی، نو انس رضي الله عنه او ټوله اصحاب وایي چي په مابین د هرو دوو ګوتو د علیه الصلوة والسلام په مثال د چینو اوبه رابهېدلې حتی ټولو صحابهؤ اودسونه په تازه کړه او وه یې هم څیښلې، حتی جابر رضي الله عنه وایي چي که موږ یو لک نفر هم وای د ټولو به دغه اوبه بس سوي وای.

درویش وایي: چي دا معجزه ډېره عجیبه ده تر معجزې د موسیٰ علیه السلام چي په لکړه به یې ډبره ووهل چینې به ځني راووتلې، دلیل د تعجب یې دادی چي راوتل د اوبو د ډبرو یعني په غرو کي یعني نه د موسیٰ ع په ضرب الحجر چي پیدا کېدې، ولي هغه بلا ریب معجزه وه، بلکې مطلق اوبه په غرو کي له ډبرو څخه عادي کار دی، لکن د صافو اوبو پیدا کېدل د مابینه څخه د غوښي او وینو پیدا والی نه چا لیدلی او نه یې اورېدلي دي او نه کوم تاریخ رانقل کړي دي.

Scanned by CamScanner

پوښتنه: د څه حکمت لپاره يې لاس د کوتوري په اوبو لوند کړی؟
ځواب: حکمت يې ادب ؤ د خدای عزوجل سره لانه تعالی منفرد په ابداع او ايجاد د معدوم من غير اصل، رواة د قصې وايي چي عليه الصلوة والسلام بشر بن سفيان مکې ته واستاوه چي د مکې والو حال معلوم کړي چي دوی په سفر کي د عمرې په مکه څه عکس العمل ښکاره کړی دی، بشر بن سفيان چي بيرته راغلی نو عليه الصلوة والسلام ته يې وويل: هذه قريش قد سمعت بخروجک الی مکة للعمرة، نو دوی د پړانګانو پوستکي اغوستي دي.
درويش وايي: چي دا جمله کنايه ده د سخت عداوت او بغض څخه او دوی راغوښتي وه هغه کسان د احابيش د قبيلې چي د دوی اطاعت يې کاوه (احابيش د لوی قبيلې نوم دی له عربو څخه) ومعهم زادهم (د دوی د سفر نفقه هم ورسره وه) او ښځي او اولادونه ورسره وه، ليکون علامة لعدم الحرب ان وقع، او په ذی طوی کي چي په مکې کي د يو ځای نوم دی سره غونډ سوي وه او خيمې يې درولې وې، او معاهده يې قطعي سره کړې وه چي دی او دده ملګري به تول نه پرېږدو چي عليه الصلوة والسلام او ملګري چي مکې ته داخل سي، وروسته رسول کريم ﷺ په مقتضٰی د هغه امر الهي "وشاورهم فی الامر فاذا عزمت فتوکل علی الله" اصحابو کرامو ؓ ته چي دده سره همراه وه داسي وويل: اشيروا علي ايها الناس اتريدون ان نوم البيت فمن صدنا عنه قاتلناهم" ماته مشوره راکړئ ای خلګو، آيا تاسي اراده لرئ چي موږ په قصد د بيت الله الشريف ور روان يو که چا موږ منع کولو د هغه سره به جنګ کوو او که څرنګه؟ فقام المقداد بن الاسود ؓ (چي يو ستر مشر د زړه دک سړی ؤ د انصارو څخه) او وه يې ويل چي موږ تاته دا نه وايو لکه بني اسرائيلو چي موسٰی ؑ ته وويل چي موسٰی ؑ په امر د خدای ج دوی امر کړه په قتال د جبابره ؤ سره "اذهب انت وربک مقاتلا انا ههنا قاعدون" (ولاړ سه ای موسٰی ته او ستا خدای نو د جبابره ؤ سره جنګ وکړئ موږ دلته درته ناست يو (يعني که مو فتح وکړه پر موږ به رغ وکړئ چي راځئ) المقداد ؓ عليه الصلوة والسلام ته وويل چي موږ داسي وايو اذهب انت وربک (يعني خدای دي معاون سه) فقاتلا (تاسي جنګ وکړئ يعني ته په صورت او خدای په غيبي نصرت) او

موږ هم درسره يو، مقاتلون فقال عليه الصلوة والسلام فامضوا على اسم الله، نو درځئ پر نامه د خداى ج يعني الله اكبر، راوي وايي چي څه وخت وعقبه ته ورسېدل (چي د يو ځاى نوم دى چي تر دې ځاى ورواوړې مكې مكرمې ته سړى داخلېږي) د عليه الصلوة والسلام اوښه قصوىٰ په خپله چوكه سوه حل حل (په اواز عرب اوښ ولاړوي) او خلگو وويل خلئت القصوىٰ ځان واچاوه قصوىٰ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: ما خلئت القصوىٰ، او نه هم ددې دا عادت ؤ بل حبسها حابس الفيل بلكې قصوىٰ منع كړه له جنګ څخه د مكې والو هغه ذات قادر مطلق چي د ابرهه فيلان د جنګ څخه منع كړه كما قال عز من قائل الم تر كيف فعل ربک باصحاب الفيل الى اخير السورة، وروسته عليه الصلوة والسلام وويل: چي زما دي په خداى ج قسم وي چي مكې وال چي هر شى وغواړي چي د اسلام سپكاوى نه وي پكښې زه به يې ددوى سره منم، دا چي يې وويل خپل پر اوښه يې رغ وكړى اوښه ولاړه سوه، بيا عليه الصلوة والسلام وويل: چي يو سړى نسته چي په هغه ځاى كي چي مكې وال سره جمع دي پر بله لار مو بوزي؟ يو سړي د بني اسلم د قبيلې چي نوم يې ناجيه بن جندب ؤ وو داسي وويل: انا يا رسول الله ﷺ، نو ناجيه دوى پر داسي لار بوتله چي سخته وه په غرو او په ډبو كي چي وروسته هموارې مځكي ته ورسېدل بيا عليه الصلوة والسلام امر وركړى ناجيه ته چي پر داسي لار مو بوزه چي مهبط د حديبيه وي كښته تر مكې نو پر هغه ځاى حديبيه يې واړول، نو دوى هم تږي وه او اوښان يې هم تږي وه، نو د حديبيه څاه ته لكه دمخه چي فقير ذكر وكړى نهايت قليل الماء ؤ، دې لښكر نبوي چي يو څو سولغې ځني راوكښې څاه وچ سو چي يو څاڅكى اوبه نه پكښې معلومېدې، خلگو ورسول الله ﷺ ته شكايت وكړى د ډېري تندي، نو سور د ښت ؤ سخته ګرمي وه او څاه هم وچ سو، نو عليه الصلوة والسلام د بغل ځولۍ څخه يو غشى راوكښى، او براء بن عازب رضي الله عنه ته يې وويل چي د څاه په منځ كي دي ښخ كړي او رسول الله ﷺ د څاه غاړې ته ورغلى او په خوله مباركه يې اوبه ولغړولې هغه يې پكښې توه كړې او خلگو ته يې وويل چي تاسي يو ګړى څاه پرېږدئ وروسته ورسئ خپلې اوبه ځني راكاږئ خلگو هم داغسي وكړه وروسته چي ورغله څاه تر

خولې پورې د اوبو ډک سو خپل ځانونه او اوښان يې تولـه په اوبه کړه تر هغو پورې چې تخمينًا څورلس (١۴) ورځې عليه الصلوة والسلام په حديبيه کې سره د اصحابو کرامو رضموجود ؤ، نو دغه څاه مالامال د ابو ولاړ ؤ، او په تفاسيرو کې وايي چې د هغه څاه اوبه تر اوسه نه دي کمې سوي، لکن په انسان العيون کې وايي چې عليه الصلوة والسلام او اصحاب چې څه وخت د حديبيه څخه کوچېدل البراء بن عاذب رض ورغلی هغه غشی چې د عليه الصلوة والسلام په امر يې د څاه په نس کې ښخ کړی ؤ بيرته راوکښ بغضًا لاهل مکة چې دوی يې عمرې ته نه پرېښول فصار البئر کما کان، والله اعلم، لکن په هر صورت حديبيه د سعوديانو په حکومت کې فوق العادة زيبا او قشنګ ځای ځني جوړ سوی دی، ښه ګلان، شنې شنې درختې پکښې دي چې هورې يې برمې وهلې دي.

فائده: په دې سفر کې کې د عليه الصلوة والسلام سره د امهات المؤمنين څخه ام سلمة رضي الله عنها ملګرې وه، راويان د قصې وايي چې عليه الصلوة والسلام چې د حديبيه څخه مطمئن سو د اهل مکه له خوا څخه بديل بن ورقاء چې د خپل قوم لوی سردار ؤ د خبرو لپاره حديبيه ته راغلی او د عليه الصلوة والسلام څخه يې پوښتنه وکړه ما الذي جاء بک؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې زه ددې لپاره نه يم راغلی چې اراده د جنګ لرم ستاسي سره، انما جئت زائرًا للبيت يعني للعمرة فقط نو بديل بيرته ولاړی قريشو ته چې عليه الصلوة والسلام پيغام يې دوی ته ورساوه او هغو دا پيغام ونه مانه، بيا قريشو الحليس بن علقمه راواستاوه د خبرو لپاره وکان سيدًا للاحابيش کمامر هغه چې د عليه الصلوة والسلام سره خبرې وکړې عليه الصلوة والسلام هغه پخوانۍ خبره ورته وکړه کمامر آنفًا قريشو د هغه پر خبره هم اعتماد ونه کړی وروسته قريشو عروة بن مسعود الثقفي عظيم الطائف وروا ستاوه متمول العرب کلهم دې نمائينده چې هم خپلې خبرې د عليه الصلوة والسلام سره وکړې او عليه الصلوة والسلام خپل مرام و هغه ته بيان کړی کمامر لکن عروة چونکه يو سړی ؤ د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو رض په عمل کې فکر وواهه دا يې وليدل چې عليه الصلوة والسلام چې به او دس تازه کاوه اصحابو رض پر هغه مستعملو اوبو تقريبًا جنګ سره کاوه او هر چاته چې به هغه اوبه

په لاس ورغلې په مخانو بې ومښلې او چي علیه الصلوة والسلام چي ناړي توه کړې هر صحابي به لاس ورته نیولی ؤ چي د چا په لاس کي به ولویدې هغه به هغه ناړې په مخ او کالو پوري مښلې، او چي علیه الصلوة والسلام به ددوی سره خبري کولې هغو به عاجزانه او په خضوع سره خبري ورسره کولې، او دوی تېز و علیه الصلوة والسلام ته نه کتل تعظیمًا له، عروة بن مسعود الثقفي چي مکې ته راستانه سوه، نو قریشو ته یې دا وینا وکړه: یا معشر قریش اني جئت کسری في ملکه، وقیصر في ملکه والنجاشي في ملکه والله ما رئیت ملکًا في ملکه قط مثل محمد في اصحابه واني ارٰی ان لا تنصروا علیه، فقالت له قریش لا تتکلم بهذا یا ابا یعفور ولکن نرده هذا العام ویرجع في عام قابل، فقال عروة ما اراکم الا سعیکم فارغة (یعني دا ستاسي رایه چي تاسي سږ کال ولاړ سئ او پر کال راسئ زه یې فارغ او عبث بولم) لکن قریشو چي د عروة بن مسعود خبره ونه منل، نو عروه سره د خپلې قبیلې ټوله طائف ته ولاړه او وروسته یې اسلام هم راوړی، وروسته علیه الصلوة والسلام خراش بن امیه الخزامي راوبولی او خپل شخصي آس علیه الصلوة والسلام وده ته ورکړی چي الثعلب یې باله لیبلغ اشراف قریش غرضه الذي جاء به یعني زیارة البیت الحرام بالعمرة، قریشو د علیه الصلوة والسلام د آس پښې ورپرې کړې او دا اراده یې وکړه چي خراش هم مړ کړي خو احابیشو له قتل څخه دوی منع کړه، خراش رضي چي بیرته علیه الصلوة والسلام راغلی او صورت حال یې ټوله و علیه الصلوة والسلام ته بیان کړی، بیا علیه الصلوة والسلام عمر بن الخطاب رضي الله عنه راوغوښتی چي ته ولاړ سه د مکې و مشرانو ته زما حال بیان کړه یعني چي زه زائر البیت معتمرًا راغلی یم لا للحرب معکم، عمر رضي ورته وویل یا رسول الله اخاف قریشًا علی نفسي، زه بېرېږم له قریشو څخه پر ځان یعني مابه ووژني وما بمکة من عدي بن کعب (چي د عمر رضي خصوصي قوم ؤ) چي ما دي له قریشو څخه خلاص کړي او قریش خبر دي زما په شدت عداوت ددوی سره، او چي ما ډېر غلظت او سختي کول ددوی سره یعني قبل الهجرة چي ما ایمان راوړی لکن زه به یو سړی دروښیم چي اهل مکه یې ډېر احترام کوي او قومي خلګ هم د هغه په مکه کي ډېر دي چي عثمان بن عفان دی، نو علیه الصلوة

والسلام عثمان رضي الله عنه را وغوښتی فبعثه الی اشراف قریش چي زما د راتګ مطلب ورته په واضح ډول بیان کړه، او بیا علیه الصلوة والسلام عثمان رضي الله عنه امر کړی چي ته به ورسې و کورو ته د هغه مسلمانانو چي اوس هم په مکه کي پاته دي یعني لعدم القدرة علی الهجرة، او د هغو مسلمانو کورو ته به هم ورسې چي اسلام یې د قریشو له بېرې پټ ساتلی دی، او دوی ته به ووایاست چي علیه الصلوة والسلام وایي خدای پاک نژدې کړی دی هغه وخت چي دین اسلام به غالبه کیږي حتی چي هیڅ څوک به اسلام پټ نه ساتي، فخرج عثمان رض الی مکة ومعه عشرة رجالاً بامر رسول الله صلی الله علیه وسلم چي د هغو خلګو اهل او عیال په مکه کي ؤ، نو عثمان رض چي مکې ته لا نه ؤ داخل سوی، ابان بن سعید په مخه ورغلی او هغه و ده ته اجازه ورکړه چي دی کولای سي چي مقصود او غرض د علیه الصلوة والسلام و قریشو ته بیان کړي، نو عثمان رض چي رئیسانو ته د قریشو د علیه الصلوة والسلام مطلب بیان کړی ساداتو د قریشو په سختي سره ورته وویل چي محمد مکې ته نسي راتلای ابداً، فلما فرغ عثمان رض من تبلیغ الرسالة وسمع منهم الرد القبیح لدخول علیه الصلوة والسلام بمکة بیا ساداتو د قریشو ده ته وویل یعني عثمان رض چي که ته طواف او عمره کوې تا ته اجازه درکوو، عثمان رض ورته وویل چي زه طواف د مکې نه کوم تر هغو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم طواف نه وي کړی، او قریشو عثمان رضي الله عنه درې ورځي هورې د بندي په توګه ساتلی ؤ دلته یو خبر کاذب و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته را ورسېدی چي عثمان رض سره د لسو کسو ملګرو قریشو په شهادت ورسول، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاصحابه رض چي موږ تر هغو ددې ځایه نه ځو چي د قریشو سره جنګ ونه کړو فامره الله بالبیعة من الصحابة، فنادی رسول الله صلی الله علیه وسلم ایها الناس البیعة البیعة نزل روح القدوس (ای خلګو البیعة البیعة یعني حاضر سئ و بیعت ته جبرئیل ع راغلی دی چي د خلګو سره بیعت وکړه)

فائده: لفظ ته د البیعة په نحو کي منصوب علی الاغراء وایي (یعني څوک پر یو کار باعثه کول) فاخرجوا علی اسم الله خلګ یعني صحابه کرام رض د خپلو خېمو څخه په ډېر تلوار سره راووتل و طرف ته د علیه الصلوة والسلام په داسي حال کي چي علیه الصلوة والسلام تر یوې درختي لاندي ناست ؤ چي د السمر په نامه

یادیدله فبایعوه علی عدم الفرار، وقال رسول اللهﷺ وقال اما الفتح او الشهادة بیعت پیمانه شروع سو، په اخیر کي علیه الصلوة والسلام د عثمانؓ له خوا هم بیعت وکړی (یعني علی تقدیر عدم صحت القول بقتل عثمانؓ نو علیه الصلوة والسلام خپل راسته لاس پر چپه لاس کښېښنو، وقال اللهم هذه لعثمان فانه في حاجتک وحاجة رسولک.

فائده: ودې بیعت ته بیعت رضوان وایي، ولي چي په دې بیعت کي خدای ﷻ له دوی څخه راضي ؤ، وفیها نزلت قوله تعالی لقد رضی الله عن المؤمنین اذ یبایعونک تحت الشجرة، وفي الحدیث الصحیح لایدخل النار احد بایع تحت الشجرة وقال ایضًا لایدخل النار من شهد بدرًا والحدیبیة واول من بایعه تحت الشجرة سنان بن سنان الاسديؓ فقال للنبيﷺ ابایعک علی ما نفسک، زه ستا سره بیعت کوم پر هغه څه چي ستا په زړه کي دي علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي زما په زړه کي څه شی دی، سنانؓ ورته وویل چي زه به ستا په حضور کي خلګ په توره وهم حتی یظهرک الله (تر هغو پوري چي خدای ج تاته پر کفارو غلبه درکوي) یا زه وژل کېږم، وروسته چي نورو خلګو بیعت شروع کړی هغو به ویل نبایعک علی ما بایعک سنان، راوي وایي چي وروسته تر درې ورځي عثمانؓ راغلی هغه هم تجدید د خپل بیعت ورسره وکړی، په صحیح تاریخ اسلامي کي راغلي دي چي محمد بن مسلمهؓ سره د څو کسانو پر پهره د علیه الصلوة والسلام ټاکل سوی ؤ، قریشو څلوېښت کسان په مشرۍ د مکرز بن حفص را استولي وه د شپې د مخه په دې امید چي ګوندي له اصحابو څخه د محمدﷺ بعض کسان ګرفتار کړي په وخت کي د غفلت ددوی، نو دوی چي راغله محمد بن مسلمهؓ او دده ملګرو چي د علیه الصلوة والسلام پر پهره درولي وه نو دوی یې ګرفتاره کړه، یو مکرز بن حفص په تېښته بریالی سو وتښتېدی، نو دا څلوېښت کاسه لاس بسته محمد بن مسلمهؓ او دده ملګرو و علیه الصلوة والسلام ته راوستل، نو قریشو ته د خپلو خلګو د حبس خبر ورسېدی، نو یو جماعت ددوی و الله اعلم چي څو کسان وه په داغه شپه یې را واستول چي ورسئ د اصحابو سره جنګ وکړئ نو د غشو او ډبرو ویشتلو جنګ شروع سو په مسلمانانو کي یو نفر په شهادت ورسېدی چي نوم یې ابن رستم ؤ چي

په غشي و ويشتل سو، او مسلمانانو ددې جماعت څخه يبا دوولس نفره ګرفتار کړه نور په تېښته ولاړه، نو په دې وخت کي قريشو و رسول اللهﷺ ته يو څو کسه په مشرۍ د سهيل بن عمر را واستول، عليه الصلوة والسلام چي سهيل وليدی اصحابو کراموؓ ته يې وويل قد سهل امركم، يعني د سهيل په نامه يې نېک فالي وکړه، وقد كان النبيﷺ يحب الفال بمثل، فقال سهيل يا محمد ان من كانوا من قريش يعني حبس اصحابك يعني عثمان و عشرة رجال اخر وكان قتال من قاتل اصحابك لم يكن من راى ذوى رأينا بلكې موږ کارهين ددې کارو خود سرانه ؤ، نو موږ ته په لاس راکړه زموږ خلګ يعني څلوېښت يو وار او دوولس کسه دوهم وار، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي زه يې نه درسره کوم تر هغو چي تاسي زما اصحاب يعني عثمانؓ او لس کسه نور ورسره خوشي نه کړئ، قال سهيل نفعل، فبعث سهيل هغه کسان چي ورسره وه و قريشو ته راغله او وه يې ويل چي اصحاب د محمد يعني عثمان ومن معه خوشي کړئ، نو هغو دا خبره ومنل او عثمانؓ ومن معه (۱۰) نفره يې ايله کړه څو چي و عليه الصلوة والسلام ته راورسېدل، نو عليه الصلوة والسلام هم ددوی اولاً او ثانيًا بنديان و سهيل ته په لاس ورکړه.

پوه سه: چي قريش چي په دې بيعت د رسول اللهﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم خبر سوه كبرت عليهم، او پر دې و بېرېدل چي عليه الصلوة والسلام جنګ ته اماده نه سي، او اصحاب رائ و دوی ته مشوره د صلح ورکړه پر دې مضمون چي عليه الصلوة والسلام سره د خپلو اصحابو به سږ کال ځي او پر کال د ذو القعدة (مياني) لكه سږ کال به راځي موږ به مكه يعني طواف ګاه د درو ورځو لپاره دوی ته خالي کوو، فبعثوا سهيل بن عمرو ثانيًا ومعه مكرز بن حفص وحويطة بن عبد العزى او دا شرط چي په اوسني کال کي به ځئ تاچي عرب دا ګمان ونه کړي چي عليه الصلوة والسلام په زوره مكې ته داخل سو، نو اتفاق پر صلح سره وسو، كه څه هم بعض اصحاب په صلح اولاً راضي نه وه او داسي ګمان يې ؤ چي موږ ولي كفارو ته سپکاوی په دين کي ښکاره کوو وهم مشركون نحن مسلمون، نو عليه الصلوة والسلام دوی ته وويل چي و امر ته د خدای او د رسول غاړه کښېږدئ، خير خو هغه اصحاب هم قانع سوه او سره د هغه بعض اصحابو و رسول كريمﷺ ته

وویل چي تا موږ ته نه وه ویلي چي موږ به مکې ته داخلیږو آمنین محلقین رؤسهم آه؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ما داسي درته ویلي وه چي سږ کال؟ هغو ورته وویل چي یا، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي داخل به سئ آمنین محلقین آه، نو بیا علیه الصلوة والسلام علي رضی الله عنه طلب کړی (ولي چي هغه په خط او کتابت کي ماهر ؤ) فقال علیه السلام اکتب بسم الله الرحمن الرحیم، سهیل ورته وویل چي موږ رحمٰن او رحیم نه پېژنو، لکن اکتب باسمک اللهم لان قریش کانوا یکتبون ذالک وقت الجاهلیة، نو علیه الصلوة والسلام و علي رضی الله عنه ته وویل: اکتب کما قالوا (لعدم الفرق في المعنی) فکتب علي رضی الله عنه، وروسته علیه الصلوة والسلام علي رضی الله عنه ته وویل: اکتب هذا ما صالح علیه محمد رسول الله و سهیل بن عمرو، سهیل وویل چي که موږ دا منلای چي ته رسول الله یې نو مو ولي له دخول څخه د مکې منع کولې؟ لکن اکتب هذا: ما صالح علیه محمد بن عبد الله و سهیل بن عمرو، فقال رسول الله ﷺ لعلي رضی الله عنه چي محو کړه د رسول الله توری، فقال علي رضی الله عنه لا والله لا امحو رسول الله ابدًا، ولي چي ما خو ستا رسالت منلی دی او عقیده پر لرم نو یې څرنګه محو کړم، بیا علیه الصلوة والسلام و علي رضی الله عنه ته وویل چي ماته یې راوښایه هغه لفظ علي رضی الله عنه وروښووی نو علیه الصلوة والسلام پر لفظ د رسول الله قلم د محو کش کړی، وقال لعلي رضی الله عنه اکتب هذا ما صالح علیه محمد بن عبد الله و سهیل بن عمرو، او علیه الصلوة والسلام دا خبره هم وکړه: انا والله محمد رسول الله وان کذبتموني یعني قریش وانا محمد بن عبد الله ایضًا.

د صلح نامې مضمون:

(۱) دا چي د مسلمانانو او قریشو تر منځ به لس کاله جنګ بندي وي، که مکې ته مسلمانان ورځي په امن به وي او که قریش مدینې ته ورځي په امن کي به وي.

فائده: دا شرط یعني چي د امن لاري سره ایله سوې په اوږدو کي ددې لسو کلو په سلګونو کافرانو ایمان راوړی، ولي چي دوی له مبارکي خولې څخه د علیه الصلوة والسلام خبري بالمشافهة واورېدلې او بعض معجزات دوی په سترګو ولیدلې، حتی راویان د قصې وایي چي تر دې صلح دمخه په لس کاله کي دومره کافران په دین کي د اسلام نه وه داخل سوي لکه په دې لسو کلو کي د صلح چي یې ایمان راوړی.

(۲) دوهم شرط دا ؤ چي که څوک له قریشو څخه که څه هم پر دین د محمد (ﷺ) وي بیله اذن د قریبانو مدینې ته ولاړ سي بیا موږ سړی درواستوو په لاس به یې ورکوئ که نر وي او که ښځه، او که څوک مرتد سي یعني چي پر محمد (ﷺ) یې ایمان راوړی وي بیرته کفر ته وګرځي نو موږ یې په لاس نه درکوو.

پوښتنه: دوهم شرط که څه هم صحیح دی ولي چي مرتد نو علیه الصلوة والسلام څه کاوه، ولي چي اسلام خو علیه الصلوة والسلام پر چا باندي په وهلو او ټکلو باندي نه تحمیل کاوه، مګر د اول شرط په منلو کي یې څه حکمت ؤ، ولي چي کافرانو خپل قریبان په وهلو او ټکولو بیرته کفر ته اړول؟

ځواب: روح البیان او نور تفاسیر وایي چي د هغه په رد کي عمارة البیت الحرام وزیادة الثواب في الصلوة في الکعبة الشریف والطواف علی البیت له دې څخه هم مشرکانو څوک نه منع کاوه فکان فیه ایضًا تعظیم حرمات الله، او د هغه مسلمان قریبان که څه هم ده ته ازار رسوي هغه د غو ثوابونو په مقابل کي چندان شی نه ؤ کما لایخفٰی.

(۳) ومن احب ان یدخل في عقد محمد (ﷺ) دخل فیه ومن احب ان یدخل في عقد قریش وفي عهدهم دخل فیه یعني که د چا خوښه وي (ای من الکفار) چي په قرارداد کي د محمد (ﷺ) داخل سي په هغه کي دي داخل سي، او که څوک په عهد قرارداد کي د قریشو داخلیږي په هغه کي دي دخل سي.

(۴) زموږ او ستاسي یعني قریش او مسلمانانو تر منځ عیبة مکفوفة (عیبة د کالو بخی ته وایي دلته مراد ځني کنایهٌ زړونه دي) چي په هغه کي د صلح نامه مضمون سته، نه به ښکاره کوي دا زړونه عداوت زموږ او ستاسي تر منځ بل منطویة علی الوفاء بالصلح.

(۵) قال سهیل: چي ته به سره د اصحابو سږ کال ځې فلاتدخل مکة واذا کان العام القابل قریش به مکه یعني طواف ګاه او د صفا او مروه څخه ووځي په نژدې غرو کي به کښیني ته به سره د اصحابو رض آمنین خپله عمره پوره کوې او درې ورځي وتاسي ته اجازه ده.

(۶) ستاسي سره به توري وي په خپل غلاف (يعني په تېکي کي) او د غشو لندۍ به درسره وي بله سلاح به ستاسي سره نه وي.

درويش وايي: چي د مسلمانانو خو په دې کي شک نه ؤ چي موږ به سږ کال مکې ته داخلېږو او طواف عمره به کوو د عدم شک په سبب د هغه خوب ؤ چي عليه الصلوة والسلام و دوی ته بيان کړی ؤ، دلته چي دوی د صلح نامه مضامين واورېدل چي رسول اللهﷺ ثو نه درانه شرطونه تحمل کوي او د کفارو سره يې مني دخل من ذالک في قلوبهم امر عظيم، يعني وسوسې د شيطان حتی کادوا يهلكون، خصوصًا هغه شرط چي که يو مسلمان تاته درسي موږ سړی درواستوو ته به هغه مسلمان په لاس ورکوې.

درويش وايي: چي وعجب من ذالک كله داده چي په وخت کي د صلح نامې د نوشته کېدو د سهيل زوی ابو جندل چي مسلمان سوی ؤ او پلار سهيل يې په پښو کي زولنې وراچولي وې او د ضرب او كوب اثاريې پر بدن وه هم د مكې څخه راتښتېدلی ؤ چي په څونده تكليف به يې تر حديبيې ځان رارسولی ؤ راغلی د مسلمانانو په مابين کي يې ځان و غورځاوه چي زما دغه حال دی، سهيل و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي د دوهم شرط امتحان به زما پر زوی معلوم سي چي ته يې ماته په لاس راكوې او كه نه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي تر اوسه صلح نامه نه ده امضاء سوې، سهيل ورته وويل چي تر څو يې په لاس را نه کړې زه صلح نه كوم، عليه الصلوة والسلام سهيل ته وويل چي دغه ستا زوی ماته راوبخښه، سهيل وويل لا: اخير عليه الصلوة والسلام ابو جندل سهيل ته رد کړی.

درويش وايي: چي د مسلمانانو پر زړو اوربل سو لكن هيڅ چا د مسلمانانو څخه هيڅ ونه ويل، ولي بيعة الرضوان تر صلح دمخه ؤ او دغه بيعة الرضوان باعث سو چي قريش و صلح ته راغب سوه، دا ما ذكرنا حال چي خلاص سو او پر صلح نامه بعض مسلمانانو امضاوي هم وکړې، عليه الصلوة والسلام خلكو ته وويل چي ځانونه حلال کړئ يعني سرونه و خرياست يا قصر وکړئ، درې واره يې وويل هيڅ چا عمل په ونه کړی، عليه الصلوة والسلام و خپلي خېمې ته ورغلی چي ام سلمهؓ پكښې وه دا حال يې د هغې سره شريک کړی، نو زموږ مورؓ ورته وويل چي

خلګو چي ستا په خوله عمل ونه کړی تا احرام بنده ويني، نو ددوی اميد د مکې له دخول څخه نه دی ختلی کما قيل لعل يحدث بعد ذالک امرًا، ته ورسه خپلي هدايا ذبح کړه او حالق راوغواړه چي سر دي دروخريي بيا يې ته ګوره چي مسلمانان څه کوي، نو عليه الصلوة والسلام هم داغسي وکړه، په يوه روايت کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام خپله هدی په حديبيه کي ذبح کړه او غوښي يې په هغو فقراؤ وويشلي چي حديبيې ته راغلي وه، او په بل روايت کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام شل اوښان د ناجيه رضي الله عنه په لاس ورکړه چي په مکه کي يې پر مروة ذبح کړه او غوښي يې پر فقراؤ د مکې و ويشه، بيا عليه الصلوة والسلام په خپلي سرې خيمې کي چي د اديم احمر څخه جوړه وه کښېنستی سر مبارک يې خداش رضي الله عنه الذي بعثه الی مکة کمامر وروخرايه او وېښتان د سر مبارک يې پر يوې درختي وپاشل، صحابه وُ رضي الله عنهم دا وېښتان له درختي څخه ټولوله تبرګا، ام عمارة رضي الله عنها چي په دې سفر کي راغلي وه يو څو وېښتان يې ټول کړه چي وروسته به يو څوک ناجوړی وُ دې به هغه مبارک وېښتان د مبارک سر د عليه الصلوة والسلام ورپرېوله هغه اوبه چي به مريض وڅيښلې په اذن د خدای ج به جوړ سو، سعدي شيرازي قدس الله سره داسي ييتونه چي ددې ځای سره مناسبت لري ويلي دي:

گلی ناچيز درتمام روزی رسيد	زدست محبوبی بدستم
بدو گفتم که مشک يا عبيری	که از بوی دلاويزی تو مستم
بگفتا من گلی ناچيز بودم	ولی مدتی با گل نشستم
جمال همنشين درمن اثر کرد	وگرنه من همان خاکم که بودم

اوس بيرته د حديبيې د قصې پر لور: فلما رؤالناس رسول الله ﷺ رافعًا صوته باسم الله والله اکبر نحر ناقته او سريې هم وخرايه خلګ سره وغورځېده ينحرون ويحلقون يعني د خلګو اميد قطع سو چي موږ سږ کال پر بيت الله طواف نه سو کولای.

درويش وايي: چي اکثره خلګو سرونه وخريل اقتداءً برسول الله ﷺ يو عثمان او ابی قتادة رضي الله عنهما قصر وکړی په اميد ددې چي اکثره وېښتان دا نوی کال چي عمرې ته راسو بيا هلته خريو، راويان داحاديث شريفه وُ وايي چي خدای پاک يو تند باد پيدا کړی چي د ټولو خلګو وېښتان يې پورته کړه نژدې و حرم مکي ته يې وپاشل که څه

هم حديبيه اکثره په حدودو کي د حرم داخله ده لپاره د زېري پر مسلمانانو چي د سږ کال عمره مو هم قبوله سوه که څه هم مکې ته داخل نه سواست او طواف او سعي د صفا او مروی مو ونه کړه يعني خدای د پوره عمرې ثواب درکوي.

سوال: که ددې کال عمره د خدایؒ په دربار کي پوره عمره وای، نو د وروسته کال عمرې ته ولي عمرة القضاء وايي؟

ځواب: د قضاء معنی دا نه ده چي د پروسږ کال د عمرې قضاء ده، بلکې د قضاء معنی صلح ده يعني عمرة الصلح مع قريش فافهم وهذا سانح عزيز.

پوه سه: چي عليه الصلوة والسلام سره د اصحابو ﷺ نولس (۱۹) يا شل (۲۰) ورځي تېري کړې يعني په حديبيه کي وروسته يې رجوع وکړه د مدينې منورې پر لور، نو کراغ الغميم ته چي ورسېدی لکه په انسان العيون او نورو تفاسيرو کي چي وايي انزلت عليه سورة الفتح.

تفريع: دا سورت چي مدني بولي په دې سبب چي بعد الهجرة نازل سوی دی که څه هم نه په مکې او نه په مدينې کي بلکې په مابين د مکې او مدينې کي نازل سوی دی، ولي چي اصطلاح د مفسرينو داده چي هغه سورة چي بعد الهجرة نازل سوی وي هغه مدني دی ولو بمکة وبالعکس.

معجزة بينة: درويش وايي چي کراغ الغميم د لښکر زاد او نفقة السفر قريب وفنا ته ورسېده حتی صحابه کرامو ﷺ قصد وکړی و ذبح کولو ته د بعض اوښانو لکن بې مشورې د رسول اللهﷺ يې داسي نه وکړه، موضوع يې مبارکﷺ ته پېش کړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي اوار کړئ خپل پټوان او سترخوانونه او امر يې وکړی چي د هر چا سره چي وي بقيه طعام او زاد هغه دې راوړي او پر دې پټوانو او سترخوانو دې واچوي، خير د هر چا سره چي هر څه فاضله نفقه موجوده وه رايې وړل پر سترخوانو يې واچول، بيا عليه الصلوة والسلام دعاء د برکت وکړه بيا يې وويل چي خورئ ياست او خپلي بوجۍ او جولونه هم په ډک کړئ ففعل الصحابةؓ کذالک فأکلوا، او بوجۍ او جولونه يې هم ځني ډک کړه وفضل عن ذالک بقية.

معجزة اخری: وقد سبقت مثلها کما مر مرة اخری يعني قال عليه الصلوة والسلام چي د اوداسه اوبه سته، خلکو په يوه مشکولا کي لږ اوبه ورته راوړې هغه

په يوه كټوري كي عليه الصلوة والسلام واچولې او عليه الصلوة والسلام خپل لاس مبارک په هغو اوبو کي کښېښوى نو د هرو دوو ګوتو تر مابين يې د صافو اوبو چينې بهېدلې فتوضئوا به كلهم، يو چا د راوي څخه پوښتنه وکړه چي تاسي څو كسان واست؟ راوي ورته وويل چي كه موږ يو لک كسان هم واى دا اوبه ډېري وې لكن موږ (١۴٠٠) كسان ؤ، روات د قصې وايي چي سورة الفتح چي نازل سو آنحضرتﷺ وويل و اصحابو؆ ته چي پر ما يو سورة نازل سو چي هغه ماته محبوب دى تر مما طلعت عليه الشمس، وفي رواية اخرى لقد انزلت علي سورة ما يسرني بها حمر النعم (چي زه نه خوشحاله کوم په مقابل كي د دې سرو اوښانو)

پوهسه: چي الحمر بسكون الميم جمع د احمر ده او النعم بفتحتين جماعت ته د اوښانو وايي ولا واحد له من لفظه او سره اوښان د ډېر ښه مالو څخه د عربو دي حتى چي دوى په نفاست د يو شي مثال په سرو اوښانو سره وايي ثم قرء رسول اللهﷺ سورة الفتح عليهم الى اخيرها، وروسته عليه الصلوة والسلام دوى ته د دې سورت د نزول مبارک باد ووايه او دوى و عليه الصلوة والسلام ته د دې سورت مبارک باد ووايه، راوي وايي وتكلم بعض الصحابة؆ وقال هذا ماهو بفتح (دا خو فتح نه ده مشركانو موږ بند کړو د بيت الله له زيارت څخه) عليه الصلوة والسلام ته چي چا خبر ورساوه قال: بئس الكلام بل هو اعظم الفتح لقد رضى المشركون ان يدفعوكم عن بلادكم وسألوكم القضية اى الصلح والتجاءآه او زارى يې وتاسي ته وکړې في الامان وقد رؤا منكم ما كرهوا (يعني بيعة الرضوان) او دوه واره د دوى خلک ستاسي په لاس كي ګرفتاره کېده يو وار (۴٠) كسه او بل وار (١٢) كسه، او تاسي ته خداى بري درکړى پر دوى باندي او د دوى له بلاد څخه خداى سالمين مأجورين را وه ايستلاست فهو اعظم الفتوح، عليه الصلوة والسلام ورته زياته کړه: انسيتم يوم احد وانا ادعوكم في اخراكم (يعني تاسي شكست وکړى او ما د شا له خوا په تاسي پسي نارې وهلې) اليّ يا عباد الله، انسيتم يوم الاخزاب اذ جائكم من فوقكم ومن اسفل منكم واذ ذاغت الابصار وبلغت القلوب الجناحر وتظنون بالله الظنونا، فقال المسلمون صدق الله ورسوله هو اعظم الفتوح، والله يا رسول الله ما فكرنا فيما فكرت (موږ دومره فكر نه دى

وهلی لکه تا چي وهلی دی) ولانت اعلمنا بالله وبامره، وقال له عمرؓ الم تقل انک تدخل مکة آمنًا، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ما درته ویلي وه چي سږ کال به داخلېږئ؟ عمرؓ ورته وویل لا، قالؑ فهو کما قال جبرئیل (یعني في المنام) فانکم تأتونه وتطوفوا به، راوي وایي چي دوهم کال رسول اللهﷺ داخل سو مکې ته او عمره يې وکړه قال هذا الذي وعدتکم.

پوه سه: چي اصحابؓ لم یشکوا في امر النبيﷺ ولم یکن کلامهم معه علی وجه الاعتراض حاشاهم الله عن ذالک بل انما یسئلوه علی وجه الاستعلام (یعني په سر د کارنامو د علیه الصلوة والسلام يې ځان خبراوه چي ددوی په زړو کي به څه خبره ورګرځېدلې وه) مما لایخلو عنه بشئ (یعني من الوسوسة فان الامر عمیق) ددې داسي مثال دی لکه د کلو کلو متعلم چي له استاذ څخه د مشکل ځای په کتاب کي پوښتنه وکړي فانه لیس بانکار من علم الاستاذ ولاشک فیه بل طلب حل المشکل الذي خطر في قلبه من الاستاذ فتدبر.

پوښتنه: علماء وایي چي دغه صلح د مشرکینو سره چي فتح يې وبلل مع انه لیس فتحًا لاعرفًا لانه لیس بظفر علی بلدة مکة، ولا لغة لیس بفتح للمغلق کیف وقد منعوهؑ من زیارة البیت والطواف به حتی نحروا الابل وحلقوا رؤسهم بالحدیبیة فائ ظفر في ذالک؟

والجواب: صلح د مشرکینو سره فتح ده بالمعنی اللغوي لانه کان مغلقًا ومتعذرًا وقت نزولهم بالحدیبیة لان المشرکین کانوا عند ذالک في غایة الطغیان والتکبر عن سماع قول رسول اللهﷺ الا انه لما آل امر رسول اللهﷺ الی بیعة الرضوان او مشرکانو ته دا ښکاره سوه چي مؤمنان په ټینګ عزیمت ای وقتال او جهاد ته ضعف قلوبهم (ضعیف زړونه د کافرانو) وخافوا من قتال المؤمنین حتی چي غاړه يې صلح ته کښېښول او طلب د صلح اولاً هم دوی وکړی او په دې سره ثابته سوه غلبه د مسلمانانو پر دوی مع ان ذالک الصلح کان سببًا لامور اخر کانت مغلقة قبل ذالک.

منها: چي مشرکان او مؤمنان سره ود سوه په سبب ددې صلح، نو مشرکانو د علیه الصلوة والسلام او د مؤمنانو خبري مشافهة واورېدلې وتمکن الاسلام في قلوبهم حتی چي رواة د قصې وایي کمامر چي په دغه لس کاله جنګ بندي کي چي

په صلح کي مابین ته راغلې وه دومره کافرانو ایمان راوړی چي په مثل د ماقبل ذالک من المؤمنین وه بلکې اکثر.

ومنها: چي علیه الصلوة والسلام په سبب ددې صلح له مشرکینو څخه د مکې و نورو عربو ته د جهاد او قتال لار خلاصه سوه فغزاهم و فتح مواضع الیهود خصوصًا خیبر او ډېر غنیمتونه د مؤمنانو لاس ته ورغله، او داغه رنګه په دغو کلو کي یو لوی جنګ په مابین کي د رومیانو چي اهل کتاب وه او د فارس چي مجوسیان وه او غالبه سوه رومیان پر فارسیانو باندي، او دا غلبه د رومیانو له دلائلو څخه د نبوت د علیه الصلوة والسلام وه، ولي چي د مخه تر دې هم د رومیانو او د فارسیانو جنګ سره سوی ؤ او په هغه جنګ کي مجوسیانو غلبه پیدا کړې وه پر رومیانو، نو مشرکان د مکې ډېر خوشاله وه په دې چي مجوسیان خو لکه مشرکان داسي وه، نو علیه الصلوة والسلام داسي اخبار کړی ؤ: وهم (ای رومیان) من بعد غلبهم (اضافة د مصدر د مفعول ته دی یعني وروسته تر مغلوبیت ددوی) سیغلبون (رومیان به غلبه پیدا کړي پر فارسیانو) في بضع سنین (په څو کلو کي بضع د درو څخه تر نهو (٩) پوري ته وایي) نو علیه الصلوة والسلام او مؤمنان په دې غلبه د رومیانو پر مجوسیانو ډېر خوشحاله سوه چي اهل کتابو پر مجوسیانو مشرکانو غلبه پیدا کړه، نو د علیه الصلوة والسلام صدق هم ښکار سو، او عین په دغه ورځ کي مؤمنانو چي (٣١٣) کسه وه غلبه پیدا کړه پر مشرکانو د مکې چي (١٠٠٠) کسه وه په بدر کي چي اوویا (٧٠) یې څني قتل کړه او اوویا (٧٠) یې بندیان ونیول او نور وتښتېدل مکې ته.

لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ

تا چي وبخښي وتا ته خدای غزوجل د مخه ګنهونه ستا او وروسته.

پوه سه: چي دا آیت علت غایت دی د فتح له دې سببه چي دا مغفرت سبب دی د جهاد سره د کفارو والسعي في ازاحة الشرک واعلاء الدین کما مر في تفسیر البیعة تحت الشجرة و تخلیص الضعفة عن ایدي الظلمة کما مر تفصیله في الصلح مع المشرکین بالحدیبیة.

پوښتنه: انبياء عليهم السلام خو معصوم دي له ګنهو څخه قبل النبوة وبعدها (كما ذكرنا بالتفصيل في رسالة كشف الغطاء عن عصمة الانبياء للعبد الضعيف) فما معنى نسبة الذنب الى النبي ﷺ؟

ځواب: ددې آيت معنى داده اى جميع ما فرط منكم من ترك الاولى وتسميته ذنبًا بالنسبة الى منصبه الجليل لان حسنات الابرار سيئات المقربين على ما قاله ابو سعيد الخزار قدس سره، وفي المثنوي لتائيد قول الخزار رحمه الله:

آنكه عين لطف باشد بر عوام قهر شد بر عشق كيشان كرام

درويش هيچمدان وايي: چې چونكه مسئله د عصمت الانبياء عليهم السلام د عقائدو مسئله ده چې تحقيق يې په كتابو كې د علم كلام سته لكه په كتاب كې د شرح العقائد او شرح المقاصد للعلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني وشرح المواقف للقاضي عزد الملة وشرح السيد الجرجاني رحمه الله وغيرها من كتب علم العقائد والكلام، وفيها مذاهب شتى لاهل الاهواء لكن په دې مسئله كې لوى تحقيق قاضي عياض رحمه الله كړى دى په شفاء كې چې دده كتاب دى په احاديثو نبويهؤ كې دى لهذا فقير په خپل تفسير محتاطانه اقوال د بعض مشائخو رانقل كوم، عقلي دلائل چې چا ويلي دي هغه صرف نظر كوم، نو رشتيا داده چې ددې مسئلې درياب ډېر عميق دى بېرېږم چې په كنده كې د ضلال ونه لوېږم.

مظهري رحمه الله يې داسې ترجمه كړې ده: اى جميع ما فرط منك قديمًا في الجاهلية قبل الرسالة (وفي نفسي من لفظ الجاهلية شيئ فافهم) وحديثًا بعد الرسالة اى نزول السورة (وتخصيص السورة فيه شيئ فينبغي ان يقول بعد الرسالة) ثم قال مما يصح ان يعاقب عليه، وهذا لا يستلزم ارتكاب المعصية فان حسنات الابرار سيئات المقربين انتهى. او عطاء خراساني رحمه الله وايي ما تقدم من ذنب ابويک آدم و حوا (يعني بحذف المضاف) قال روى ان آدم عليه السلام و حواء لما اكلا من الشجرة الممنوعة وقال لهما ربهما الم تنها كما عن تلک الشجرة واعترف آدم عليه السلام بالخطيئة قال يا رب اسئلک بحرمة محمد ان تغفرلي خداى پاک ورته وويل چې تا محمد څه پېژندى يا آدم چې هغه تر اوسه نه دى پيدا سوى؟ آدم عليه السلام ورته وويل چې تا چې زه پيدا كړم ونفخت في من روحک (اى الروح المخلوق لک) ما چې سر پورته كړى پر قوائم د عرش مې وليده په

واضح كتابت نوشته وه لآ اله الا الله محمد رسول الله، زه پوه سوم چي تا د خپل نامه سره نه دی جوت کړی الا اسم احب الخلق اليک فقال الله صدقت يا آدم انه لاحب الخق الي نغفرت لک ولولا محمد لما خلقتک، رواه البيهقي في دلائل النبوة.

فائده: وهابيان وايي چي دا حديث موضوعي دی سره ددې چي البيهقي لوړ رتبه محدث دی چي ټولو اهل الحديث منلی دی، وما تأخر من ذنوب امتک بشفاعتک (بحذف المضاف وهو لفظ امتک) سلمي قدس سره فرموده که ذنب آدمؑ رابه رسول الله ﷺ نسبت کرد چه رسول الله ﷺ در وقت ذلت آدم در صلب وی بود وگناه امت رابه وی اضافت نمود که او پیش کار ایشانست، وقال ابن عطاء قدس سره لما بلغ رسول الله ﷺ سدرة المنتهی ليلة المعراج تقدم عليه الصلوة والسلام واخر جبرئيل فقال لجبرئيل ترکتنی في هذا الموضع وحدی فعاتيه الله تعالی حين سکن الی جبرئيل وقال وحدی فقال الله ما تقدم من ذنبک ای سکونه الی جبرئيل وقال وحدي مع ان الله معه فيکون کلا الذنبين بعد النبوة.

درويش وايي: چي سعدي شيرازي قدس سره دا مضمون په داسي خوږو بيتو بدرګه کړی دی:

چنان گرم درتيه قربت براند — که درسدره جبرئيل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بيت الحرام — که ای حامل وحی برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند — بماندم که نيروی بالم نماند
اگر يک سر موی برتر پرم — فروغ تجلی بسوزد پرم

وفي الفتوحات المکية للشيخ الاکبر محي الدين ابن عربي قدس سره اسغفار الانبياء عليهم السلام لايکون عن ذنب حقيقةً کذبوبنا وانما هو عن امر يدق عقولنا لانه لا ذوق لنا في مقامهم فلا يجوز حمل ذنوبهم علی ما نتعقله من الذنب انتهی.

وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝٢

خدایؑ به تام وګرځوي نعمت خپل پر تا باندي (دا وعده د خدایؑ په تمام د نعمت چي مراد ځني اکمال دی د دين واظهار کلمة الاسلام او هدم د منارو د جاهليت يحجون ويعتمرون مطمئنين لايخالطهم احد من المشرکين قال الله تعالی في سورة المائدة "اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم ونعمتي"

وتمام النعمة چي په دې آيت د سورة المائدة کي راغلي، دي سبب دی د فتح د مکې او د صلح د حديبيې) او تاته به خدای ج هدايت وکړي د سمي لارې يعني په تبليغ کي د رسالت واقامة مراسم الملک والنبوة والرياسة والسياست، بعض مفسران وايي معنی يهديک يهدي بک بحذف الباء وهو تکلف بلا حاجة وقيل معنی يهديک يثيبک على التبليغ، وقيل تمام النعمة بالمغفرت والهداية الى کمال الدين بحيث لايجوز نسخه بعد ذالک.

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿۳﴾

ستا سره به کومک وکړي خدای ج پر دښمنانو د دين د اسلام.

فائده: اظهار الاسم الجليل مع النصر، يا ددې سببه دی چي نصر خاتمة العنايات والعلل ده ولاظهار کمال العناية بشانه وقال الصدر رح اظهر الاسم في الصدر يعني قوله تعالى ليغفر الله لک، او بل دلته لان المغفرة تتعلق بالآخرة والنصر يتعلق بالدنيا، نو خدای عزوجل په اظهار کي د اسم جليل دواړه ځايه اشارةً الى ان الله تعالى يتولى امورک في الدنيا والآخرة کذا قال الآلوسي رح في روح المعاني وقال الامام الرازي رح في التفسير الکبير، اظهر اسم الجلالة ههنا اى في النصر اشارة الى ان النصر لايکون الا من عند الله کما قال في موضع آخر (وما النصر الا من عند الله) دليل ددې دادی چي نصر چي پيدا کيږي په صبر سره پر شدائدو د قتال والصبر لايکون الا من الله کما قال الله (وما صبرک الا بالله)

"نصرًا عزيزًا" اى نصرًا فيه عزة نو عزيزًا صيغه د نسبت اى ذا عز، په فتح الرحمن کي وايي النصر العزيز هو الذي معه الغلبة على اعداء الله و الظهور عليهم والنصر الغير العزيز هو الذي معه الحماية و دفع العدو فقط انتهى، او بعض مفسرين وايي چي نصر يې موصوف په وصف سره کړی د صاحب دده اى نصرًا عزيزًا صاحبه اى المنصور، قال البرسوي رح چي ظاهره داده چي مراد د نصر عزيز ما ترتب على فتح مکة من النصر على الاعداء کهوازن وغيرهم ونصرًا منه تعالى على الاکاسرة (جمع د کسرى ده چي د فارسيانو باچاته وايي) والقياصرة (جمع د قصرى ده چي د روميانو بادشاه ته وايي).

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

خدای هغه ذات بېهمتا دی چي نازل يې کړه (مراد له سکينة څخه طمانية على امتثال امر الله تعالى من صلح الحديبية كما مرت قصته بالتفصيل) په زړو کي د مؤمنانو حتى انقادوا لامر الله ورسوله حين جعل الذين كفروا يعني اهل مكة في قلوبهم الحمية حمية الجاهلية فمنعوا بتلك الحمية رسول الله ﷺ في ذالك العام من دخول مكة يعني دوی به ويل که موږ تا سږ کال مکې ته پرېږدو عرب به وايي چي په زوره محمد مکې ته داخل سو، دا وه حميه د جاهليت ددوی.

پوښتنه: چي په ''مع ايمانهم'' کي حرف جر متعلق په انزال سره دی.

پوښتنه: د عقائدو په کتابو کي وايي چي ايمان زيادت او نقصان نه قبلوي، نو ددې توجيه به څه وي؟

ځواب: الضحاک رحمه الله وايي چي مراد د زيادت څخه رسوخ د عقيدې دی واطمنان النفس عليها چي تعبير يې قوة الکمال د ايمان دی لا الزيادة في المؤمن به ولاشک ان ايمان رسول الله ﷺ والصحابة رضي الله عنهم اقوی واکمل من ايمان غيرهم او الکلبي رح وايي هذا في امر الحديبية حين صدق الله رسوله الرؤيا بالحق يعني في العام القابل، او ابن عباس رض وايي چي زيادت په معنای مصطلح سره دی لکن دا هغه وخت چي وحي جاري وي يقول بعث الله رسوله بشهادة ان لا اله الا الله فلما صدقوا به زادهم الصلوة ثم الزكوة ثم الصوم ثم الحج ثم الجهاد حتى اكمل لهم دينهم فكلما امروا بشيئ فصدقوه زادهم تصديقًا الى تصديقهم بامر من قبل.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۟ۙ

او خدای ج لره خاصة لښکرو ته د اسمانو او د ځمکي. او دی خدای ج څښتن د لوی علم او حکمت يفعل مايشاء.

پوښتنه: چي جنود جمع د جند ده بضم الجيم والمعنى چي تصرف د لښکرو د اسمانو چي ملکي دي او د ځمکي دي چي مجاهدين لاعلاء کلمة الله دی تدبير يې کوي کيف يشاء کاهي يوه ډله مسلطه سي پر بله ډله او کاهي د دښمنو دوو ډلو تر مابين صلح وکړي څرنګه چي مشيت دده يې چي مبني پر حکم او مصالح دی،

د دې آيت حاصل دا دی چې صلح د حديبيه پر دې بنا نه وه چې مسلمانان په حال کې د ضعف وه بل لما يقتضيه علمه وحکمته.

پوه سه: چې جند په عرف کې جماعت د ملکو يا د انسانانو چې په جنګ د کفارو سره اخته وي او په حقيقت ټوله ذرات د عالم جنود الله دی الا تری چې سيد البريات عليه افضل الصلوات چې يو موټ شګې پر مخانو د کافرانو ور وپاشلې او دا يې ويل شاهت د ټولو کافرانو په سترګو کې ولوېدې او شکست يې وکړی قال المولوي المعنوي في المثنوي ؒ:

جمله ذرات زمين و آسمان لشکر حقند گاه امتحان
بادرا ديدی که باعادان چه کرد آب را ديدی که باطوفان چه کرد
آنچه بر فرعون زد آن بحر کمين وآنچه با قارون نمود است اين زمين

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ

او دد دې لپاره چې خدای داخل کړي (په ورځ د قيامت) مؤمنان او ښځې مؤمنات و باغو ته چې رواني به وي لاندې تر درختو د هغو جنتو څلور ويالې او به، شيدې، عسل او شراب، او دوی به همېشه په دغو جنتو کې وي چې نه به مري او نه به د جنتو څخه ايستل کېږي، او بل دد دې لپاره چې خدای ؒ (چې غفور او رحيم دی پر خپلو بندګانو) د دوی ګنهونه به وربخښي.

پوه سه: چې دا دواړې جملې معطوف او معطوف عليه دي (اعني ليدخل ويکفر) متعلق دي بقوله تعالی ليزدادوا آه.

وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۙ

او دی دا ادخال و جنت ته او غفران د سيئاتو په نېز د خدای ؒ کاميابي ده لويه، ولې چې په ادخال الجنات کې جلب دی د منتهی د منافع اخرويه ؤ، او په دې تکفير کې د سيئاتو دفع ده لوی مضار د اخرت وهي دخول النار.

پوه سه: چې عند الله حال دی له فوز څخه او دا جمله يعني وکان ذالک آه معترضه ده په مابين کې د حال د مؤمنانو او د منافقانو او مشرکانو.

وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ

او په عذاب کي خدای منافقان که نروي او که ښځي.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر يدخل او دا جمله ده په علت د انزال السکينة في قلوب المؤمنين، ولي چي منافقان او کافران له دې انزال څخه په ډېر غيظ او غصه کي وه، او دوی به طعن او عيب وايه په دين کي د مسلمانانو چي دوی امتثال د امر د خدای وکړی په امر کي د صلح مع المشرکين.

وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ

او خدای عذاب ورکړی و مشرکانو ته او مشرکاتو ښځو ته چي دوی ګمان کاوه پر خدای ګمان د بدو، يعني دا بد ګماني يې کوله چي خدای به خپل رسول او مؤمنانو ته کومک ورنه کړي، او دا يې هم ګمان کاوه چي النبي ﷺ او مؤمنان به مديني ته سالم نه سي راستانه يعني مشرکان د مکې به دوی ختم کړي.

پوه سه: چي ظن السوء منصوب على انه مفعول النوعي د الظالمين دی نحو جلست جلسة القاري، وقيل: غير ذالک قال الله في موضع آخر بل ظننتم ان لن ينقلب الرسول والمؤمنون ال اهلهم ابدًا.

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ

پوه سه: چي دا جمله دعائيه ده يعني يجعل عليهم دائرة السوء يعني الهلاک والعذاب يا معنی داده دائرة ما يظنون بالمؤمنين او هغه ته يې انتظار کاوه خو هغسي ونه سوه.

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝٦

او غضب وکړی خدای جل جلاله پر دوی او لعنت يې نازل کړی پر دوی او آراسته يې کړې دوی ته جهنم او بد ځای دی جهنم از روی مرجع.

پوه سه: چي جهنم چونکه مؤنث سماعي ؤ ځکه يې سائت مؤنث راوړی.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝٧

او خدای لره دي لښکرونه د اسمانو او د مځکي (يعني خدای عزوجل دفع

كولاى سي كيد او چم د من عادى نبيه والمؤمنين بما شاء كما مر نبذ من ذالك في ابيات المثنوي) او دى خداى غالب نو څوک نسي دفع كولاى عذاب دده له كافرانو څخه او لوى حكمت يې دى په هر كار كي چي كوي يې.

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ۝٨

مور ته يا محمد را استولى يې خلكو ته يعني رسول خپل مو ګرځولى يې "شاهدًا" پر امت خپل په ورځ د قيامت "ومبشرًا" او زيرى كونكى و هغه چا ته چي ستا اطاعت وكړي "ونذيرًا" او بيرونكى په عذاب د خداى چي ستا اطاعت ونه كړي.

لِّتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ۝٩

پوه سه: چي ابن كثير او ابو عمر دا ټوله معطوفات په ياء د غيبت وايي، او ضمائر د جمع يې راجع دي الى الناس كافة الى يوم نفخة الصور الاولى، او نور ټوله قراء يې په تاء د خطاب وايي چي خطاب دى و نبي ﷺ او امت ته.

ترجمة على تقدير ياء الغيبة: چي دوى ايمان راوړي پر خداى په توحيد سره او پر رسول دده بالنبوة والرسالة او دوى كومک ورسره وكړي چي ځانونه دده جند وګرځوي، او تعظيم دده وكړي او تنزيه دده وكړي عما لايليق بشانه من انه ساحر او كاهن الى غير ذالک، والمعنى على تقدير الخطاب چي تاسي يا محمد والمؤمنون ايمان راوړي پر خداى يعني په توحيد سره او پر رسول د خداى.

فائده: دلت هذه الآية على انه چي عليه الصلوة والسلام يجب عليه ان يؤمن برسالة نفسه كما ورد في الحديث الصحيح انه عليه الصلوة والسلام قال اني عبدالله ورسوله، امام سهيلي وايي في الامالي: انما عرف ﷺ نبوة نفسه بعد معرفته بجبرئيل.

فائده: په انا ارسلناک كي خطاب يوازي و عليه الصلوة والسلام ته ؤ، او په دي آيت كي تعميم دى د خطاب و امت ته "و تعزروه" او تاسي تقويه دده وكړئ.

سوال: امت خو به تقويه د عليه الصلوة والسلام وكړي بجعل انفسهم من جنده لكن عليه الصلوة والسلام به د ځان توقيه څرنګه كوي؟

ځواب: تقويه د ځان دى په حسن تبليغ سره او په لطف سره كوي، او تاسي

تعظیم دده و کړئ او علیه الصلوة والسلام خپل د ځان عظمت وساتئ د عوام الناس غوندي دي رفتار به نه کوي په عبث خبرو سره مثلاً او د امت تعظیم خو ظاهر دی وعلی هذا فقس قوله تعالی وتسبحوه فتدبر.

درویش وايي: چي روح المعاني او روح البيان ضمير د ''تعزروه'' خدای پاک ته راجع کړی حیث قال وتقوه تعالی بتقوية دينه ورسوله، او د ''توقروه'' ضمیر يې هم و خدای ته راجع کړی دی حیث صاحب روح البيان ای تعظموه باعتقاد انه تعالى متصف بصفات الجلال والكمال منزه عن جميع وجوه النقصان او د ''تسبحوه'' ضمیر يې هم خدای ته راجع کړی دی حیث قال ای ينزوه تعالى عما لايليق بعلو شانه كالشريك له تعالی، والولد وسائر صفات المخلوقين.

''بكرة واصيلاً'' قيد د تسبيح ای غدوة وعشية، فالبكرة اول النهار والاصيل اخيره، او يا معنى داده چي دائما دده تسبيح واياست، بعض مفسرين ضمير د تعزروه وتوقروه راجع و علیه الصلوة والسلام ته بولي کمامر او ضمير د تسبحوه راجع و خدای ته بولي، علامه آلوسي په روح المعاني کي وايي چي اولی داده چي د مخه دوه ضميره هم و خدای ته راجع سي (لکه چي درویش بيان وکړی) قال الآلوسي لئلا يلزم تفكك الضمائر من غير ضرورة.

پوښتنه: ايوبي ستا څه رايه ده؟

ځواب: اول تفسير چي ما وکړی رائ د تفسير مظهري وه چي د ډېر چون و چرا سره مخامخ وه کمامر، زما رايه داده چي اولی و احری بلکې صواب تفسير د روح المعاني او روح البيان دی، والله اعلم.

إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ

په تحقيق هغه کسان چي بیعت کوي ستا سره یا محمد بالحديبية تحت الشجرة پر دې باندي چي تښتي به نه بلکې د مکې د مشرکينو سره به جنګ کوي ترهغو چي بری پیدا کوي یا مري، نو دوی بیعت نه کوي مګر د خدای سره (لان الله عزوجل هو المقصود لهم ببيعة رسول الله.

پوه سه: چي خدای عزوجل لره يد په معنى د جارحة مخصوصة نسته، نو مراد له يد څخه نصرت او قوت او قدرت دی يعني د خدای نصرت او کومک ستاسي

ملګرې دی لکن تعبير د يد يې له دې کبله وکړی چې په بيعت کې وضع اليد على اليد ؤ للنصرة، نو مشاكلة و نصرت ته د خدای عزوجل يې يد الله وو ايه.

درويش وايي: چې دا توجيه اسهل التوجيهات ده په دې آيت کې تر بيان د استعاراتو لکه چې مظهري کړې ده، والله اعلم بما في كتابه الشريف.

فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ

که چا مات کړی بيعت مذكوره، نو په تحقيق ده مات کړی پر خپل نفس يعني ضرر د نقض البيعة و ده ته رسيږي من غضب الله وعذابه (او عليه الصلوة والسلام او مؤمنانو ته يې ضرر نه رسيږي، لانه تعال ناصرهم على اعدائهم) او که چا وفا وکړه په هغه شي سره چې دوی پر هغه شي معاهده د خدای سره کړې، وحاصله ثبت على البيعة وراعاها.

فائده: حفص ؒ پر هاء د عليه پيښ وايي تعظيمًا للاسم الجليل، ولي ضمه ډکه ويل کيږي، او نور قاريان يې په کسره د هاء وايي على قانون النحو.

فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۰﴾

نو ژر دی چې وربه کړي خدای و هغه ته لوی ثواب چې اصل يې رضوان او پر هغه متفرع جنت دی او په جنت کې رؤية الله دی.

پوه سه: چې ضمير مستتر راجع دی و خدای ته او ضمير بارز راجع و من ته دی.

درويش وايي: چې عليه الصلوة والسلام چې نيت د عمرې سره د (۱۴۰۰) کسانو يا بالا سفر کاوه، و ټولو د صحراء مسلمانانو ته يې دا اعلان کړی ؤ چې څوک د عليه الصلوة والسلام ملګري کوي راودي وځي، نو که څه هم بعض صحرا نشين مسلمانانو لبيک ورته وو ايه حتی چې (۱۵۰۰) يا (۱۶۰۰) ته ورسيدل مجموع کاروان، لکن ډيرو صحرايانو مسلمانانو دا دعوت نامه صرف نظر کړه د مکې د قريشو د بيري، او دا يې ظن ؤ چې عليه الصلوة والسلام او مؤمنان به هرګز مدينې ته رانه سي، نو چون عليه الصلوة والسلام سره د ملګرو سالم فاتح فتحًا مبينًا راستانه سوه، نو دوی د عذر لپاره ورته راغله كما قال الله تعالى:

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا

ژر دى چي وبه وايي وتاته هغه كسان چي ځانونه يې د بېري له لاسه پاته كړي وه (ابن عباس رض او مجاهد رح وايي چي دا اعراب د بني غفار او د مزينة او جهنية او النخ او د اسلم د قومو وه) موږ مشغول كړي ؤ ستا له مرافقت څخه زموږ مالو يعني مېږي، بزې، اوښان او زموږ عيالو، يعني د هغو د ساتني لپاره چي بل څوك مو نه درلودى چي زموږ په ځاى كي قائمقام ددوى واى.

"فاستغفرلنا" موږ ته بخښنه د تخلف وكړه.

پوهه: چي په "سيقول" كي سين د استقبال معجزه د عليه الصلوة والسلام ده چي دمخه تر ويلو ددوى خداى پاک دى مبارک خبر كړى، په وروسته آيت سره خداى پاک ددوى د عذر مذكور تكذيب او رد وكړى بقوله.

يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ

دوى وايي په ژبو هغه شى چي ددوى په زړو كي نسته، يعني الاعتذار والاستغفار يعني صرف په خوله وايي چي فاستغفر لنا ولي په زړو كي پر دوى استغفار او عدم استغفار فرق نه لري.

قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا

الاستفهام للانكار اى لا احد يمنعكم من مشية الله تعالى او قضائه فيكم "ضرًا" لكه قتل يا شكست په جنګ كي يا هلاک د مواشيو يا مرګ د عيال او يا عذاب په اخرت كي پر تخلف "او اراد بكم نفعًا" اى اضداد ما قلنا في الضر.

بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١١﴾

اى خبيرًا بعملكم فكلمة ما مصدرية او يا كلمه ما موصولة والعائد محذوف اى بما تعملونه، وفي هذه الآية اشارة الى ان الامر ليس كما قلتم في الاعتذار بلكې خداى ج خبر دى چي قصد ستاسي په تخلف كي اظهار د موافقت د اهل مكه سره يا د هغو بېره چي ستاسي په ظن كي هغه غښتلي دي.

بَلْ ظَنَنْتُمْ أَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ إِلٰٓى أَهْلِيْهِمْ أَبَدًا

بلکې ستاسي د تخلف هغه سبب نه دی چي تاسي په عذر کي وو ایه، اصلي سبب د تخلف ستاسي دادی چي ستاسي ګمان غالب ؤ چي نه سي راتلای رسول اللهﷺ او دده سره مؤمنان مدینې ته تر ابده پوري یعني اهل مکه به يې استيصال وکړي یعني یکلخته به يې مړه کړي.

پوه سه: چي دا اضراب ثاني دی معطوف پر اول اضراب باندي دی.

وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۖۚ وَكُنْتُمْ قَوْمًا بُوْرًا ﴿١٢﴾

او ښائسته کړه سوې وه دا خبره (ای عدم انقلاب الرسول والمؤمنون ابدًا) والمزين هو الشيطان الرجيم.

پوه سه: چي ظن السوء من اضافة الموصوف الی الصفة ای الظن السوء والتوصيف مبني على المبالغة لان السوء مصدر.

درویش وايي: چي مخلفون به ويل چي رسول اللهﷺ او مؤمنان اكلة رأس (يوه ګوله ده سره د قريشو) وغير ذالک مما يظنون بالله ورسوله من الامور بالباطلة "وكنتم قومًا بورًا" او تاسي واست قوم هلاک شده في علم الله لفساد عقيدتكم وسوء ظنكم بالله ورسوله.

وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿١٣﴾

(فيه تعريض الى انهم غير مؤمنين بالله ورسوله، ولي چي ايمان منافي دی د دغسي كارونو سره والتخلف عن الرسولﷺ) والمعنى ثوک چي ايمان نه لري پر خدای او رسول د خدای، نو موږ مهيا كړی دی كافرانو ته سوځونکی اور، يعني دوږخ په اخرت کي.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

خاص خدای لره بادشاهي ده د اسمانو او ځمکي بخښنه کوي بالتوبة وبلا توبة و هغه چا ته چي مشيت او اراده يې ورته وسي او عذاب ورکوي و هغه چا ته چي اراده يې ورته وسي لكن بسبب عدم المعصية اصلاً لانه وان كان ممكنًا نظرًا الى انه تصرف في ملكه لكنه خلاف الحكمة، ددې آيت حاصل دادی چي پر خدای شی واجب نه دی.

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١٤﴾

او دی خدای بخښونکی او مهربان، مفسرین حضرات په یوه خوله ددې آیت په تفسیر کي وایي مغفرت او رحمت د خدای پاک د صفات ذاتیه ؤ څخه دی او تعذیب داخل په قضاء کي بالعرض دی.

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

ډېر ژر به دوی واوېي (معجزه او اخبار بالغیب دی قبل الوقوع) وروسته پاته خلګ (المخلفون اللام للعهد الخارجي ای المذکورون) چي تاسي ځئ و غنیمتو ته (یعني په زعم کي د دوی) چي تاسي یې جمع کړئ. موږ پرېږدئ چي ستاسي ملګري سو په جهاد کي (یعني چي موږ ته غنائم په لاس راسي)

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ

بدل اشتمال دی د سیقولون څخه، دوی اراده لري چي بدل کي کلام د خدای (مع انه لامبدل لکلماته)

درویش وایي: چي ظاهره خبره داده چي ددې آیت معنی دا ده سیقول المخلفون الذین تخلفوا من الجهاد في غزوة الحدیبیة په هغه وخت چي دوی په مسلمانانو کي ظن د ضعف کاوه وقلة عدد چي دوی په مسلمانانو کي قوت د جهاد ولیدی حتی چي اهل مکه یې و صلح ته مجبوره کړه کمامر تفصیله، بیا چي علیه الصلوة والسلام د خیبر د غزاء عزم وکړی او مسلمانانو خپل تیاری نیول د جنګ لپاره، نو د مخلفون په زعم کي دا وه چي مسلمانان خیبر فتح کړی او ډېر غنائم یې جمع کړی زرونا نتبعکم او د خروج په دې غزاء کي اراده وکړه، نو خدای پاک علیه الصلوة والسلام امر کړی: قل لن تخرجوا معي ابدًا ولن تقاتلوا معي عدوًا انکم رضیتم بالقعود اول مرة، کذا قال ابن زید و قتاده، او مظهري وایي چي مخلفونو چي ولیدی په مؤمنانو کي سخت رغبت و جهاد ته او دوی واورېدی بیعة الرضوان کمامر او خدای بری ورکړی و مؤمنانو ته في قریب مکة یعني الحدیبیة کمامر حتی رضی المشرکون بالصلح او بیغمه سوه مؤمنان د اهل مکه له جنګ څخه لس کاله کمامر، و فرغوا الی الجهاد مع عامة العرب، نو دوی یعني

المخلفون پښېمانه سوه پر تخلف نو چي عزم يې وکړی د جهاد د اهل خيبر دوی ورته راغله او وه يې ويل: ذرونا نتبعکم آه، مع ان اهل خيبر کانوا اشد بأسًا من اهل مکة، ولي چي خيبر لس زره مقاتل وه او په مکه کي دومره تعداد مقاتل نه وه ماسوی د ښځو او صبيانو څخه.

سوال: چي دا سي وه د نو د څه حکمت لپاره رسول الله ﷺ مؤمنان پر اهل مکه په جهاد سره نه کړه امر او پر خيبريې په جهاد سره امر کړه؟

ځواب: ترحمًا بقريش لانهم مجاورين بيت الله الحرام کما حبس عنهم الفيل، قال الله تعالى: الم تر کيف فعل ربک باصحاب الفيل الى اخير السورة کما سيئاتي تفصيله ان شاء الله تعالى في تفسير تلک السورة، او بله وجه يې داده چي خدای ﷻ ته په خپل علم قديم ور معلومه وه چي اکثر اهل مکه به ايمان راوړي ويخرج اصلابهم نسمات مؤمنات (ای انفس) او بله وجه يې داده چي په هغه وخت کي په مکه کي رجال مؤمنان او ښځي مؤمنات وې چي مجاهدينو د مکې په کال کي د حديبيې هغه نه پېژندل چي هغه به هم په جنګ کي وژل سوي وای، نو دوی ته به لوی پېغور وای بخلاف اهل خيبر.

قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ

ته ورته ووايه و مخلفينو ته چي هرګز تاسي په جنګ کي د خيبر زموږ سره نسئ ملګري کېدای "کذالک" ای قولاً مثل ما قلت لکم "قال الله من قبل" يعني غنائم د خيبر خاص دي په اهل حديبيه پوري لانصيب لغيرهم فيها، لکن په وحي غير متلو في القرآن، وهذا هو المراد بقوله تعالى يريدون ان يبدلوا کلام الله، يا ددې او سني آيت څخه مراد دادی انهم لم يخرجوا معک ابدًا ولا تصاحبهم في غزوة ابدًا (لا بخصوص غزوة خيبر)

تاريخ الخروج الى غزوة خيبر: عليه الصلوة والسلام له حديبيې څخه راستون سو يه ذی الحجة کي سنه شپږ د هجرت کي، واقام بالمدينة بقية ذی الحجة او څو ورځي اول د محرم من سنه (۷) هجري ثم غزا خيبر بمن شهد الحديبية فقط ففتحها و غنم اموالاً کثيرة.

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵﴾

ژر دی چي وه به وايي (ای مخلفون، عطف علی سيقولون) کلمه د بل لپاره د عطف ده معطوف عليه يې محذوف دی (لم يقل الله ذالک) بل تحسدوننا) يعني تاسي زموږ سره حسد کوئ چي په غنائمو مو نه شريکوئ "بل کانوا لا يفقهون" عطف دی علی سيقولون او بل لپاره د اضراب دی قولهم بل تحسدوننا يعني الامر ليس کما يقول المخلفون بلکې دوی نه پوهېږي چي پر موږ کوم ضرر دی د خدای له خوا او کوم شی موږ لره نفع دی د خدای له خوا "الا قليلاً" ای نفعًا قليلاً في الدنيا وهو احراز الغنائم، وقال البغوي الا قليلاً منهم وهو المؤمنين يعني من صدق الله ورسوله.

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ

پوښتنه: خدای د مخلفينو نوم مکرر راوړی حکمت يې څه دی؟

ځواب: حکمت مبالغه په ذم کي د دوی اشعارًا بشفاعت التخلف عن رسول الله ﷺ والمؤمنون.

ترجمه: ته ووايه يا محمد و مخلفينو ته د احزابو ژر به تاسي وبلل سئ و يو داسي قوم ته (ای الی الجهاد) د داسي قوم چي خاوندان د جنګ شديد وي، قال کعب هم الروم في غزوة تبوک انتهی، ورده المظهري په دې سره چي د ده قول مخالف دی د هغه وروسته آيت (تقاتلونهم او يسلمون) ولي د تبوک د غزاء مال و جنګ ته نه دی رسېدلی، ولي عليه الصلوة والسلام په تقريبًا دېرش زره قوم سره او فوج تبوک ته ورغلی چي هورې مرکز د روميانو نژدې ؤ لکن هرقل چي د روميانو بادشاه ؤ هيڅ حرکت و مقابلې او جنګ ته د مسلمانانو يې ونه کړی او جنګ ته حاضر نه سو، حتی چي عليه الصلوة والسلام تر لسو ورځو بالا هورې ورته تېري کړې، نو عليه الصلوة والسلام بېله قتاله و مدينې منورې ته راستون سو، او سعيد بن جبير او قتاده وايي چي دا قوم هوازن او ثقيف او غطفان دي، مظهري دا قول هم رد کړی دی، ولي چي رسول الله ﷺ مخلفون اعراب و قتال ته د دغو اقوامو په ورځ نه دي دعوت کړي، او بله خبره داده چي مذکوره اقوام اولی بأس شديد هم نه وه نسبت وعساکرو ته د اسلام بلکې ډېر لږ و تر مقاتلين د اسلام.

درويش وايي: چي که څوک تفسير روح المعاني او روح البيان مطالعه کړي په باره کي د قوم اولى بأس شديد به عجيبه اختلافات ويني، لکن حق داده لکه الزهري، مقاتل او جماعة چي ويلي دي چي مراد له دغه قوم څخه چي د اولى بأس شديد په نامه خداى پاک ياد کړه بنو حنيفة اهل اليمامة اصحاب د مسيلمة الکذاب وهو مذهب المفسرين ورجحه البيضاوي.

تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ

يا به يې تاسي قتل کوئ يا به ايمان راوړئ بل حکم يې نسته.

فائده: د مشرکانو څخه د عربو او د مرتدينو څخه لکه اصحاب د مسيلمة الکذاب بنو حنيفة اهل اليمامة لايقبل منهم الا الاسلام او السيف او قتال د غيرهم ينتهى بالجزية کالروم، رافع بن خديج وايي چي موږ به دغه آيت اولي بأس شديد الى قوله تقاتلونهم آه په دې پوهېدلو چي دا کوم قوم دى، حتى ابوبکر الصديق مسلمانان امر کړه په قتال د بني حنيفه چي پر مسيلمة الکذاب باندي يې ايمان راوړى ؤ فعلمنا انهم هم، او دا آيت دليل پر امامت د ابى بکر الصديق فانه دعى الناس الى قتال بنو حنيفه اهل اليمامة چي پر مسيلمة الکذاب يې ايمان راوړى ؤ.

تاريخ اسلامي خبري کوي: چي مسيلمة الکذاب د عليه الصلوة والسلام په ژوند کي دعوه د نبوت کړې وه او يو وخت يې د دوو کسانو په لاس يو مکتوب ورکړى ؤ چي په اول کي د مکتوب يې داسي ليکلي وه، من عبد الله ورسوله مسيلمة الى عبد الله ورسوله محمد اما بعد: ته هم رسول د خداى يې او زه هم رسول د خداى يم نو يوه د دوو خبرو څخه چي ستا خوښه وي ماته يې نشان دهي کړه (۱) اهل المدن والقرى دي ستا وي او باديه نشينان او پونده انسانان دي زما وي (۲) ته به رسمي وصيت کوې چي زما تر مرګ وروسته به مسيلمة ستاسي نبي وي، قاصدانو چي مکتوب راوړى، اول خو عليه الصلوة والسلام داسي وويل: چي که د قاصدانو قتل ماته روا واى ما به ستاسي سرونه په توره درغوڅ کړي واى، بيا علي وويل چي جواب داسي ورته نوشته کړه من محمد عبد الله ورسوله الى مسيلمة الکذاب د عليه الصلوة والسلام په لاس کي يو لرګى ؤ چي که ته يا مسيلمة الکذاب له ما څخه دغه لرګى پر قبول د رسالت خپل زه به يې درنه کړم خير

په ژوند کي د علیه الصلوة والسلام خو د مسلیمة سره جنګ نه وکړل سو، ابوبکر الصدیق رض چي خلافت او امامت د امت مسلمة پر غاړه واخستی اول يې ډېر دروند فوج مسیلمة الكذاب او بنو حنیفة د اهل یمامه ورواستاوه د مسیلمة کذاب د قلا پر شا خوا باندي دروند فوج د مسیلمة الکذاب پروت ؤ په ډېره سختي او تير اندازي سره د جنګ اوربل سو، تاریخ وايي چي په فوج د مسلمانانو وحشي چي قاتل د حمزه بن عبد المطلب ؤ په جنګ کي د احد كما في البخاري وغيره من كتب الاحاديث هم شامل ؤ، او وحشي چي بيا ايمان راوړی ؤ په ويشتلو کي د حربة ډېر ماهر ؤ وحشي قلا ته د مسیلمة الكذاب د ډېر جنګ كاوه چي ناګاه مسيلمة الكذاب د قلا په یو نخره کي د جنګ د معلومات لپاره ښکاره سو وحشي چي نژدې ولاړ ؤ حربة يې ورته سمه مسیلمة الكذاب يې په ځګر په وويشتی لاندي تر قلا يې راشوه کړی، په اصحابو کي د مسیلمة ناري سوې الا ان امیر المؤمنين مسيلمة قد قتله عبد حبشي دده د مرګ سره سم دده لښکر شکست وکړی او د ابوبکر الصديق رض فوجيانو ددوی په وينو خپلي توري ورنګولې، وحشي رض به ويل چي كه خدای پاک په ورځ د محشر د حمزه رض د وژلو زما څخه بازخواست وکړی زه به يې قتل اعدی عدوا الله مسيلمة الكذاب په وژلو جواب ورکړم.

پوښتنه: چي په آیت سابقه کي خدای ﷻ داسي وويل و مخلفون ستدعون الى قوم اولى بأس شديد، نو که مراد له قوم شديد څخه د مسيلمة الكذاب اتباع وي نو دا جنګ په ژوند کي د علیه الصلوة والسلام نه دی واقع سوی بلکي په خلافت کي د ابوبكر الصديق رض واقع سو كما مر عنقريب تفصيله؟

ځواب: خدای پاک خو ستدعون پر صيغه د مضارع مجهول راوړه، نو خو دغه جنګ ته د ابوبکر رض ته هم شامله ده والله اعلم.

تاريخ اسلامي وايي: چي د علیه الصلوة والسلام په ژوند کي يو بل سړی په نامه د اسود العنسي هم دعوه د نبوت کړې وه چي علیه الصلوة والسلام فیروز الديلمي رض جنګ ته واستولی ؤ هغه وخت چي علیه الصلوة والسلام په مرض الموت سره ناجوړی ؤ زيری ورته راغلی چي اسود العنسي د فيروز الديلمي رض له خوا ووژل سو، او اتباع يې تيت وپرک سول، علیه الصلوة والسلام په نعم العبد فيروز رض ياد کړی.

فَإِن تُطِيعُوا يُؤْتِكُمُ اللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا ۖ

كه تاسي اطاعت د هغه داعي وكړئ، تاسي ته به دركړي خداى اجر حسن.

وَإِن تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦﴾

او كه تاسي روى ګرداني وكړئ په غزاء كي د قوم اولى بأس شديد لكه تاسي چي روى ګرداني وكړه په كال كي د حديبيه "يعذبكم عذابًا اليمًا" چي مضاعف د جرم ستاسي وي، ولي چي تاسي دوه واره تولى وكړه، البغوي ؒ وايي چي هغه وخت چي د مخه آيتونه نازل سوه نو ګوډ يا شل مسلمانان و عليه الصلوة والسلام ته راغله، وه يې ويل كيف بنا يا رسول الله ﷺ (چي زموږ حال به څه وي) موږ په يوه غزاء كي نه يو شامل سوي فانزل الله هذه الآية.

لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ ۗ

نسته پر ړانده تنګي او عذاب په ترک كي د جهاد في سبيل الله، او نسته پر ګوډ باندي تنګي په ترک د جهاد كه په يوه پښه ګوډ وي او كه په دواړو پښو ګوډ وي، او نه پر مريض باندي تنګي او عذاب په ترک د جهاد (چي داسي مرضي يې وي چي سره د هغه مرض طاقت د جهاد نه لري، لا مطلق المرض لان الانسان لايخلو عن مرض مطلق.

وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ

او كه څوک اطاعت فرمان برداري وكړي د خداى او د رسول د خداى (يعني في جميع ماجاء به رسوله من عند الله) خداى پاک به هغه داخل كړي و جنتو ته چي بهيږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو ويالې څلور صافي او به صافي شيدې صاف عسل او صاف شراب لاغول فيها ولاهم عنها ينزفون.

وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٧﴾

او څوک چي اعراض وكړي له طاعت څخه د خداى ؒ ؤ د رسول مع القدرة عليه من جهاد وغيره، خداى ؒ به عذاب وركړي و هغه ته عذاب درد وركونكى، نو فعيل په معنى د مفعل دى كما في قول الشاعر:

امن ريحانة الداعي السميع يورقني واصحابي هجوع
(السميع بمعنى مسمع) ولهذا البيت قصة طويلة.

لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

كلمه د لام جواب د قسم محذوف ده، په تحقيق خداىٴ راضي دى له مؤمنانو څخه چي بيعت يې وكړى ستا سره لاندي تر درختي يعني په حديبيه كي چي دې بيعت ته بيعت الرضوان وايي. په بعض رواياتو كي راغلي دي چي اول بيعت چي يې د رسول اللهﷺ سره وكړى سنان بن ابى سنان ؤ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته پر څه شي زما سره بيعت كوې؟ سنان ورته وويل على ما قلبک چي ستا په زړه كي دي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي زما په زړه كي څه دي؟ سنان ورته وويل چي ستا په زړه كي دادي چي زه به ستا تر مخه توره چلوم او كفار به وژنم حتى چي فتح راځي يا د سنان مرګ او قتل مابين ته راځي، وروسته نورو مؤمنانو چي بيعت كاوه هغو به ويل چي موږ هم د سنان بن سنانؓ پر بيعت بيعت درسره كوو.

سوال: سنانؓ په غيبو څه خبر ؤ چي د عليه الصلوة والسلام په مبارک زړه كي دا خبره ده؟

ځواب: سنانؓ له قرائنو څخه د حال د بيعت اخستلو د عليه الصلوة والسلام دا ورته معلومه سوه چي فرار به نه كوي، والغرض من هذه الآية مدح د مؤمنانو ده والثناء عليهم، په بخاري او مسلم دواړو كي چي حديث وي نو داسي حديث ته په اصطلاح د محدثينو متفق عليه حديث وايي عن جابر بن عبد اللهؓ كنا بالحديبية (۱۴۰۰) كسه ؤ فقال لنا رسول اللهﷺ انتم خير اهل الارض، وروى مسلم عن ام بشرؓ مرفوعًا (يعني الى عليه الصلوة والسلام) لايدخل النار من بايع تحت الشجرة.

فَعَلِمَ مَا فِىْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾

خداىٴ خبر دى په هغه څه چي ددوى په زړو كي دي (من الصدق والوفاء بالبيعة) خداى پاک نازل كړى ارام د زړو پر دوى (يعني په زړو كي يې هيڅ اضطراب نه ؤ بالخصوص عند ذكر الله تعالى والرضاء بامر الله فوق الرضاء بما تشتيهه انفسهم) دوى ته ورسول سوه فتح نژدې، چي مراد ځني فتح د خيبر ده.

پوه سه: چي حافظ محمد بن يوسف صالحي ؒ وايي چي خيبر نوم د يو ولايت دی چي په هغه ولايت کي محکمي قلاوي وجود لري او د کښتو ځمکي درلودی او د خورماؤ باغونه يې درلودې د درو (۳) ورځو منزل دی له حديبيې څخه.

پوه سه: چي بعض راويان وايي وروسته تر رجوع د حديبيې څخه عليه الصلوة والسلام لس (۱۰) ورځي په مدينې کي تېري کړې، او بعض روات وايي چي پنځلس (۱۵) ورځي يې تېري کړې او لپاره د فتح خيبر د محرم په مياشت کي راهي سو او فتح د خيبر د صفر الخير په مياشت کي په (۷) سنه کي د هجرت وسوه كذا في المغازي للواقدي حافظ ابن حجر ؒ وايي انه القول الراجح كما نقل الحاكم عن الواقدي.

وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّأْخُذُوْنَهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾

او غنيمتونه ډېر به اصحاب كرام ؓ تر لاسه کړي، او دی خدای عزوجل غالب پر ما اراده يعني څوک يې مانع نسي کېدای او په هر کار کي حکمت لري يعني مامر في قصة الحديبية من بيعة الرضوان والصلح مع قريش پر لس كاله جنګ بندي باندي (بخاري له عائشې ؓ څخه روايت کړی دی چي څه وخت چي خيبر فتح سو، نو موږ به ويل چي اوس به نو موږ ماړه سو په خورماؤ سره، او ابن عمر ؓ وايي ما شبعنا من التمر حتى فتحت خيبر.)

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَأْخُذُوْنَهَا

وعده کړې ده خدای ؑ د ډېرو غنيمتو من الكفار خصوصًا اليهود، چي ستاسي په لاس به درځي، والمراد بهذه الفتوح چي مسلمانانو ته حاصلېږي تر ورځي د قيامت پوري په دې کي تسلي ده مسلمانانو لره.

فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ

نو ژر درکړه سوه تاسي ته دغه فتح د خيبر. او خدای پاک بند کړه لاسونه د دښمنانو ستاسي څخه، البغوي ؒ وايي چي نبي ﷺ خيبر محاصره کړی، نو قبيلو د بني اسد او د غطفان قصد وکړی چي غارت پر اموالو او اولادو د مسلمانانو وکړي په مدينه کي، ابن اسحاق ؒ وايي چي د غطفان قبيلې کومک د يهودانو سره کاوه يعني په خيبر کي لپاره د غلبې پر رسول الله ﷺ او پر مؤمنانو چي د ده سره ملګري وه، دوی

چي ور راهي سوه دوی ته دا خوف په زړو کي ورپيدا سو چي مؤمنان به زموږ پر عيالو مخ راواړوي او هغه به قتل کړي دوی بيرته ترشا راغله پر خپلو مالو او عيالو يې پهره کول او عليه الصلوة والسلام او اهل خيبر يې سره پرېښول.

سوال: فتح خو لفظ مذکر دی نو تانيث د هذه يې پر څه بناء دی؟

ځواب: پر دې بناء دی د فتح خيبر څخه مراد غنائم د خيبر دي.

درويش وايي: چي مراد دی د هغه مفسر چي د دې آيت تفسير يې داسي کړی دی بالقاء الرعب في قلوبهم يعني په زړو کي د بني اسد او غطفان، او ابو نعيم وايي چي غطفان د اسمان له خوا داسي اواز واورېدی عليکم من خلفتم (پر تاسي دی حفاظت د هغو مالو او عيالو چي تاسي ترشا پرې ايښي دي) فرجعوا الى اهليهم.

وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾

او چي سي دا کفة الناس عنکم او يا غنيمت د خيبر دليل پر صدق ستا يا محمد ﷺ فيما وعدتهم (اى اهل الحديبية سره پر حاصلولو د غنيمتو) او تاسي ته هدايت وکړي د مستقيمي لاري، چي مراد ځني اعتماد دی پر خدای ﷻ والتوکل عليه تعالى، يا معنى داده چي تاسي ته ثواب درکړي پر اسلام باندي ويزيدکم بصيرة ويقينًا.

قصة غزوة خيبر: عليه الصلوة والسلام چي د خيبر و غزاء ته نيت وکړی، نو پر مدينه منوره يې سباع بن عرفطة رضي الله عنه خليفه وګرځاوه، کما رواه احمد وابن خزيمة والحاکم عن ابى هريرة رضي الله عنه، نو چي عليه الصلوة والسلام او مؤمنان په تياري د غزاء بخت سول پر يهودانو د مديني دا تياری د غزاء ډېر سخت پرېوتی ولي اهل خيبر خو هم يهودان وه، نو د دې يهودانو چي به د مديني پر يو مسلمان پور باندي ؤ هغه به يې ټينګ کړی چي زما پور به راکوې، احمد او الطبراني حکايت کوي د ابى حدرد رضي الله عنه چي د ابى الشحم اليهودي پر ده پنځه درهمه پور باندي ؤ هغه يهودي ابى حدرد رض ټينګ کړی چي چابک به زما پور راکوې، ابى حدرد رض ورته وويل چي ته يو ځو ورځي ماته وګوره چي له غزاء څخه د خيبر راغلم پوره به دي درکړم، ولي خدای پاک وعده کړې ده د نبي سره خپل د فتح د خيبر يعني په فتح کي د خيبر به ماته څه

غنیمت په لاس راسي ستا پور به درکړم، ابو شحم ورته وویل چي تاسي ګمان کوئ
پر جنګ د خیبر د جنګ د اعرابو؟ زما دي قسم وي په خدای سره چي په خیبر کي
لس زره مسلح فوجیان سته، نو دا خبره تر علیه الصلوة والسلام پوري ورسېده علیه
الصلوة والسلام ابی حدرد رضه ته وویل چي د ابو شحم پور ورکړه، ابو حدرد رضه وایي
چي ما خپل یو جوت کالي خرڅ کړه او د ابو شحم پور مي ورکړی.

فائده: دا یهودان په مدینه کي د اهل ذمه په توګه اوسېدل لکه هندوان په
افغانستان کي چي اوسېدل فافهم، راوي د قصې وایي چي هغه وخت چي رسول
الله ﷺ ورسېدی صهباء ته چي و خیبر ته نژدې د یو ځای نوم دی د خوراک شی یې
راوغوښتی، فلم یؤت الا بالسویق.

دروېش وایي: چي د عربو په عصر قدیم کي دا عادت ؤ چي په لوی سفر به تله
نو بې غنم راواخسته پر تبخي به یې نینې کړه وروسته به یې وړه کړه هر ځای چي به
ورېي سوه هغه وړه به یې په اوبو لانده کړه خوړل به یې دې ته دوی سویق وایي.

پوښتنه: ددې کار چي دوی کاوه څه فائده یې وه؟

ځواب: فائده یې دا وه چي په سفر کي هر ځای بوتي پیدا کول بیا ډوډۍ پخول
په سفر کي لوی تکلیف ؤ.

پوښتنه: د نینې کولو یې څه فائده وه وړه به یې ورسره اخستلای چي وږي
سوي وای او به به یې وراچولای خورک به یې ځني کولای؟

ځواب: د اومو وړو خورک خو خوند هم نه کوي او بل سړی ناجوړی کوي کما
یدل علیه التجربة، نو چي نینې به یې کړه پاخه به سوه، نو خوړل یې هم خوند کوي
او هم سړی نه ناجوړی کوي.

اوس بیرته د حدیث پر لور: نو هغه سویق یې لانده کړه او ویې خوړل، ثم قام
الی المغرب، نو په خوله یې اوبه ولغړولې ثم صلی ولم یتوضأ رواه البخاري
والبیهقي، بیا علیه الصلوة والسلام یو کړی دلته بیده سو یو کړی د شپې، راوي
وایي چي خیبر د یهودانو دا خیال نه ؤ چي رسول الله ﷺ دي زموږ غزاء ته راسي،
دوی په خپلو محکمو قلاوو او په خپلو اسلحه وو او په خپل لوی عدد چي لس زره
(١٠٠٠٠) مقاتل وه غره وه، نو وروسته چي دوی واورېدل چي محمد (ﷺ) زموږ د

غزاء لپاره را روان دی، نو دوی به هره شپه لس زره مقاتل راوتله او دا به يې ويله محمد تغيرونا (پر موږ حمله کوي) هيهات هيهات وکان ذالک شانهم کل ليلة، نو هغه شپه چي عليه الصلوة والسلام ددوی ساحې ته ورسېدی په هغه شپه هيڅ څوک نه ووتل (يعني خوبو غلبه پر وکړه) او نه يې چرګانو اذانونه کول حتی چي لمر راوختی دوی چي راويښ سول زړونه يې رېږدېدل قلاوي يې خلاصي کړې.

په بخاري او مسلم کي داسي راغلي دي چي د عليه الصلوة والسلام دا عادت مبارک ؤ چي د شپې به و قوم ته د غزاء لپاره ورسېدی نو د شپې يې حمله نه پر کول تر سهاره يې انتظار کاوه، نو که به يې اذان واورېدی نو حمله يې نه پر کول ولي چي دلته مسلمانان هم سته چي هغه په جنګ کي ژوبل نه سي، واذا لم يسمع اذانًا اغار، راوي وايي چي عليه الصلوة والسلام او موږ د سهار لمونځ په غلس کي وکړی (يعني په اول وخت کي چي هنوز لا تاريکه وه) او اذان مو هم نه واورېدی فرکب رسول اللهﷺ ورکبنا ای المسلمون، او د خيبر خلګ په هيڅ نه وه خبر خپلو باغو ته روان وه تهو کری او يومان ورسره وه، فلما روا رسول اللهﷺ قالوا محمد والخميس، محمد (ﷺ) راغلی او لښکر هم ورسره دی په څغاسته په قلا ننوتل او دروازې يې بندي کړې، فقال رسول اللهﷺ ورفع يديه الله اکبر خربت خيبر (خراب سو خيبر يعني فتح به سي)

فائده: په آلاتو د خراب چي يومان او بېلچې وې تبرک يې وکړی "انا اذا انزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين"

پوښتنه: لښکر ته ولي عرب خميس وايي؟

ځواب: د قديم عربو دا رواج ؤ چي لوی لښکر وای د جنګ عظيم لپاره نو هغه به يې پنځه برخي کاوه، يوې ټولګی ته يې مقدمة الجيش وايه چي تر ټول لښکر د مخه به روانه وه چي د لښکر د مخ مځکه به يې څېړل يعني معلومات به يې کاوه، او بله ټولی به د لاري او د لښکر پر راسته طرف روانه وه چي ميمنة الجيش يې بلل لمثل الغرض المذکور في مقدمة الجيش، او بله ټولګی به يې ساقة الجيش بلل لمثل الغرض المذکور، او بله ټولګی به يې ميسرة الجيش بلل لمثل مامر، او لويه ټولګی چي امير الجيش به هم په هغو کي ؤ قلب الجيش يې بلل يعني د لښکر زړه.

روی الطبراني عن جابر بن عبد اللهؓ ان رسول اللهﷺ قال يومئذ لا تتمنوا لقاء

العدو (د دښمن يعني الكفار د ملاقات يعني د جنګ تمنا مه کوئ) واسئلوا الله العافية (د خدای ﷻ څخه سوال د عافيت کوئ) او داسي وايي: اللهم ربنا وربهم نواصينا ونواصيهم بيدک (کنايت د قدرت څخه پر موږ او دوی يعني کفار چي وژني يې ته يې وژني يعني زموږ په لاسو ثم الزموا الارض بيا نو ځکه ټينګه ونسئ يعني تيښتئ مه) جلوسًا په ناستي فاذا غشوکم يعني چي دوی در رانژدې سي نو جنګ ته وروړاندې سئ او الله اکبر ووايئ، او بيا بيرغونه عليه الصلوة والسلام تقسيم کړه او اجازه د قتال يې ورکړه او مؤمنان يې باعثه کړه پر صبر، وقاتل رسول الله ﷺ والمؤمنون اهل نطات اشد القتال وقاتل اهل النطات ايضًا اشد القتال حتى فتح الله عليه الحصن، راوي وايي چي عليه الصلوة والسلام اووه ورځي د حصون او قلاؤ د اهل نطات په جنګ اخته ؤ او هره ورځ به يې بيرغ د اسلام چي لآ اله الا الله محمد رسول الله پر نوشته وه يو صحابي ؓ ته يې په لاس ورکړی فلم يرجع من اعطى له الراية بفتح، وروسته عليه الصلوة والسلام وويل چي زه سبا بيرغ و هغه چا ته ورکوم چي يحب الله ورسوله ويحبانه او خدای و رسول د هغه محبت لري يفتح على يديه، دده وينا څخه د عليه الصلوة والسلام اميد ابوبکر، عمر او بعض نورو صحابه ؤ ﷺ ته د قريشو پيدا سو، يعني هر يوه دا اميد کاوه چي شايد ماته به يې راکړي او زه به فتح وکړم، نو عليه الصلوة والسلام علي ؓ را طلب کړی او د علي ؓ تر سترګو اوښکي تويدلې يعني پر سترګو يې سخت درد ؤ علي ؓ چي راغلی عليه الصلوة والسلام پر سترګو دم ورو کړی، نو د علي ؓ سترګي د خدای په قدرت دستي جوړي سوې لکه د سره چي نه وه پر درد، نو سپين بيرغ د اسلام يې ورکړی، علي ؓ و عليه الصلوة والسلام ته وويل: على ما اقاتلهم، پر څرنګه زه جنګ ورسره وکړم؟ قال عليه الصلوة والسلام على ان يشهدوا ان لا اله الا الله واني رسول الله، نو که دوی دا دوې خبري ومنلې، نو دوی محفوظي کړې خپلي ويني يعني مؤمنان دوی نسي وژلای، او دوی وساتل خپل مالونه يعني مسلمانان يې په مالو هم کار نه لري، او عليه الصلوة والسلام خپله زغره د او سپني په علي ؓ واغوستل او خپله توره چي ذو الفقار يې بلل تر ملا ور غوټه کړه، او عليه الصلوة والسلام دا هم ورته وويل چي ستا په سبب به يو سړي ته خدای ﷻ

هدايت ورکړي يعني ايمان به راوړي، نو خير ده تا لره من حمر النعم (تر سرو اوښانو) چي ته يې في سبيل الله خيرات کړې يعني غزاتو او مجاهدينو ته يې ورکړې، فخرج علي رضي الله عنه سره د بيرغه د خوشحالۍ څخه يې اوږې ښورولې او بيرغ جګ کړی لاندي تر قلا د الحارث چي وروړ د مرجب ؤ، تاريخ وايي چي دا يې الحارث په شجاعت سره مشهور ؤ، نو علي رضي الله عنه او حارث يو پر بل د تورو وارونه وکړل، علي رضي الله عنه الحارث قتل کړی نو ريهودان له بيري په قلا ننوتل ثم خرج اليه (اى الى علي رض) مرجب چي د يهودانو سردار ؤ پر علي رضي الله عنه يې سخت ګذار د توري وکړی چي د علي رضي الله عنه د لاسه يې سفر وغورځاوه، نو علي رض على الفور يوه د قلا زړه دروازه پرته وه هغه يې راپورته کړه او د سپر کاريې ځني اخستی او دغه لويه دروازه تر هغو پوري د علي رضي الله عنه په لاس کي وه او د مرجب و توري ته به يې سپر کوله حتى چي مرجب يې هم قتل کړی ففتح الله على علي رضي الله عنه دا قلا د خيبريانو او دا قلا په نامه د ناعم يادېدل له قلاؤ څخه د النطاة او هغه دروازه علي رض تر شا وغورځول اتيا (٨٠) لوېشتي، وذالک بالقوة القدسية وهذا دليل على شجاعة علي رض حيث قتل شجاع بعد شجاع يعني الحارث و اخوه مرجب، ولنعم ما قيل:

گرچه شاطر بود خروس به جنگ — چه زند پيش باز روئين چنگ
گربه شير است در گرفتن موش — ليک موش است درمصاف پلنگ

درويش وايي: چي نقل او بيان او تفصيل د ټولو قلاؤ د خيبر ډېر اوږد دی چي تفصيل به تطويل د دې تفسير مفضي سي نو ځکه زه عذر غواړم له بيان څخه د فتح د ټولو قلاؤ.

قصة فتح فدک: راويان وايي چي د اهل فدک يهودانو چي واورېدل بما صنع رسول الله صلى الله عليه وسلم باهل خيبر، نو سړی يې و عليه الصلوة والسلام ته ورواستاوه چي زموږ سره صلح وکړه يعني موږ پرېږده په فدک کي محفوظ او اموال زموږ به ستا وي عليه الصلوة والسلام هم داغسي وکړه لکن شرط يې دا کړه انا اذا شئنا اخرجناکم فصالحه اهل فدک على ذالک، نو غنائم د خيبر پر غازيانو مجاهدينو مسلمانانو ووېشل سول او اموال د فدک خالصةً د رسول الله صلى الله عليه وسلم سول، ولي فدک په صلح ونيول سو، مجاهدينو جنګ نه ؤ پر کړی.

قصة قدوم جعفر بن ابی طالب اخو علي بن ابی طالب رضی الله عنهما د ابو موسی الاشعري رض روایت دی چي له مکې څخه موږ هجرت و یمن ته کړی ؤ چي موږ ته دا خبر ورسېدی چي رسول الله ﷺ له مکې څخه هجرت مدینې ته وکړی، نو موږ په کښتۍ کي سپاره سوو په نیت د هجرت و مدینې ته فالقینا سفینتنا وروستو کښتۍ زموږ حبشې ته (یا یې لاړ خطا کړه او یا به یې له حبشې څخه وروسته مدینې ته وړلای) والاول هو الظاهر فوافقنا جعفر بن ابی طالب رض ده راته وویل چي موږ رسول الله ﷺ دلته حبشې ته را استولي یو او موږ یې امر کړي یو په اقامت سره په حبشې کي نو تاسي دلې زموږ سره پاته سئ وروسته به ان شاء الله ګډ سره ولاړ سو فاقمنا معه حتی قدمنا جمیعًا الی المدینة، نو موږ علیه الصلوة والسلام ته په داسي وخت کي ورسېدو چي علیه الصلوة والسلام خیبر فتح کړی ؤ، او رسول الله ﷺ وویل: بایهما افرح بفتح خیبر ام بقدوم جعفر (په کوم ددې دوو شیانو زه خوشحالي وکړم په فتح د خیبر که په قدوم د جعفر رض) و قبل رسول الله ﷺ جعفر بین عینیه، نو جعفر رض وویل چي موږ اصحاب السفینة ته علیه الصلوة والسلام برخه راکړه په غنیمتو کي د خیبر او بل هیڅ چا ته یې برخه نه کړه ور چي په فتح د خیبر به غائب ؤ هیڅ شی هم، او علیه الصلوة والسلام و اصحابو ته د جعفر رض وویل: لکم هجرتان من مکة الی الحبشة ومنها الی المدینة، رواه البیهقي.

قصة قدوم ابی هریرة رضی الله عنه: دی وایي چي موږ اتیا کوره د دوس د قبیلې مدینې ته راغلو بیا په علیه الصلوة والسلام پسي خیبر ته ولاړو علیه الصلوة والسلام په دغه وخت کي د نطاط قلاوي فتح کړي وې وهو محاصر لکثیبة فاقمنا عنده حتی فتح الله علینا، نو علیه الصلوة والسلام په حق کي زموږ د مسلمانانو سره خبري وکړې، نو موږ یې شریکان کړو په برخو کي د نورو مسلمانانو سره چي په فتح کي د خیبر شریکان وه، ولي چي په اخیر فتح کي موږ هم حاضر سو لو الی ههنا.

تم الکلام في فتح خیبر: راوي وایي چي له جملې څخه د هغو کسانو چي له حبشې څخه راغلي وه ام حبیبه بنت ابی سفیان رض چي وروسته علیه الصلوة والسلام په نکاح کړه، قصه دا وه چي ام حبیبه رض سره د خپل مېړه عبد الله بن جحش حبشې ته تللې وه، مېړه یې مرتد سو له اسلام څخه نصاري سو او پر هغه نصرانیت مړ سو په

حبشه کي، ام حبيبه پر خپل اسلام قائمه وه او دې په حبشه کي داسي خوب ليدلی ؤ چي يو څوک دې ته وايي يا ام المؤمنين، نو دا په دې پوه سوه چي عليه الصلوة والسلام به ما په نکاح کړي، نو عليه الصلوة والسلام چي د دې د مېړه په ارتداد خبر سو او د دې د بقاء پر اسلام، نو عليه الصلوة والسلام د محرم الحرام په مياشت کي چي شروع د سنه (۷) هجري وه نجاشي ملک الحبشه ته يې خط واستاوه چي نجاشي که څه هم اول نصراني ؤ لکن په وخت کي د قيام د جعفر بن ابی طالب په حبشه کي په کوشش د جعفرؓ يې ايمان راوړی، مضمون د خط دا ؤ چي ته ماته ام حبيبهؓ په نکاح راوغواړه، نجاشي هم هغسي وکړه او څلور سوه ديناره يې ولور دې ته ورکړی، او د حبشې څخه چي جعفر بن ابی طالبؓ سره د ملګرو مدينې ته راستانه کېدل ام حبيبهؓ يې ورسره کړه.

قصة فتح واد القرى: راوي وايي لما انصرف رسول اللهﷺ من خيبر الى وادي القرى دعوت يې ورکړی و اهل ته د وادي القرى و اسلام ته، نو هغو منع وکړه د اسلام څخه نو عليه الصلوة والسلام فتح کړه دغه وادي عنوة (په زور د توري او په غنيمت يې ځني واخستل هغه بهترين مالونه د دوی من اثاث البيوت) او نور ګڼمور شيان د دوی، نو عليه الصلوة والسلام هغه اموال پنځه حصې کړه لکه غنائم د خيبر او مځکه يې په لاس کي د يهودانو پرېښول وعاملهم مثل ما عامل اهل فدک کمامر.

وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ

(واخرى منصوب دی عطف دی على مغانم كثيرة يعني وعدكم الله مغانم اخرى) تاسي قدرت نه درلودی پر هغو مغانمو (والمراد بها مغانم فارس والروم وما كان العرب يقدر على قتال فارس والروم "لم قتدروا عليها" صفت د اخرٰی دی) "قد احاط الله بها علمًا" چي احاطه کړې وه پر هغو غنائمو علم د خدای، دا جمله بل صفت دی د اخرٰی، ولي چي خدای ته هر شی اسانه دی که څه هم دوی ته ګران وي، كذا قال ابن عباسؓ والحسن ومقاتل، و قال قتادة هي فتح مكة، وفيه ان في فتح مكة ليست غنائم، وقال مجاهد المراد بها كل ما فتح الله عليهم بعد ذالک چي علم د خدای د هغو پر فتح تاسي ته محيط ؤ چي پر تاسي بې فتح کوي.

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾

او دی خدای پر هر شي قادر که څه هم تاسي قدرت نه پر لرئ.

وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾

او که ستاسي سره يې جنګ کړی وای يعني من اهل مکة د حديبيې په کال او صلح يې نه وای کړې (کمامر تفصيله) هر آئينه شاوي به يې درګرځولي وای (يعني شکست او ماته به يې په نصيب سوې وای) وروسته به دوی نه وای پيدا کړی دوست چي ستاسي څخه دي دوی خلاص کړي وای، او نه کومک کونکی چي ددوی حمايت دې کړی وای.

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾

هغه سنت دی د خدای قديمًا في الامم السابقة تر کفارو د مکې دمخه، هرګز نسي پيدا کولای عادت او سنت لره د خدای تغيير او تبديل لانه تعالی الآن کما کان في القدرة على الامور کلها والصفات الجلالية والجمالية بتمامها.

وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ

پوه سه: چي بيان دی د احسان د خدای د مسلمانانو سره په حديبيه کي.

ترجمه: خدای هغه ذات مقتدر محس دی چي بند يې کړه لاسونه ددوی يعني کفار مکه د تاسي څخه او بند يې کړه ستاسي لاسونه ددوی څخه ببطن مکة په داخل د مکې (يعني په داخل د حرم د حدودو چي د حديبية بعض اطراف د حرم په حدود کي داخل کما روی چي د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو خيمې دباندي تر حدود د حرم وي او لمونځونه به يې په حدود کي د حرم کول)

مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ

وروسته تر دې چي تاسي ته يې برې درکړی پر دوی لکه دمخه چي تېرسو حديث د انس رض چي اتيا (۸۰) کسه وه او په بعض رواياتو کي اوويا (۷۰) کسه وه د مکې والو د جبل تنعيم د خوا لپاره د حملې پر لښکرو د عليه الصلوة والسلام د شپې راکښته سوي وه، د محمد بن مسلمة رض له خوا چي د څو صحابهٔ سره يې پهره داري پر غاړه درلوده، نو رسول الله ﷺ ټول وبختنل، فنزلت هذه الآية، او په

حديث د عبدالله بن مغفلؓ خرج علينا يعني من مكة (۳) ځوانان يعني د کافرانو.
درويش وايي: چي د دې دواړو حدثونو جمع ممکنه ده لاحتمال تعدد الواقعة.

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾

يعني فيجازي كلا على حسب ما فعل.

پوه سه: چي ابو عمرو يې په ياء د غيبت وايي چي ضمير يې راجع و کفارو ته دی او نور قاريان يې په تاء د خطاب وايي چي خطاب و مؤمنانو ته دی.

هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ

اهل مکه چي دي هغه کسان دي چي شرک او کفر يې کاوه او تاسي مؤمنان يې منع کړي واست د مسجد الحرام څخه يعني د بيت الله شريفي څخه چي تاسي طواف پر وکړئ يعني طواف العمرة په کال د حديبيه کي.

پوه سه: چي "الهدی" هغه اوښ يا بقر يا شات ته وايي چي مکې مکرمې ته يې په نيت د هديې راوستلې وي يعني د هديه هم مانع وګرځېدل "معکوفًا" ای ممنوعًا محبوسًا "ان يبلغ محله" چي ورسېږي خپل ځای ته چي په هغه ځای کي هدايا ذبح کېږي يعني مکه.

پوه سه: چي ان يبلغ بدل اشتمال دی من الهدی او يا منصوب په نزع د خافض دی (يعني حرف جر چي جر يې حذف کړی نو فعل ګويا د متعدي سو بلا واسطة)

درويش وايي: چي دا معنی د منصوب بنزع الخافض ده په نحو کي فلا يتوهم ان نزع الخافض ای حرف الجزء کيف يوجب النصب تدبر، والتقدير ههنا محبوس من ان يبلغ مکانه الذي يحل فيه نحره.

وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَئُوْهُمْ

او که نه وای نران مؤمنان او ښځي مؤمنات چي تاسي يې نه پېژنئ باعيانهم يعني په معين ډول، ولي چي کفار او دوی سره ګډ وه دي "لم تعلموهم" صفت دی د رجال او نساء، تاريخ وايي: چي په مکه مکرمه کي مجموع نر او ښځي (۷۲) وه چي دوی ايمان پټ ساتلی ؤ له کافرانو څخه "تطواهم" بدل اشتمال دی يا د رجال او نساء يا له ضمير څخه د هم.

پوه سه: چي وطاء اصلاً تر پښو لاندي کېدو ته وايي لکن دلته ذکر ملزوم مراد ځني لازم دی ای تهلکوهم، ولي د پښو د لاندي کېدو سره هلاک لازم دی کما في قوله عليه الصلوة والسلام اللهم اشدد وطئتک علی مضر (ای هلالک علی مضر د قبيلې نوم دی)

فائده: جواب د لو لا محذوف دی اعني عنه جواب لو والمعنی لولا کراهة ان تطؤ المؤمنين والمؤمنات عن نصرنا لکم وغلبتکم عليه، لعذبنا الذين بالقتل والاسر، په قتل ددوی او بندي کولو.

فَتُصِيبَكُمْ مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍۚ

"فتصيبکم" عطف دی پر تطوئهم "منهم" يعني له سببه څخه د هلاک د هغو مسلمانانو ستاسي د خوا "معترة" په پښتو وايي پېغور يعني مشرکان د مکې يا نور کافران به پېغور درکوي چي خپل مسلمانان مو وژله، ابن زيد وايي معناه اثم ګناه ده فان قتل الخطاء لايخلو من اثم يدل عليه وجوب الکفارة وفي المفردات معناه الجرب چي په پښتو يې ګرګ بولي چي ټوله بدن ته يې سريان کوي، واطلق ههنا علی مطلق المضرة "بغير علم" بيله ستاسي د علم، متعلق دی په ان تطؤهم يا په تصيبکم پوري.

لِّيُدْخِلَ اللّٰهُ فِىْ رَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُۚ

متعلق دی په محذوف پوري چي د سباق څخه د کلام فهمېږي ای کان ذالک من دخول مکة عنوة (په زور او جنګ) "في رحمته" ای دينه في الدنيا وجنته في الآخرة "من يشآء" هغه څوک چي د خدای ورته اراده سي، ولي په کال د فتح د مکې ډېرو مشرکانو ايمان راوړی، وقبل ذالک يعني د حديبيه په صلح کي چي لس کاله جنګ بندي وه د عليه الصلوة والسلام او د قريشو تر منځ، او آمد و رفت په مابين کي د مکې او مدينې تر مابين جاري ؤ کما مر قبل ذالک فتذکر، او يا معنی داده چي داخل کړي ضعيفه مسلمانان د مکې په رحمت کي د دنيا ای العافية وطول البقاء (يعني ژوند)

لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٢٥﴾

که هغه مسلمانان جلا سوي وای د کافرانو څخه موږ به په عذاب کړي وای هغه کسان چي کافران وای د اهل مکه په سخت عذاب ای بالقتل.

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ

او بنديان چي کړځولي يې وه هغه کسان چي کافران وه يعني مشرکی مکة (ظرف يعني اذ متعلق دی په صدوکم پوري يا متعلق دی په عذبنا پوري) "الحمي" يعني بېځايه غيرت، چي رسول اللهﷺ او مؤمنان د طواف څخه د کعبة الله منع کړه او انکاريې وکړی د بسم الله الرحمن الرحيم له کتابت څخه په صلح نامه کي، وانکر عن رسالة رسول اللهﷺ حين قال لعلي اکتب هذا ما صالح عليه محمد رسول الله، وقال مقاتل قال اهل مکة قد قتلوا (ای المؤمنين) ابنائنا و اخواننا اوس دوی داخلېږي زموږ ښار مکې ته، نور عرب به وايي چي په زوره مؤمنان داخل سوه مکې ته واللات والعزی چي لات او په عزی دي زموږ قسم وي چي دوی نسي داخلېدای مکې ته.

پوه سه: چي "حمية الجاهلية" بدل دی من الحمية، يعني هغه بې ځايه غيرت دغه ته وايه چي د جاهليت په وخت کي اهل مکة درلودی.

فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ

(عطف على جعل) نازل کړه خدای پر دوی په توفيق د خدای الثبات والوقار پر خپل دين السلام والصلح يعني د کفارو د مکې ضرر دوی ته نه ورسېدی بلکې صلح يې ورسره وکړه ورضوا بکتاب الصلح کمامر على ما ارادوا، والمراد في الآية حسن صنيع المؤمنين بتوفيق الله تعالى وسوء صنيع اهل مکة حيث اختاروا حمية الجاهلية سره ددې چي د صلح بعض شرطونه د عمومي مسلمانانو له خوا ناچيه وه لکن بيا هم د امر نبوي متابعت يې وکړی بمقتضى بيعة الرضوان کمامر بيانه فتدبر.

وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ

او ددوی سره خدای لازمه وګرځول کلمه د تقوی، ابن عباسؓ، مجاهد، قتاده، الضحاک، عکرمه، ابن زيد او السدي رحمهم الله او اکثره مفسرين وايي چي کلمة التقوى لآ اله الا الله والله اکبر ده، او عطاء ابن ابی رباحؒ وايي چي کلمة التقوى لآ اله وحده لاشريک له له الملک وله الحمد وهو على کل شيئ قدير، او عطاء الخراسانيؒ وايي چي کلمة التقوى لآ اله الا الله محمد رسول الله ده، والزهري وايي چي بسم الله الرحمن الرحيم ده.

پوه سه: چي مآل د دې تفاسيرو يو دى ولا يخفى ان زيادة الخير خير.

فائده: اضافة د كلمة و تقوٰى ته لانها سبب للتقوى و اساسها.

وَكَانُوٓا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ؕ

دوى حقدار د كلمة د تقوى تر كافرانو د مكې، او اهل د كلمة التقوى وه يعني في علم الله الازلي او د دې سببه خداى دوى يعني صحابه كرام مختاره كړه لپاره د حمايت د دين خپل و صحبة رسوله ﷺ، روافض خذلهم الله وايي چي بعض صحابه ﷺ كافران سوي دي، دا آيت كافي دى په رد كي د مذهب د دوى لقد رضى الله عن المؤمنين اذ يبايعونك تحت الشجرة فعلم ما في قلوبهم.

وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

او دى خداى خبر په هر شي و من جملته ما اضمر الصحابة من الايمان وحب رسول الله، راوي د قصة الفتح وايي چي په حديبيه كي چي صلح د عليه الصلوة والسلام او اهل مكه تر مابين وسوه او مؤمنان مديني ته راهي سوه كما مر قال الصحابة ''اين رؤياک؟'' څرنګه سو هغه ستا خوب؟ نو دا آيت نازل سو.

لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ

كلمة اللام جواب لقسم محذوف.

فائده: په آيت كي لفظ د ماضي راوړه سو لكن مراد ځني مستقبل دى يعني په راتلونكي كال كي وانما عبر بالماضي مع ان المراد به المستقبل ليدل على تحققه البتة ''بالحق'' اى متلبسًا بالحق اى الحكمة البالغة وهي التمييز بين الثابت على الايمان والمتزلزل فيه.

لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ

چي تاسي به خامخا داخلېږئ و مسجد حرام ته.

درویش وايي: چي ابن كيسان وايي چي دا آيت قول د رسول الله ﷺ دى و اصحابو ته چي دوى پوښتنه ځني وكړه فاين رؤياک.

''ان شاء الله'' كه د خداى مشيت او اراده وه په داسي حال كي چي په امن كي

به یاست د اهل مکه له خوا څخه، نو آمنین حال دی له فاعل څخه د لتدخلن، وجملة ان شاء الله معترضة في مابين حال او ذي الحال.

پوښتنه: د رسول الله ﷺ خو دا یقین ؤ چي داغسي به کیږي، نو کلمه د ان چي د شک په ځای کي استعمالیږي څرنګه راوړه سوه؟

ځواب: دا کلمه لپاره د تأدب بآداب الله روا وړه سوه، قال الله عزوجل ولا تقولن لشيئ اني فاعل ذالک غدًا الا ان شا الله (ای الا مقرونًا بقوله ان شاء الله) او بعض مفسران اعني ابو عبیده ؒ ددې سوال په جواب کي داسي ویلي دي چي ان په معنی د اذ دی، نو معنی یې داده اذ شاء الله، او الحسین بن الفضیل ؒ وايي چي کیدای سي چي استثناء له دخول څخه وي ولي چي په مابین کي د رؤیا د نبي ﷺ او د دخول د مکې پوره یو کال تېر سو او په دې یوه کال کي د نزول ددې آیت یعني لتدخلن بعض حاضرین وفات سوي وه، نو معنی د آیت داده چي هر یو ستاسي به داخلیږي مسجد الحرام ته ان شاء الله تعالی یعني کلمه د ان لپاره د شک ده، ولي چي ژوند د ټولو حاضرینو تر بل کاله پوري مشکوک دی فتدبر غاية التدبير.

مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ لَا تَخَافُوْنَ ؕ

یعني بعض کسان د احلال د عمرې په وخت به ټوله سر وخریي او بعض به قصر د بعض وېښتانو د سر وکړي لکن حلق افضل دی اقتداء بر سول الله ﷺ ولهذا قدم الحلق على القصر في الآية، دا دوه لفظه حال دي له ضمیر څخه د آمنین او بعض مفسران وايي چي حال دي له فاعل څخه د لتدخلن.

سوال: په نحو کي وايي چي زمانه د حال او د عامل د ذی الحال به یوه وي دلته زمانه د حلق یا د قصر وروسته ده تر دخول د مکې؟

ځواب: داسي حال ته په نحو کي حال مقدره وايي فالمعنى لتدخلن مفروضًا حلقکم وقصرکم کما في قوله تعالى في حق اهل النار فادخلوها خالدين فيها ای مفروضًا خلودکم فيها وقت الدخول "لاتخافون" (حال مؤكدة دی د لآمنین یعني لاتخافون بعد ذالک) خدای ؒ خبر دی.

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾

پوه سه: چي "فعلم" عطف دی پر مقدر والفاء للسببية، والتقدير اخر دخول مكة فعلم من الحكمة في التاخير "مالم تعلموا" چي تاسي پر هغه حكمت في التأخير علم نه درلودی "فجعل" عطف دی پر اخر مقدر باندي "من دون ذالک" ای دخول المكة "فتحًا قريبًا" يعني فتح خيبر كما مر، او يا صلح الحديبية فانه فتح ايضًا، حيث رضی المشركين بالصلح بعد الاعداد للقتال كما مر تفسير كلا الفتحين.

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ

خدای ج هغه خدای دی چي را استولی يې دی خپل رسول يعني محمد ﷺ متلبس په هدايت سره او يا معنی داده لاجل الهداية، او دين الحق چي اسلام دی چي غالب يې وګرځوي پر جنس اديانو يعني په تسليط المسلمين علی اهل الاديان كلها في وقت من الاوقات، او يا معنی داده چي حق اديان به ټوله منسوخ سي يعني ما يقبل النسخ من العمليات دون المعتقدات الحقة كالتوحيد والبعث بعد الموت وغير ذالک، فقير وايي چي د حقه قيد ووايه، ولي چي په معتقدات كي بعض باطل معتقدات سته لكه عيسی ابن الله او ثالث ثلثة، يا عزير ابن الله يا اعتقاد دی لن يدخل الجنة الا من كان هودًا لكه يهودان چي وايي، او يا "نصاری" لكه نصاری چي وايي الی غير ذالک من معتقدات هؤلاء فافهم، لكن دين د اسلام هغه معتقدات زائغه كما ذكرنا امثلتها بالحجج والبينات سره د هغو بطلان په ډاګه كړی والله اعلم بمراده في كتابه.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ؕ﴿۲۸﴾

فائده كليه: هر ځای چي د كفی وروسته باء راسي په قرآن كريم كي هغه زائده ده لان كفٰی متعد بنفسها لكن لمراعات لسان العرب باء راوړل كيږي.

پوه سه: چي شهيدًا يا حال دی د لفظ الله څخه يا تمييز دی د نسبت څخه د كفايت و خدای ج ته، نحات وايي: چي تميز د نسبت و فاعل ته په معنی كي د فاعل دی والمعنی كفی الله شاهدًا علی تقدير الحالية من الله او كفی شهادة الله علی تقدير التميز من النسبة وعلی كل تقدير كافي دی شهادت د خدای ج علی ما وعد

من الفتح او على رسالة رسوله باظهار المعجزات على يديه.

فائده: په دې آيت كي تاكيد دى د لما وعد من دخول المسجد الحرام وكلتاهما تائيدان دي لقوله تعالى انا فتحنا لک فتحًا مبينًا.

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۗ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ

اعراب: "محمد رسول الله" دا جمله بيان د مشهود به ده "والذين معه" معطوف على محمد وما بعده يعني "اشداء على الكفار" او داسي اعراب هم ممكن دى چي رسول الله دي صفت د محمد وي او دادي خبر د مبتداء محذوف وي، والتقدير اى هو الذي ارسله بالهدى محمد.

و ترجمة الآية: محمد رسول الله او هغه كسان چي دده سره دي سخت تر دي پر كفارو يعني زړه سوى نه پر لري امتثالاً لامر الله تعالى حيث قال يا ايها النبي جاهد الكفار والمنافقين واغلظ عليهم، وقال ومن يتولهم منكم فانه منهم.

درويش وايي: چي مظهري" چي دا آيت په مثال كي راوړى دى لاتأخذكم بها رافة في دين الله، فسهو لان الآية المذكورة في اجراء حد الزنا على الزانية والزاني كما يدل عليه ضمير التثنية.

"رحماء بينهم" مهربانه وي په خپل مابين كي حباً لله ورسوله فان محب المحبوب محبوب يعني د سړي د محبوب محبوب دى د سړي يعني دوى د خداى او د رسول سره محبت لري نو دوى په خپل مابين كي هم محبت سره لري.

في الحديث القدسي اين المتحابون (يعني خداى" به وايي چېري دي هغه كسان چي يو د بل سره يې محبت كاوه يعني په دنيا كي) في جلالي (زما د جلال د سببه، يعني ديو چا چي به زما سره محبت ؤ بل سړي په دې سبب چي دا محب الله دى د هغه سره محبت كاوه وبالعكس يعني د دنيا په سبب يې محبت نه ورسره كاوه) اليوم تظلهم تحت ظلي (اى رحمتي) يوم لاظل الا ظلي (اى ظل رحمتي)

درويش وايي: چي ما د ظل تفسير په رحمت سره وكړى لان المتعارف لايكون الا للاجسام والله تعالى ليس بجسم حتى يكون له ظل متعارف چي په پښتو يې سايه بولي.

فائده: په دې آيت کې رد دی پر روافضو چې دوی وايي چې اصحاب د رسول الله ﷺ به يو د بل سره عداوت درلودی.

تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا

ته دوی وينې يا محمد (ﷺ) "ركعًا سجدًا" جمع د راکع او د ساجد ده چې مراد ځندي لمونځونه دي تعبيرًا عن الكل بالجزء يعني يشتغلون بالصلوات في كثير من الاوقات اعم من الفرائض والواجبات والسنن والنوافل لان الصلوة معراج المؤمنين، دا دوه لفظه حال دي مترادف د ضمير منصوب څخه د تراهم.

يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ۡ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ

دوی طلب کاوه په دې کثرت اشتغال بالصلوة د فضل او احسان د خدای په اخرت کې چې ثواب او جنت دی ورضى الله عزوجل ورؤية الله تعالى "ورضوانًا" او رضٰی د خدای عزوجل. علامه د دوی په مخانو کې د دوی له تاثير څخه د كثرة السجود، بعض مفسرين وايي چې دا سيما او علامه بياض او نور دی په مخانو کې د دوی په ورځ کې د قيامت يعرفون بها انهم كثر والصلوة في الدنيا، دا روايت د عوفی دی عن ابن عباس رضی، او عطاء بن ابی رباح او الربيع بن انس رحمه وايي: برېښې مخان د دوی په دنيا کې من كثرة السجود او شهر بن حوشب رحمه وايي يكون مواضع السجود منهم ای وجوههم كالقمر ليلة البدر يعني في الآخرة وقال قوم هو السمت الحسن والخشوع والتواضع وهو رواية الوالبي رحمه عن ابن عباس رضی وهو قول مجاهد رحمه وقال الضحاك رحمه صفرة الوجه من السهر (ژړ والی د رنګ دی له سببه د بدخوابۍ) يعني شپه په بدخوابۍ تېره کړي په تهجد کې سهارېږ مخ ژړ وي، او الحسن رحمه وايي چې ته دوی وينې په خيال مريضان دراځي او مريضان نه وي، او سعيد بن جبير رحمه وايي هو اثر التراب على الجبهة، دا ددې سببه چې دوی به سجده پر خاورو کوله نه قالين يا سترنجي يا دسمالۍ لکه په اوسنی زمانه کې.

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۖۛ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ

دغه ۀ حال او امثال د دوی په تورات کې چې د نبي اخير الزمان د امت بعض کسان دغسې سيما لري، تر دې ځايه پورې کلام تام سو، كذا قال البغوي رحمه، په

وروسته آيتو کي خداى عزوجل بيان د حال د امت محمديه په انجيل کي بيانوي په انجيل کي "ومثلهم في الانجيل" او حال د دوى په انجيل کي، دا مبتداء ده خبر يې دادى "کزرع" لکه کښت اى لکه حال د کښت زرع موصوف دى صفت يې دادى "اخرج شطأه" چي راوباسي د تخم څخه شنه وابنه.

پوهه: چي ضمير مستتر په ازره کي راجع وزرع ته دى اى فقوى ذالک الزرع ذالک الشطاء، و بالفارسية پس قوى کرد کشت آن يک شاخ را، وبالافغانية: وروسته کښت لوى کړى هغه يو شين وابنه چي د مځکي څخه راوتلى ؤ.

فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ

"فاستغلظ" بمعنى صار غليظًا بعد ما كان دقيقًا، وروسته سم ودرېدى پر خپلو پونډيو "سوق" جمع د ساق ده، والجمع باعتبار ان الخارج من الارض من حبة واحدة نباتات "يعجب الزراع" اى حالکونه اى ددې کښت چي په تعجب او سرور کي اچوي کښته کاران ددې کښت په سبب د کثافت د کښت (يعني ګڼوالي د ښاخو د کښت) وحسن منظره وطول قامته وبالفارسية بشگفت مى أورد زارعان را.

پوهه: چي زراع جمع د زارع ده، دا دوه مثاله چي خداى پاک راوړه د اصحابو د محمد ﷺ لکن مثال يې صادقېږي پر غير د صحابه ؤ رضي الله عنه ايضًا من خيار امته والثاني مختص بالصحابة رضي الله عنهم لايشارک فيه غيرهم، فان الله ارسل محمدا ﷺ وحده فهو کالزراع چي تخم د اسلام په مځکه کي وکري، فامن به ابوبکر وعلي وبلال رضي الله عنهم ورجال متعدون، وروسته تر دې درو منهم عثمان بن عفان وطلحة بن عبيدالله والزبير وسعد وسعيد وحمزة بن عبد المطلب وجعفر بن ابى طالب رضي الله عنهم، حتى کان ايمان عمر رضي الله عنه متمم اربعين رجلاً، يعني په عمر رضي الله عنه څلوېښت مسلمانان پوره سوه حتى نزل قوله تعالى: يا ايها النبي حسبک الله ومن اتبعک من المؤمنين فکان الاسلام في ابتداء الامر غريبًا وکان کفار مکة في غاية الکثر حتى کادوا انيکونون عليه (اى على الاسلام لبدًا لولا حماية الله تعالى فازره الله المجاهدين الصحابة من المهاجرين والانصار رضي الله عنهم حيث سقوا زرع الاسلام بدمائهم في حيوة النبي ﷺ وبعد وفاته لاسيما في خلافة ابى بکر وعمر رضي الله عنهما فاستوى دين الاسلام على سوقه وظهر على الدين کله واستغنى الدين عن حماية

غيرهم حتى قال الله تعالى اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم نعمتي ورضيت لكم الاسلام دينًا، وقال عليه الصلوة والسلام لايجتمع امتي على الضلالة، وايضًا قال رسول الله ﷺ لايزال من امتي طائفة قائمة لايضرهم من خذلهم (چي د دوی سره موسته نه کوي) ومن خالفهم.

درويش وايي: چي د خصوصيت په درلودلو سره صحابه رض مخ مخ دي په ميدان كي د فضل على سائر الامة حتى چي هيڅ د افاضلو څخه د امت درجې ته د يوه د دوی هم نسي رسېدلای حتى قال رسول الله ﷺ لاتسبوا اصحابي (زما اصحابو ته ښکنځل مه کوئ او بد مه پر واياست) که يو ستاسي په لار کي د خدای ج صرف کړي مثل احد سره زر، نسي رسېدلای و انفاق ته د يو مد د اصحابو ولا نصيفه، متفق عليه من حديث ابی سعيد الخدري رضي الله عنه.

درويش وايي: چي فضائل د صحابه رض عمومًا وخصوصًا ونقلاً وعقلاً په کتاب کي په نامه د السيف المسلول جمع کړل سوي دي كذا قال المظهري رح.

لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ط

چي په غم او غصه کي خدای ج واچوي په سبب د مسلمانانو کافران، انس بن مالک رض وايي که څوک وګرځوي په زړه کي بغض د اصحاب الكرام رض يعني عمومًا يا خصوصًا تر دې آيت لاندي راځي يعني ليغيظ بهم الكفار فافهم، او نور احاديث صحيحه په فضائلو د صحابه کرامو رض ډېر دي چي و حد ته د تواتر معنوي رسېږي.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ ع

وعده کړې ده خدای د هغو کسانو سره چي ايمان يې راوړی او عمل صالح يې هم کړی وي د مغفرت د ګنهو او ثواب لوی، اللهم اجعلنا منهم بمحض وكرمك و وفقنا الله تعالى للسلوک على مسالک کراماتهم امين، قال المظهري رح انعقد الاجماع على ان الصحابة رضي الله عنهم كلهم عدول وكلهم مغفور لهم.

درويش وايي: چي د دوشنبې په ورځ پر څلور بجې پنځلس دقيقي بالا پر شلم د شوال تخمينًا سنه (۱۴۳۲) هجري تفسير د سورة الفتح پای ته ورسېدی بتوفيق الله لهذا العبد الضعيف المعمر (۹۸) کاله.

سُورَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانِيَ عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله حمدًا كثيرًا ونسبحه تسبيحًا جميلاً ونصلي ونسلم على رسوله المجتبى وحبيبه المصطفى صلوة وسلامًا يليقان بذاته الأعلى وعلى آله وصحبه الاتقياء ونشرع الآن في السدس الآخير من ليلة الثلثاء في شهر شوال من شهور سنه (١٤٣٢) هجري، بتفسير سورة الحجرات ان شاء الله تعالى.

رب سهله على وتممه بالخير والعافية والصحة انک يا مولای على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير.

روى البخاري وغيره من طريق ابن جريج عن ابن ابى مليكة ان عبد الله بن الزبير اخبره چي راغله يو څو سپاره د بني تميم څخه و رسول الله ﷺ ته يعني د دې لپاره چي مور ته يو امير را وټاکه، فقال ابو بکر رضي الله عنه چي امير القعقاع بن سعيد ور وټاکه، او عمر رضي الله عنه ورته وويل چي امير د دوی الاقرع بن حابس ور وټاکه، نو ابو بکر رضي الله عنه و عمر رضي الله عنه ته وويل: ته هميشه زما خلاف رايه ورکوې، عمر رضي الله عنه وويل چي يا ستا د خلاف پر برابر مي نه دي ويلي بلکې الاقرع بن حابس اولى بالامارة دی په دې دوران کي د دوی دوو اوازونه سره پورته سوه، فنزلت هذه الآية.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

ای هغه کسانو چي ايمان يې راوړی پر خدای او پر رسول د خدای، په دې لفظ د آمنوا تنبيه ده پر دې چي مخاطب په دې وروسته ادابو سره مؤمنان دي چي تاسي وړاندي والی مه کوئ نه په فعل او نه په قول کي.

پوه سه: چي لفظ د يدين په معنى د جهتين دي الکائنتين چي په سمت کي د دوو لاسو د انسان وي وبين اليدين بمعنى بين الجهتين والجهة التي بينهما هي جهة القدام دی ققولک جلست بين يدي فلان بمعنى جلست امامه يعني بمكان يحازي يديه ای قريبًا منه او چي داسي وويل سي بين يدي الله امتنع ان يراد الجهة والمكان لامتناعهما على الله تعالى كما تقرر في علم الكلام فيكون هذه العبارة استعارة تمثيلية وهي كما بين في علم البيان تشبيه الهيئة المنتزعة من امور متعددة بهيئت منتزعة من اخرى بدون المجاز في المفردات ومثلوا لها

بقولک لرجل متحير في امر من الامور رئيتک تقدم رجلاً وتؤخر اخرى شبه ما وقع من بعض الصحابة‌رض من انقطع في امر من الامور الدينية قبل ان يحكم به الله ورسوله كما قطع في ما ههنا ابوبكر‌رض بامارة القعقاع بن معبد علي بن تميم وقطع عمر‌رض بامارة الاقرع بن حابس علي بني تميم قبل ان يحكم الله ورسول (يعني دغه هيئت منتزعه من هذا المجموع په حال د هغه چا چي يوه پښه د مخه کړي او بله پښه ترشا کړي يعني په تګ او نه تګ کي سوداېي وي، نو تعبير يې وکړی الحالة المشتبهة يعني في الآية بما يعبر عن الحالة المشبهة بها فتدبر جدًا عسى الله ان يهديک الى فهم المراد في الآية المتلوة يعني لاتقدموا بين يدي الله ورسوله.

پوښتنه: تا خو په اول د خپل تفسير کي دا ويلي وه چي زما دا تفسير د پښتنو لپاره دی دا استعاره تمثيليه چي تا دلته بيان کړه عوام د پښتنو خو څه کوې بعض امامان د مسجدو هم نه پوهېږي؟

ځواب: فقير خو فقط لفظ د پښتنو ويلي دی داسي مي نه دي ويلي چي د عوامو د پښتنو يا امامان د مسجدو اوس هم متبحر علماء د پښتنو په بيان د استعاره تمثيليه چي فقير په دې آيت کي وکړی دوی ښه په پوهېږي بلکې اميد لرم چي په احسنت يا عبيدالله به زما بيان بدرګه کړي... سعدي شيرازي‌رح وايي:

توگوی آنچه دانی سخن سودمند وگرهيچ کس را نيايد پسند

د حـاسد کمـبله هـــلته سوه راتوله
چي د عبيد تفسير قبول سو په جهان کي

هم يحسدونني وشر الناس كلهم من عاش يومًا غير محسود

فائده: اصل مراد خو نهي دی د تقديم بين يدی رسول الله، او ذکر د لفظ د الله يعني اسم جليل لپاره د تعظيم د رسول الله‌ﷺ دی و اشعارًا بان التقديم على رسول الله‌ﷺ كانه تقديم على الله عزوجل، ولي چي عليه الصلوة والسلام په مکان او مرتبه کي د قرب الى الله دی چي دده اجلال بايد وکړل سي، وسوء الادب معه‌ؑ سوء ادب مع الله عزوجل.

درويش وايي: چي په بيان کي د بيعت رضوان مع رسول الله‌ﷺ في الحديبية خدای پاک داسي ويلي دي ان الذين يبايعونک انما يبايعون الله يد الله فوق ايديهم.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ①

او د خدای ؓ څخه وبېرېږئ (في تضييع حقه وحق رسوله ومخالفة امرهما) په تحقيق خدای اورېدونکی د اقوالو ستاسي دی او خبر دی په نياتو ستاسي.

درويش وايي: چي امام مظهري ؒ پر خلاف د شان نزول دد ې آيت چي په اولو مفسرانو او مظهري په خپله هم راوړی دی نور شان نزولونه له ځانه څخه په صرف ادنی مناسبت ذکر کړي دي، بيا اختلاف د مذاهبو په هغو کي بيان کړی دی، مطالعه کونکي دي دده د تفسير (۴۰) صفحه د جزء (۲۶) د سورة الحجرات په تفسير کي مطالعه کړي والله اعلم.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْۤا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ

پوه سه: چي نداء لپاره د مزيد اهتمام ده په ما امر به سره.

ترجمه: ای هغه کسانو چي تاسي ايمان راوړی دی، تاسي مه پورته کوئ خپل اوازونه بالاتر اواز د نبي (ﷺ) يعني چي تاسي خبري ورسره کوئ.

وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ

والمعنى: لاترفعوا اصواتكم په حضور کي د عليه الصلوة والسلام، او نارې مه ورته کوئ لکه تاسي چي يو و بل ته نارې وهئ يا زيد يا عمرو يا فلان يا فلان يعني تاسي مه ورنارې کوئ يا محمد، يا دا چي په اسم کنيه ناره ورته کوئ يا ابا القاسم، بل يجب عليكم تعظيمه وتكريمه في النداء ومراعات آدابه وخفض الصوت يعني په کښته اواز سره داسي نداء ورته کوئ يا رسول اللهﷺ يا نبي الله ونحو ذالک مثلاً يا حبيب الله.

اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ②

ای كراهة ان تحبط آه، او لئلا يحبط اعمالكم چي كه تاسي هغه منهي عنه في الآية السابقة وکړئ ستاسي عملونه به لغوه او بې ثوابه وګرځي.

پوه سه: چي دا علت د نهي قبلي دی لان رفع الصوت فوق صوت النبيﷺ والجهر عليه استخفافًا يؤدي الى الكفر، فعاقبته لغوا لعمل اذا قصد الاهانة نعوذ بالله من ذالک، او كه چېري اهانت هم قصد نه وي لا يخلو ذالک من عدم

المراقبة في آدابه فلا يخلو من الحرمان من بركات صحبته نو لامحاله عمل د صحبت خو بې فائدې سو ... بيت:

از خدا خواهم توفيق ادب بی ادب محروم ماند از فضل رب

پوه سه: چي "وانتم لاتشعرون" حال دی له ضمير مجرور څخه في اعمالكم يعني حال كونكم لا تشعرون بحبط اعمالكم، محي السنة البغوي الشافعي المذهب وايي چي ابو هريرة او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي دا آيت نازل سو كان ابوبكر رضي الله عنه خبري يې د رسول الله ﷺ سره نه كولې الا كأخي السرار (مگر نه لكه د پټو خبرو كونكی) وقال الزبير رضي الله عنه: څه وخت چي مخكنی آيت نازل سو فما كان عمر رضي الله عنه يسمع رسول الله ﷺ (نو عمر رضي الله عنه چي خپلي خبري دې په رسول الله ﷺ اوريدلي واى يعني له سببه د غايت كرار والي حتى چي رسول الله ﷺ به پوښتنه ځني وكړه چي ته څه وايي) او بخاري ؤ مسلم په خپلو صحيح كتابو كي له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت كړی دی چي دا آيت چي نازل سو "يا ايها الذين آمنوا آه) ثابت بن قيس رضي الله عنه په خپل كور كي كښېنستی يعني مسجد نبوي ته د جماعت لپاره نه ورتلی، او د نبي عليه السلام ملاقات يې هم بند كړی، نو رسول الله ﷺ له سعد بن معاذ رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه "يا ابا عمر ما شان ثابت بن قيس" يعني لمانځه ته ولي نه راځي آيا مريض دی؟ سعد رضي الله عنه ورته وويل چي ثابت بن قيس خو زما همسايه دی په ناجوړی يې زه نه يم خبر سوی، نو سعد بن معاذ رضي الله عنه د ثابت بن قيس رضي الله عنه كور ته ورغلی او هغه د عليه الصلوة والسلام قول يې ثابت رضي الله عنه ته بيان كړی، ثابت رضي الله عنه ورته وويل چي دا آيت يعني لاترفعوا اصواتكم آه چي نازل سو او تاسي ته وله خبر ياست چي زه ارفع صوتًا يم چي د عليه الصلوة والسلام سره به مي خبري كولې، فانا من اهل النار، نو سعد رضي الله عنه د ثابت رضي الله عنه دا خبره عليه الصلوة والسلام ته ورسول، فقال عليه الصلوة والسلام بل هو من اهل الجنة، فرجع سعد رضي الله عنه ببشارة عظيمة الى قيس رضي الله عنه.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام ولي ثابت بن قيس رضي الله عنه په رفع الصوت كي معذور وګڼی او علاوه پر دې زيری د جنت يې هم وركړی؟

ځواب: ثابت بن قيس رضي الله عنه به طبعًا په زوره خبري كولې لا اختيارًا، و المراد في الآية المتلوة رفع الصوت اختيارًا دی فافهم، په يو بل روايت كي راغلي دي چي عليه

الصلوة والسلام مشافهة وثابت بن قيس رض ته وويل اما ترضى ان تعيش حميدًا (چي پر تا به ښه ژوند تېر سي، يعني په عبادت كي د خداى ج) وتقتل شهيدًا چي قتل به سي په شهادت سره وتدخل الجنة فقال ثابت رض رضيت ببشرى الله ورسوله.

درويش وايي: چي داغسي پر ثابت رض ښه ژوند په عبادت كي تېر سو او په يوه غزاء كي شهيد هم سو، او دخول د جنت يې په اخيرت هم متيقن دى په اخبار د صادق مصدوق عليه الصلوة والسلام په اخير كي ثابت رض لا ارفع صوتى على رسول الله ﷺ ابدًا فانزل الله الآية ان الذين آه چي وروسته به ذكر سي، لكن دلته يو سوال سته جواب طلبه چي تا د مخه وويل چي ثابت بن قيس رض رفيع الصوت ؤ طبعًا، نو دلته ثابت رض څرنګه وايي لا ارفع صوتى على رسول الله ﷺ ابدًا؟

جواب: د ثابت رض غرض دا ؤ چي زه خپله طبع په جد او جهد سره چي رفع د صوت وه بدله كړم چي د رفع الصوت واكي به اختيار ته په لاس وركړم.

اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

په تحقيق هغه كسان چي كښته كوي اوازونه خپل په نيز د رسول الله ﷺ د تعظيم او اجلال دده.

پوهسه: چي موصول سره د صله اسم د ان دى او خبر يې دا قول د خداى عزّوجلّ دى.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ۭ

اولئک مبتداء ده خبر يې الذين آه دى، او دا جمله ټوله خبر د ان الذين ده، فتدبر، ترجمة الآية دغه كسان هغه كسان دي چي خداى عزوجل امتحان كړي دي زړونه ددوى لپاره د تقوى، په قاموس كي وايي اى شرحها و وسعها او په هغه قاموس كي وايي اختبرها، او بيضاوي وايي اى جربها للتقوى يعني عاملها معاملة المختبر (ددې تفسير يعني عاملها فائده داده چي خداى پاک و امتحان ته د عبادو ضرورت نه لري لانه عالم الغيب والشهادة لكن معاملته تعالى معاملة المختبر يعني لكه يو څوک چي د بل چا امتحان په تكاليفو شاقه ؤ سره اخلي فوجدها مخلصة، او بعض مفسرين يې داسي تفسير كوي ضرب الله قلوبهم بانواع المحن والتكاليف الشاقة لاجل ظهور تقواهم، ولي چي حقيقت تقوى نه ښكاره كيږي مګر په صبر سره پر تكاليفو ... بيت: - بر فلک بر تر بود اسرار او شيئًا لله شيئًا كار او

حکایت: د حسن بصري رحمه الله په زمانه کي يوه فقيره ښځه وه چي د مسلمانانو په کورو به ګرځېدله، خپل او خپل د عيال کفاف به يې برابراوه، لکن د دې زړه په دې ډېره خوشحاله کېدی چي چا به ورته وويل خدای دې درکړي، يعني شی به يې نه کړی ور، له دې سببه چي د دې په زړه کي دا عقيده وه چي دې کور پر خدای عزوجل حواله درکړه د خدای شان لوړ دی ماته په اخرت کي ښه عوض راکوي، خير څه مده وروسته دا فقيره مړه سوه، نو يو شپه حسن بصري په خوب کي وليدله چي په ښه لباس سره ملبوسه وه او په ښه کوټيو کي خرامانه ګرځېدله، حسن ورته وويل چي ته فلانۍ نه يې چي ډوډۍ به دي ټولوله؟ هغې ورته وويل چي هو زه هغه فقيره يم، الحسن ورته وويل چي دې درجې ته څرنګه ورسېدې؟ دې ورته وويل چي زه چي په قبر کي ښخه کړل سوم ملکي راغلې اول خو يې هغه عمومي پوښتنې راڅخه وکړې من ربک ومن نبيک ومادينک، هغه جوابونه خو ما ورکړه، بيا دوی راته وويل چي له دنيا څخه دي څه عمل راوړی دی؟ ما ورته وويل چي د بندګانو حوالې مي راوړي دي، نو د خدای عزوجل له خوا ملکو ته خطاب راغلی چي حوالې يې صحيح دي، نو يې ماته دا لوړه درجه راکړه.

درويش وايي: چي دا حکايت د هغه حديث قدسي تائيد کوي "انا عند ظن عبدي لي"

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۳﴾

ددوی لپاره مغفرت دی يعني لذنوبهم او لوی اجر، اجر سره د صفته چي نکره يې راوړی لپاره د تعظيم دی، والجملة خبر ثاني دی د "ان" ددې اجر عظيم سبب چي دوی په غض الصوت سره د عليه الصلوة والسلام سره خبري کولې تأدبًا لرسول الله ﷺ، قال البغوي فکنا ننظر الی رجل من اهل الجنة يمشي بين ايدينا (زموږ په منځ کي) يعني ثابت بن قيس رضي الله عنه چي قصه يې دمخه تېره سوه الذي نزل فيه هذه الآية، وقال له رسول الله ﷺ تعيش حميدًا وتقتل شهيدًا وتدخل الجنة کما مر.

المعجزة لرسول الله ﷺ، انس رضي الله عنه وايي چي د يوم اليمامة په ورځ يعني د مسيلمة الکذاب سره جنګ ؤ (چي دې مسيلمة د عليه الصلوة والسلام په ژوند کي د نبوت دعوه کړې وه) نو ثابت بن قيس رضي الله عنه په مسلمانانو کي څه انکسار وليدی بلکې

يوې طائفې د مسلمانانو هزيمت يې وکړی، نو ثابتؓ وويل اف لهؤلاء افسوس دي وي دې کسانو لره، او ثابتؓ و سالم مولی حذيفة (يعني چي مريي ؤ د حذيفهؓ او هغه يې ازاد کړی ؤ) ما کنا نقاتل اعداء الله مع رسول اللهﷺ مثل ذالک (يعني لکه دې خلکو چي شکست وکړی يعني من المؤمنين) ثم ثبتا (اى ثابت بن قيس و سالم مولى حذيفةؓ) وقاتلا حتى استشهد ثابتؓ او ده زغره هم اغوستې وه، وروسته تر شهادت دده يو صحابيؓ دی په خوب وليدی چي ثابتؓ ده ته وويل چي فلاني سړي يعني د مسلمانانو څخه زما څخه يې زغره وکښه، او هغه زغره او مسلمان په يوه طرف کي د عسکرو دي يو آس هم ورسره دی چي په رسۍ کي خپل بازۍ کوي او زما پر زغره يې کټو ايښې ده، او خالد بن وليدؓ (چي قومنده د جنګ يې په لاس کي وه) ورواستوه چي دا زما زغره له هغه څخه واخلي، او وروسته ابوبکر الصديق خليفة رسول اللهﷺ ورضى الله عنه ته ووايه چي پر ما د فلاني سړي پور باندي دی هغه پور دي ورکړي (يعني زما زغره دي خرڅه کړي) او زما فلانی مريی زما له خوا ازاد دی، نو هغه صحابي چي دا خوب يې ليدلی ؤ خالد بن وليدؓ ته ورغلی دا خوب يې ورته ووايه، خالد بن وليدؓ هغه سړي ته ورغلی هغه زغره او آس يې وليدی او زغره يې څني واخستل او خالد بن وليدؓ ابوبکرؓ ته ورغلی او ددې خوب قصه يې ورته وکړه، نو ابوبکرؓ دده وصيت ټول قبول کړی، مالک بن انسؓ وايي چي زه نه يم خبر چي د چا وصيت دي بعد الموت قبول سوی وي الا هذه الوصية، والله جل سلطانه اعلم.

الطبراني د زيد بن الارقمؓ څخه روايت کړی دی چي د عربو يوه ډله راغله (يعني د صحرايي عربو څخه) چي د رسول اللهﷺ سره يې يو څه کار ؤ، اما وخت داسي وخت ؤ چي رسول اللهﷺ د استراحت لپاره په يوه حجره کي د بعض امهات المؤمنينؓ ؤ، نو دوی بعض يوې حجرې ته او بعض بلي حجرې ته ودرېدل او نعرې يې وهلې يا محمدﷺ اخرج الينا، فانزل الله تعالى هذه الآية لپاره د تقبيح د فعل ددوی.

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾

هغه کسان چي تاته نعرې وهي د شا د حجراتو يا د مخ د خوا څخه د حجرو (د وراء لفظ د اضداد څخه دی شا او مخ دواړو ته ويل کېږي) ډېر ددوی نه پوهېږي،

يا معنى داده چي دوى اعراب صحراء نشينه وه، يا معنى داده چي ستا په عظمت او مراعات الادب نه پوهېدل، وانما اكثرهم لان بعضهم عقلاء لايحبون التعجيل ويراعون الادب مع رسول اللهﷺ.

پوه سه: چي حجرات جمع د حجرة ده، هغه قطعة د مځکي ته وايي چي د دېرو دېوالونه پر راګرځېدلي وي يعني بام چي يې د هر شي وي غالبًا به لرګي وي، حجرات مشتق دى د حجر څخه چي معنى يې منع ده چي حجره سړى منع کوي له دخول څخه بلا اذن صاحبها، والمراد هـ حجرات نساء النبيﷺ، يعني بعض د حجراتو د مخ د خوا نارې ورو هلې او بعض د حجراتو د شا د خوا نارې وهلې.

د جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي دغه کسان چي نارې يې وهلې عيينة بن حصن الفزاري او افرع بن حابس ؤ.

سوال: ناره کونکي خو دوه وه نو نسبت يې و ټولو ته څرنګه وکړى؟

ځواب: نسبت د فعل د بعض و کل ته مجاز دى، مثل بنوا فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد.

پوه سه: چي دا يو هيئت ؤ چي اوويا (۷۰) کسه وه په مشرى د نامورو کسانو او دوى د غرمې په وخت کي مدينې ته راورسېدل چي رسول اللهﷺ په حجراتو کي د بعض امهات المؤمنين بيده، نو دغو دوو کسانو نارې وهلې يا محمد اخرج الينا، فنزلت هذه الآية.

وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

که چېري دوى صبر کړى واى يعني د خپلو خواهشاتو څخه چي تعجيل دى په قضاء کي د حوائجو ددوى او مراعات د ادب د محتاج اليه يې کړي واى يعني رسول اللهﷺ لانه من الله في منزلة لايوازيه احد، حتى چي ته په خپل طبيعت يعني وروسته تر آرام دوى ته راوتلى واى، نو دا به ددوى لپاره خير واى تر استعجال او نارو وهلو يا محمد اخرج الينا، ولمي په دې کي به حفظ د ادب واى او تعظيم د شان د عليه الصلوة والسلام به واى چي په دې کي به خداى ثواب دوى ته ورکړى واى او هغه مرام ددوى به په احسن وجه پوره سوى واى "والله غفور رحيم" چي صرف نصيحت يې ورته وکړى او سرزنش يې ورکړى پر سوء ادب او تعظيم د رسول الله

بناء على جهلهم وقلة عقولهم يعني هغه خداى دوى ته وبخښل سبب د اخرت د عذاب يې نه وګرځول او خداى مهربان دى.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا

اى هغه كسانو چي ايمان يې راوړى دى كه تاسي ته راتګ وكړي يو فاسق سړى په يو خبر سره نو تاسي دده پر صرف قول اعتماد مه كوئ بلكې معلومات دده د صدق او كذب وكړئ.

پوه سه: چي مراد له دې فاسق څخه وليد بن عقبة بن ابى معيط ؤ چي د حضرت عثمان رضي الله عنه د مور له خوا څخه ورور ؤ او سبب د فسق يې دا ؤ چي عثمان رض دى مقرر كړى ؤ والى د كوفې وروسته تر عزل د سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه، نو ده د شپې شراب څيښلي وه او سكران ؤ، نو د سهار لمونځ يې و خلګو ته څلور ركعته وركړى او داسي يې خلګو ته وويل ان شئتم لازيدنكم، په دې باندي عثمان رض خبر سو او دى يې معزول كړى.

درويش وايي: چي په خلافت كي د عثمان رضي الله عنه ؤ، اوس به ددې ايت شان نزول بيان كړو اخرج احمد وابن الدنيا والطبراني وابن منده وابن مردويه بسند جيد عن الحارث من ضرار الخزاعي رض حارث وايي قدمت على رسول الله صلى الله عليه وسلم فدعاني الى الاسلام فدخلت فيه يعني اسلام مي قبول كړى بيا يې ماته دعوت د زكوة راكړى هغه مي هم قبول كړى، حارث رض بيا وويل و عليه الصلوة والسلام ته يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زه به ولاړ سم خپل قوم ته زه به يې اسلام و اداء الزكوة ته رابولم نو كه يې زما دعوت قبول كړى جمعت زكاته وترسل الي (ته راواستوه ماته يو رسول پر فلاني فلاني وخت چي هغه به تاته راوړي بما جمعت من الزكوة) نو حارث چي زكاتونه سره جمع كړه د هغو كسانو څخه چي د حارث دعوت يې قبول كړى ؤ او هغه وخت پوره سو چي ما عليه الصلوة والسلام ته ټاكلى ؤ چي په دغه وخت كي به رسول را استوې، نو رسول نه راغلى د حارث دا خيال سو ان قد سخطة (يعني ناراضي) من الله و رسوله عليه السلام، نو حارث د خپل قوم رئيسان راجمع كړه او دوى ته يې وويل ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته ټاكلى وخت راكړى ؤ چي زه به رسول درواستوم ليقبض ما كان عندنا من الزكات وليس من رسول الله صلى الله عليه وسلم الخلف يعني له وعدې څخه ولا ارى

حبس رسوله الا من سخته (يعني ناراضي شخه د رسول اللهﷺ) فانطلقوا الى رسول الله، سبب د ځنډ د رسول اللهﷺ په اصل کي دا ؤ چي عليه الصلوة والسلام پر تا کلي وخت الوليد بن عقبة بن ابی معيط چي ورور د عثمانؓ ؤ د مور له خوا ور استولی ؤ لپاره د راوړو د زکات د قوم د حارثؓ، دا الوليد المذکور چي تر يو ځايه پوري ولاړی چونکه دده او د حارث د قوم تر مابين په جاهليت بغض او شحنا پيښنه سوې وه، نو دی وبيرېدی چي ما به قوم د حارث قتل کړي، نو بيرته د لاري شخه راوګرځېدی او عليه الصلوة والسلام ته راغلی چي حارث منعني الزکات واراد قتلي، نو عليه الصلوة والسلام يو څو کسه و حارث ته ور واستول چي ته راسه حارث سره د قوم د رئيسانو چي راغلی رسول اللهﷺ ورته وويل چي ماته الوليد بن عقبه ابن ابی معيط درواستاوه د زکات د راوړو لپاره، هغه وويل چي حارث او قوم زکات منع کړی او زما د قتل اراده يې هم کړې وه خو په ډېر زحمت مي ځان را وه ايستی، حارثؓ وويل: لا والذي بعثک بالحق ما رئيته ولا رأنی ولا اقبلت الاحين لم يجئ رسول رسول اللهﷺ علينا خشية ان يکون سختة (ای غضبًا) من الله ورسولهﷺ فنزل يا ايها الذين آمنوا ان جائکم الآية.

پوه سه: چي مراد له فاسق شخه وليد بن عقبة بن ابی معيط دی، فسق دده يو دا ؤ چي په حيوة کي د رسول اللهﷺ پر حارث او قوم د هغه درواغ وويل چي زکات يې منع کړی او زما د قتل اراده يې کړې وه، او بل فسق هغه دی چي وړاندي تېر سو چي په خلافت کي د عثمانؓ دده شخه صادر سوی ؤ کما مر تفصيله.

درويش وايي: چي دديٓ آيت شان نزول الحسنؒ په روايت د عبد بن حميد داسي بيان کړی دی چي يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او داسي يې ورته وويل يا نبي الله ان بني فلان يعني د قوم نوم يې واخستی چي د مخبر د هغو سره بغض او عداوت ؤ په جاهليت هغه قوم لمونځونه پرېښي دي وقد ارتدوا وکفروا بالله، نو رسول کريمﷺ د تلوار شخه کار نه واخستی يعني دستي يې فوج کشي نه پر وکړه يعني صرف د خبر رسونکي په خوله يې نه وکړه، بلکې خالد بن وليدؓ يې سره د څو کسانو ور واستاوه او عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته په پټه ددوی د لمونځو تحقيق وکړه چي کوي يې او که نه، که يې چېري تولله

لمونځونه نه کول فشانک بهم يعني خپل عمليات د جنګ ورسره وکړه لکن لاتعجل عليهم، يعني تر څو چي پوره معلومات درته حاصل سوي نه وي جنګ مه ورسره کوه، نو خالد بن الوليدؓ عند غروب الشمس هغه قوم ته نژدې سو او هوري پټ سو، نو چي د ماښام د لمانځه وخت سو مؤذن راغلی اذان يې وکړی فصلوا صلوة المغرب بجماعة، نو خالدؓ ملګرو ته وويل چي دې قوم د ماښام لمونځ په اذان او اقامت او جماعت وکړی، نو شايد بل لمونځ به نه کوي، نو دی دلته ورته پټ ؤ چي شفق د ماښام غائب سو يعني د ماخستن وخت داخل سو، اذن مؤذنهم فصلوا صلوة العشاء بجماعة، بيا خالدؓ هوري ورته پټ ؤ لعلهم ترکوا صلوة اخری حتی چي نيمه شپه سوه خالدؓ داخل کړه خپل اسان په کلي کي ددوی، دوی د تهجد په وخت کي ويښ سول څه ناڅه برخه قرآن چي يې زده ؤ هغه يې په لمانځه کي ووايه، بيا خالدؓ ددوی د سهار د لمانځه انتظار وکړی چي سپېدې سوې مؤذن اذان وکړی او لمونځ يې په جماعت سره وکړی چي لمونځونه يې وکړه او ورځ ښه روښا سوه اذاهم بنواصي الخيل يعني د خالدؓ آسان په کلي کي ددوی ګرځېده، فقالوا ماهذا (دا څرنګه اسان دي چي په کلي کي ګرځي؟) چا ورته وويل چي خالد بن وليدؓ راغلی دی، فقالوا يا خالد مالک (ته څرنګه راغلی يې) خالد ورته وويل چي عليه الصلوة والسلام ته يو سړی راغلی او هغه ورته وويل ستاسي دخوا چي دوی لمونځونه پرې ايښي دي او دوی مرتد سوي دي، ددوی ستوني د ژړا ډک سوه او ډېر يې وژړل، وقالوا نعوذ بالله تعالی ان نکفر ابدًا، نو خالدؓ سره د ملګرو رسول اللهﷺ ته يې ټوله صورت الحال بيان کړی وانزل الله تعالی هذه الآية يا ايها الذين آمنوا الخ.

فائده: فاسق هغه چاته وايي چي د ممنوع شيانو څخه د شرع وتلی وي من قولهم فسق الرطب عن قشرها اذا خرجت، قال الراغب الاصفهاني چي فسق اعم دی تر کفر او کثيرًا وقليل ته د ګنهو ويل کېږي، او په عرف کي هغو ګنهو ته ويل کېږي چي ډېري بدي وي، او بعض علماء وايي چي فاسق هغه چا ته وايي چي مرتکب د ګناه کبيره وي.

درويش وايي: چي ددې آيت اول شان نزول چي په باره کي د الحارث نازل سوی دی ډېر مشهور دی والله اعلم.

اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴿٦﴾

دا دليل دی د هغه آيت چي تبينوا پکښې ؤ.

پوه سه: چي دلته ياء مضاف محذوف دی ای کراهة ان تصيبوا يا کلمه د لا سره لام تعليل دی ای لئلا تصيبوا "قومًا" چي هغه قوم له عصيان څخه د امر الله ورسوله پاک ؤ کمامر تفصيله في شان هذه الآية "بجهالة" حال دی له فاعل څخه د تصيبوا ای جاهلين بحقيقة الامر وحال القوم "فتصبحوا" عطف دی على تصيبوا يعني تاسي ای مؤمنانو وګرځي "نادمين" پښېمانه، دا لفظ دی د تصيبوا چي د افعال ناقصه ؤ څخه ؤ او ضمير د تصبحوا يې اسم ؤ، يعني که تاسي معامله د قتل وکړئ د هغو خلګو چي هغه له عصيان څخه پاک وه، نو اخير چي د هغو په حقيقت حال خبر سي پر خپل قتل و قتال به پښېمانه ياست اصل معنیٰ د ندامت نوع من الغم على ما صدر منک، يعني وايې به چي کاشکي ما دا کار نه وای کړی، نو اول بايد احتياط وکړئ ولهذا ورد في الحديث النبوي التبيين يعني معلومات کول د يو کار من الله والعجلة تلوار کول به کار د شيطان څخه وي.

مسئله: په آيت کي چي فاسق راوړه سوله دې سببه چي خبر د واحد عدل په بعضو موادو کي مقبول دی.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۭ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ

او په دې پوه سئ چي په تاسي کي رسول د خدای موجود دی که چېري دی اطاعت وکړي ستاسي په ډېرو کارو کي نو تاسي به واقع سئ په ګناه او په هلاک کي، بيضاوي وايي چي جمله د لو يطيعکم حال د يوه څخه ده د دوو ضميرو د فيکم.

سوال: په فيکم کي دوه ضميره کله وه، بلکې يو ضمير دی د کم دی؟

ځواب: فيکم متعلق دی په په کأين پوري، نو ضمير د کأين يعني المستتر فيه چي راجع و عليه الصلوة والسلام ته دی، او بل ضمير د کم دی چي راجع و مؤمنين ته دی، و ان سره د اسم او د خبره چي رسول الله او فيکم دي مقيد دی په حال سره چي لو يطيعکم دی، ساد مسد (يعني قائمقام) د مفعولينو ده د اعلموا (چي افعال قلوب څخه دی چي دوه مفعوله غواړي) بيضاوي زياته کړې ده چي

والمعنى ان فيكم رسول اللهﷺ في حال يجب تغيرها (چي اطاعت دی ستاسي په ډېرو كارو) يعني ستاسي اراده ده چي عليه الصلوة والسلام ستاسي د رايي متابعت وکړي يعني هغه دوې قصې چي قبلاً نژدې تېري سوې، ولو فعل ذالک لوقعتم في الاثم والهلاک، واعلم ان صيغة المضارع يعني لويطيعكم لپاره د استمرار ده او كلمه د لو لپاره د امتناع د عنت د دوی ده لامتناع استمرار النبيﷺ على متابعة رأيهم لكن چونكه غضب د مؤمنًا نو پر بنوا المصطلق انما هو لما سمعوا من الوليد ارتدادهم بغضًا في الله لانفسهم وكان ماسبق من الكلام موهمًا لوقوعهم في الاثم واللئوم استدرک الله ببيان عذرهم.

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۚ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۙ﴿۷﴾

يعني تاسي چي عليه الصلوة والسلام باعثه كاوه پر قتال د حارث او دده د قوم او يا پر قتال د بني المصطلق چي د اول اخبار كاذب عقبة بن ابی معيط راوړی ؤ چي قوم د حارث مانع د زكوة او زه يې هم وژلم، او د بني المصطلق د ارتداد خبر كاذب وليد راوړی ؤ، نو چونكه خدای پاک و تاسي ته ايمان محبوب او ښائسته ګرځولی ؤ په زړو كي ستاسي، او خدایٔ مكروه ګرځولی ؤ تاسي ته كفر او فسق او عصيان، نو ځكه تاسي عليه الصلوة والسلام باعثه كاوه پر قتال د حارث د قوم او د بني المصطلق، ولي چي دا دواړې طائفې ستاسي په عقيده اهل كفر او فسوق او عصيان وه، نو دا ستاسي باعثه كول بغضًا للهؤ لا لغرض انفسكم "اؤلئک هم الراشدون" دغه كسان هدايت ته رسېدلي كسان دي.

درويش وايي: چي دا ؤ حاصل د عذر ددوی عند البيضاوي والمظهري. لكن رسول اللهﷺ ددوی په قول ونه كړه په دې سبب چي شان د عليه الصلوة والسلام تأني او فكر وهل وه په ورته كارو كي او كامل معلومات كول وه، او صرف د فاسق واحد په اخبار دومره درانه بار ته لكه قتال تلوار نه كاوه، مظهري وايي چي ددې آيت له سياق څخه دا فهمېږي چي فسوق اخف دی تر كفر واقبح من العصيان فالمراد بالعصيان الخروج من الجماعة وارتكاب البدعة في العقائد تر داسي

اندازې چي په کافر کېږي لکه د روافضو يا د خوارجو عقائد چي حد ته د کفر رسېدلي دي، لکن دا خروج من الجماعة اخبث دی من عصيان الجوارح يعني الکبائر وحاصل الآية ان ما صدر منکم من ترک التثبت انما کان لحبکم الايمان وبغضکم الکفر فلا لوم عليکم ولا اثم.

فائده: ''اؤلئک هم الراشدون'' يوه جمله معترضه ده.

سوال: انتم الراشدون يې ولي نه وو ايه، سره ددې چي په د مخه آيت کي دواړه اليکم په صيغه د خطاب راغلي دي؟

ځواب: تا چي ددوی و امثالو ته يعني چي صفتونه ددوی پکښې وي هم شامل سي.

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

دا فضل دی د خدای او نعمت دی د خدای او خدای په احوالو د مؤمنانو خبر دی او حکمت لري چي دوی ته يې توفيق ورکړی د فضل او د نعمت حاصلولو ته.

پوه سه: چي نصب د فضلاً ونعمةً بناء پر دې دی چي مفعول له د حبب او کره دی.

درويش وايي: چي شان نزول د راتلونکو آيتو دادی: په روايت د بخاري او مسلم (چي په اصطلاح کي د اهل حديثو يې شيخان بولي) له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي عليه السلام پر خپل خره (چي د يعفور په نامه مشهور ؤ) د عبد الله بن ابی سره نژدې تېر دی، نو عبد الله بن ابی وويل ابی اليک عني (راسه ګوښه سه) فوالله لقد اذاني نتن حمارک (زه په تکليف کړم ستا د خره بد بويي) فقال رجل من انصار چي دلته حاضر ؤ، والله لحماره اطيب ريحًا منک (انصاري ابن ابی ته وويل چي په والله د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خره ښه بوی دی ستا تر بوی) د انصاري رضي الله عنه ددې خبري څخه يو سړي ته چي د ابن ابی له قوم څخه ؤ درد ورغلی، و انصاري ته يې ښکنځل وکړه، وغضب لکل واحد من الانصاري ومن عبد الله اصحاب د هغه، فکان بينهم ضرب بالجريد (د خورما په لرګي او سوکانو او په چوټو) فنزلت فيهم.

وَاِنْ طَآىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ

که د يو دوو ډلو د مؤمنانو سره جنګ سو. المخاطب بالصلح سائر المؤمنين غير

المقاتلين والاصلاح بالنصح لهما وان يمنع المبطل من الظلم ويدفع شبهته او دعوت
دي ورکړي دواړو ډلو ته الی کتاب الله وسنة رسول الله ﷺ وترک التباغض والتحاسد

پوښتنه: چي رد ونکی د خبري د عبدالله بن ابی عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ؤ وکان
خزرجيًا يعني د بني خزرج د قبيلې ؤ، او ابن ابی د اوس د قبيلې ؤ.

پوښتنه: عبدالله بن ابی خو کافر ؤ؟

ځواب: دا جنګ چي يې سره وکړی دا دواړي طائفې مؤمنان وه، د اوس او
خزرج قبيلې که څه هم مؤمنان وه لکن مراعات د قوميت پر غالب سو، نو ځکه يې
طائفتان من المؤمنين وايه.

سوال: بايد په ځای کي د اقتتلوا اقتتلا په ضمير د تثنيت ويل سوی وای کما
في قوله تعالی بينهما بضمير التثنية؟

ځواب: ضمير د جمع چي يې راوړی يعني اقتتلوا په اعتبار د معنی دی ولي
چي هره طائفه جماعت وه فقد روعی في الطائفتين معناهما اولاً ولفظهما ثانيًا.

فَإِنْ بَغَتْ إِحْدٰىهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ إِلٰٓى أَمْرِ اللّٰهِ

که چېري تعدي او بغاوت وکړی يوې ډلي پر بلې ډلي باندي يعني د کتاب الله
او د سنت د رسول الله ﷺ څخه يې هم بغاوت وکړی يعني دفع د ظلم يې په بندي ګرت
سره هم نه کېده، ولي دا ظالمي ډلي اتباع درلوده ''فقاتلوا التي تبغي آه''نو
تاسي قتال وکړئ، يعني په توره او سلاح سره پر هغه ډله چي باغي وي تر هغه وخته
چي رجوع کوي و امر ته د خدای، عن انس رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ انصر اخاک ظالمًا او
مظلومًا (ته کومک د ورور سره کوه که ظالم وي او که مظلوم وي) فقال رجل يا
رسول الله انصره مظلومًا د مظلوم سره به کومک وکړو يعني د ظالم څخه به يې
خلاص کړو، لکن د ظالم سره څرنګه کومک وکړو، قال عليه السلام تمنعه من الظلم، د ظلم
څخه يې منع کړئ فذالک نصرک معه (ولي د ګناه د ظلم څخه دي خلاص کړی) حتی
چي دغه باغيه ډله رجوع کوي و امر ته د خدای يعني صلح ته غاړه ايږدي.

فَإِنْ فَآءَتْ فَأَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوْا ۖ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝٩

نو که يې رجوع وکړه نو تاسي د مابين خلګ صلح وکړئ په مابين کي دد ي

دوو ډلو په عدالت سره، په لفظ کې د عدل اشاره ودې ته ده چې هغه مقاتله ددوی تاسې باعثه ونه ګرځوي پر ترک د عدل. "واقسطوا" او تاسې عدل کوئ په ټولو امورو کې د متخاصمينو (که څه هم په دنيايي امورو کې تخاصم وي لکه بيع و شراء وغير ذالک) نو هغه ته به خدای ښه عوض ورکړي.

فائده: د قسط معنی جور او ظلم ده والاقساط چې مصدر دی له بابه د افعال دی ازالة الجور يعني همزه لپاره د سلب د مجرد دی چې قسط دی نحو اقردته ای اذلت قراده (منګوړ)

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝

نه دي مسلمانان مګر ورونه دي، ولې چې ټول يو اصل ته منسوب دي وهو الايمان الموجب للحيوة البدية يعني په جنت کې ولما کان هذا الاصل يعني الايمان بواحدنيته تعالى وسائر المعتقدات الحقه هو النبي ﷺ کان هو ابا المؤمنين وازواجه المطهرات امهات المؤمنين، فلهذا لايجوز نکاح ازواجه لاحد من المسلمين بالاجماع کالام النسبي لايجوز نکاحها للابن "واتقوا الله لعلکم ترحمون" او د خدای څخه وبېرېږئ (يعني مخالفت د اوامرو او منهياتو د خدای مه کوئ)

پوه سه: چې جمله د انما المؤمنون آه تعليل او تقرير ده د امر بالاصلاح ځکه يې وروسته امر بالاصلاح پر مرتب کړی تاکيداً للاصلاح لکن په دې ځای کې وضع د اسم ظاهر چې اخويکم دی په ځای کې د ضمير راوړی يعني داسې يې وويل بينهم فافهم.

فائده: لعل چې حرف ترجي دی دلته په معنی د لام کی دی ولې چې تقوی سبب د الفت ده بين المؤمنين والتراحم بينهم، والتراحم موجب د رحمت د خدای عزوجل دی، قال عليه الصلوة والسلام انما يرحم الله من عباده الرحمآء، رواه المجدد في مکتوباته، او په بخاري او مسلم کې حديث مبارک دی چې روايت يې جرير بن عبد الله رضي الله عنه کړی دی "لايرحم الله من لايرحم الناس" البغوي وايي چې دا ايت چې رسول الله ﷺ دوی ته تلاوت کړی، نو دې دوو فرقو صلح سره وکړه وکف بعضهم عن بعض، روى البغوي وغيره عن سالم عن ابيه ان رسول الله ﷺ قال المسلم اخو المسلم لايظلمه (چې ظلم دې پر کوي) ولا يشتمه (بنکنځل) دې نه ورته کوي ومن کان في حاجت اخيه کان الله في حاجته ومن فرج عن مسلم کربة

(يعني يو غم او تكليف د دنيا) فرج بها كربة من كرب يوم القيامة.

پوه سه: چي تنوين د اول كربة لپاره د تحقير دى اى كربة حقيرة، او په كربة ثاني كي لپاره د تعظيم دى اى كربة عظيمة.

مسئله: له دې دوو آيتو څخه دا معلومه سوه چي د دوو ډلو مسلمانانو تجاوز يو پر بل ايمان نه زائلوي، لما قال الله تعالى: وان طائفتان من المؤمنين آه.

پوه سه: چي البغوي له ابن عباس څخه روايت كړى دى چي ثابت بن قيس په غوږو درونـد ؤ يعني كوڼ ؤ، او دى چي به رسول الله ﷺ ته راغلى او نور خلك به تر ده دمخه راغلي وه ده ته به يې ځاى وركاوه، ولي چي خلك يې په عذر خبر وه چي دى كوڼ دى چي عليه الصلوة والسلام ته به نژدې ناست نه واى د عليه الصلوة والسلام خبري يې نه اورېدلې، نو يو ورځ چي ثابت د سهار لمانځه ته راغلى يو ركعت ځني تېر سوى ؤ، نو رسول الله ﷺ چي د لمانځه څخه فارغه سو، نو اصحاب كرام پر راتېول سوه.

درويش وايي: چي له دې حديث څخه معلومه سوه چي عليه الصلوة والسلام د سهار تر لمانځه وروسته وعظ او تبليغ كاوه على خلاف ائمة مساجدنا في العصر الحاضر، هغه چي د سهار لمونځ وكړي يو ځاى تنوزي خوب مكروه خصوصًا في شهر رمضان چي د عصر حاضر ملايان د روژې د سهار لمونځ چي د سهار سپېدې چي ښكاره سوې دوى د سهار لمونځ كوي، وروسته په يوه حجره ننوزي تر پاخه څاښته پوري بيده وي، فيا اسفٰى على حالهم خصوصًا في شهر مبارك رمضان.

نو ثابت بن قيس بن شماس هغه تېر سوى ركعت كاوه خلكو خپل ځايونه نيولي وه، نو چا و چا ته ځاى نه وركاوه حتى چي يو سړى چي به راغلى او ځاى نه ؤ نو په ولاړي به ولاړ ؤ د عليه الصلوة والسلام خبري به يې اورېدلې، ثابت بن قيس چي راغلى نژدې و عليه الصلوة والسلام ته خو ځاى نه ؤ، نو د خلكو پر غاړه يې پښې اړولې او دا به يې ويل: تفسحوا ځايونه فراخه كړئ يعني نژدې نژدې سره كښېنئ حتى چي رسول الله ﷺ ته يې ځان ورساوه چي د ثابت او د عليه الصلوة والسلام تر مابين يو سړى ناست ؤ ثابت و هغه ته وويل چي ستا ځاى ماته راكړه هغه سړي ورته وويل چي ځاى د قرب د عليه الصلوة والسلام ورسېدى نور نو كښېنه، ثابت

مجبورًا د هغه و شا ته کښېنستی ډېر درد هم ورغلی چي هغه سړي ځای نه ورکړی حتی چي مجلس د علیه الصلوة والسلام پای ته ورسېدی ثابتؓ هغه سړی په لاس وټومبی او ورته وه یې ویل: من انت؟ ته څوک یې، هغه ورته وویل انا فلان، ثابتؓ ورته وویل هغه د فلانۍ زوی یې؟ یعني د مور نوم یې یاد کړی چي د جاهلیت په زمانه کي دا لوی پېغور ؤ، هغه سړي سر کښته وځړاوه او په دې پېغور وشرمېدی، ثابتؓ ته یې څه نه وویل، فانزل الله تعالی: .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی مسخرې یعني پسخند مه وهئ یو قوم په بل قوم پوري.

پوهسه: چي په قاموس کي وایي چي قوم و یو جماعت ته وایي نر او ښځې دواړو ته، او الرجال خاصة او ښځې په تبع پکښې داخلېږي، او په صحاح کي وایي (دا هم د لغت کتاب دی) القوم جماعة الرجال ته وایي په اصل کي او په دې آیت یې دلیل ویلی دی، ولي ښځې خدای ورو سته پر عطف کړي دي، او په مدارک کي وایي چي قوم په عامة القرآن الرجال والنساء جمیعًا ته وایي و حقیقة الرجال لقوله تعالی الرجال قوامون علی النساء، او قاضي بیضاوي وایي چي قوم په اصل کي مصدر دی د قام یقوم نعت به یعني صفت واقع کېږي (کزید عدل) یا جمع دی د قائم لکه زور چي جمع د زائر ده، والقیام بامور الدنیا وظیفة الرجال خاصةً، بیا قاضي بیضاوي د یو سوال جواب ورکړی دی چي قوم هود، قوم صالح، قوم لوط، قوم نوح خو نر او ښځې دواړه مراد دي، نو ده داسي جواب ورکړی دی چي دا یا بناء پر تغلیب دی د رجال پر ښځو یا یې اکتفاء په نرو سره کړې ده لانهن توابع الرجال.

سوال: ولي یې لفظ د قوم وو ایه چي جماعت ته وایي داسي یې نه وویل احد من احد؟

ځواب: سخریه غالبًا په مجامع کي کېږي.

عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ

شاید وي به دغه قوم (چي پسخند په وهل کېږي) ښه به وي تر هغو کسانو چي پسخند په وهي، او نه دي ښځې په ښځو پسخند وهي، ښایي چي مسخورات ښځې دي غوره تر ساخراتو ښځو وي.

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ

اللمز العيب والطعن باللسان يعني لا يعيب بعضكم بعضًا.

پوښتنه: په ايت کي خو انفسکم راغلی دی، او ترجمه يې تا په لا يعيب بعضکم بعضًا وکړه؟

ځواب: دا ترجمه بناء پر دې ده چي مؤمنان کنفس واحدة دي، نو ه يو سړی پر بل عيب ووايه کان کانه عاب نفسه کقوله تعالی: ولا تقتلوا انفسکم فان المراد في هذه الآية لا تقتلوا اخيکم لانه کقتل النفس، ولي مؤمن چي ته مړ کړې لکه ځان چي مړ کړې... بيت:

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

"ولا تنابزوا" قال البيضاوي النبز مختص باللقب السوء، يعني لا تدعوا بعضکم بعضًا باللقب لاسوء، قال البغوي قال عکرمه هو قول الرجل للرجل يا فاسق يا منافق يا کافر، او الحسن وايي چي يو يهودي يا نصراني چي به ايمان راوړی نو پس له اسلام به بعضو خلکو ورته ويل يا يهودي يا نصراني، نو مؤمنان نهي سول له دې وينا څخه، او عطاء وايي: هو ان تقول لاخيک يا حمار يا خنزير.

درويش وايي: چي په پښتو کي هم ورته الفاظ سته لکه يو چي بل ته وايي: پنډه يا نريه، يا چوخڼکه، يا ملا بوکې ونحو ذالک.

سوال: محدثين و سليمان ته وايي الاعمش او واصل ته وايي الاحدب، نو دا لقب سوء د قبيلې نه دی؟

ځواب: لقب سوء چي منهي عنه دی هغه دی چي لپاره د استخفاف ورته ووايي او که لپاره د معرفت او تميز ورته ووايي هغه ضرورت دی منهي عنه نه دی علامه بغدادي په روح المعاني کي وايي: وهذا غير النهي السابق (يعني لا يسخر قوم من قوم آه) که څه هم راوړې نهي مخصوص په مؤمنانو سره دی، دليل يې دا دی چي سخريه احتقار الشخص مطلقًا علی وجه مضحک چي خلک پر ده خاندي دده په حضور کي، واللمز التنبيه علی معاثبه سواء کان مضحک املاء وسوا کان بحضرته املا انتهی، نو عطف د لا تلمزوا پر لا يسخر عطف د عام پر خاص دی.

بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ

بد دی نوم د فسق پس له ایمان څخه یعني سړی ته وايي يا يهودي وروسته تر ايمان د هغه، يا سړي ته وايي يا شارب الخمر وروسته تر توبې د هغه.

درويش وايي: چي پر دې تفسير مراد له ايمان څخه عام دی چي توبې ته هم شامل سي، عن ابی ذرؓ قال قال رسول اللهﷺ لا يرمی رجل رجلاً بالفسوق ولا يرميه بالكفر (يعني نسبت د فسق دي ځوک نه کوي وچا ته او نه نسبت د کفر دي ورته کوي) الا ارتدت عليه ان لم يكن صاحبه كذالک (مګر نه چي دا دوې کلمې راګرځي و ده ته که هغه سړی دا غسي نه وُ) رواه البخاري، وعن ابن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺ من دعی رجلاً بالكفر او قال يا عدو الله وليس كذالک (يعني هغه سړی دا غسي نه وُ) الا جاء عليه (دا كلمه وه ته راځي) متفق عليه.

وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿١١﴾

او که چا توبه و نه کښه يعني د مذكوره منهياتو څخه چي سخريه، لمز او نبز دی، نو دغه کسان ظالمان دي.

پوه سه: چي ظلم وضع د شي ده بې ځايه، نو ده کښېښنو عصيان په ځای کي د طاعت او ځان يې پيش کړی و عذاب ته.

فائده: ضمير د لم يتب يې مفرد راوړی نظر و لفظ ته د مَن او ضمير د الظالمون يې جمع راوړی نظر و معنی ته د من ومثله كثير في القرآن الكريم ولسان العرب، ذكر البغويؒ ان رسول اللهﷺ چي به غزاء ته تلی يا به بل سفر ته چي خلک مسلمانان به ورسره وه نو يو سړی چي به مسكين وُ، دوو غني کسانو ته به يې وسپاری چي دا مسكين به ستاسي خدمت کوي او تر تاسي دمخه په دی قرارګاه ته ستاسي ورځ، او هورې به ددوی خوراکي شيان يا د ابو ترتيبات نسي، نو دا دوه غنيان به دده څخه اندازه د خورک وغيره نه غواړي، نو سلمان الفارسيؓ چي مسكين وُ ضم يې کړی و دوو غنيانو ته په بعض اسفارو کي نو سلمانؓ و منزل ته قرارګاه ته دمخه ځان ورساوه، چونکه ستړی وُ پرېوتی بيده سوی وُ، نو د هغو غنيانو لپاره يې خوراکي شی يا اوبه نه وُ برابر کړي هغو غنيانو ورته وويل: ما

صنعت شيئًا، کوم شی دي برابر کړی؟ سلمان رض ورته وويل: لا غلبتني عيناى يعني بې اختياره بيده سوم، نو هغو ورته وويل چي ورسه و رسول اللهﷺ ته د هغه څخه زموږ لپاره طعام راوړه، سلمان رض ورغلی د رسول اللهﷺ څخه طعام وغوښتی يعني د هغو دوو غنيانو لپاره چي سلمان رض يې خادم ؤ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته ورسه اسامه بن زيد رض ته که د هغه سره شی فاضل د طعام ؤ در به يې کړي، اسامه رض خازن د عليه الصلوة والسلام ؤ يعني پر مطعوماتو د سفر، نو سلمان رض و هغه ته ورغلی، هغه ورته وويل ما عندي شيئ، سلمان رض بيرته هغه دوو ملګرو ته ورغلی او ورته وه يې ويل چي ما چي د رسول اللهﷺ څخه طلب د طعام وکړی ستاسي لپاره هغه حواله پر اسامه رض راکړه اسامه رض وويل چي زما سره شی فاضل نسته چي تاته يې درکړم، نو ملګروورته وويل چي د اسامه رض سره خو شی ؤ لکن بخيلي يې وکړه، نو دوو غنيانو سره وويل چي سلمان داسي سوی پاله دی چي د ابوډک څاه ته يې څوک ور واستوي هغه ډک څاه به پر وچ سي، بيا دا دوه کسه راهي سوه چي د سلمان رض د دې خبري څېړنه وکړي چي رشتيا يې ويل که درواغ، خو اخيرًا و عليه الصلوة والسلام ته ورغله د طعام د غوښتنې لپاره عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي د غوښو بوی ستاسي د خولو څخه ځي؟ هغو ورته وويل والله يا رسول الله ماتنا ولنا يومنا هذا لحمًا، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي د سلمان او اسامه غوښې مو نه وخوړلې، يعني غيبت او بهتان مو پر ووايه چي سلمان چي پر ډک څاه ورسي هغه به وچ سي او پر اسامه باندي چي د اسامه سره خو فافضل طعام ؤ لکن بخيلي يې وکړه، فانزل الله تعالى هذه الآية.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ

ای هغه کسانو چي ايمان مو راوړی دی پرهېز وکړئ له ډېره څخه د ظن (مراد له ظن څخه دلته بدګماني ده لکه دغو دوو کسانو چي وکړی کما في حديث رواه ابو هريرة رض ان رسول اللهﷺ قال اياکم والظن فان الظن اکذب الحديث) په تحقيق بعض الظن ګناه ده يعني چي بد ګماني بې دليله پر مسلمان کوي.

پوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده لپاره د امر يعني اجتنبوا الخ، والاثم ګناه ته وايي چي کونکی يې مستحق د عقوبت وي لکه په ځای کي غيبت او بهتان.

Scanned by CamScanner

فائده سنيه: پوه سه! ظن چي مقابل د يقين دی پر څو قسمه دی (۱) مايجب اتباعه وهو حسن الظن بالله تعالی ورسوله والمؤمنين والمؤمنات، او يا هغه شی چي په دليل شرعي تحو ثابت وي چي په هغه کي يوه شبهه وي لکه خبر واحد په اصطلاح د محدثينو او په قياس سره د شرائطو چي په اصول الفقه کي ذکر سوي دي، چي په هغه موضوع دليل قاطع نه وي نو بايد حسن ظن سړی عمل په وکړي په عملياتو کي لکه اودس غسل وغيرهما (۲) ما يحرم اتباعه کسوء الظن بالمؤمنين والمؤمنات خصوصًا الصالحين والصالحات والظن في الالهيات والنبوات حيث يخالفه دليل قاطع (۳) د دواړو څخه مخالف وي لکه ظن په امورو کي د معاش يعني چي فلانی تجارت وکړم ډېره ګټه به راته وکړي، يا امريکا ته ولاړ سم ډېري روپۍ به وګټم وامثالها.

پوښتنه: ګناه خو بعض ظن دی وهو القسم الثاني او الله عزوجل داسي وويل يا ايها الذين آمنوا اجتنبوا کثيرًا من الظن؟

ځواب: دا خدای عزوجل احتياطًا او مبالغةً وويل فيجتنب المؤمن عما هو اثم او ما يشبه به، قال رسول اللهﷺ الحلال بين والحرام بين وبينهما امور مشتبهة الی اخير الحديث الطويل رواه البخاري وغيره.

وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًاؕ

پوه سه: چي اصل دديٍ لفظ تتجسسوا ؤ، حذف منه احدی التائين، والمعنی تاسي بحث او تلاش مه کوئ د عيبو د مسلمانانو، باب د تفعل دی لپاره د تکلف يعني مسلمان خپل عيب پټ ساتي ته نو تکلف مه کوه په ښکاره کولو کي د هغه د عيب، له زيد بن وهب‌رض څخه روايت دی چي موږ وويل و ابن مسعودرض ته چي ته څه وايه د الوليد بن عقبه بن ابی محيط په باره کي چي تر ږيري يې شراب تويېږي؟ فقال ابن مسعودرض ان نهينا عن التجسس، موږ منع کړل سوي يو يعني په قرآن کي له تجسس څخه فان يظهر لنا شيئ نأخذه به، که په دې کي موږ ته يو شی (يعني شرب الخمر) موږ يې نسو په شي (يعني د شرب الخمر حد ورکوو) وفي الحديث النبوي کان رسول اللهﷺ في دعائه اللهم استر عوراتنا (خدايه پټ کړې سوږ عيبونه) وآمن روعاتنا (او په امن بدلې کړې زموږ بېري)

درویش وایي: چي کـه څه هم پـه علیـه الصلوة والسلام کي عیب نه ؤ لکن تعلیمًا للامة یې دا دعاء وکړه.

راویان د مناقبو د عمر رضی الله عنه وایي چي یوه شپه چي ده شب ګښتي کوله کما هو عادته في بعض اللیالي، نو ده ولیدل چي پـه یوه سرای کي څراغ لګېدی او دی ورغلی د دروازې تر چوله یې ورته وکتل چي یو څو کسه ناست دي شراب نوشي کوي، نو عمر رض وپوهېدی چي زه څرنګه چار چلند وکړم د دغو کسانو سره نو مسجد نبوي ته راغلی نو د عبدالرحمن بن عوف رض یې له کور څخه راویستی، نو هغه یې هم وروستی هغه کورته هغه ورته کتل چي شراب نوشان په شرابو څیښلو بخت وه نـو عمر رض و عبدالرحمن بن عـوف رض تـه وویـل: کیف تری ان نعمل، ستا څه رایه ده چي زه د دغو خلګو سره څه وکړم؟ عبدالرحمن بن عوف رض ورته وویل انا قد آتینا ما نهی الله عنه یعني لاتجسسوا، نو ګماو تا خو هم تجسس وکړی واطلعنا علی عـورة قـوم ستروا ...... ولا یجوز لنا کشف ستر الله، عمر رض ورتـه وویـل مـا اراک الا قد صدقت، نو دواړه ځني راهي سول.

ترمذي له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کړی دی چي نبي الله ﷺ وویـل: یـا معشر المسلمین من آمن بلسانه ولم یغض الایمان الی قلبه او ایمان زړه تـه نه دی رسېدلی تاسي غیبت د چا مه کوئ یعني د مسلمانانو، ولا تتبعوا عوراتهم، تاسي تلاش مه کوئ د پټو رازو د مسلمانانو فانه من تـتبع عـورات المسلمین یتبع الله عـوراتهم خدای ج به د هغه سړي د عوراتو تتبع وکړي او رسوایي ولو في جوف رحله.

"ولا یغتب بعضکم بعضًا" ای لا یذکر بعضهم بعضًا في غیبته بسوء، وعن ابی هریـرة رض ان رسـول الله ﷺ قـال یعنـي حاضـریتو تـه چي اصـحاب کـرام رضی الله عنهم دي اتـدرون مـا الغیبـة؟ قـالوا الله ورسوله اعلم قـال ذکر اخاک بمـا یکره، چـا ورتـه وویل: ان کان في اخي ما اقول؟ که زما پـه ورور کي دغـه بد کـار چي ذکر کوم یې موجود ؤ، رسول الله ﷺ ورته وویل که دي په ورور مسلمان کي هغه شی موجود ؤ او تا یې بیان وکړی، فقد اغتبته وان لم یکن فیه ماتقول فقد بهتـه نو بهتـان دی پـر وایي یعني بهتان خو تر غیبت سخت ګناه ده.

درويش وايي: چي هم دا وجه ده چي په ايت کي خداى عزوجل غيبت ذکر کړې نه بهتان حديث متفق عليه دى او په دې باب کي نور ډېر احاديث صحيحه راغلى دى چي استيصاب د ټولو د فقير تر علم بالا دى.

اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ

آيا خوښه ده د يوه ستاسي چي خوري غوښي د وروړ چي هغه مړ وي.

پوه سه: چي دا يو مثال دى او تصوير دى د هغه ګناه چي غيبت کونکي ته رسېږي، د غيبت شخه د ورور مسلمان، على افحش وجه واشنعه طبعًا وعقلاً وشرعًا مع مبالغات من فنون شتى (۱) چي اسناد د فعل واحد ته وکړي اشعارًا بان احدًا من الاحدين لايفعل ذالک يعني چي د ورور غوښي دي خوري (۲) استفهام تقريري من حيث انه لايقع الا في مسلم عند کل سامع حقيقة او ادعاء (۳) تعليق د محبت بما هو في غاية الکراهة (۴) تمثيل الاغتياب يأکل لحم الانسان (۵) وجعل المأکول لحمه اخًا للآکل (۶) او بل چي مأکول لحمه ميت هم وي (۷) وتعقيب ذالک بقوله "فکرهتموه" حملاً على الاقرار وتحقيقًا لعدم محبة ذالک من احد.

درويش وايي: چي له انس بن مالک رضي الله عنه شخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل لما عرج بي (چي زه خداى پاک اسمانو ته بوتلم) زه پر يو قوم تېر سوم چي نوکان يعني د ګوتو يې له مسو شخه وه يعني تېره وه او خپل مخان او د نورو ځايو غوښي به يې په ګروول، نو ما ورته وويل دا شوک دي چي په داسي عذاب اخته دي؟ فقال اى الله تعالى او جبرئيل: دا هغه کسان دي چي د انسانانو غوښي يې خوړلې او د خلګو په ابرو يې کي به يې بحث کاوه يعني غيبت به يې کاوه د ورور مؤمن، رواه البغوي.

قال ميمون رحمه الله بينا انائم يعني په دې مابين کي چي زه بيده وم د يو حبشي مړه جثه يعني بدن پروت ؤ، يو قائل ماته وايي کل دا وخوره قلت يا عبد الله لم اکل؟ اى بنده د خداى زه يې ولي وخورم، قال بما اغتبت عبد فلان ما ورته وويل ما ذکرت فيه خيرًا، ولاشرًا قال بما سمعت ورضيت چي د هغه وغيبت ته دي غوږ نيولى ؤ او په راضي وې، راوي وايي چي ميمون رحمه الله د هيڅ چا غيبت نه کاوه نه يې شوک پرېښو چي د ده په حضور کي د چا غيبت وکړه سي، ګويا ده يوه ورځ شرنګه اتفاقًا و غيبت

ته غوږ نیولی ؤ، نو دا خوب یې ولیدی.

فائده: د غیبت کفاره داده: عن انس ؓ ان رسول اللهﷺ قال ان من کفارة الغیبة ان یستغفر لمن اغتبته یعني ان یقول الله اغفر.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۲﴾

د خدای ؒ څخه وبېرېږئ بترک ما نهیتم عنه والندم علی صدر منکم.

درویش وایي: چي دا قول د خدای تعمیم بعد التخصیص دی لکه چي دمخه په آیتو کي تېر سو.

پوه سه: چي تواب صیغه د مبالغې ده، والمعنی یقبل توبتکم مبالغ في قبول توبتهم حیث یجعل التائب من الذنب کمن لا ذنب له کما في الحدیث النبوي الصحیح "الرحیم" مهربانه دی حیث منعوهم من المعاصي التي تضرهم في الآخرة مثل الغیبة والتجسس.

درویش وایي: چي البغوي ؒ وایي چي مقاتل ؒ وایي چي ورځ د فتح د مکې چي راغله رسول اللهﷺ بلال ؓ امر کړی چي د مکې بام ته وخېژه او اذان وکړه، بلال ؓ هم داغسي وکړه، نو عباد بن اسید وویل: الحمد لله الذي قبض، حمد دي وي و خدای ته چي زما پلار یې دمخه مړ کړی چي دا ورځ یې نه په ولیده، او حارث بن هشام وویل: اما وجد محمد غیر هذا الغراب الاسود (غیر د دې تور کارګه بل مؤذن مراد بلال حبشي ؓ ؤ) او سهیل بن عمرو وویل ان یرد الله شیئًا یغیره، قصد یې دا ؤ چي فتح د مکې به بیرته په لاس ورسي یعني بیرته به یې موږ ونسو، او ابو سفیان وویل چي زه څه نه وایم اخاف ان یخبر به رب السماء (چي خدای ؒ د اسمان به محمد ته خبر ورکړي فاتاه جبرئیل علیه السلام فاخبر رسول اللهﷺ) نو علیه الصلوٰة والسلام دغه ناموړي کسان راوغوښتل او پوښتنه یې ځني وکړه هغو اقرار وکړی بما قالوا فانزل هذه الآیة، او په دې آیت کي خدای ؒ دوی ته زجر ورکړی تفاخر بالانساب کما في الجاهلیة، والتکاثر في الاموال، او عیب ویل پر چا په فقر سره.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ

ای خلګو موږ تاسي پیدا کړي یاست د یوه نر او د یوې ښځي څخه، یعني آدم

و حواء مراد د ضمير المتكلم مع الغير څخه نوع د ټوله بشر ده، يا وروسته تر آدم او حواء كل واحد منكم من اب وام فلا مرية لاحد على الآخر ولا وجه للتفاخر في الانساب، او داسي هم كېداى سي چي دا ايت دي اثبات او ټينګول وي د اخوت چي مانع د غيبت وكرځي.

درويش وايي: چي عرب په نسب كي شپږ طبقې دي، وايي چي اعلاها الشعب چي يو جمع عظيم ته وايي چي يوه اصل ته رسېږي (لكه په پښتو كي لفظ د پښتون يا پټهان چي اصل يې فتحان دى) او وروسته يا هغه پر قبائلو مشتمل دى لكه لفظ د عرب، او قبيله بيا و عمائرو ته وېشل كېږي (لكه په پښتنو كي غلجي او دراني) او عمائر بيا بطونو ته شامل دى، لكه په پښتو كي سليمانخيل، الكوزي وغيرهما، او بطن بيا افخاذ ته شامل دى لكه په پښتنو كي قيصر خيل يا علي خيل وغيره په غلجي كي، والفخذ شامل و فصائلو ته والفصيلة مجمع العشائر وليس بعد العشيرة.

پوه سه: چي د (تتعارفوا اصل يې تتعارفوا ؤ يوه تا يې څني حذف كړه، والمعنى چي تاسي سره وپېژنئ قرب النسب وبعده لا للتفاخر لكه په پښتنو كي چي دراني قبائل پر غلجي قبائلو فخر كوي)

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ

په تحقيق هغه عزت مند په نېز د خداى ستاسي هغه دئ پر تقوا داره دى ثم وثم الى ان ينتهى الى نفس المؤمن، وفي الحديث الصحيح ان ربكم واحد وابوكم واحد لافضل لعربي على اعجمي ولا لاعجمي على العربي ولا لاحمر على اسود ولا لاسود على الاحمر الا بالتقوى وعلى هذا اجماع العلماء كذا في بحر العلوم، وقال الشاعر العربي:

الناس من جهة التمثال سواء	ابا هـمـو آدم والام حـواء
فان يكن لهـموا من اصلهم	نسب يفاخرون فالطين والماء

از نسب آدمياني كه تفاخر ورزند، هركرا تقوى بيشتر باشد او درمرتبه فضل پيشتر باشد.

ولنعم ماقيل: ... الشرف بالفضل والادب لا بالمال والنسب

وعن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الحسب بالمال (اى جاه د دنيا) والكرم بالتقوى (اى عزت په اخرت كي) رواه احمد والترمذي، وقال ابن عباس رض

كرم الدنيا الغناء وكرم الآخرة التقوى وعن ابن عمرؓ ان رسول اللهﷺ طاف يوم الفتح (اى فتح مكة) على راحلة يستلم الاركان بمحجنة (په لكړه سره) فلما فرغ (من الطواف) د اوښي د چوكېدو ځاى نه ؤ، نو د خلكو پر لاسو راكښته سو، ثم قام فخطب الناس وقال الحمد لله اذهب عنكم عبية الجاهلية وتكبرها، الناس رجلان (يعني خلك دوه قسمه دي) بر تقي كريم على الله وفاجر شقي مهين على الله (سپك دي په نېز د خداى) ثم تلى يا ايها الناس انا خلقناكم من ذكر و انثى الى اخيرها، ثم قال اقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم، رواه الترمذي والبغوي.

وعن ابى هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ امر الله مناديًا (ناره كونكي يعني ملكه) قال الا اني جعلت نسبًا وجعلتم نسبًا فجعلت نسبي اكرمكم اتقاكم فابيتم تقولوا فلان بن فلان خير من فلان بن فلان فاليوم ارفع نسبي اين المتقون (يعني چي جنت ته يې واستوم) او مسلم د ابى هريرهؓ څخه روايت كړى دى قال قال رسول اللهﷺ ان الله لاينظر الى صوركم واموالكم ولكن ينظر الى قلوبكم (چي په زړه كي دي اخلاص سته) واعمالكم.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾

په تحقيق خداى عليم او خبير دى ببواطنكم وفضائلكم، امام بغويؒ وايي چي ځني كسان د بني اسد د قبيلې سره د آل و عياله و عليه الصلوة والسلام ته راغله په يو كال كي د كاختۍ، فاظهروا الاسلام لكن لم يكونوا مؤمنين في السر يعني په زړه كي مسلمانان نه وه، نو دوى د كثرت په سبب د مدينې كوڅې مرداري كړې په قاذوراتو سره، او په مدينه كي نرخونه د خوراكي شيانو ډېر لوړ سوه، نو دوى به سهار او مازديگر رسول اللهﷺ ته راتله او دا به يې ورته ويل چي نور عرب چي تاته به راتله پر اوښانو به سپاره وه، و جئناك بالاثقال (يعني درانه شيان چي د كلي او د كورو شيان دي) او په عيالو سره او موږ ستا سره جنګ و نه كړى لكه بنو فلان او بنو فلان، دا دوى احسان اچاوه پر عليه الصلوة والسلام او غرض يې صدقه غوښتل وه، و يقولون اعطنا اعطنا، فانزل الله عالم الغيب والشهادة.

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ

وايي صحراء نشينان چي موږ ايمان راوړى دى، او السدي وايي چي دا آيتونه په هغو اعرابو كي نازل سوى دى چي په سورة الفتح كي خداى ذكر كړي دي، وهم اعراب جهينة ومزينة واشجع و غفار (دا ټوله د قبائلو نومان دي) قالوا آمنا ددې غرض لپاره چي خپل ځانونه او مالونه او عيالونه له جنګه د عليه الصلوة والسلام په امن كي وساتي، نو هغه ؤ چي عليه الصلوة والسلام سره د (١٤٠٠) كسانو سره عمرې ته تلى دغو قبائلو ته يې هم خلګ ورواستول چي تاسي هم راووځئ (دوى د اهل مكې له بېري څخه نه راووتل) او بل ددوى دا ظن ؤ چي عليه الصلوة والسلام او مسلمانان به بيا مدينې ته راستانه نه سي، يعني كفار مكه به دوى ټوله ختم كړي، لكن هغسي ونه سوه بلكې عليه الصلوة والسلام او مؤمنان ورسره په حديبيه كي د كفارو سره صلح وكړه كمامر بيانه بالتفصيل في تفسير سورة الفتح.

قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

ووايه ته يا محمد (ﷺ) دوى ته تاسي ايمان نه دى راوړى، ولي ايمان خو صفت د زړه دى عبارة عن تصديق القلب، والاقرار ركن زائد دى لاجراء احكام المؤمنين على من اقر بكلمتى التشهد يعني اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدًا رسول الله.

پوه سه: چي اسلام عبارت دى له انقياد ظاهر څخه.

"ولما يدخل الايمان في قلوبكم" او هرګز نه دى داخل سوى ايمان ستاسي په زړو كي، دا جمله حال ده له فاعل څخه د قولوا يا عطف ده پر لم تؤمنوا لپاره د تاكيد د هغه.

وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾

او كه تاسي اطاعت او فرمانبرداري وكړه په اوامرو او منهياتو كي د خداى او د رسول د خداى نه كموي خداى ستاسي له اعمال حسنه څخه هيڅ شى يعني ثواب كم نه دركوي او خداى بخښونكى د ګنهو دى د بندګانو او مهربان دى پر دوى.

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا

نه دي مؤمنان مګر هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي پر خدای ج بالتوحيد وسائر الصفات الجمالية والجلالية له تعالی او پر رسول د خدای په رسالت سره يعني بالقلوب مخلصين غير منافقين والامتثال لاوامرهما "ثم لم يرتابوا" وروسته شک نه لري فيما جاء به الرسول ﷺ.

فائده: کلمه د ثم چي يې راوړه ددې لپاره چي دا عدم ارتياب به جاري وي په ټولو ازمنه متراخيه ؤ کي الی اخير اجزاء حيو تهم لکه په ابتداء کي د ايمان.

وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝

او دوی جهاد کوي د کفارو سره په خپلو مالو او ځانو سره په لاره کي د خدای ج يعني په ترويج د دين د اسلام، او دا هم ترجمه کېدای سي چي مجاهده د شيطان او د خواهشات نفسيه کوي چي په قرآن کريم کي يې تعبير په هوٰی کوي، يا مجاهده کوي يعني د عبادات قلبيه او ماليه او بدنيه ؤ، نو پر دې تقدير دا آيت امتثال د ټولو اوامر الهيه ؤ او پرهېز کول د ټولو منهياتو ته شامل دی "اؤلئک" دغه کسان چي موصوف په دغو صفاتو سره وي دوی دي صادق په دعوی کي د ايمان کامل.

قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

ته ورته ووايه دغو اعرابو ته آيا تاسي خدای ج ته ورښياست خپل دين بقولکم آمنا، په داسي حال کي چي خدای خبر دی په هغه څه چي په اسمانو کي دي او هغه چي په مځکه کي دي، يعني الله عزوجل خبر دی په ټوله ما في السمٰوات ومافي الارض سره فکيف لايعلم ايمانكم.

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

او الله په هر شي خبر دی، عطف علی ما سبق يعني والله يعلم تاکيدًا للرد علی الاعراب.

يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ

دوی پر تا احسان واچاوه د خپل اسلام.

درویش وايي: چي دا آيت په حال پوري د اعرابو مربوط نه دی، بلکې د دې شان نزول الطبراني په روايت د الحسن ؒ څخه داسي ذکر کړی دی، ان ناسًا من العرب قالوا يا رسول الله اسلمنا ولم نقاتلک وقاتلوک بنو فلان قالوا ذالک بعد ما فتحت مكة، فنزلت يمنون عليک الى اخير الآية.

قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٧﴾

بلکې خدای پر تاسي احسان اچوي د دې چي هدايت يې در کړی تاسي ته يعني توفيق يې درکړی د ايمان او په زړو کي يې تصديق درپيدا کړی، که تاسي رشتيا وایاست، په "ان كنتم آه" کي اشاره ودې ته ده چي ټوله به په دعوی کي اوس هم صادق نه وي.

پوه سه: چي ان شرطيه دی جزاء له ماقبل څخه فهمېږي يعني فالله يمن عليكم الى اخيرها د دې سببه چي د ټولو ايمان اوس هم مشکوک دی، دا آيت خدای ؒ راوړی.

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨﴾

او خبر دی خدای په غيب د اسمانو او د مځکي، او خدای دانا او خبر دی په ما تعملون سره.

فائده: مراد له غيب السموات والارض څخه ما غاب عن المخلوق لانه لايتصور الغيب عن الله.

پوه سه: چي کلمه د ما که موصوله وي نو عائد يې محذوف د ای بما تعملونه، او که مصدريه وي نو معنی يې داده بعملكم وعلى التقديرين معنی او حاصل يې دادی لايخفى عليه شيئ.

درویش وايي: بحمد الله وتوفيقه تفسير د سورة الحجرات وپای ته ورسېدی په وخت کي د ځابښت ورځ د پنجشنبې اول د ذی القعدې د مياشتي سنه (١٤٣٢) حين كان عمري (٩٨) كاله، ورپسې سورق ؔ شروع کېږي ان شاء الله تعالی.

اللهم وفقنی جميع اجزاء القرآن بالخير والعافية.

سُوْرَةُ قٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

الحمد لله حمدًا كثيرًا جزيلاً جميلاً طيبًا مباركًا فيه ومباركًا عليه كما يحب ربنا ويرضٰى والصلوة والسلام على سيد نوع البشر الذي وصل به الله عزوجل الى مقام قاب قوسين او ادنى الذي قال عزوجل فيه ما زاغ البصر وما طغٰى سيدنا ونبينا ومولانا محمدًا ﷺ وعلى آله واهل بيته واصحابه اجمعين وازواجه امهات المؤمنين وجعلني الله بفضله وكرمه من مجيه في الدنيا والآخرة وما ذالك على الله بعزيز برحمتك يا ارحم الراحمين آمين آمين امين ... بيت:

افاقها گرديده ام بسيار خوبان ديده ام اما توچيزی ديگری

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۚ①

درويش وايي: چي تفصيل د مقطعات قرآنيهؤ او اختلاف د علماؤ فيها په اول کي د سورة البقره د تفسير تېر سو، والحق چي دا حروف سِر بين الله تعالى و رسوله ﷺ لايعلم تأويله الا الله.

فائده: مظهري وايي چي بعض راسخين في العلم يې هم په تأويل خبر دي، فقير وايي چي دا خبره دده خلاف المذهب ده، ولي په نېز د احنافو کثرهم الله وقف پر الا الله لازم دی، نوري توجيهاتي چي علماء کرامو ؒ کړي دي په هغو سره خدای ؑ خبر دی ''والقرآن'' الواو للقسم، له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي والقرآن قسم دی ''المجيد'' ای ذو المجد والشرف، او لکونه کلام الرب المجيد، او يا له دې سببه چي ځوک چي قرآن زده کړي او په معانيو ځان خبر کړي او عمل يې په احکامو سره وکړي هغه ته خدای عزوجل مجد او بزرگي ورکوي.

پوه سه: چي جواب د قسم محذوف دی ای لصدق رسوله المنذر او يا دا لتبعثن الى غير ذالک.

بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ

پوه سه: چي بل په معنى د قد دی ای قد عجبوا کفار مکة ''ان جاءهم'' منصوب دی په نزع د خافض ای من ان جائهم ''منذر منهم'' بېرونکی يعني محمدًا ﷺ من جنسهم او من قومهم چي دده دې څخه د دوی غرض داؤ چي دوی دمخه تر دعوی د نبوت په

عدالت دده حتى چي دوى دمخه تر دعوى د نبوت آمين مكه باله، يعني ان من كان كذالک لايکون الا ناصحًا لقومه او بيربري چي دوى ته دي د خداىؐ عذاب رانه سي، په حديث كي د بخاري راغلي دي چي يوه ورځ عليه الصلوة والسلام د صفا پر غره ودريدى او پټو يې ښوراوه او سبطو (قومو) ته يې نوم په نوم نارې وهلې يا بني هاشم يا بني عبد مناف الى غير ذالک، نو دوى ټوله ورغله چي څه پيښه ده چي محمد ﷺ تو دې تو دې پرله پسې نارې وهي، دوى چي ورغله عليه الصلوة والسلام ورته وويل: تاسي راته ووايا ست كه ما تاسي ته وويل چي يو لښكر ما وليدى په دې شيله كي (وفي رواية وراء هذا الجبل) چي پر تاسي د غارت كولو اراده لري تاسي زما تصديق كوئ؟ هغو ورته وويل: نعم ما جربنا عليک كذبا، بلكې صادق يې هميشه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل فاني نذير لكم بين يدي عذاب شديدًا (يعني كه ايمان نه راوړئ) ابو لهب ورته وويل تبًا لک (يعني هلاكت دي وي تا لره) الهذا جمعتنا او په څو شګو يې عليه الصلوة والسلام وويشتى، وفيه نزلت سورة تبت يدا ابى لهب تر پايه پوري، رواه البخاري ومسلم عن ابن عباس رضي الله عنهما.

فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ۚ ②

دا يو كار دى د تعجب وړ.

پوه سه: چي هذا اشاره ده دې ته چي خداى ﷻ محمد ﷺ مختاره كړى د نبوت لپاره.

درويش وايي: چي په يو بل آيت كي راغلي دي من بيننا ددوى زعم باطل داؤ چي مستحق د رسالت خو بايد يو مالدار سرمايه دار سړى واى لكه وليد بن المغيرة په مكه كي، يا يو لوى قومي مشر واى لكه عروة بن مسعود الثقفي په طائف كي، ددوى جاهلانو داګمان نه ؤ چي رسالت فضل الهي دى يؤتيها من يشآء من عباده يا اشاره وبعث بعد الموت ته كمايدل عليه هذه الآية.

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌ بَعِيْدٌ ③

دا آيت متعلق دى په محذوف سره تقديره انرجع الى الحيوة، والمعنى آيا چي موږ مړه سو او ګرځو خاوري "ذالک" دغه رجع وبيرته ژوند ته "رجع بعيد" يعني بعيده ده له عادت او له امكان څخه.

درویش وایي: چي له دوی څخه چي به چا سوال وکړی چي ته چا پیدا کړی یې؟ دوی به ویل چي خدای پیدا کړی یم، نو دوی جاهلان په دې نه پوهېدل چي هغه ذات والا قدرت عظیمه چي پر اوبو یې نقشبندي ده یعني نطفه د مور او پلار، ولقد خلقنا الانسان في احسن تقویم کړې ده هغه ذات مقتدر پر خاورو د هغه صورت انساني نقشبندي نسي کولای؟ فانکارهم انکار بعید من العقل والنقل فافهم هداک الله.

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ ۚ

په تحقیق موږ خبر یو په هغو اجزاء د دوی چي مځکي خوړلي وي د غوښو د مړو د دوی او له هډوکو څخه وغیرها.

درویش وایي: چي رد دی د استبعاد د دوی چي اجزاء تفرقت فلا تعلم حتی تعاد بزعمهم الفاسد، حاصل د رد یې دادی چي د دوی اجزاء متفرقه موږ ته معلوم دي اذ لا یعزب من علمنا شیئ فلا علینا جمعها واعادة الروح فیها.

وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝٤

او زموږ سره یو کتاب سته چي محفوظ دی له شیطانانو څخه او د اندارس او تغیر څخه (نو فعیل په معنی د مفعول دی) او بعض مفسرین وایي چي فعیل په معنی د فاعل دی ای حافظ لتفاصیل الاشیاء کلها چي لوح محفوظ یعلم به من عنده من الملائکة ثم رد الله سبحانه انکارهم بنبوة محمد ﷺ، فقال:

بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝٥

بلکې دوی تکذیب کاوه په حق سره چي نبوت د علیه الصلوة والسلام دی چي ثابت دی په معجزاتو سره چي خارق د عادت الهي دی کشق القمر وشهادة الاحجار في ید ابی جهل، مظهري وایي چي دا اضراب دی د اضراب اول څخه ولي هغه شی چي ثابت وي په ادلة قطعیهٔ سره فوق دی تر نفس تعجب والاستبعاد.

"لما جائهم" څنګه چي دوی ته راغلی (لما جائهم ظرف دی د کذبوا) نو دوی په یو امر کي دي چي په هغه کي دوی مضطرب دي، یعني علیه الصلوة والسلام ته موږ څه وو ایو یعني ګاهي به یې ویل چي شاعر دی او ګاهي به یې ویل چي ساحر دی، ګاهي به یې ویل چي معلم دی یعني بل یې وربنیي، ګاهي به یې ویل چي

مجنون دی ګاهي به یې ویل چي مفتر دی یعني په قصده دروا غ وایي چي دا اقوال سره ضد او نقیض دي، اوس خدای پاک ددوی د تکذیب رد وکړی، اوس د خپل قدرت دلیل وایي پر بعث بعد الموت.

اَفَلَمْ یَنْظُرُوْٓا اِلَی السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَیْفَ بَنَیْنٰهَا وَزَیَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝۶

پوه سه: چي همزه د استفهام والتوبیخ ده یعني فکر نه وهي والانکار پر دغه فکر نه وهلو، او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر تقدیره اکذبوا بالبعث (هذا هو المقدر فلم ینظروا حین کذبوا)

فائدة في جمیع الآیات القرآنیة چي وروسته تر همزه د استفهام یو د حروف عاطفهؤ ځخه راسي معطوف علیه یې مقدر دی په مناسبت د مقام سره کما مثلنا في هذه الآیة وقد ذکرت هذه الفائدة مکررًا في هذا التفسیر لکی لا یغفل المتعلم منها.

"الی السماء فوقهم" اسمان ته تر دوی لوړ، لفظ د فوقهم یا حال دی د سماء ځخه او ظرف متعلق به "کیف بنینها" ځرنګه موږ پیدا کړي دي پورته بېله میله وتنبې "وزیناها" او ښائسته کړی مو دی په لمر، سپوږمۍ او ستورو سره، نسته ځیري ځایونه او چاودي په اسمان کي بلکې یوه سطح املس پر محیط ده مع ان طول زمان بنائها یقتضی الفروج وکلمة من زائده لاستغراق النفي.

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَیْنَا فِیْهَا رَوَاسِیَ وَاَنْۢبَتْنَا فِیْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِیْجٍ ۝۷

"الارض" منصوب علی شریطة.

فائده: د منصوب علی شریطة معنی داده چي اصلاً لفظ الارض منصوب دی په مدناها سره بیا یې هغه عامل مقدم ځني حذف کړی وروسته یې ذکر کړی.

پوښتنه: ددې حذف او بیرته راوړلو فائده څه ده؟

ځواب: فائده یې داده چي قاري چي لفظ د الارض منصوب په عامل کي د نصب یې حیران او متردد سي او طالب ته د عامل وروسته چي ذکر سي هغه انتظار یې زائل سي، اهل معاني وایي چي هر علم چي وروسته تر طلب او انتظار حاصل سي هغه الذ وي او اوقع في الذهن وي، والی هذا اشار العارف الجامي رحمه الله:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری با امید رسد امیدواری

وترجمة الآية: مځکه موږ کش کړې ده طولاً وعرضًا تاچې مستقر د انسانانو او حيوانانو او ددوی د محتاج اليه وګرځي، او موږ اچولي دي يعني پيدا کړي مو دي په مځکه کي يعني فوقها جبال ثوابت چي مځکه ونه ښوري لکه په بل ځای کي د قرآن کريم چي راغلي دي "وانبتنا فيها من کل زوج" او موږ شنه کړي دي په مځکه کي له هره صنفه څخه د نباتاتو او د درختو څخه رزقًا للانسان والحيوان "بهيج" حسن الصورة والبهيجة السرور.

تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝

"تبصرة وذکری" دواړه لفظه منصوب دي علة غاية له ماقبل څخه فان المقصود من خلق الاشياء کونها تبصرة بينائي وتذکرة يعني دال وګرځي پر وجود د صانع مقتدر قديم واجب الوجود کامل الصفات وحکيم "لکل عبد منيب" چي رجوع يې و پيژندلو ته د خدای ؒ وي چي فکر په مخلوقاتو کي د خدای ؒ و وهي وانما خص العبد المنيب لانه المتنفع بها، چه خوش گفته سعدي شيرازي ؒ:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝

او موږ نازلي کړي دي له اسمان څخه اوبه مبارکي، يعني کثير النفع چي مراد ځني نفع د انسانانو او د حيوانانو ده کما قال "فانبتنا به جنات" موږ را شنه کړي دي په هغو اوبو سره باغونه د رقم رقم مېوو لکه خورما، انګور، انار وغيرها.

درويش وايي: چي مظهري ؒ وايي چي د حب اضافت و حصيد ته اضافت د عام دی و خاص ته، ولي حب مطلق دانو ته وايي او حصيد چي معنی يې محصود ده يعني په لورو سره رېبل کېږي، ټولي دانې چي له مځکي څخه راوزي ټولي دانې نه کوي، بلکې خاصي دانې چي د انسانانو منتفع به لکه غنم، اوربشي، جوار، ورجي وغيره، نو دی وايي چي دا داسي اضافت دی لکه اضافت حق اليقين (چي حق تر يقين عام دی لان الظنون قد يکون حقًا وليس بيقين) وکل الدراهم وعين الشيئ، او بعض مفسرين په نقل د مظهري وايي چي دا اضافت من قبيل مسجد الجامع بمعنی مسجد الصلوة الجامع وصلوة الاولی بمعنی صلوة الساعة الاولی انتهی.

او روح المعاني يې داسي ترجمه کړې ده اى حب الزرع الذي من شانه ان يحصد بالمناجل من البر والشعير وامثالها، فالاضافة لما بينهما اى الحب والحصيد من الملابسة والحصيد بمعنى المحصود صفة لموصوف مقدر دى الزرع، يا ده اشاره ورد ته د هغه تفسير کړې ده چي د قسم څخه د مسجد الجامع يې بولي يا مجاز په اعتبار د ما يؤل اليه يې بولي، دى وايي لامن قبيل مسجد الجامع ولا مجاز باعتبار مايؤل اليه كما توهم آه فتأمل وخذ ما صفى ودع ما كدر.

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝

عطف دى پر جنات، د باسقات معنى طويلات ده يا په معنى د حاملات دى چي ډېره مېوه پوري ځړېږي.

سوال: خورما خو په جنات کي داخله وه نو تخصيص يې په ذکر سره ولي وکړى؟

ځواب: وجه د تخصيص يې داده چي د خورما منافع ډېري دي او درختي يې ډېري جګي دي، روى عن النبي ﷺ باسانيد صحيحة كلها عن علي رضي الله عنه قال ان النبي ﷺ قال اكرموا عمتكم (عمه د پلار خور بولي) النخل فانها خلقت من فضلة طينة آدم ابيكم وليس من شجر شجرة اكرم على الله من شجرة ولدت تحتها مريم بنت عمران (يعني د عيسٰى ؑ په زېږولو کي) چي هغه هم د خورما درخته وه كما جاء في القرآن العزيز، عليه الصلوة والسلام زياته کړه چي ستاسي ښځي چي لنګي سي خورما ورکوئ که لنده خورما نه وه بيا تمر يعني وچه خورما ورکوئ، او پښتانه لنګي ښځي ته ليتى ورکوي "لها طلع" د خورما درختي لره مېوه سته (يعني خورما) طلع يې بولي لانه يخرج من النخل اولاً "نفيده" پوړ پر پوړ پراته وي (اشارة الى كثرة ثمرها)

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝

"رزقًا للعباد" علت او مفعول له د انبتنا دى يا مفعول مطلق د انبتنا دى لکن من غير لفظه، فان الانبات رزق يعني في المآل يعني اخير کي "كذالك الخروج" په مثل سره د خروج د نباتاتو د مځکي څخه وروسته تر وچ والي د مځکي يعني نبات نه ؤ پر باندي چي دا موت بولي د مځکي لکه د ژمي په وخت کي د خروج څخه مراد خروج دى د مړو له مځکي څخه يعني له قبرو څخه، قياس د غائب پر شاهد باندي

دی، په بخاري او مسلم کي له ابو هريرهؓ څخه روايت دی قال قال رسول اللهﷺ ما بين النفختين ای نفخة الصعق يعني مرګ ونفخة البعث بعد الموت اربعون، خلګو ورته وويل: يا ابا هريرةؓ اربعون يومًا قال ابيت، دا نسم ويلای، قال اربعون شهرًا قال ابيت دا نسم ويلای، قالوا اربعون سنة؟ قال ابيت دا نسم ويلای.

پوښتنه: چي له ابيت څخه د ابو هريرهؓ څه مراد ؤ؟

ځواب: د ابو هريرهؓ صرف لفظ د اربعون له قول څخه د رسول اللهﷺ به ياد ؤ اربعون يومًا وغيره يې له ذهن څخه وتلې وه نو ځکه يې ابيت ووايه تحرزًا عن الکذب على رسول اللهﷺ قال ابو هريرهؓ نقلاً عن رسول اللهﷺ ثم ينزل الله من السماء (يعني مطرًا) وفي رواية مثل مني الرجال فينبتون، دا مړي له قبرو څخه راووځي) کما ينبت البقل من الارض (لکه نبات چي له مځکي څخه راوځي) وليس من الانسان شيئ الا يبلى (مګر خاوري کېږي) الا عظمًا واحدًا وهو عجب الذنب (چي کوچنی ګردی هډوکی دی چي هغه نه خاوري کېږي) نو دا هډوکی ګويا تخم دی په مځکه کي منه يرکب الخلق، په دې راتلونکي آيت کي خدای عزوجل تسلي ورکوي و رسول اللهﷺ ته او عذاب د بعضو کفارو او وعيد د ما اصاب امثالهم (ای امثال اهل مکة).

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّأَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾

تکذيب وکړی دمخه تر کفارو د مکې قوم د نوح، يعني نوحؑ چي زر کاله په پنځوس کم يې قوم ته تبليغ د توحيد وکړی هغو دده مسلسل تکذيب کاوه فاخذهم الطوفان وهم ظالمون.

درویش وايي: چي په رس کي اختلاف دی قال صاحب القاموس چي رس هغه څاه (کوهي) ته وايي چي په ډبرو پوخ سوی وي، وقال البغويؒ الرس بئر لم تطو بالحجارة والاجر (پخې خښتي) بعض مفسران وايي چي رس يو څاه ؤ په عدن کي لامة من بقايا ثمود، او دوی بادشاه درلودی عادل حسن السرية چي نوم يې عُليس ؤ پر وزن د زبير او دا څاه ډوله ښار ته اوبه ورکولې او د صحرا مځکو ته وجميع ما فيها من الدواب والغنم والبقر، او ډېرو خلګو به کار کاوه شپه او ورځ.

درویش وايي: لکه په اوسنی زمانه کي باوړی يا برمه او شاوخوا کوچني لښتي او

حوضونه يې ورته جوړ کړي وه وما كان لهم ماء غير، فقال له الملك لما جائه الموت چي مرګ ورته راغلی يعني علی مقتضی کل نفس ذائقة الموت دوی يې جسد تېوله په داسي روغنو غوړ کړی تاچي صورت يې يادګار دوی ته پاته سي او وروسته نسي او بد بويه هم نسي او ددوی دا عادت ؤ چي يو ملک محترم به ددوی څخه مړ سو بدن بې په تېلو ورککڼ کړی، شيطان ددوی دا فعل غنيمت وګڼی ودخل في جثة الملك بعد ايام كثيرة، نو څوک چي به د بادشاه زيارت ته راغله شيطان به خبري ورسره کولې په لهجه د ملک چي اني لم امت زه نه يم مړ سوی بلکې له تاسي څخه غائب سوم چي زه ووينم چي تاسي څه کار کوئ په غياب کي زما ففرحوا اشد الفرح، نو دوی خوشاله سوه په سختي خوشالۍ سره او امريې وکړی و خپلو خاصو خلګو ته يعني دده په ژوندون کي چي زما او د زائرينو تر منځ يوه پنډه پرده وځړوئ، په دې کي غرض د شيطان دا ؤ چي په تغير د صورت ونه پوهېږي د مرګ په سبب، نو خلګو ودراوه يو بت دده پر صورت چي نه يې خورک کاوه او نه يې اوبه څيښلې او دا بت به خبري کولې من وراء الحجاب چي زه نه مرم ابدًا او زه خدای يم ستاسي، فصدق كثير منهم يعني تصديق يې وکړی دده د الوهيت، او مؤمن مکذب دده اقل قليل وه، نو دا دوې ډلي به همېشه په قيل و قال او اختلاف کي وي او يو د بله سره به يې ګاهي ګاهي جنګونه هم کول، فبعث الله اليهم نبيًا يوحى اليه في المنام دون اليقضة چي وحي به ده ته راتلې په خوب کي نه په ويښه چي نوم يې حنظلة بن صفوان ؤ نو هغه دوی ته اعلان وکړی چي دا صنم بت دی لا روح فيه ولا ينفع ولا يضر خبري چي ستاسي سره کوي هغه شيطان دی، وان الملك لايجوز انيكون شريكًا لله، نو ددوی نبي دوی وېرول له عذاب څخه د خدای في الدنيا والآخرة او ډېر وعظ يې ورته کاوه هغو به دې نبي ته ازار رساوه او سره د ډېر ازاره نبي حنظله خپل وعظ ته دوام ورکاوه كما هو شان الانبياء على نبينا وعليهم السلام حتى چي دوی هغه نبي قتل کړی او څاه ته يې واچاوه چي هغه يې قبر سو، نو په دې حال نقمة د خدای نازل سو نو د شپې چي بيد بدل هم ماړه او هم اوبه وه سهار چي راويښ سوه د څاه اوبه وچي سوي وې رسۍ يې ټوټې ټوټې پرته وه او په مځکو کي يې ځوزان، اوزمۍ او نوري درختي خار داره ولاړي وې، او ټوله نر او ښځي او عيالونه ددوی د تندي او د لوږي څخه مړه سوه وهكذا اخذ العزيز المقتدر.

درويش وايي: چي نقله صاحب روح البيان عن التكملة وهو نقله من المقري والله

اعلم، وقال البغوي روى ابو روق عن الضحاك كان بئرًا بحضر موت في بلدة يقال لها حاضورا او هغه ځلور زره كسه چي ايمان يې راوړى ؤ پر صالح عليه السلام او له عذاب څخه د قوم صالح يې نجات پيدا كړى ؤ راغلي وه حاضورا ته، نو صالح عليه السلام هورې وفات سو نو د حضورا نوم يې بدل كړى په حضرموت سره لان صالح حضره ومات فبنوا حاضورا د حاضورا ښار ګوټى يې جوړ كړى او دوى كښېنستل پر هغه ځاه باندي يعني مقيم سوه، او دوى د ځان لپاره يو آمر وټاكى او هورې دوى مقيم وه دهرًا طويلاً وتناسلوا حتى چي ډېر سوه، نو يې عبادت د بتانو مختار كړى او كافران سوه نو خداى دوى ته نبي را واستاوه چي نوم يې حنظلة بن صفوان ؤ نو هغه نبي چي هر څو كوشش وكړى د دوى د ايمان په راوړلو كي، نو دوى حنظلة بن صفوان په بازار كي قتل كړى، نو خداى دوى ټوله هلاك كړه او نوع د هلاك يې مفسرانو نه ده بيان كړې او معطل پاته سو ځاى د دوى و خربت قصورهم، د دوى په باره كي خداى پاك په بل ځاى كي د قرآن عزيز وايي: وبئر معطلة وقصر مشيد، او وهب بن منبه وايي كانوا اهل بئر (التنوين للتعظيم) و اصحاب مواشي يعبدون الاصنام نو خداى پاك دوى ته شعيب عليه السلام را واستاوه (دا هغه شعيب نه دى چي د موسىٰ عليه السلام خسر ؤ) نو شعيب دوى ته دعوت وركړى د ايمان نو دوى په خپل طغيان كي سرسخته وه او په ازار كي د شعيب ډېر كوشان وه، نو دوى پر شاوخوا د هغه ځاه په خپلو كورو كي ناست وه ځاه ونړيدى فخسف الله بهم وبديارهم مواشيهم (يعني خداى دوى ټوله په مځكه كي خسف كړه سره د اموالو) انتهى قول وهب بن منبه والله اعلم.

"وثمود" يعني قوم د ثمود تكذيب وكړى د ټولو رسولانو اګرچه رسول د دوى يو ؤ چي صالح عليه السلام ؤ لكن تكذيب د يوه رسول تكذيب دى د ټولو لاتفاقهم في المعتقدات.

پوه سه: چي د ثمود لفظ بې تنوينه راوړى لانه غير منصرف للعلمية والتانيث بتأويل ثمود بالقبلة، په بل ځاى كي د قرآن عزيز داسي خداى عزوجل وايي: اذ قال لهم اخوهم (يعني په اعتبار د نسب نه د دين) صالح الا تتقون اني لكم رسول امين فاتقوا الله واطيعون قالوا انما انت من المحسرين، ما انت الا بشر مثلنا فأت بآية ان كنت من الصادقين، نو دوى نوع د ايت يعني معجزې داسي ورته بيان كړه چي له دغه غره څخه به اوښه راوځي او هغه به هم دومره وي لكه دا غر او د هغې به د لسو مياشتو بچى په نس كي وي چي لنګه سي جونګى به يې دومره وي

لکه مور چي یې ده، د دوی په خیال د قدرت بلکې د امکان څخه وتلې خبره ده، خیر هغه د دوی مذکوره شرائط ټوله پر ځای سوه.

درویش وایي: چي بعض راویان د قصې وایي چي دا اوښه چي به چوکه سوه میل په میل کي مربع مځکه یې ونیوله، قصه خورا اوږده ده په مختصره توګه صالح علیه السلام ورته وویل: ولا تمسوها بسوء، تاسي دې اوښي ته ضرر ونه رسوئ یعني مړه یې نه کړئ، نو دوی یعني ثمودیانو په مشری د قذار بن سالف هغه اوښه په ډېرو کسانو مړه کړه جونګي یې میدان کړه صالح علیه السلام خلګو ته وویل چي جونګی یې راګرځوئ، خو جونګي تر هغه غره پوري ځان ورساوه درې ناري یې وکړې بیرته په هغه غره ننوتی، کریمه: فعقروها دوی اوښه مړه کړه فاصبحوا نادمین فقال لهم صالح تمتعوا في دارکم ثلثة ایام ذالک وعد غیر مکذوب، نو خدای ج نجات ورکړی سره د څلور زره (۴۰۰۰) مؤمنانو، کریمه: واخذت الذین ظلموا الصیحة یعني جبرئیل ع یوه نعره پر وکړه، کریمه: فاصبحوا في دیارهم جاثمین، مړه چي پر زنګنو یې لاسونه ایښي وه له ییري څخه د نعرې د جبرئیل ع.

سوال: ایوبي ته د قرآن کریم آیتونه راوړې او ترجمه یې نه کوې؟

ځواب: د دې آیتو ترجمه په وړاندي جلدو کي د تفسیر ایوبي تېره سوې ده.

وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ۝۱۳

درویش وایي: چي "عاد" د یو قوم نوم دی چي کافران وه خدای ج دوی ته نبي هود علیه السلام ؤ چي د دوی هم نسب ؤ راواستاوه، او عاد ته یې تنوین ورکړی لانه منصرف یو علمیت پکښي سته، تانیث نسته ور سره لانه بمعنی القوم دون القبیلة لکه په ثمود کي چي قریبًا د مخه تېره سوه چي ثمود غیر منصرف دی للعلمیة والتانیث باعتبار تأویله بالقبیلة.

سوال: دا دوه اعتباره خو په هر یوه کي د ثمود او عاد جاري دي نو ولي په ثمود کي تانیث معتبر کي بتاویل د قبیلة چي غیر منصرف سو کما مر او په عاد کي یې تانیث معتبر نه کړی بلکې په تأویل د قوم یې وګرځاوه چي منصرف سو یعني په تنوین سره یې ووایه؟

ځواب: دا تغایر مبني دی پر لسان العرب باندي ولا مناقشة علی اللسان ومعنی

الآية كذب عاد المرسلين (جمعيت د مرسلين آنفًا تېر سو) كريمه: اذ قال لهم اخوهم (في النسب لا في الدين) هود الا تتقون اني لكم رسول آمين فاتقوا الله واطيعون، هغو پر خپل كفر او شرک دوام وكړى يعني ايمان يې رانه وړى، كريمه: فاهلكوا بريح صرصر عاتية (په ډېر تند باد سره چي د ملكو تر كنټرول وتلى ؤ) كريمه: سخرها عليهم (ريح مؤنث سماعي دى ځكه يې ضمير د مونث ورته راجع كړى) كريمه: سبع ليالي وثمانية ايام (د اتو ورځو په مابين كي اووه شپې راځي) كريمه: حسومًا (پرله پسي) كريمه: فصاروا صرعى (اى هلاک شده) كريمه: كانهم اعجار نخل خاوية (لكه تنې د درختي د خورما چي له بېخه وخېژي) تشبيه يې د خورما د درختي سره په اعتبار د طول قامت د دوى ده.

"وفرعون" يعني وقومه چي عمالقه يې بلل، چي موسى؏ او دده ورور هارون؏ خداى؏ نبيان ورته راواستول، كريمه: وقال اذهب الى فرعون انه طغى فقل هل لک (اى رغبة) الى ان تزكى واهديک الى ربک فتخشى.

پوښتنه: فرعون ته رسول خو دوه وه موسىٰ؏ او هارون؏ چي د ده ورور ؤ نو په قل اذهب كي او په اهديک كي چي متكلم واحد د مفرد ضمير چي يوازي و موسى ته راجع دى ولي يې راوړى؟

ځواب: اصل رسول خو موسىٰ؏ ؤ او هارون؏ پر منزله د وزير ؤ چي موسى ته چي نبوت وركړه سو داسي خواست يې وكړى واجعل وزيرًا من اهلى هارون اخى آه، كريمه: فاراه الآية الكبرى (التي هى العصا) كريمه: فاذا هى حية تسعى وادخل يده في جيبه يخرج بيضاء من غير سوء (يعني ليس) اية اخرى فكذب وتولى وقال انا ربكم الاعلى فاوحى الله الى موسى ان اسرى بعباده ليلا واضرب بعصاک البحر (فانفلق) فكان كل فرق كالطود العظيم، نو بيا موسى؏ په كچو كي د بحر پرې ايستل بني اسرائيل پس نجات وركړى خداى عزوجل و موسى او بني اسرائيلو ته كريمه: فاتبعهم فرعون وجنوده فغشيهم من اليم ما غشيتم فلما ادركه الغرق قال امنت انه لا اله الا الذي امنت به بنوا اسرائيل وانا من المسلمين (فقال الله تعالى) كريمه: الآن وقد عصيت من قبل وكنت من المفسدين فاليوم نحيک ربک ببدنک لتكونن اية لمن خلفک آه.

"واخوان لوط" او قوم والاؤ د لوط؏ يعني كذبوا المرسلين، كريمه: اذ قال لهم اخوهم لوط الا تتقون اني لكم رسول امين فاتقوا الله واطيعون اتأتون الذكران من العالمين (يعني باللواطة) وتذرون ما خلق لكم ربكم (يعني من النساء الزوجات) كريمه: بل انت قوم عادون (اى من الحلال اى الحرام ته تجاوز كوئ) قالوا لئن لم تنته يا لوط لتكنن من المخرجين قال اني لعملكم من القالين (اى المبغضين للواطة) كريمه: فانجاه الله واهله الا امرأته كانت من الغابرين (اى باقين في العذاب) فامطرنا عليهم حجارة من طين (چي د خټو وي او په اور پخې سوي وې).

وَّاَصۡحٰبُ الۡاَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٍ ؕ

او تكذيب د رسولانو يې وكړى د ايكة خلګو، چي يو لوى پراخه ځنګل ؤ د درختو او نبي يې شعيب؏ ؤ، چي وه يې ويل دوى ته، اخوهم يې نه وو ايه لكه په دمخه انبياؤ كي چي به يې ويل لان شعيب لم يكن من قومهم "اني لكم رسول امين" فاتقوا الله واطيعون الى اخير القصة المشهورة كما في آخر من القرآن العزيز.

"وقوم تبع" دا عطف دى پر ماقبل يعني كذبت قبلهم قوم نوح آه، فالمعنى كذبت قبلهم قوم تبع.

پوه سه: چي اسناد د تكذيب يې و قوم ته د تبع وكړى لان التبع كان مؤمنًا بالاتفاق وقومه كفارًا، البغويؒ وايي قال قتادةؒ هم بنوا الحميري وكان ملوك اليمن د خپل لښكر سره راروان ؤ او د الحيرة ښاريې جوړ كړى او د سمرقند ښاريې هم جوړ كړى دى، دى چي يې تبع باله لكثرة اتباعه وعساكره د يمن بادشاهان هريو تبع بولي لانه يتبع صاحبه د تبايعه قصې ډېري دي چي د ټولو بيانول به طول ته مفضي سي خو دا اوسنى چي اخير د تباعه وو ؤ نوم يې ابو كرب (دا يې اسم كنيه ؤ) اسعد بن مليك بن يكرب ؤ، ابن اسحاق وايي ان تبع بن الحسان الحميري تبع اول دى الذي ملك الارض كلها شرقها وغربها، وروسته تبع د مكې د خوني د كعبې مباركي د نړېدو له لټه كي سو چي سبب يې راويان داسي بيانوي چي بني هذيل چي يوه قبيله وه د عربو هغو تبع ته وويل چي د كعبې تر خونه لاندي يوه خزانه ده چي موږ ته په تاريخ كي معلومه ده، نو كه ته د كعبې خونه ونړوې نو هغه خزانه چي هم سره زر او نور قيمتي جواهرات پكښي سته ستا د مملكت به لويه سرمايه وي.

پوښتنه: دا نو دوی رشتیا ورته ویل؟

ځواب: دوی درواغ ورته ویل قصد یې دا ؤ چي هر چا چي د کعبې مبارکي د نړولو قصد وکړی هغه خدای خرابوي چي سورة الفیل یې په قرآن کریم کي شاهد دی "الم تر کیف فعل ربک باصحاب الفیل" الی اخیر السورة، نو د هذیل د قبیلې دا غرض ؤ چي د تبع د ستوت او غلبې څخه به خلاص سو، او بل سبب دا بیانوي چي تبع چي به پر هر ښار ورغله د ښار خلګو به یې استقبال کاوه او دده اطاعت به یې کاوه، او اهل مکه داسي ونه کړه، تبع بوزیر خود گفت که این چه شهر است وچه قوم اند که درخدمت وطاعت ما تقصیر نمودند باوجودی آنکه جهانیان سرهای خود بر خط طاعت ما نهاده اند، وزیر گفت که ایشان را خانه است که اورا کعبه گویند، مگر دوی د هغې خوني په سبب تکبر کړی دی چي ستا په خدمت کي حاضر نه سوه، د تبع په زړه کي دا وه چي خونه به نړوې او نران دد ې ښار به وژنم او ښځي به یې په حصارت څني بیایم، هنوز تبع این اندیشه تمام نکرده بود که رب العزت اورا بدرد سر مبتلا نمود تاکه او طاقت آن درنماند واب بدبوی از چشم وگوش وبینی وی کشاده شد که هیچ کس بنزدیکی او قرار نبود یعنی از بد بویی آن آب روان از بینی و گوش و دهان طبیبان که همراه او بودند همه و همه از معالجت وی عاجز گشتند.

گفته که بیماری او از چهار طبع بیرون افتاده یعنی دموی، صفراوی، بلغمی و سودایی، وروسته یو د پرپوه سړی ؤ ورباندي راغلی او ورته وه یې ویل ایها الملک ته د زړه حال و ماته ووایه زه ددې درد دوا کولای سم، تبع ورته وویل چي زما په زړه کي دا وه چي دا خونه به نړوم او نر بې وژنم او ښځي به یې په حصارت بیایم، دانشمند گفت زینها رای ملک این اندیشه مکن وازین نیت برگرد وتوبه کنید که این خانه خدای قادر است، که آنرا بحفظ خویش میدارد وهرکه قصد خراب این خانه کند دمار ازوی برآرد، تبع پند را قبول کرد و ازآن قصد که در دل داشت توبه کرد فوراً همه دردها که ملک درسر و بشر ودهان وغیره داشتد رفع و دفع شدند، وتعظیم خانه خدا و اهل مکه بجا آوردند وایمان آورد بدین ابراهیم علیه السلام، او هغه قوم د هذیل چي تبع ته یې شیطانت کړی ؤ تر کعبې لاندي یې د هغو لاسونه ورپرې کړه او پښې یې

هم وړېږي کړې او په ستر ګو يې تاو ده مېخونه ورچخ کړه بيا يې په دار کړه او تبع په شعب البطائح کې واړول (چې د يوې فراخې شېلې نوم دى) او د مکې مکرمې خونې کعبې شريفې دروازه نه درلوده دروازه يې پکښې کښېښول او بيت الله الشريف ته يې ليک داره کشميري پوښ ورکړى وهو اول من کسى البيت او تبع شپږ ورځې د مکې په ښار کې تيرې کړې او هر ورځ يې زر زر اوښان خيراتول.

درويش وايي: چې تبع په دين کې د يهودانو داخل سوى دى، او قصه يې پر بل ډول بيان کړې ده، والله اعلم، راويان د صحيح قصې وايي: چې وروسته د مکې تر قيام تبع راهي سو د يثرب پر خوا چې د مدينې منورې پخوانى نوم دى، ودرآن وقت شهر وبناهاى نبوده يک چشمه آب بوده وتبع لشکر خود بسر آن چشمه فرو آوردند راويان د قصې وايي چې د تبع سره تقريبًا دوه زره تاريخ پوهان ورسره وه چې په تاريخ قديم کې دوى ليدلي وه چې په نامه د يثرب د عربو او يهودو په مځکه کې دار الهجرة د نبي اخير الزمان به وي او ځاى د نزول د قرآن به وي څلور سوه کسه چې په دوى کې عالمتر او فاضلتر وه يو د بله يې سره وويل چې دد يې يثرب څخه به موږ مفارقت نه کوو، شايد امکان سته چې موږ به نبي اخير الزمان ﷺ وو ينو يا زموږ زامن يا لمسيان ئم وئم دى وويني، دا موضوع دا څلور سوه دانشمندانو و تبع ته عرض کړه تبع منظور کړه، او امر يې وکړى چې څلور سوه سرايونه دې بناء سي چې د هر عالم سراى جلاوي او د تبع سره ورسره مينځياني څلور سوه يې ازادي کړې او هر عالم ته يې يوه په نکاح ورکړه او تبع دوى ته وصيت وکړى چې تاسي دلته په يثرب کې اوسېږئ، راويان د قصې وايي چې انصار رض د مدينې منورې له نسل څخه د دغو څلور سوو عالمانو دي، او تبع په خپله يو مکتوب نوشته کړى چې مضمون يې داسي وُ: اى پيغمبر اخير الزمان اى برګزيده خداوند جهان اى هغه نبي چې په ورځ د قيامت شفاعت کونکى د ګناه کارانو يې، زه پر ملت ستا يم او ستا د نيکه ابراهيم يم، زه که تا ووينم او که دې نه ووينم ما مه هېروه په ورځ د قيامت او پر کاغذه يې زرين مهر ولګاوه او پر مهر داسي نوشته وه: لله الامر من قبل ومن بعد يومئذ يفرح المؤمنون بنصر الله او پر لفافه داسي نوشته کړه الى محمد بن عبد الله خاتم النبيين و رسول رب العالمين ﷺ من تبع امانة الله في يد من وقع الى ان يوصله الى صاحب وابو ايوب الانصاري رضي الله عنه چې عليه الصلوة والسلام دده کور ته کښته سو يعني په ورځ کې د هجرت

د فرزندانو څخه د هغه عالمؤ چي تبع ته يې نصيحت كړى ؤ تاچي خداى تبع د هغه ناجوړى څخه جوړ كړى كمامر، ابو ايوب رضي الله عنه د تبع خط و عليه الصلوة والسلام ته وركړى عليه الصلوة والسلام وعلي رضي الله عنه ته وركړى چي وو ايه هغه چي وو ايه خبري د تبع عليه الصلوة والسلام واوريدلې او تبع رحمه الله ته يې دعاء وكړه.

درويش وايي: چي ابو حاتم رحمه الله رقاشي څخه حكايت كوي چي دى وايي چي ابو كرب اسعد الحميري من التبايعة في اليمن آمن بالنبي ﷺ قبل ان يبعث بسبع مائة سنة (٧٠٠) كاله د مخه، او سيدتنا وامنا عائشة رضي الله عنها وويل لاتسبوا تبعًا فانه كان رجلاً صالحًا، سعيد بن جبير رحمه الله وايي چي تبع الحميري اول سړى ؤ چي پر كعبه شريفه يې پوښ واچاوه، روى البغوي بسنده عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ لاتسبوا تبعًا فانه قد اسلم.

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿١٤﴾

اى كل واحد او كل قوم، په "كل" كل تنوين عوض د مضاف اليه دى.

پوه سه: چي افراد د ضمير په كذب كي په اعتبار د لفظ د كل دي چي مفرد دى او رسل يې په صيغه د جمع راوړى لان تكذيب الواحد منهم تكذيب الكل لاشتراكهم في العقائد "فحق وعيد" يعني وجب عذابي الموعود وكل ذالک يحل (حلول كوي يعني نزول كوي بهؤلاء الكفار مكذبي الرسل)

اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ۭ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿١٥﴾

رد دى پر مشركينو چي د بعث بعد الموت څخه منكر دي، په قاموس كي وايي: عي عن الامر عجز عنه.

فائده: الهمزة للانكار على العجز والعي والفاء للعطف والتعقيب، وهذه الآية لكه مضمرن قوله تعالى افلم ينظروا الى السماء كيف بنيناها الآية، والحاصل بنينا السماء بلا فروج ومددنا الارض والقينا فيها رواسي وانزلنا من السماء ماء وانبتنا فيها ما ذكر من قبل فلم نعيى بخلقها الاول لكه چي كفار يې ويني او اقرار هم په كوي فكيف نعي بالاعادة بعد الموت والحال ان اول الخلق ليس باهون من الاعادة فما للكافرين حيث ينكرون الاعادة.

"بل هم في لبس" بلکې کفار په شک او شبه کي دي (بلکې په شدید انکار کي دي) د نوي خلقت څخه، قال رسول الله ﷺ يقول الله تعالى كذبني ابن آدم (خدای پاک وایي، د دروغو نسبت وکړی ماته انسان او ده ته زما دا تکذیب نه ښایېدی) وشتمني ولم يكن له ذالک، اما تكذيبه اياى فقوله لن يعيدني كما بدء بي وليس اول الخلق باهون من الاعادة، واما شتمه اياي فقوله اتخذ الله ولدًا (اى عيسى والملائكة) وانا الله احد الصمد الذي لم الد ولم اولد ولم يكن لي كفوًا احد، رواه البخاري، وترجمة الحديث ظاهرة ان شاء الله تعالى.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۖ

لام موطئه د قسم محذوف دی، او په تحقیق مونږ پیدا کړی دی انسان، او مونږ خبر یو او علم لرو دده پر ټولو خبرو چي وسوسه وراچوي په خير و شره نفسه یعني تکلم نه په وکړي.

پوه سه: چي اکثر استعمال د وسوسه په امور کي د شر او د ګناه او د الهام استعجال په کارو کي د خير دی.

پوه سه: چي وسوسه صوت خفي ته وایي، والمراد ههنا هغه خبره د شر ده چي د سړي په زړه کي ور وګرځي.

فائده: کلمه د ما موصوله ده والهاء زائدة ولي چي توسوس په خپله متعدي دی، والضمير في به عائد الى ما الموصولة ولي خالق د انسان او د وسوسو خدای ﷻ دی.

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾

او مونږ نژدې یو و انسان ته یعني په اعتبار د علم پر احوالو دده، حبل دلته په معنی د رګ دی، واضافة الى الوريد بيانية من قبيل شجرة الاراک ويوم الجمعة ټوله جمله د نحن اقرب آه حال من فاعل خلقنا.

پوه سه: ورید یو رګ دی چي په زړه پوري متصل دی چي هر وخت چي هغه قطع سي سړی مري او وریدان دوه دي چي پر یوه او بله خوا دي د غاړي اوږده پراته دي د مخ پر خوا متصلان دي په ورید رګ پوري راشوه سوي دي له سر څخه، ورید یې په دې بولي چي روح په دوی کي راځي.

پوه سه: چي حبل الورید کنایه ده له نهایت قرب څخه، شیخ سعدي وایي:

دوست نزديکتر زمن بمنست
وين عجب ترکه من ازو دوام
چــه کـنم باکه تــوان گفت
که او بامــن ومـن مـهجورم

اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾

ظرف لقوله ونحن اقرب آه.

پوه سه: چي مفعول دِ يتلقى محذوف دى يعني دده خبري او عمل اى يأخذان له ملتقيانو څخه مراد هغه دوې ملکي دي چي کرام کاتبين يې بولي چي د هر انسان ښه او بد نوشته کوي "عن اليمين وعن الشمال" پر راسته طرف چي کاتب الحسنات ملکه ده او پر چپه طرف چي کاتب السيئات ملکه ده.

پوه سه: چي عن اليمين او معطوف پر هغه متعلق دى په قعيد پوري او مراد له قعود څخه مراد ضد د قيام نه دى.

فائده: قعيد پر وزنِ د فعيل دى په معنى د فاعل دى لکه جليس په معنى د المجالس، او قعيد په معنى دِ لازم دى يعني دا دوې ملکي د انسان سره لازم دي د مرګ تر وخته پوري.

پوښتنه: قعيد خو مفرد دى نو پر ملکين چي دوې دي څرنګه يې حمل صحيح کيږي؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چي د فعيل پر يوه او پر ډېرو اطلاق صحيح دى کما في قوله تعالى "والملائکة بعد ذالک ظهير" چي ملائکه جمع دى او ظهير مفرد دى، او بعض علماء وايي چي اصل د کلام داسي ؤ، عن اليمين قعيد وعن الشمال قعيد فحذف الاول لدلالة الثاني عليه.

فائده: په دې آيت کي اشاره ودې ته ده چي خداى ؑ که څه اقرب تر حبل الوريد دى لکن دا دوې ملکي يې د انسانانو د ښو عملو او بدو عملو لپاره ورسره کړي دي لپاره د يو حکمت چي الزام الحجت پر انسانانو دى په ورځ د قيامت کي ورنه خداى عزوجل په داسي کارو د انسانانو خبر دى چي دا ملکي په هغو کارو نه دي خبري لانه تعالى يعلم ما في الصدور.

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾

اى لا يلفظ الانسان من فيه.

پوه سه: چي من زائد دی او قول مفعول به دی د يلفظ والتقدير لا يلفظ قولاً "الا لديه" په نيز د هغه "رقيب" دی ملک منتظر تاچي په عمل نامه کي يې نوشته کړي "عتيد" ای حاضر معه.

فائده: استثناء مفرغ ده صفت لقول، والتقدير مايلفظ من قول في حال من الاحوال الا لديه رقيب.

فائده: الحسنؒ وايي چي په دوه حاله کي ملکي له انسان څخه ګوښه کېږي، يو په حال کي د قضاء حاجت او بل په وخت کي د جماع، او مجاهدؒ وايي چي هر شی د انسان ملکي نوشته کوي حتی چي د مرض په وخت کي ځګېروی کوي، او عکرمهؒ وايي چي ملکي نه نوشته کوي مګر هغه قول يا فعل چي ثواب يې پکښې وي يا عذاب يعني امور مباحه نه نوشته کوي، روايت کړی دی بغويؒ عن ابی امامةؓ قال قال رسول اللهﷺ کاتب الحسنات على يمين الرجل (ای والانثی) وکاتب السيئات على يسار الرجل (ای والانثی) وکاتب الحسنات امير على کاتب السيئات فاذا عمل حسنة کتبها صاحب اليمين عشرًا (بدون المشورة کاتب اليسار) واذا عمل سيئة قال صاحب اليمين لصاحب الشمال پريږده يعني مه يې نوشته کوه تر اووه ساعته پوري لعله يسبح ويستغفر.

درويش وايي: چي تصريح يې په انثی ونه کړه لان النساء تبع للرجال في کثير من احکام القرآن الا ما يختص بهن کالحيض والنفاس وغيرهما.

وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ط

او راغله سختي د مرګ، مراد څني شدت دی چي د سړي عقل زائلوي له دې سببه يې تعبير په سکرة څني وکړی استعارةً، ولي چي مسکر لکه خمر چي سړی وخيښني عقل يې زائليږي.

پوه سه: چي جاء وجائت ونفخ وکشفنا که څه هم مستقبل دي تعبير يې په ماضي وکړی ليتقن وقوعها "بالحق" کلمة الباء اما للتعدية کما في قولک جاء الرسول بالخبر، فالمعنى حضرت الموت وحضرت سکرة الموت بحقيقة الامر الذي نطق به کتاب الله، کريمه "کل نفس ذائقة الموت" او بحقيقة الحال من سعادة الميت وشقاوته او يا کلمه لپاره د ملابست ده کما في قوله تعالى في صفة

الزيتون تنبت بالدهن اى متلبسة بالدهن، والمعنى ههنا متلبسة بحقيقة الامر او بالحكمة، او يا مراد له حق څخه موت و مابعده من البعث والجزاء بالجنة او النار.

حکايت: يو سړی عمر ﷜ ته دده د خلافت په وخت کي راغلی، فقال اني احب الفتنة واکره الحق واشهد بما لم اره، عمرؓ دی بندي کړی ولي چي ظاهر د خبرو د هغه خلاف الشرع وه، نو دا قصه و حضرت عليؓ ته ورسېده، فقال: يا عمر حبسته ظلمًا دا سړی تا په ظلم بندي کړی دی، عمرؓ ورته وويل: و کيف ذالک؟ علي ﷜ ورته وويل لانه يحب المال والولد، وقال الله تعالى انما اموالکم و اولادکم فتنة، ويکره الموت وقال الله تعالى وجائت سکرة الموت بالحق ويشهد بالله انه واحد ولم يره، نو هغه سړی يې د ډېر عذر ويولو وروسته د عمرؓ له بنده ازاد کړی، او عمرؓ دا وويل لو لا علي لهلک عمر.

ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿۱۹﴾

اشارة الى الحق بمعنى الموت او الجزاء "ماکنت" ايها الانسان "منه تحيد" يعني تښتېدې د هغه څخه يعني موت دي نه خوښاوه.

درويش وايي: چي که مراد له انسان څخه کافر وي خو دا ټولي خبري پر حقيقت دي، او که لپاره د جنس وي نو دا په اعتبار د اغلب افرادو دی، قال المولوي المعنوي في المثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان وزبقايش شادمان زين کودکان

حکايت: بعض اولياء الله ته په وخت کي د زکندن عزرائيلؑ ځان ورښکاره کړی هغه داسي ورته وويل:

پيش تر آ پيش تر آ جان من لبيک در حضرت سلطان من

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾

او پوه به کړل سي په صور کي د اسرافيلؑ (اى نفخة البعث) "ذالک" يعني وقت ذالک النفخ لان ذالک اشارة الى النفخ والمضاف محذوف کما قلت ليصح حمل يوم الوعيد عليه "يوم الوعيد" يعني يوم تحقق الوعيد چي رسولانو به کفارو ته ويل يعني په ورځ د عذاب د کفارو.

وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿٢١﴾

او رابه سي هر نفس يعني كه مؤمن وي او كه كافر وي په داسي حال كي چي دده سره به ورسره وي، سعيد بن منصور او عبد الرزاق او ابن جرير و ابن ابى حاتمؒ په خپلو تفاسيرو كي د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه په تفسير كي دد ي آيت داسي وويل: سائق يسوقها الى امر الله تعالى و شهيد چي شاهدي اداء كوي پر عمل د هغه نفس.

لَقَدْ كُنْتَ فِىْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾

ته وې، اى كافره (باضمار القول اى يقال له) په غفلت كي له دغه عذاب څخه دد ې ورځي (يعني منكر وې وانكارك عن البعث بعد الموت) موږ ايسته كړه پرده د غفلت ستا له ستر ګو څخه يعني پرده د غفلت له امورو څخه د آخرت چي ته په شهواتو كي غرق وې او د هغو شهواتو سره دي الفت ؤ، او د رسولانو چي مؤيد بالمعجزات به وه پر هغو به دي غوږ نه نيوه چي په نن پسي سبا سته، او دا قول د خداىؒ ستاسي په باره كي نازل سوى دى: ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم و على ابصارهم غشاوة، وقوله كلا بل ران على قلوبهم وقوله وفي اذانهم وقر.

"فبصرك اليوم حديد" نو ستا ستر ګي ايها الكافر ننه ورځ تېز يد ې هر شى چي په دنيا كي ځني منكر وې هغه به وينې.

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾

او وو ايي هغه ملكه چي په دنيا كي دده سره ملګرې وه دغه د دنيا كافر زما په نيز حاضر دى.

پوه سه: چي هذا اشاره يا و شخص ته ده كما مر يا و ديوان او عملنامې ده ده.

اَلْقِيَا فِىْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾

واچوئ (خطاب من الله عزوجل للسائق والشهيد او للملكين من خزنة النار اويا خطاب و يوې ملكي ته.

سوال: القيا خو تثنيه ده يعني فاعل يې مثنى نه دى؟

ځواب: تثنيه د فاعل لپاره د تاكيد دى لكه تثنيه د فعل چي لپاره د تاكيد

راتلای سي "عنید" هر لوی کافر چي معاند د حق به ؤ په دنیا کي، کفار صیغه د مبالغې ده، او عنید فعیل دی په معنی د مفعول دی.

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿۲۵﴾

چي منع کونکی به ؤ د مال یا زکوة مفروضه یا نور واجب په مال کي دده کنفقة ذی الرحم المحرم الفقیر یا شل یا ړوند وغیره "معتد" ظالم وي چي توحید ته خدای یې غاړه نه ایښوول "مریب" چي شک به یې ؤ په خدای کي یا في دینه.

الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿۲۶﴾

هغه څوک چي ګرځول به یې په دنیا کي د خدای عزوجل سره اله یعني معبود لکه مشرکین د مکې یا مشرکین د ټولي نړۍ، نو واچوئ دغه کسان په عذاب سخت کي د جهنم، توجیه د القیا انفًا تېره سوه.

قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۲۷﴾

وویل ملګري دده (له قرین څخه مراد ملک مؤکل به دی، کذا قال ابن عباس رض و سعید بن جبیر و مقاتل، سعید بن جبیر وایي چي دا خبره ملک هلته کوي چي کافر وو ایي رب ان الملک زاد علی في الکتابة فیقول الملک) "ربنا ما اطغیته" یعن یما یې نسبت و کفر او طغیان ته نه دی کړی یعني دی په خپل اختیار طاغي ؤ "ولکن کان في ضلال بعید" لکن دی په خپله په ضلال کي ؤ چي بعید له حق څخه ؤ، او بعض مفسرین وایي چي مراد له قرین څخه هغه شیطان دی چي دده ملګری ؤ یعني کافر وو ایي چي زه ګمراه کړی وم زما شیطان، نو شیطان وو ایي ربنا ما اضللته ولا اغویته لکن کان في ضلال بعید البتة ماخه کومک ورسره وکړی، ولي چي اغوا د شیطان په هغه چا کي تاثیر کوي چي ناپوه وي مائل و فجور ته وي، کما قیل حکایة عن قول الشیاطین ماکان لي علیک سلطان الا ان دعوتکم فاستجبتم لي فلا تلوموني بل لوموا انفسکم.

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِالْوَعِيدِ ﴿۲۸﴾

وو ایي (یعني الله عزوجل وایي) زما په حضور کي چي موقف د حساب دی

تاسي دعوى يو پر بل مه سره كوئ چي يا كافران وو ايي چي ملكو پر موږ ظلم كړى دى ناحقه شيان يې راپسي نوشته كړي دي حتى چي ملكي ربنا ما اطغيته آه (موږ طغيان نه دى كړى چي په دوى پسي مو ناحقه شيان نوشته كړي وه) يا كافران وو ايي چي موږ خو شيطانانو خطا يستلي ؤ حتى شيطانان دا وو ايي ربنا ما اطغيته آه "وقد قدمت اليكم بالوعيد" ما تاسي ته د مخه خبر د وعيد در كړى ؤ يعني په دنيا كي په كتابو كي خپل او پر ژبه د رسولانو، نو اوس تاسي كوم حجت نه لرئ چي ځانونه له عذابه خلاص كړئ چي ګاهي په ملكو پوري د رواغ غوټه كوئ او ګاهي د كفر و شيطانانو ته نسبت كوئ.

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿٢٩﴾

نه بدلېږي هغه قول چي ما كړى ؤ زما په نېز په قيامت كي (چي هغه قول دا دى: ان الله لايغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء، نو تاسي مشركان د بخښني د شرك طمع مه كوئ په اعذار كاذبه ؤ سره) او نه يم زه ظلم كونكى پر بندګانو باندي چي زه دي د كفر عذاب ناحقه چا ته وركړم.

سوال: ظلام صيغه د مبالغې ده نفي د مطلق ظلم د خداى ځخه نه كوي؟

ځواب: دا صيغه دلته لپاره د نفي د مطلق ظلم ده.

پوښتنه: نو خداى عزوجل صيغه د مبالغې ولي راوړه؟

ځواب: دا تعريض دى پر كفارو چي ظلام تاسي ياست چي د خالق السموٰات والارض سره مو بتان جمادات په عبادت كي شريك كړي وه، كما قال الله عزوجل بل اؤلئك هم الظالمون.

يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿٣٠﴾

هغه ورځ چي موږ وو ايو دوږخ ته چي آيا ته ډك سوې، ظرف دى د ماقبل ځخه يا منصوب په اذكر سره دى.

درويش وايي: چي چونكه خداى عزوجل وعده كړې وه "انه ليملأن جهنم من الجنة والناس" فهذا سوال د خداى له جانبه ځخه دى لتصديق خبره وتحقيق وعده "وتقول" اى جهنم (مؤنث سماعي دى) عطاء، مجاهد او مقاتل وايي چي "هل" استفهام انكاري

دی يعني امتلئت نو نور ځای په ما کي نسته يعني لايتصور المزيد من الامتلاء.

سوال: جهنم پر دې تقدير چي په ما کي نور ځای نسته، خبري يې ولي اوږدې کړه خو داسي کافي وه چي لا؟

ځواب: جهنم چي دا خبره وکړه تأدبًا مع الله سبحانه وتعالى او بل د دې لپاره چي جواب مطابق د سوال سره سي.

درویش وايي: چي په دې کي اختلاف دی د علماؤ چي دا سوال او جواب د خدای پاک او د جهنم تر مابين محمول پر حقيقت دي او ځرنګه بعض علماء وايي چي آيت محمول دی على منهاج التمثيل والتخيل د تهويل د امر د جهنم يعني چي خلګ او کفار له جهنم څخه وبېرېږي يعني کافران د انس او جن، والحق عند اهل الله چي دا سوال او جواب محمول پر حقيقت دی يعني خدای عزوجل په دوږخ کي د نطق توان ايښی دی کما يتطق الجوارح والاعضاء بالمعاصي على صاحبها فان الله على كل شيئ قدير، او دا مسلم عند الكل ده چي امور د اخرت كلها او جلها على خلاف امور الدنيا، وقد دلت الاحاديث على تحقيق الحقيقة فلا وجه للمعدول الى المجاز والتمثيل كما ثبت في الاحاديث چي دوږخ هجوم او حمله کوي پر کافرانو او ملائکه يې په ځنځيرانو کشوي، او دا هم په حديث شريف کي راغلي دي چي مؤمن چي پر پل صراط تېرېږي دوږخ ورته وايي: جزء يا مؤمن فان نورک اطفاء لهبی، تېرېږه ای مؤمنه ولي ستا نور د ايمان زما لمبې را وژني ونحو ذالک مما يدل على حياتها ای جهنم عند الله وادراكها بل ان مطلق الجمادات لها تلک الحيوة كما تشهد الحجارة الصغيرة في يد ابی جهل بنبوة عليه السلام.

درویش وايي: چي مظهري له بخاري او مسلم څخه يو حديث رانقل کړی دی چي په هغه کي بعض متشابهات الفاظ سته، او دې ته يې هم اشاره نه ده کړې چي دا د متشابهاتو څخه دي نکل علمه الى الله تعالى، او تأويل متأخرينو يې هم نه دی ذکر کړی، او په ظاهري ترجمه سره يې مجسمه استدلال وايي يعني چي خدای جسم دی پښې لري لاسونه لري، دلته هغه قول بالتفصيل نسي ذکر کېدای ځکه چي سبب د درد سر ګرځي و متعلمينو ته د تفسير ايوبي او يا به څه ناڅه شک په جهت کي د خدای عزوجل پيدا سي، فلذا ترکنا ذکره، وقد ورد كلموا الناس على قدر عقولهم.

Scanned by CamScanner

وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿٣١﴾

نژدې سئ (عطف دى على نفخ) جنت د متقيانو لپاره، يعني متقي عن الشرک وسائر انواع الكفر، لفظ د غير منصوب دى اى مكانًا غير بعيد او زمانًا غير بعيد.

هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيْظٍ ﴿٣٢﴾

دغه (اى الثواب والازلاف) هغه شى دى چي ستاسي سره يې وعده كړل سوې وه (يعني په دنيا كي على الايمان والعمل الصالح) "لكل اواب" بدل دى د من المتقين څخه باعادة الجار.

پوه سه: چي اوب رجوع ته وايي او اواب صيغه د مبالغې ده اى رجاع الى الله عما سواه ظاهرًا وباطنًا يعني لا كالمنافق، وقيل رجاع من المعاصي الى الطاعات، او سعيد بن المسيب وايي چي ګناه وكړي او بيرته توبه ځني وكاږي.

توبه كن امروز تو هرګز نه ګو كه فردا كنم
شايد بميرى صبحدم فردا نيابى در شمر

"حفيظ" يعني دائم الحضور لايغفل عن الله طرفة عين (يو چشم زدن) او ابن عباسؓ وايي: الحافظ لاوامر الله وفي رواية اخرى عنهؓ چي خپل په ګنهو كي فكر وهي تاچي د ټولو څخه توبه وكاږي.

مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ ﴿٣٣﴾

هغه څوک چي د رحمٰن جل جلاله څخه بېرېږي په غياب كي په زړه مخلص سره مقبل على الطاعة "بقلب منيب" بدل بعد البدل دى د متقين څخه.

پوه سه: چي مراد له غيبت څخه يا دا دى چي خداىٔ يې نه دى ليدلى او ځني بېرېږي، او يا دا معنى ده په غيبت كي يې زړه دى ځني بېرېږي لا كالمنافق، او يا دا معنى ده چي په غياب كي د خلګو ځني بېرېږي لا كالمرائي (ريا كار)

اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾

داخل سئ و جنت ته (ادخلوها ،بتقدير قول يعني يقال،) بسلام: والمعنى متلبسين بسلام يعني سالمين من العذاب اى عذاب النار او د ټولو غمو څخه او د زوال څخه د نعمت اى به سلام پر تاسي د ملكو د خوا، كريمه: سلام عليكم

فادخلوها خالدين يا د رب العالمين د خوا، كريمه: سلام قولاً من رب رحيم.

"ذالک" اشارة الدخول بتقدير المضاف اى وقت ذالک الدخول في الجنة.

سوال: خلود ددوى په جنت كي وروسته دى لا وقت الدخول؟

ځواب: معنى د يوم الخلود داده اى مقدرًا خلودكم في الجنة كما في قوله تعالى: فادخلوها خالدين، نو په دې آيت كي خو خالدين حال دى له ضمير څخه د فاعل، نحات وايي چي دا حال مقدره دى، بخاري او مسلم د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى قال النبي ﷺ يدخل اهل الجنة الجنة واهل النار النار، بيا يو اعلان كونكى په مابين كي د جنت او دوږخ ودرېږي او ووايي: يا اهل النار لاموت (نو دوى ته زيات غم سي على غم) ويا اهل الجنة خلود بلا موت (فيزدادهم فرحًا على فرح)

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾

جنتيانو ته دى هغه شى چي د دوى خوښ وي او زموږ د خوا زيادت سته، نو مزيد مصدر ميمي دى يا شى زائد سته، نو مزيد صيغه د فاعل ده، مراد له مزيد څخه هغه نعمتونه دي چي د دوى يې په زړو كي تصور نه سواى كولاى مما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، عن ابى هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ ان ادنى مقعد اهل الجنة منكم ان يقول له (اى الرب جل وعلا) تمن فيتمن ويتمن يعني مكرره تمنى وكړي، نو خداى عزوجل ورته ووايي چي تمنى دي ختمه سوه؟ بنده ورته وايي هو، نو رب تبارک وتعالى ورته ووايي لک ماتمنيت ومثله معه، رواه مسلم.

وقال جابر وانس رضي الله عنهما المراد بالمزيد النظر الى وجه الله الكريم.

درويش وايي: چي د مزيد په معنى كي مختلف روايات راغلي دي، خو تر ټولو مختار روايت يې دادى چي مزيد مراد رؤية د خداى دى كما مر وهو مذهب جابر وانس رضكما اخرج مسلم وابن ماجة عن صهيب رض عن النبي ﷺ، قال اذا دخل اهل الجنة الجنة يقول الله تبارک وتعالى تريدون شيئًا ازيدكم تاسي اراده لرئ چي زه يو شى درزيات كړم، دوى ورته ووايي چي زموږ مخان دي نه دي راسپين كړي او موږ دي نه يو داخل كړي وجنت ته، او موږ دي له اور څخه نه يو خلاص كړي، ددوى مطلب دا وي چي بالاتر مذكوره به نو بل زائد شى څه وي، قال فكشف الحجاب اى حجاب د كبرياء پورته كړي فما اعطوا شيئًا احب اليهم من

النظر الى ربهم ثم تلى هذه الآية للذين احسنوا الحسنى وزيادة.

درویش وايي: چي د رؤيت د جمال رباني په باره کي د ابی بکر الصديقؓ او ابن عباس او حذيفة بن اليمان او ابن مسعودؓ څخه او د غه رنګه د ابن خزيمة او ابن مردوية عن ابی موسی الاشعريؓ بلکې تر دې بالا روايتونه په مختلفو سندو راغل دی او دا هم مذهب دی د اهل والجماعة کثرهم الله وخالفهم المعتزلة، قال الطوسي في کتابه التجريد ورؤية الله تعالى کما يزعمونه اهل السنة والجماعة باطل وروسته يې ډېر دلائل نقليه (دده په زعم) او عقليه متثبثا باذيال الفلاسفة راوړي دي او اهل السنة والجماعة پر خپل وار د دلائلو د طوسي جواب ورکړی دی او پر مذهب د اهل حق دلائل عقليه او نقليه راوړی وتفصيل الکل لايليق بهذا التفسير چي مبني يې پر اختصار ده مهما امکن وان شئت التفصيل فطالع شرح العقائد وشرح المقاصد چي دواړه د علامه ثاني سعد الدين التفتازانيؒ وکذالک کتاب المواقف للقاضي عضد الملة والدين وشرحه للسيد الجرجانيؒ و کتاب الملل والنحل لعبد الکريم الشهرستانيؒ لکن ندر وجوده في المطابع.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِى الْبِلَادِ ؕ

لفظ د کم خبري مفيد د کثرت دی يعني ډېر موږ هلاک کړي دي د مخه تر قوم ستا يا محمد ﷺ "من قرن" ای من اهل قرن (قرن سل کاله ته وايي) چي هغه اهل وه سخت و ډېر تر قوم ستا په قوت کي لکه عاديان او ثموديان او فرعون وغيرهم، وفي القاموس نقب في الارض ای ذهب فيها لکه چي د انقب او نقب بالتشديد هم دغه معنی ده.

پوښتنه: باب د تفعيل د څه حکمت لپاره مختاره سو او مجرد يا باب د افعال نه راوړه سو؟

ځواب: په خواص الابواب کي د شافيه وايي چي باب د تفعيل غالبًا لپاره د تکثير وی نو دلته هم دغه معنی مناسبه ده ای ذهبوا في البلاد يعني ډېر سفرونه يې کول په ښارو کي لپاره د سياحت يا تجارت، بعض مفسرينؒ وايي په ځکه کي به ګرځېدی چي د کومي ځکي، ښار او قريې به ښه آب و هوا وي چي له مرګه پکښي خلاص سو، او بعض مفسرين وايي چي کلمه د فاء لپاره د سببيت ده فان شدة بطشهم سبب دی للتصرف في البلاد ولي چي د هيڅ چا څخه نه بېرېدی.

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣٦﴾

يعني نقبوا قائلين هل من محيص، وفي القاموس المحيص المهرب (ځای د تېښتي من امر الله وعذابه او من الموت) والاستفهام للانكار يعني نسته ځای د تېښتي:

نه بربد رفتي سحر گاه وشام سرير سليمان عليه السلام
به آخير نديدی که برباد رفت خنک آنکه با دانش ودار رفت

حاصل دا چي اهل مکه عبرت وانه خلي او خپل شرک ته دوام ورکړي نو بايد وبېرېږي چي پر موږ به هم د قرون ماضيهؤ ورته عذاب مسلط سي.... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ

يعني ما ذکر في قصصهم اوفي ما ذکر في هذه السورة من العبرة والاخبار وهلاک القرى "لذکرٰی" نصيحت او پند دی، د هغه چا لپاره چي ده لره زړه وي، که څه هم زړه خو هر انسان لري، لکن مراد له قلب څخه هغه زړه دی چي په عاقبت کي د امورو فکر وهي کما ورد في الحديث القدسي: لايسعني ارضي ولا سمائي (يعني پوره ادراک زما د شيانو او صفاتو نسي کولای اسمان او نه مځکه) ولکن يسعني قلب عبدي المؤمن چي صاف زړه وي له کدورات نفسيهؤ څخه چي په اصطلاح د صوفيهؤ يې فاني في الله بولي.

اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿٣٧﴾

عطف دی پر صله د من چي کان دی يا غوږ ونسي و قرآن کريم ته او زړه حاضر وي ولو بتکلف لاتغافل، او يا معنی داده چي شاهد په صدق سره وي د قرآن کريم.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾

لام موطئه يعني جواب د قسم محذوف دی، په تحقيق سره موږ پيدا کړي دي اسمانونه (وما فيها من الشمش والقمر والنجوم) او مځکه او په مابين کي د اسمانو او مځکي (من کرة الهواء والصواعق والسحاب والبرق وغير مما لم يعلمه الا الله تعالی) په شپږ ورځي کي.

سوال: د مخه تر اسمانو او په وخت کي د خلق د اسمانو او مځکي نو ورځ کله وه؟

ځواب: قال المفسرونای في مقدار ستة ايام الذي في علم الله، او موږ نه يو مسه کړي يعني موږ په دې خلق عظيم کي ستړيا يا تکليف نه دی را رسيدلی.

درويش وايي: چي صحيح داده چي شروع د خلق العالم له ورځي څخه د يکشنبې سوی دی وتمامه يوم الجمعة.

درويش وايي: چي په بعض احاديث صحيحهؤ کي راغلي دي چي په اخير د ساعت د ورځې د جمعې بعد العصر خلق آدم وهذا بظاهره ليس بصحيح لان خلق آدم کان بعد زمان طويل من خلق السموات والارض ولي چي پر مځکه سلطنت د جن زمنًا طويلاً و ابليس کان على حاله يعبد الله في الارض ويعرج الى السماء ويدخل وکان اسمه عزازيل وبعد ذالک خلق آدم من الطين کما في قوله تعالى واذ قلنا للملائکة اني جاعل في الارض خليفة الى اخير الآيات فکيف يصح انيکون خلق آدم في اخير ساعة من يوم الجمعة بعد العصر؟

ځواب: ليس المراد خلق آدم بعد العصر من يوم الجمعة المتصلة يخلق السموات وغيرها بل المراد خالق آدم يوم الجمعة بعد العصر في علم الله ولو بعد زمن طويل.

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾

صبر وکړه پر هغه چي دوی وايي ای الهيود ان الله تعالى اعني (ستړی) سو بعد خلق السموات والارض فاستراح، او يا صبر وکړه على ما يقول المشرکون في امر البعث بانه لابعث ولا نشور ولا ثواب ولا عذاب، ولي هغه ذات چي قادر ؤ پر خلق د اسمانو او مځکي في ستة ايام فهو قادر على بعثهم والانتقام منهم.

"وسبح" ای صل (ذکر جزء دی مراد ځني کل دی متلبسًا بحمد ربک) د مخه تر ختلو د لمر يعني صلوة الفجر، او د مخه تر لمر لويدو (ډېر مفسرين وايي چي مراد ځني صلوة العصر دی، لکن ابن عباس رض وايي چي د قبل الغروب څخه مراد الظهر والعصر کلاهما ای کل واحد في وقته فلا يصح قول المظهري چي دا مبني پر دې دی چي د ماپښين د لمانځه وخت او د مازديګر د لمانځه وخت يو دی عند الضرورة)

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ ۝

او په بعض کي د شپې تسبيح وايه د خدای (يعني صل صلوة المغرب والعشاء فهذه الآية شاملة للصلوات الخمس على قول ابن عباسؓ، او مجاهد وايي چي مراد د صلوة الليل څخه نوافل د تهجد دي وليس بذالک) او وروسته تر سجود يعني لمونځو، والظاهر ان المراد به النوافل الراتبة بعد بعض الفرائض كالعشاء والمغرب والظهر، او دا احتمال هم سته چي مراد دي مطلق تسبيح وي يعني قل سبحان الله وبحمده روى البخاري ومسلم عن ابى هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ من قال حين يسبح و حين يمسى سبحان الله مائة مرة لم يأتى احد يوم القيامة بافضل مماجاء الا احد قال مثل ما قال او زاد عليه، وروى الشيخان عن ابى هريرةؓ مرفوعًا يعني الى رسول اللهﷺ من قال سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة حطت (وبه رژېږي) يعني وبه بخښل سي ګنهونه وان كانت مثل زبد بالبحر (که څه هم وي ګنهونه دده ځګ د درياب، او بخاري و مسلم د ابى هريرةؓ څخه دا روايت هم کړی دی قال رسول اللهﷺ كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان حبيبتان الى الرحمن (دوې کليمې دي چي سپکي دي پر ژبه او درنې دي په ترازو کي يعني په ورځ د قيامت عند وزن الاعمال، او خدای ته ډېري محبوبي دي، چي هغه دوې کلمي دي) سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.

درويش وايي: چي دا دوې کليمې په اخيري حديث کي د بخاري ذکر کړه سوي دي، او علماء وايي چي په دې دوو کلمو کي اسم اعظم د خدای هم موجود دی والله اعلم، وعن ابى هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ چي که څوک وروسته تر فرضي لمانځه سبحان الله (۳۳) واره، والحمد لله (۳۳) والله اكبر (۳۳) واره، نو دا ټوله نهه نيوي (۹۹) واره سوه ثم قال في تمام المائة لا اله الا الله وحده لاشريک له الملک وله الحمد وهو على كل شيئ قدير، وروبه بخښل سي ګنهونه دده که څه هم لکه د درياب ځګ دومره وي.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ۝

ته غوږ ونسه يا محمد (ﷺ) هغه ورځ چي نعره وکړي.

پوه سه: چي دا صيغه د امر ده او وروسته په تأويل د مفرد يا په تقدير د مضاف مفعول به دی يعني اسمع ما يتلى عليک، پر اول تقدير او اسمع لحديث پر دوهم تقدير، مظهري وايي چي فائده د استمع تنبيه او تهويل د تعظيم المخبر به دی "المناد" بعض قراء په حال کي د وقف او وصل يه ياء سره وايي يعني المنادي وهو قرائة ابن كثير" او نور قراء يې په حذف د ياء وايي في الحالين لدلالة الكسرة عليها هو الملک النافخ في الصور وهو اسرافيل؏، بعض مفسرين وايي چي دا نفخ يې نداء وبلل، ولي دا علامه د خروج و محشر ته ده لکه اذان د مؤذن چي علامه د دخول وقت الصلوة يا اعلانات د کوچ و بار په عساکرو کي مثلاً ډول وټکوي، او بعض مفسرين وايي چي نداء حقيقةً بعد نفخ الصور يعني اسرافيل؏ گوتي په غوږو کي ورکړي او لويه ناره وکړي ايها العظام البالية (يعني زاړه يا وراسته) والاوصال المنقطة (هغه پيوندونه چي اوس قطع سوي دي) واللحوم المتمزقة (او غوښي چي له بدنه جلا سوي دي) ان الله يأمركم ان تجتمعوا لفصل القضاء، او بعض مفسرين وايي چي اسرافيل؏ نفخ الصور کوي او جبرئيل؏ ناره کوي.

"من مقام قريب" له هغه ځايه چي نژدې دی و اسمان ته تر ټولو مځکي وهو صخرة بيت المقدس، ولي چي بيت المقدس هغه تر ټولو ځايو د مځکي نژدې دی و اسمان ته بعض وايي دوولس (۱۲) ميله او بعض وايي اتلس (۱۸) ميله بيت المقدس مابين دی د کرې د مځکي قاله علي رضي الله عنه.

يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾

بدل دی من يوم ينادی ای الاموات يسمعون دعوة الداعي باذن الله تعالى ولي چي اموات او جمادات په استماع اذا ارد الله تعالى کالاحياء فان الموجودات کلها لاتخلو عن نوع من الحيوة "الصيحة" ای صيحة اسرافيل؏ "بالحق" متعلق بالصيحة او مراد له حق څخه البعث للجزاء دی "ذالک يوم الخروج" دا ورځ ده د وتلو له قبرو څخه.

فائده: اجتمع الامة المرحومة قبل ظهور فرق اهل الهواء والبدع کالمعتزلة والروافض والشيعة وغيرهما چي عذاب القبر پر روح او جسد دواړو باندي دی، ودليله ما اخرج الشيخان عن انس رضي الله عنه چي له غزاء څخه د بدر عليه الصلوة والسلام

فارغ سو (او څوارلس ورځي يې هورې تېرې کړې) او په دې دوران کي د عليه الصلوة والسلام په امر مؤمنانو اوويا (۷۰) کسان مشرکان چي په دې غزاء کي وژل سوي وه و يو څاه ته يې واچول چي په بدر کي ؤ (د اوبو څاه نهٔ بلکې يو خرابه څاه ؤ) او په اخيره ورځ د عليه الصلوة والسلام اوښه چا ورځين کړې چي پر سپور به سي، عليه الصلوة والسلام پياده روان سو اوښه يې تر جلو نيولې وه، عليه الصلوة والسلام د قليب بدر پر غاړه ودرېدی، او قتلی د بدر ته يې په نامه نامه داسي وويل: يا فلان بن فلان الی اخير ما هنالک من القتلی هل وجدتم ما وعدكم ربكم (يعني من عذاب القبر في هذا البئر) حقًا يعني واقعًا ثابتًا فاني وجدت ما وعدني حقًا يعني من النصر والغلبة، قال عمر رض ورسول الله ﷺ كيف تكلم اجرامًا لاروح لها فقال ما انتم باسمع منهم غير انهم لا يستطيعون على ان يرد علي شيئًا.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾

اعني صحية اسرافيل ع كما مر.

پوه سه: چي نحن تاكيد د ضمير متكلم په انا کي مو ږ ژوندی مفعول محذوف دی ای الخلق يعني په رحم کي د مور او بيا يې وژنو په نېز د اتيان الاجل او ما ته مو رجوع ده په قيامت کي.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾

هغه ورځ چي څيري سي ځمکه له مړو څخه وبالفارسية شگافته شود "ذالک" دغه حشر دفعةً واحدةً.

پوه سه: چي د تشقق اصل يتشقق ؤ ثم ابدل التاء بالشين وادغم في الشين، "علينا" جار و مجرور متعلق دي په يسير پوري، قدم عليه للاختصاص يعني دا خدای ج ته اسانه دی لا الی غيره تعالی لانه تعالی عالم بكل شيئ لاجزاء الموتی ههنا قادر علی جمعها واحيانها، لپاره د تسلي د عليه الصلوة والسلام.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ ۖ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ۖ

موږ خبر يو په هغه شي چي كفار مكه کاهي دی شاعر بولي، کاهي يې کاهن بولي، کاهي يې ساحر بولي او کاهي يې مجنون بولي او کاهي يې مفتر بولي، او

نه یې ته پر دوی زور کونکی یعني چي ته دوی پر ایمان مجبوره کړې بل علیک الانذار وقد فعلت ذالک کما هو حقه وعرقت الجبین في التبلیغ.

فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ۝

نو چي کافران ستا و انذار او تخویف ته غوږ نه نسي، نو ته نصیحت کوه په قرآن سره و هغه چا ته چي زما له عذابه بېرېږي یعني المؤمنین لانهم ینتفعون به.

تو گوئی آن چه دانی سخن سودمند وگر هیچ کس را نیاید پسند

فائده سنیه: تاریخ اسلامي خبري کوي هم په صحیح ډول چي رسول کریم ﷺ په اکثرو اوقاتو کي په خطبه کي د جمعې د ورځي سورة قٓ وایه، او عمر رضی الله عنه به په خطبه کي اذا الشمس کورت تر پایه پوري وایه، وکان عثمان رضی الله عنه په خطبه کي به یې اخیري ایتونه د سورة النساء ویل یعني یستفتونک الآیة، وکان علي رضی الله عنه سورة الاخلاص به یې وایه، جلال الدین السیوطي رحمه الله په کتاب الوسائل کي وایي: اول من قرء في اخیر الخطبة الثانیة ان الله یأمر بالعدل والاحسان الی اخیر الآیة عمر بن عبد العزیز رحمه الله (السلطان العدل وان لم یکن صحابیًا) ولزمه الخطباء الی عصرنا هذا وفي الحدیث الصحیح من قرء سورة قٓ (یعني في کثیر من الاوقات) هون الله تارات الموت وسکرات الموت ای آفاته وغشیانه کما في حواشي السعدي المفتي.

درویش وایي: چي تفسیر د سورة قٓ بعون ذی الالطاف په اولو ورځو کي د میاشتي د ذی القعدة الحرام په وخت کي د څاښت د ورځي د هفتې سنه (۱۴۳۲) هجري قمري پای ته ورسېدی.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ سِتُّوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾

الواو للقسم، والذاريات ومابعدها صفات حذفت موصوفاتها او دا صفات يې په ځای کي ور درولي دي.

سوال: كه يې موصوفات ذكر كړي وای نو په تعين كي د موصوفاتو به يې اختلاف د مفسرينو نه وای، او سره ددې چي په موصوفاتو كي اختلاف سته كما سيئاتي فما الحكمة في عدم الموصوفات في القرآن؟

ځواب: دا د بلاغاتو څخه د قرآن دی تاچي نفس د سامع و هر مذهب ممكن ته ولاړ سي او د موضوعاتو د تعين په فكر وهلو سره به دوی ته خدای مثوبات وركړي نو موصوف د الذاريات الرياح بادونه دی، ذروا مفعول مطلق دی عامل يې الذاريات دی، والمراد الرياح تزر والتراب وغيره چي خاوري پاشي يا نور سپک شيان، او د غنمو وغيره دانې د پراړه جلا كوي چي په پښتو يې بادي بولي، كذا في التفسير الكاشفي، په پښتو ژباړه.

فائده: كعب الاحبار وايي كه خدای عزوجل درې ورځي متوالي د ځكي څخه باد بند كړي ما بقى على الارض شيئ الا انتن (بد بويه سوي به وای) او بعض مفسرين وايي چي مراد د الذاريات څخه هغه ښځي دي چي عيالونه يې كېږي يعني وچي نه وي، ولي چي دغه ښځي و دنيا ته عيالونه راپاشي، ففي هذه الآية على التقدير المذكور اشارة على فضل الولود على العقيم.

فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ﴿٣﴾

د وقر معنى ثقل دی مفعول به دی، والمعنى الرياح الحاملات للسحاب الثقيل يا هغه ښځي چي حاملات د نطفو وي او د اجنه في ارحامهن يا هغه وريځي دي چي درنې وي او باد و باران پكښې وي.

پوه سه: چي يسرًا صفت د مصدر محذوف دی يعني جريًا سهلاً يعني هغه بادونه چي په آرام او كرار چلېږي يا هغه ښځي دي چي حاملات وي او په خدمت

کي د ازواجو کرار کرار ګرځي لثقل حملهن يا هغه کښتئ دي چي په درياب کي په سهولت سره چليږي.

فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝٤ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝٥

فائده: امرًا مفعول به د ماقبل دی که څه هم لفظ به مفرد دی لکن دلته په معنی د جمع دی او مصدر دی، نو په مصدر کي مفرد، تثنيه او جمع سره برابر وي، يعني الرياح التي تقسم الامطار بتصرف السحاب، او يا مراد ځني ملائکه دي چي بارانونه او ارزاق سره وېشي.

درويش وايي: چي "ان ماتوعدون" جمله مؤکد ده په ان سره جواب د قسم ده او کلمه د ما موصوله ده او عائد يې محذوف دی، والتقدير ای الذي توعدونه من البعث بعد الموت او حساب او يا ثواب للمؤمنين والعقاب للکافرين لام په لصادق کي لپاره د تاکيد دی، فارسي ترجمه يې داده: هر آئينه راست و درست است ودرآن هيچ خلافی نيست او که ما مصدريه سي لکه صاحب الارشاد چي وايي نو توصيف د وعد چي مصدر دی په صادق سره د قبيل د عيشة راضيه دی، يعني اسم فاعل چي لصادق دی مسند دی يې په خپله مفعول به ته ګرځولی دی لان الوعد مصدوق لکه په عيشة راضية کي، ولي چي په هغه آيت کي خو هم عيشة مرضي به لا فاعل فافهم.

وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۝٦

معطوف دی پر ان ما توعدون يعني پر اعمالو من الکفر والاسلام والمعاصي والطاعات کائن لا محالة.

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۝٧

او قسم دی په اسمان سره.

پوهه: چي حبک جمع ده د حبيکة لکه طرق چي جمع د طريقة ده يا جمع د حباک ده لکه مثل چي جمع د مثال ده، والمراد بالحبک لاري دي چي محسوسه په اسمان کي دي چي لاري د ستورو دي، او يا لاري معقوله دي چي يسئلها انظار بنظر دقيق الی المعارف، البغويؒ وايي قال ابن عباسؓ وقتاده وعکرمهؒ ذات الخلق الحسن السمتوي، يقال النساج (کنهی باپ) اذا نسج الثوب (يا کمبله، يا

سترنجي يا د اغوستلو جامه) فاجاد بنه يې سمه جوړه كړي، داسي خلګ وايي ما احسن حبكه، جواب د قسم دادی:

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾

په تحقيق تاسي په يو قول مختلف كي ياست په شان كي د نبي ﷺ چي قولونه ستاسي د حق څخه خلاف دی او په خپل مابين كي هم سره منافي دی او يا په شان كي د قرآن په قول مختلف كي ياست.

پوهه: چي مخاطب په انكم سره كفار د مكې دي يعني په شان كي د رسول الله ﷺ بې ګاهي ويل چي لېونی دی، او ګاهي به يې ويل چي ساحر دی يا كاهن دی او د قرآن په باره كي به يې ګاهي ويل چي سحر دی او ګاهي به يې ويل چي شعر دی او ګاهي به يې ويل چي كهانت دی او ګاهي به يې ويل چي اساطير الاولين دی.

يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾

ای يصرف عن الرسول او القرآن يعني په منلو كي، يعني تصديق نه كوي پر رسول (چي خدای ؂ را استولی دی لپاره د هدايت د خلګو، او پر قرآن چي كلام الله دی) ''من افک'' يعني صرف في علم الله تعالى يعني حرمة الله تعالى عن الايمان بمحمد ﷺ او بالقرآن.

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾

پوهه: چي خرص په پښتو كي اټكل ته وايي چي په عربي تخمين بولي او ظن من غير دليل موجب ليقين ته هم وايي چي دلته په معنى د كذابون دی چي اصحاب د قول مختلف دی من كفار اهل مكة او قتل دعاء ده بالقتل لغةً دلته په معنى د لعن ده في عرف العرب.

الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾

دا صفت موضحة دی د خراصون، او غمرة په لغت كي هغه اوبو ته وايي چي سړی پكښي ډوب سي، والمراد ة الجهل والغفلة دی چي دوی پكښي ډوب دي ''ساهون'' ای غافلون عما امروا به من الايمان بالرسول والقرآن.

يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

دوی يعني الخراصون پوښتنه کوي د محمد ﷺ څخه (يا استعجالاً يا انکارًا يا استهزاءً) کله ده ورځ د جزاء الاعمال لکه ته چي وايې.

پوه سه: چي جمله د يسئلون منصوب محلاً ده د الخراصون څخه، يا بيان د علت د لعنت د دوی کما هو معنی قتل کمامر.

پوه سه: چي کلمه د علی په معنی د باء ده او يوم بدل دی د يوم الدين څخه.

سوال: مبدل منه خو مرفوع ؤ، نو بدل يې ولي منصوب دی؟

ځواب: نصب يې بناء پر دې دی چي مضاف و اسم غير متمکن ته دی چي هم دی کما في النحو، او معنی د يفتنون يحرقون ده يعني لکه سره زر چي په اورسره امتحان کېږي نو ځکه يې لفظ د فتنة راوړی چي معنی يې امتحان دی يحرقون يې نه ووايه، حاصل معنی الآية يسئالون متی يوم تعذبنا چي ته موږ ته يا محمد وايي چي تاسي ته جزاء درکول کېږي.

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ؕ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾

وڅکئ خپله فتنه (ای مقولاً لهم، هذا القول اذا عذبوا، ويونکی د دې قول خزنة النار دی)

پوه سه: چي هذا مبتداء ده او الذي کنتم يې خبر دی، دا جمله داخله ده تحت القول المضمر کمامر او هذا اشارة و عذاب ته چي د لفظ څخه د فتنې و فهمېدی، ای هذا العذاب ماکنتم به تستعجلون به في حيوتکم الدنيا او تاسي به ويل استهزاءً متی هذا الوعد آه.

درويش وايي: چي عادت د ذو الجلال (ای الصفات الجلالية) والاکرام (ای الصفات الجمالية) جاري په دې سره دی چي احوال د کفارو ذکر کړي وروسته د مؤمنانو حال هم ذکر کوي جمعًا بين الجلال والاکرام، نو وايي.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾

په تحقيق متقين له شرک او معاصيو څخه به په باغو کي وي چي په هغو کي ميوې رنګارنګ وي لا مقطوعة ولا ممنوعة او په جاري ويالو کي چي څلور دي، من ماء غير آسن و من عسل مصفی و من لبن خالص و خمر.

اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ؕ ﴿۱۶﴾

حال دی من الضمير المستتر في الظرف ای الجار والمجرور چې في جنات دی كما في كتب النحو چې عامل د جار او مجرور چې حذف سي ضمير يې جار او مجرور ته نقل كيږي يعني قبلوي هغه شی چې خدای عزوجل دوی ته وركړی من الخير والكرامة راضين به ''انهم كانوا قبل ذالک'' دا جمله تعليل دی د ماقبل دوی، يعني دوی وه په دنيا كي دمخه تر دخول د جنت ''محسنين'' يعني عابدين لله تعالی په حضور قلبي او په اخلاص سره كما جاء في الحديث الطويل الذي رواه عمر رضي الله عنه، الاحسان ان تعبد الله كانه تراه فان لم تكن تراه فانه يراک الحديث.

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾

پوه سه: چې كلمه د ما زائده ده او يهجعون خبر د كان دی، او هجوع د شپې خوب ته وايي، او قليلاً منصوب دی على الظرفية ومن الليل صفة له ای كانوا يهجعون هجوعًا قليلاً من اوقات الليل، او صوفيه كرام يې داسي ترجمه كوي چې ټوله شپه به ويښ وه لان من كان في عبادة او ما يتوصل به (وهو النوم القليل) اليها لايكون نائمًا فتدبر فيه، هداک الله تعالی.

وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾

كلمه د باء په معنی د في ده (يعني في الاسحار) او سحر السدس الآخير من الليل، او قاموس والا وايي سحر قبيل الصبح ته وايي ومعنی الآية چې دوی يعني المتقين سره د لږ خوبه په شپه كي او د ډېرو لمونځو په شپه كي چې په سحار كي داخل سي بالمعنی المذكور شروع په استغفار وكړي هضمًا لانفسهم (لپاره د شكست د خپلو نفسو) او عمل خپل لږ بولي تر ما يليق بشانه تعالی يعني ځانونه داسي ګڼي لكه يو سړی چې د شپې ګناه وكړي او سهار بخښنه غواړي ولي چې ددوی كامل علم وي پر عظمت د شان د خدای ج وفي بناء الفعل پر ضمير د هم اشاره ودې ته ده چې دوی احقاء دي بان يئسوا بالاستغفار، ولي چې ضمير راوړه لپاره د اختصاص دی، چه خوش ميگويد آن كه گفته:

عـذر تـقـصير خدمت اوردم　　كه ندارم بطاعت استظهار

عاصيان از گناه تـــوبه كـنـند عـارفان از طاعت استغفار
بنده همان به كه تقصير خويش عـــذر بدرگاه خدا آورد
ورنه ســزاوار خــداونـديش كس نه تواند كه بجا آورد

حافظ شيرازيؒ ميگويد

در كوى عشق شوكت شاهى نمي خرد
اقــرار بندگى كـــن و دعوى جاگرى
هـــر گنج سعادت كه خدا داد بحافظ
از يمن دعاى شب و ورد سحرى بود

وفي البخاري عن عبادة بن الصامتؓ قال قال رسول اللهﷺ من تعار من الليل و يقول (كه څوک راويښ سو د شپې او داسي يې وويل) لا اله الا الله وحده لاشريک له له الملک وله الحمد وهو على كل شيئ قدير، وسبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولاحول ولاقوة الا بالله العظيم، ثم قال رب اغفر لي استجيب له، خواست يې خداى عزوجل قبلوي، او كه يې او دس تازه كړى او لمونځ يې وكړى (يعني التهجد) قبلت صلوته، او ابو داؤد له ام المؤمنين عائشيؓ څخه روايت كړى دى چي عليه الصلوة والسلام چي به د شپې روايښ سو داسي به يې ويل: لا الا الا انت سبحانک الله وبحمدک استغفرک لذنبي واسئلک رحمتک اللهم زدني علمًا ولاتزغ قلبي بعد اذ هديتني وهب لي من لدنک رحمةً انک انت التواب.

درويش وايي: چي موږ بايد فكر وكړو چي سيد المرسلين شفيع المذنبين محبوب رب العالمينﷺ دا دعاء كول چي تاسي واورېده نو موږ بايد څه وكړو، كه ممكنه واى سرې اوښكي د وينو بايد چي تر سترګو جاري واى.

درويش وايي: چي پـه فـضيلت كـي د صلوة الليل يعني التهجد احاديث صحيحه په كثرت سره سته، وفي نقل كلها اطناب ممل للقارئين للتفسير.

وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿١٩﴾

او په مالو كي ددوى حق وي (يعني زكوة يا نفلي صدقه) د سائل لپاره يعني پر خلكو سوال كوي يا محروم وي يعني كه څه هم مسكين خو وي لكن سوال نه كوي (كريمه: الذين يحسبهم الجاهل (يعني بمالهم) اغنياء من التعفف (اى

الکف عن السوال) نو محسنين چي د دوی پر حال علم ولري نو هغو ته د خپلو مالو څخه حق ورکوي)

وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿۲۰﴾

او په مځکه کي دلائل سته د وجود د صانع جل جلاله او د قدرت مطلق د هغه کسانو لره چي درجې ته د يقين ځان رسول غواړي، ولي دوی چي په سترګو دا ايات ويني او په خلق کي د مځکي په غور سره فکر وکړي د هر شيان د قدرت پکښي سته (۱) چي دا مځکه خدای غوړولې ده لکه فرش (۲) دا چي تقريبًا يوه ربع له اوبو څخه ښکاره کړې ده ليسکن عليه عباد الرحمن (۳) چي اجزاء د مځکي يې مختلف ګرځولي دي په کيفياتو يعني بعض اجزاء خوږې مځکي وي د نباتاتو نافعه لپاره لکه غنم، وربشي، جوار وغيرها من المواد الغذائية للآدميين ورعی المواشي فيها، او بعض اجزاء ترخې او تروې دي چي بېله غزو، اوزميو او ښورکيانو بل شی نه پکښي شين کېږي (۴) په مځکه کي د ننه خدای عزوجل معدنيات پيدا کړي لکه معدن د وسپنې، د ميسو بلکې د سرو زرو معدن هم پکښي سته الی غير ذالک (۵) او نباتات او حيوانات او چينې او لوی و کوچني رودونه نو دغه ډله د متقينو چي په دغو آياتو کي فکر وکړي دليل يې ګرځوي پر وجود صانع واجب الوجود وعلمه و ورته واراد ته و فرط رحمته وحکمته، کريمه: کل يوم هو في شان فبای الاء ربکما تکذبان.

وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۲۱﴾

عطف علی ما في الارض، يعني ستاسي په ځانو کي هم ايها الناس آيات او دلائل سته لما قالوا ان الانسان انموذج العالم الکبير انسان بايد فکر وکړي له ابتداء څخه د خلق خپل تر مرګ پوري، چي اول نطفه وه بيا علقه سوه بيا مضغه سوه بيا هډوکي پکښي پيدا سوه ثم کسونا العظام لحمًا ثم نفخ فيه الروح بيا چي مده د حمل پوره سوه بيا خدای و حمل ته لار د خروج ورښيه بيا دد ې انسان په زړه کي هدايت پيدا کړی و خپل معاش رضيعًا وفطامًا واکتساب اقواته او غذاء کول په خوړک او څښاک سره او لار د بقاء د نوع په نکاح سره والی سبيل آخرته بارسال الرسل وانزال الکتب الی غير ذالک من اختلاف الالسنة والصور والالوان والطبائع والعقول، نو په دې کي د فکر وهولو و درجې ته ايقان ورسېږي الذي لا درجة فوقه، فتبارک

احسن الخالقين "افلا تبصرون" آيا تاسي نه وينئ اثار د قدرت د خدایؒ ايها الخراصون، لكه دا اثار چي محسنون او موقنون ويني كلمه د فاء لپاره د عطف ده پر مقدر باندي، تقديره اتنكرون قدرة الله على البعث فلا تبصرون.

وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

او په اسمان كي رزق ستاسي دی، ابن عباسؓ او مقاتلؒ وايي چي مراد له رزق څخه باران دی چي سبب د رزق دی، نو ذكر مسبب دی مراد ځني سبب دی، دا خبره مبني پر دې ده چي په شرع شريفه كي وايي ان المطر ينزل من السماء، او بيضاويؒ وايي وقيل المراد بالسماء السحاب وريځ ده، وبالرزق المطر، مظهري وايي چي بناء پر مذهب د فلاسفهؤ دی.

درويش وايي: چي په شرع شريفه كي داسي نه دي راغلي چي تولـه بارانونه له اسمان څخه كېږي، بلكې له اسمان څخه او به پر وريځ راځي او له وريځي څخه پر مځكه راشوه كېږي، نو د بيضاويؒ قول ولي پر مذهب د فلاسفهؤ مبني دی، آيا مظهري دا قول د روح البيان چي د مظهري تر تفسير ډېر مقدم دی نه يې ده ليدلې او كه يې نه مني؟ قال روح البيان ای اسباب رزقكم على حذف المضاف يعني به الشمس والقمر وسائر الكواكب واختلاف المطالع والمغارب الذي يترتب عليه اختلاف الفصول (ای الربيع والصيف والخريف والشتاء) التي هي مبادي خصول الارزاق انتهى قول روح البيان، قال الشيخ سعدي قدس سره موافقا لقول روح البيان:

آبر وباد ومه وخورشيد وفلک در كارند
تاتوناني بكف آری وبغفلت نخوری
همه از بهر تو سر گشته وفرمان بردار
شرط انصاف نباشد كه تو فرمان نه بری

پوه سه: چي وما توعدون عطف دی پر رزقكم باندي، فالتقدير وفي السماء ماتوعدون، يعني په اسمان كي دي ما توعدون، كلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای ما توعدونه.

درويش وايي: چي په متفق الآراء د مفسرينوؒ بې تكلف او بې تأويله توجيه داده چي په ماتوعدون سره مخاطب محسنين دي او بل عبارت متقين دي او په بل

روايت مؤمنين دي، نو معنى د آيت داده چي هغه شى چي ستاسي د هغه شي چي ستاسي سره يې وعده كړه سوې ده يعني د خداى ﷻ له خوا څخه هغه شى په اسمان كي يعني الجنت، ولي چي جنتون پر لوړه خوا دى د اووم آسمان تحت عرش الرحمن قريب و سدرة المنتهى ته چي قرارګاه د جبرئيل؏ دى، سعدي شيرازي قدس سره د معراج النبي ﷺ په باره كي وايي:

چنان گرم در تيه قربت براند — كه درسدره جبرئيل ازو باز ماند
بدو گفت سالار يت الحرام — كه اى حامل وحى برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نه ماند — بماندم كه نيروى بالم نماند
اگر يک موى برتر پرم — فروغ تجلى بسوزد پرم

لكن سره د بې تكلف توجيه البغويؒ وايي چي عطاءؒ وايي ماتوعدون من الثواب والعقاب، او مجاهدؒ وايي من الخير والشر او الضحاكؒ وايي من الجنة والنار، ددې حضراتو كرامو‍ؒ تفاسير بناء پر دې دي چي خطاب د ماتوعدون عام دى مؤمنانو او كافرانو دواړو ته شامل دى نو پر دوى دا سوال واردېږي چي محل د عقاب خو دوږخ يا د شر خو هم دوږخ دى والنار يعني دوږخ خو په اسمان كي نه دى بلكې تحت الارضين دى؟ نو ددې حضراتو د قول تأويل دادى چي مكتوب في السماء يا مقدر في السماء، او صاحب تبيان گفته كه مكتوب است درلوحى كه درآسمان چهارم است، او صاحب د روح البيان يې تأويل داسي كړى دى امر العقاب (يني د كفارو امر د عقاب په دنيا كي نازلېږي د اسمان له خوا څخه) ده زياته كړې ده چي نفس عقاب د كافرانو بعض اوقات هم د اسمان له خوا څخه وي لكه صيحه د جبرئيل؏ د اسمان له خوا څخه او طوفان نوح؏ او قذف بالحجارة لقوم لوط د اسمان له خوا څخه، او د اور باران پر اصحاب الايكة د اسمان له خوا كما في الامم الماضية انتهى.

درويش وايي: چي ددې مقام وعر (يعني سخت) تحقيق او تفصيل كه حاسد نه وي نو بې له خواصو څخه د تفسير ايوبي وګني ولا فخر لي بهذا لانه من مواهب العزيز الجبار عزوجل.

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾

نو په رب د اسمانو او د مځكي قسم دى، خداى عزوجل لپاره د تاكيد قسم په

خپل ذات سره اخلي، يا په تقدير د قول قسم د عليه الصلوة والسلام په ذات د خداى؎ اخلي، والتقدير قل يا محمد ﷺ لهم فورب السماء آه "انه لحق" اى ما توعدون ثابت او يا مامر من امر الايات في قوله تعالى وفي الارض آيات الخ.

پوه سه: چي بعض له قراء سبعهٔ څخه لفظ د مثل مرفوع وايي چي صفت د حق يې بولي او اغلب قراء يې په نصب سره وايي كما في المصاحف المطبوعة چي حال يې بولي د ضمير مستكن څخه په لحق كي يا صفت د مصدر محذوف دى يعني انه لحق حقًا مثل نطقكم شبه الله سبحانه الرزق وغيره مما وعد به واخبر به بنطق الانسان يعني ان كل انسان حين ينطق لايشک في انه ناطق كذالک ينبغي للانسان ان لايشک فيما اخبر الله تعالى به كما مر، وبالفارسية: همچنان شک نيست شمارا درسخن خود شک نيست در روزى دادن خداوند و ديگر اخبار او؎، وفي الحديث: ابى ابن آدم ان يصدق ربه حتى اقسم له فقال ورب السماء آه (يعني انكار وكړى بني آدم يعني الكافر) وقال الحسن؎ في هذه الآية بلغني ان رسول الله ﷺ قال قاتل الله اقوامًا اقسم الله لهم بنفسه فلم يصدقوا انتهى.

درويش وايي: ويناسبه ماحكى في تفسير المدارک عن الاصمعي؎ چي پښتو ژباړه يې داده: چي اصمعي؎ وايي چي زه د جامع مسجد څخه د بصرې راروان وم چي يو اعرابي پر اوښه سپور په مخه راغلى فقال ممن الرجل؟ د چا د قبيلې سړى يې، ما ورته وويل من بني اصمع، ده راته وويل چي له كومه را روان يې؟ ما ورته وويل: من موضع يتلى فيه كلام الرحمن، ده راته وويل چي ته تلاوت د كلام الرحمن راته وكړه، ما سورة الذاريات ورته شروع كړى، دې ځاى ته چي ورسېدم وفي السماء رزقكم، ده راته وويل بسته، نو بس دستي يې ناقه راكش كړه ذبح يې كړه او غوښي يې ټوله پر من اقبل و ادبر باندي و وېشلې او توره او قوس يې مات كړه او بس راهي سو، اصمعي؎ وايي چي زه چي بيا حج ته ولاړم مع آمر الرشيد او شروع مي په طواف د بيت الله الشريف وكړه چي ناګاه مي يو اواز تر غوږ سو رفيق رفيق (يعني ملګرې) ما چي وكتل هغه اعرابي ؤ ماته يې سلام ووايه يعني السلام عليكم بيا يې راته وويل: چي د هغه سورت څخه يو څه راته ووايه ما سورة الذاريات د سره ورته شروع كړى، دې آيت ته چي زه ورسېدم وفي السماء رزقكم يوه لو نعره يې وكړه، وقال وجدنا ماوعدنا

ربنا حقًا، بيا يې راته وويل وهل غير هذا فقرئت فورب السماء والارض انه لحق، بيا يې يو چغه وکړه وقال سبحان الله من اغضب الجليل حتى حلف او بې قسمه يې د جليل قول ونه مانه حتى الجأه الى اليمين (حتى جليل رب يې قسم ته مجبور کړی) درې واره يې داغه مکرره کړه وخرجت معها نفسه، او د دغو خبرو سره يې روح خدای عزوجل ته وسپاری رحمه الله تعالى برحمته الخاصة انا لله وانا اليه راجعون، انتهى قول الاصمعي مع کلمات الحريق بنار العشق الحقيقي.

فائده: اهل معاني وايي چې هرڅومره چې انکار د مخاطب زياتيږي متکلم بايد هغومره هغو ته تاکيد په رد کې د هغه وکړي فالله سبحانه وتعالى اورد الکلام بکمال البلاغة في رد المنکرين للبعث والجزاء بالجنة والنار حيث اقسم عليه بذاته الجليلة واکده بکلمة ان ولام التاکيد والاخبار بانه حق والتشبيه بما هو من اجل البدهيات يعني مثل ما انکم تنطقون.

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ إِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿٢٤﴾

الاستفهام للتقرير يعني قد اتاک، والغرض من الاستفهام تعظيم شان الحديث، والتنبيه على انه وحي اليه قبل ذالک او بله فائده د استفهام تشويق دی د مخاطب واستماع ته د قصې لکه چې په پښتو کې يو سړی وبل ته ووايي فلانيه نه به يې خبر په قصه او حال د زيد.

پوهسه: چې ضيف په اصل کې مصدر دی د ضافه ای نزل عليه الضيف او د دې سببه مصدر دی اطلاق يې پر يوه او جماعت کړه کيږي لکه په دې آيت کې چې جماعت ځنې مراد دی، بقرينة توصيفه بالمکرمين، او ګاهي جمع هم استعماليږي فيقال اضياف وضيفان، البغوي وايي اختلفوا في عدد هؤلاء الاضياف، قال ابن عباس وعطاء کانوا ثلثة جبرئيل وميکائيل واسرافيل، او محمد بن کعب وايي کان جبرئيل ومعه سبعة چې مجموع يې نهه دي، وقال مقاتل کانوا (١٢) ملکي وهو الاشهر وکانوا على صورة الغلمان چې بريښنده مخان يعني قريب البلوغ يا بعيد البلوغ هلکان من الانس.

پوهسه: چې المکرمين صيغه د اسم مفعول ده، اشاره ودې ته ده چې ابراهيم دوی عزت وکړی دمخه تر دې چې ده پيژندلې چې ملکي دي يعني خيال يې د ميلمنو

پر کاوه، اکرام يې دا ؤ چې ددوی خدمت يې په خپله او په خپل اهل بيت يعني زوجه کاوه، او دستي يې غوښې ورته راوړې کما سيئاتي او دا عادت د انبياء دی چې خدمت د مېلمانه په خپله کوي او کبر نه کوي او عار يې نه بولي لکه ددې زمانې متکبر ملايان چې که يې مېلمه عامي سړی وي دی يې خدمت د ځان عار بولي بلکې په مېلمه خدمت کوي، قال رسول الله ﷺ من کان يؤمن بالله واليوم الآخر فليحسن الى جاره (د همسايه سره دې احسان کوي) او په بل روايت کې راغلي دي فلا يؤذی جاره، ومن کان يؤمن بالله واليوم الاخير فليکرم ضيفه (د مېلمه عزت دې کوي) ومن کان يؤمن بالله واليوم الاخير فليقل خيرًا او يسکت (يعني د خير خبري دې کوي يعني چې څوک نه په ازارېږي بلکې د بل لپاره نصيحت وي نو خبري دې وکړي او که يې خبري نه وي زده نو پټه خوله دې کښېني) رواه احمد والبخاري في صحيحه ومسلم في صحيحه والترمذي وابن ماجه من حديث ابی هريرةؓ.

حکماء د اسلام وايي: لاعار للرجل ولو کان سلطانًا (پېغور او شرم دې نه کوي سړی که څه هم بادشاه وي) ان يخدم ضيفه واباه ومعلمه (چې په خپله خدمت وکړي د مېلمه او د پلار او د استاذ) ولا تعبير الخمة بالاطعام (او اعتبار نسته خدمت لره د مېلمه يا د پلار يا د استاذ په ډوډۍ ورکولو سره) يعني چې په مزدور يا په طالب وغيرهما سره صرف ډوډۍ بلکې په خپله به دا درې خدمتونه کوي) فيا اسفٰی علی حال اهل الزمان چې په خدمت ددې درو کسانو شرمېږي.

اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ۭ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۝۲۵

چې دوی يعني مهمانان داخل سوه.

پوه سه: چې ظرف يعني اذ متعلق يا په حديث پوري دی يا په ضيف پوري، او جمع د ضمير د دخلوا چې راجع دی ضيف ته په اعتبار د معنی ضيف دی کما مر آنفًا (عليه يعني پر ابراهيمؑ) "فقالوا سلامًا" جمله فعليه ده ای نسلم عليک سلامًا "قال" ای ابراهيمؑ په جواب کې د سلام ددوی "سلام" په جمله اسميه سره يې جواب ورکړی ای عليکم سلام.

فائده: ابراهيمؑ چې د نصب تخته د رفع وجواب ته مخ واړاوه لپاره د اثبات او دوام کما قال النحاة ان الجملة الفعلية تدل علی الحدوث والاسمية علی الثبات

والدوام تاچي دده جواب احسن سي ددوی تر سلام، کریمه: واذا حییتم بتحیة فحینوا باحسن منها او ردوها، په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته یې داسي سلام وروا چاوه: السلام علیکم، علیه الصلوة والسلام ورته وویل وعلیکم السلام ورحمة الله، بل سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته یې داسي سلام ووایه السلام علیکم ورحمة الله، علیه الصلوة والسلام داسي جواب ورکړی وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، بل سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته یې داسي سلام واوایه: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، علیه الصلوة والسلام ورته وویل: وعلیکم السلام، دې سړي ګله وکړه چي د دمخه دوو کسانو سلام دي په زیادت د رحمة الله یا د برکاته ورسره جواب کړی زما په سلام کي دي شی نه کړی زیات؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي تا ماته شی د زیادت نه پرېښو یعني د سلام نهایت دغه دوه لفظه دي یعني ورحمة الله وبرکاته، هغه دواړه تا وویل یعني زه تاته وعلیکم السلام وایم یعني سره ستا د دوو کلیمو.

درویش وایي: چي دا معنی ده د اوردوها په آیت شریف کي ''قوم منکرون'' خبر دی د محذوف یعني انتم قوم منکرون یعني نابلده خلګ یاست چي زه مو نه پېژنم.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾

''فراغ'' یعني ذهب ابراهیم (لپاره ددې چي د مېلمنو د ډوډۍ سربښته وکړي) خپل کورته (مبادرة الی طعام الاضیاف، روایان د قصې وایي چي اکثره مال د ابراهیم بقرات وه) راتګ یې وکړی د یو ګیلګي په غوښو چي ښه چاغ ؤ.

فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾

د عجل سمین غوښې یې ددوی په مابین کي کېښښولې چي دوی یې وخوري (دوی چونکه ملکي وې طعام یې نه خاوړه، نو دوی غوښو ته لاس نه ورغځول ابراهیم ورته وویل چي تاسي ولي غوښې او ډوډۍ نه خورئ.

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

په زړه کي پیدا سوه دده (یعني ابراهیم) له دوی څخه بېره چي ډوډۍ یې نه خوړل (ابن عباس وایي چي دی په دې پوه سو چي ملکي خو دي چي د ارسال العذاب لپاره

راغلي نه وي، ملکو چي د ابراهيم عليه السلام له چهرې څخه خوف احساس کړی، نو داسي يې ورته وويل) ته مه بيرېږه موږ رسل د خدای ج يو، او زېرى يې پر وکړی (يعني پر ابراهيم ع) د زوی چي اسحاق ع د سارة له خوا څخه، چي هغه غلام به و درجې ته د کمال د علم ورسېږي چي بالغ سي، او وروسته به يې يا لوړې درجې ته د نبوت ورسېږي.

فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ ﴿۲۹﴾

نو مخ راوګرځاوه دده ښځي (چي سارة يې نوم ؤ) يوه لويه بغاره يې وکړه (يا د تعجب له لاري يا د خوشحالۍ له کبله والاول هو الانسب بمابعده) "فصکت وجهها" ابن عباس رض وايي چي ګوتي يې سره ټولي کړې چي په پښتو يې چپلاخه بولي او خپل مخ يې په و واهه لکه د ښځو چي عادت دی په نېز د تعجب د منکر شي تندی په چپلاخه وي، او چا چي داسي ويلي دي چي سارة رض حرارت د دم د حيض احساس کړی فلطمت وجهها من الحياء فليس بشيئ لمنافاته لما بعده من الآية، "وقالت عجوز عقيم" دې وويل چي زه سپين سرې او وچه يم، راوي وايي چي دا د نيوي (۹۰) کالو وه چي په دې طويله زمانه کي دا نه وه اميدواره سوې.

قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

ملکو ورته وويل، همداسي ده يعني لکه موږ چي تا ته وويل داغسي پيغام د خدای ج ستا موږ ته راکړه سوی دی، په تحقيق خدای عزوجل حکمت لري په خپلو کارو کي او خبر دی په ماکان (لکه دلته ستا په وچ والي او عقم سره) او علم لري پر ما يکون (لکه دلته ستا د زوی په زېږولو سره) ابراهيم عليه السلام ته شک پيدا سو چي دا دومره لوی جماعت د ملکو خو يوازي زما د زېري لپاره نه دی راغلی فقال.

درويش وايي: چي په حسن توفيق د رب جليل شپږ ويشتم (۲۶) جزء يعني حٰم پای ته ورسيدی، فاقول الحمد لله الذي وفق عبده الضعيف الجهول المعمر لخدمة کلامه الجليل والصلوة والسلام على سيد رسله محمد و على آله وصحبه اجمعين، اللهم وفقني لتفسير بقية اجزاء القرآن العزيز وما ذالک على الله بعزيز.

درويش وايي: چي زما د تفسير د اکمال زېری به داسي اعجب وي لکه د سارة رضي الله عنها زېری د زوی اسحاق عليه السلام.

اللهم اغفر لمؤلفه و لکاتبه ولمن سعى فيه آمين.

د تفسیر ایوبي شپاړسم ټوک د مضامینو فهرست

تفسير ايوبي حنفی۱۶ ټوک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاریخ ۱۴-۱۰-۱۳۹۸

واتساپ- ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!